# ادب تاریخ

(د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره)

Ketabton.com

د ژبو او ادبیاتو پوهنځیو

د پښتو څانګو د لومړیو ټولګیو لپاره

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کابـل پـوهنتون

ژبو او ادبیاتو پوهنځي

پښتو څانگه

# ادب تاریخ

## (د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره)

د ژبو او ادبیاتو پوهنځیو د پښتو څانګو د لومړیو ټولګیو لپاره

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: ادب تاریخ

لیکــوال: محمد اسمعیل یون

لیکمهال: ۱۳۹۴ل کال

د لیکوال د خپرونو لړ: (۴۱)

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

ډیزاینـګر: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م (لومړی چاپ)

د تحریك د خپرونو لړ: (۹۶)

یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترځ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| ((ادب تاریخ)) یو غوره تدریسي اثر | ۱ |
| یوه اوږده تجربه او یوه ښه نتیجه | ۵ |
| د پښتو لرغوني ادب په باب یو نوی اثر له... | ۹ |
| سریزه | ۱۳ |


## لومړی څپرکی


| | |
|---|---|
| **لومړۍ یا لرغونې دوره** | ۳۴ |
| ادب | ۳۹ |
| ادبپوهنه | ۶۰ |
| ادب تاریخ څه ته وایي؟ | ۷۵ |
| ادبي تذکره څه شی دی؟ | ۸۲ |
| ادبي دورې څنګه ټاکل کېږي؟ | ۹۱ |
| په پښتو ادب تاریخ کې د ادبي دورو وېش | ۱۰۱ |
| پښتو څو ادبي دورې لري؟ | ۱۱۴ |
| تر لرغونې دورې د مخه پښتو ادب | ۱۲۰ |
| د پښتو ادب لرغونې دوره | ۱۲۴ |
| د لومړي څپرکي لنډیز | ۱۲۸ |
| د لومړي څپرکي پوښتنې | ۱۳۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی


## د پښتو لرغونو ادبیاتو لویې حوزې ۱۳۱

غور ادبي حوزه ۱۳۴

کسي غره ادبي حوزه ۱۳۹

ملتان ادبي حوزه او نورې سیمې ۱۴۲

د دویم څپرکي لنډیز ۱۴۷

د دویم څپرکي پوښتنې ۱۴۹


# دریم څپرکی


## د پښتو لرغونو ادبیاتو څېړې او د کلام بېلګې ۱۵۰

۱- امیر کروړ (جهان پهلوان) ۱۵۲

۲- هاشم د زید سرواني زوی ۱۶۹

۳- شیخ رضی لودي ۱۷۷

۴- نصر لودي ۱۷۷

۵- بېټ نیکه ۱۸۷

۶- شیخ اسمعیل ۱۹۵

۷- خرښبون ۲۰۱

۸- شیخ اسعد سوري ۲۰۸

۹- شیخ تیمن کاکړ ۲۲۳

۱۰- ښکارندوی غوري ۲۲۸

۱۱- ملکیار غرشین ۲۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۲- تایمني ۲۴۶
۱۳- قطب الدین بختیار ۲۵۱
۱۴- سلیمان ماکو ۲۵۷
۱۵- شیخ متي ۲۶۱
۱۶- بابا هوتک ۲۷۴
۱۷- شیخ ملکیار هوتک ۲۸۰
۱۸- اکبر زمینداوري ۲۸۵
۱۹- سلطان بهلول لودي ۲۹۶
۲۰- خلیل خان نیازی ۳۰۲
۲۱- زرغون خان نیازی ۳۰۴
۲۲- زرغونه کاکړ ۳۱۲
۲۳- رابعه ۳۱۷
۲۴- دوست محمد کاکړ ۳۱۹
۲۵- شیخ عیسی مشوانی ۳۲۵
۲۶- شیخ بستان بړیڅ ۳۲۹
۲۷- علي سرور لودي ۳۳۳
۲۸- مېرمن نېکبخته ۳۳۸
۲۹- شیخ محمد صالح الکوزی ۳۴۲
د درېیم څپرکي لنډیز ۳۴۸
د درېیم څپرکي پوښتنې ۳۵۷


## څلورم څپرکی


**له نورو ژبو سره د پښتو ژبې اړیکي** ۳۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱- له عربي ژبې سره اړيکي ۳۶۱
۲- له دري ژبې سره اړيکي ۳۶۶
د څلورم څپرکي لنډيز ۳۶۹
د څلورم څپرکي پوښتنې ۳۷۱


## پنځم څپرکی


### د لرغونې دورې نظم ۳۸۲

الف- د پښتو ولسي شاعرۍ فورمونه ۳۷۴
۱- لنډۍ ۳۸۰
۲- سروکي (نيمکۍ) ۳۸۹
۳- د اتڼ نارې او نور ۳۹۱
۴- کاکړۍ غاړې ۳۹۸
۵- ببولاله ۴۰۰
۶- چاربيته ۴۰۳
۷- بدله ۴۱۷
۸- لوبه ۴۲۰
۹- بګتۍ او نور ۴۲۷
ب- له نورو ژبو څخه د نظم راغلي فورمونه ۴۴۴
۱- قصيده ۴۴۷
۲- غزل ۴۴۹
۳- مثنوي ۴۵۵
۴- رباعي ۴۵۷
د پنځم څپرکي لنډيز ۴۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پنځم څپرکي پوښتنې ۴۶۲

## شپږم څپرکی

### د لرغونې دور نثر

۴۶۳
د سالو وږمه ۴۶۶
تذکرة الاولیا ۴۶۷
تاریخ سوری او نور ۴۸۳
د شپږم څپرکي لنډیز ۴۹۵
د شپږم څپرکي پوښتنې ۴۹۸

## اووم څپرکی

### د لرغونې دورې د ادبیاتو لغوي شننه ۴۹۹
۱- متروکې کلمې ۵۰۱
۲- پخوانۍ خو کارېدونکې کلمې ۵۰۲
۳- جغرافیایي نومونه ۵۱۲
د اووم څپرکي لنډیز ۵۱۷
د اووم څپرکي پوښتنې ۵۱۸

## اتم څپرکی

### لرغونې دوره کې لومړنۍ منظومه ژباړه

۵۱۹
۱- لومړنۍ ژباړه کوم فورم لري؟ ۵۲۱
۲- د لومړنۍ منظومې ژباړې هنري ښکلا ۵۲۳
۳- د لومړنۍ ژباړې ژبنۍ پرتلنه ۵۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


د اتم څپرکي لنډيز ۵۲۷
د اتم څپرکي پوښتنې ۵۲۸


## نهم څپرکی


**لرغونې دوره کې لومړنۍ مشاعرې یا مناظرې** ۵۲۹
شیخ رضی لودي او نصر لودي ۵۳۱
شیخ اسماعیل او خرښبون ۵۳۴
خلیل خان نیازی او سلطان بهلول لودي ۵۳۶
د نهم څپرکي لنډيز ۵۳۸
د نهم څپرکي پوښتنې ۵۳۹


## لسم څپرکی


**د لرغونو ادبیاتو محتوایي فورمونه** ۵۴۰
ویاړنه یا فخریه ۵۴۲
ویرنه ۵۴۷
ستاینه ۵۵۰
ساقینامه او نور ۵۵۲
د لسم څپرکي لنډيز ۵۵۵
د لسم څپرکي پوښتنې ۵۵۶


## یولسم څپرکی


**د لرغونو ادبیاتو فکري څرنګوالی** ۵۵۷
۱- اسلامي افکار ۵۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲- غنايي افکار ۵۶۶
۳- حماسي افکار ۵۷۴
۴- ملي او نور افکار ۵۸۰
د يوولسم څپرکي لنډيز ۵۸۲
د يوولسم څپرکي پوښتنې ۵۸۴


# دولسم څپرکی


## د لرغونې دورې عمومي ځانګړنې ۵۸۵
خپل چاپېريال ۵۸۷
نړه والی ۵۹۰
د نورو ژبو اغېزې ۵۹۲
لوړتيا او ځوړتيا ۵۹۴
د دولسم څپرکي لنډيز ۵۹۸
د دولسم څپرکي پوښتنې ۵۹۹


# ديارلسم څپرکی


## د لرغونې دورې د ادبياتو کميت او کيفيت ۶۰۰
څومره والی ۶۰۲
څرنګوالی ۶۰۷
پرتلنه ۶۰۹
د ديارلسم څپرکي لنډيز ۶۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دیارلسم څپرکي پوښتنې ۲۱۳

## څوارلسم څپرکی

**په لرغوني ادبي دوره کې موثرې ټولنیزې سیاسي څېرې او حادثې** ۲۱۴
الف- سیاسي، ټولنیزې او فرهنګي څېرې ۲۱۶
ب- د پېښو کرونولوژي ۲۲۲
د لرغونې دورې پای ۲۲۵
پایله ۲۲۷
د څوارلسم څپرکي لنډیز ۲۳۴
د څوارلسم څپرکي پوښتنې ۲۳۵
اخځونه ۲۳۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریظ:

# ((ادب تاریخ)) یو غوره تدریسي اثر

د پښتو ادبیاتو د بېلابېلو دورو په باب ډېر کتابونه لیکل شوي دي. خو څرنګه چې ددې ادبیاتو لمن ډېره پراخه ده، نو نورو لا زیاتو اثارو او تحلیلي لیکنو ته اړتیا شته. علمي او تحلیلي اثار ادب لوستونکو ته ددې زمینه برابروي چې د یوې ژبې د ادبیاتو ماهیت او د هغو تل ته ورکښته شي. د ادبیاتو پیغام په ښه ډول درک کړي او بیا دا پیغام نورو ته هم په ښه ډول انتقال کړي.

د پښتو ادبیاتو د تاریخ په باب دوه ډوله اثار لیکل شوي دي: یو هغه ډول اثار دي چې په خپله د ژبو او ادبیاتو پوهنځیو د استادانو او علمي مرکزونو د څېړونکو له خوا لیکل شوي او دویم بیا هغه ډول اثار دي چې د بېلابېلو لیکوالو له خوا له خپلې ژبې او ادبیاتو سره د مینې او ادبي ذوق له مخې لیکل شوي دي.

په لومړي ډول اثارو کې بیا دوه ډوله اثار دي: یو هغه دي چې علمي، تحلیلي او تدریسي اړخ لري او بل هغه ډل اثار دي چې علمي او تحلیلي ارزښت او اهمیت لري، خو تدریسي بڼه نه لري.

د (ادب تاریخ) تر نامه لاندې دا اثر چې تاسو په لاس کې دی، دا د هغو ګوتو په شمار اثارو په جمله کې دی چې هم علمي اړخ لري، هم تحلیلي او هم تدریسي اهمیت او ارزښت لري.

استاد محمد اسمعیل یون په لیکوالۍ کې (۳۰کلنه) او په استادۍ کې (۲۳ کلنه) تجربه لري، دا اثر یې د همدې اوږدې تجربې په رڼا کې لیکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد یون د تېرو (۲۳) کلونو په بهیر کې ادب تاریخ مضمون تدریس کړی او په ادب تاریخ مضمون کې یې هم تر ډېره حده همدا لرغونې دوره تدریس کړې، نو یو څوک چې دوه لسیزې په متواتر ډول یو مضمون تدریس کړي، بې له شکه چې تر هر چا زیات د همغه مضمون بېلابېلو خواوو ته متوجه کېږي. پخوا چې په دې برخه کې کوم کار شوی او کوم اثار لیکل شوي، هغه ورته هم ښه معلوم دي او نوې اړتیاوې ورته هم ښې محسوسېږي. استاد یون دا اړتیاوې احساس کړې او په دې اثر کې یې هغو ته ځواب ویلای دی.

دا اثر د ادبپوهنې د دریو اساسي څانګو (ادب تیوري، ادبي کره کتنې او ادب تاریخ) د اصولو په رڼا کې لیکل شوی دی. ټول اثر جالب دی، خو ماته یې لغوي شننه او ارزونه هم ډېره جالبه وبرېښېده. په لرغونې دوره کې چې کوم شعرونه لیکل شوي، نه یوازې له هنري، تاریخي او ټولنیز لیدلوري ارزول شوي، بلکې له لغوي او ژبني پلوه هم ورته کتنه شوې ده د هر شعر کلمې په ګوته شوي دي: کومې کلمې پښتو دي؟ کومې دري او کومې عربي؟ په پښتو کې بیا کومې متروکې دي؟ کومې نیمه متروکې، کومې له دورانه نه دي غورځېدلي او کومې بیا راژوندۍ شوي دي. دې ټولو ته په دې اثر کې اشاره شوې او راسپړل شوې دي.

هر څېړکی خپل لنډیز او خپلې پوښتنې لري. که یو عام لوستونکی د یو څېړکي تفصیلي برخه ونه لولي او یوازې لنډیز یې هم له نظره تېر کړي، نو د هغه څېړکي له عمومي محتوا سره اشنا کېږي، تفصیلي برخه او د پوښتنو برخه یې بیا محصلینو ته ډېره ضروري ده. پوښتنې داسې جوړې شوي چې محصلین یې ځوابونه په متن کې موندلای شي. ځینې پوښتنې یې د محصلینو د کورني کار لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم خورا ضروري او مهمې دي. مانا دا چې دا اثر د داسې تدريسي اصولو او اړتياوو پر بنسټ ليکل شوی چې محصل او استاد دواړه مجبوروي په ګډه په تدريسي بهير کې برخه واخلي او د درسي بهير دوه مساوي خواوې وګڼل شي. دا کتاب ټول څوارلس څپرکي لري، يوه سريزه چې ددې کتاب د ليکلو طرز او اړتيا په کې روښانه شوې او يوه پايله چې په هغې کې له لوستونکو او محصلينو څخه ځينې غوښتنې شوې او همدارنګه د پښتو لرغونې ادب پر عمومي ځانګړنو يو ځل بيا بحث شوی او نچوړ يې وړاندې شوی دی. بله ښه خبره داده چې د اثر په سريزه کې د (ادب تاريخ) ټول هغه اثار معرفي شوي چې تر دې دمه د پښتو ادبياتو په باب په افغانستان، پښتونخوا او په نورو ځايونو کې ليکل شوي دي.

که څوک غواړي د ادبياتو په باب خپله مطالعه لاپسې وغځوي، نو پر دې کتاب سربېره هغو اثارو ته هم مراجعه کولای شي. ددې اثارو معرفي د پښتو ادبياتو په باب د ټولو ليکل شويو اثارو يو لنډ جاج هم موږ ته په ګوته کوي او دا فکر هم راکوي چې په دې برخه کې د نورو څومره اثارو د ليکلو اړتيا احساسېږي.

ددې کتاب ژبه خورا خوږه، روانه، عام فهمه، کره او معياري ده. د لوستو پر وخت محصل او عام لوستونکي ترې زيات خوند اخيستی شي. زه نور نه غواړم ددې اثر په باب تر دې زيات څه ووايم، په پای کې دومره وايم چې د (ادب تاريخ) دا اثر د تدريسي اصولو په رڼا کې د تدريس لپاره د تدريس په ژبه ليکل شوی، نه يوازې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو د پښتو څانګې د لومړيو ټولګيو لپاره ګټور دی، زه هيله من يم چې د هېواد ټول دولتي او خصوصي پوهنتونونه به له دې اثر څخه د خپل تدرېسي اثر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه ځکه ګڼه واخلي چې دا د لوړو زده کړو وزارت د تدریسي کاریکولم د محتویاتو په رڼا کې لیکل شوی دی او هغه ټول محتویات رانغاړي چې د کابل پوهنتون او لوړو زده کړو وزارت له خوا د (ادب تاریخ) د مضمون په چوکاټ کې د پښتو ادبیاتو د لرغوني دورې لپاره په پام کې نیول شوي دي. استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون د پوهاندۍ علمي رتبې لپاره په دې اثر کې هغه ټول په پام کې نیولي، دلته یې ځای کړي او په ښه ډول یې څېړلي دي.

زه د پوهاندۍ علمي رتبې لپاره د استاد یون له خوا دا لیکل شوی اثر پوره، بشپړ او کره ګڼم، له ټولو مربوطو څانګو څخه هیله کوم چې استاد یون ته ددې مغتنم تدریسي اثر د لیکلو له امله د (پوهاندۍ) علمي رتبه منظور کړي او د کتاب د چاپ لپاره اقدام وکړي، ددې ترڅنګ استاد محمد اسمعیل یون ته د لوی خدای(ج) له درباره د اوږد ژوندانه ، زیاتو پرمختګونو او د هېواد د فرهنګ د بډاینې لپاره د لا زیات کار و زیار هیله لرم.

په زیات احترام

پوهاند محمد صابر خویشکی

د پښتو څانګې استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریظ:

# یوه اوږده تجربه او یوه ښه نتیجه

استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې له فعالو استادانو څخه دی. ده د خپلې لیکوالۍ په (۳۰کلن) بهیر کې زیات شمېر علمي او ادبي اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کړي دي. په دې اثارو کې یو شمېر داسې اثار هم شامل دي چې ده په پوهنتون کې د خپلو علمي رتبو لپاره لیکلي دي، علمي، څېړنیز، تحلیلي او تدریسي بڼه لري او له ځینو دې ډول اثارو څخه یې همدا اوس د هېواد په پوهنتونونو کې ګټه پورته کېږي. دا اثر (ادب تاریخ) چې اوس زموږ په لاس کې دی هم علمي او تدریسي بڼه لري. استاد یون دا اثر د (پوهاندۍ) علمي رتبې لپاره لیکلی دی. دا اثر د پښتو ادبیاتو لومړۍ یا لرغونې دوره رانغاړي. په دې اثر کې د پښتو څانګې درسي مفردات چې د لوړو زده کړو وزارت له خوا منل شوي او تائید شوي، هغه ټول په کې شامل دي. په خپله استاد یون له (۲۳) کلونو راهیسې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې پر تدریس مصروف دی، د تدریس یوه اوږده تجربه لري او له نېکه مرغه د کوم مضمون په باب چې ده دا اثر لیکلی له نږدې شلو کلونو راهیسې همدا مضمون په تېره بیا د پښتو ادبیاتو همدا لرغونې او بیا منځنۍ دوره تدریسوي هم. نو یو څوک چې په یوه واحد مضمون کې د تدریس اوږده او پخه تجربه لري، که هغه په یاد مضمون کې د شاملو موضوعاتو په باب یو علمي او تدریسي اثر لیکي، نو پوره باور دی چې هر اړخیز به یې لیکي او تر نورو به یې ښه لیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون د پښتو څانګې په موافقه د پوهاندی علمي رتبې لپاره همدا (ادب تاریخ) موضوع ثبت کړه چې هدف ورڅخه د پښتو ادبیاتو د لومړۍ یا لرغوني دورې د ټول بهیر څېړنه او ارزونه وه. د څانګې هیله هم همدا وه چې په دې برخه کې داسې یو اثر ولیکل شي چې نه یوازې پښتو څانګه، بلکې د هېواد د نورو پوهنتونونو اړوندې څانګې هم د یاد مضمون په برخه کې د متفرقو او بېلابېلو اثارو له تدریس څخه هم خلاصې شي او یوازې داسې یو واحد تدریسي اثر چې مفردات یې د لوړو زده کړو وزارت له خوا تائید شوي او منل شوي وي، ولیکل شي. دا مفردات بای‌د د تدریسي اصولو په رڼا کې وڅېړل شي، تحلیل شي، ارزونه یې وشي او داسې یو اثر ورڅخه جوړ شي چې پر محصلینو سربېره عام لوستونکي ترې هم موثره ګټه پورته کړي.

له نېکه مرغه چې استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون دا اړتیا پوره کړه، په دې برخه کې یې دا ګټور اثر ولیکه. دا اثر یوه سریزه، یوه پایله او څوارلس څپرکي لري. په سریزه کې استاد یون د دې اثر د لیکلو میتودونو ته ګوته نیولې چې تر زیاته حده په کې له کتابتوني څېړنې کار اخیستل شوی او د عملي تدریس تجربه هم ورسره ملګرې شوې ده. په همدې سریزه کې یې ټول هغه اثار هم معرفي کړي چې د لرغوني دورې په ګډون د پښتو ادبیاتو په باب لیکل شوي دي. دا کار لوستونکو او محصلینو سره مرسته کوي چې د پښتو ادبیاتو د مطالعې، څېړنې او شننې په برخه کې ورته اخځونه او اثار تیار معلوم وي او دوی کولای شي په اسانۍ سره هغه ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چې استاد يون ورته اشاره کړې ده دا اثر د کتابتوني څېړنې او عملي تدريسي تجربې په رڼا کې ليکل شوی، رښتيا هم همداسې ده، دا کتاب په اصل کې يو تدريسي اثر او د تدريسي تجربې پر بنسټ ليکل شوی دی، بايد همداسې وای، استاد يون په خپله هم تدريسي تجربه لري، زموږ د ځانګې او نورو اړوندو ځانګو اړتيا هم يو تدريسي اثر ته وه. له نېکه مرغه چې دا اړتيا ددې اثر په ليکلو سره خړوبه شوه.

لکه څنګه چې يادونه مو وکړه دا اثر (۱۴) څپرکي لري، په هر څپرکي کې تر تحليل شوې او ارزول شوې موضوع وروسته د همغې برخې لنډيز راغلی دی او ټول اړوند معلومات په ډېرو مختصرو ټکو کې بيان شوي او ورپسې د همغه اړوند څپرکي پوښتنې دي. د هر څپرکي لنډيز لوستونکي سره مرسته کوي چې په تفصيلي برخه کې لوستل شوي مطالب يې بيا په ذهن کې له سره تداعي شي او يا که چېرې پر يوه مهال د هر څپرکي لوستلو ته وخت ونه لري، لنډيز يې ولولي. له محصلينو سره بيا تفصيل او لنډيز دواړه مرسته کوي چې تفصيل يې د تفصيلي معلوماتو لپاره او لنډيز يې حافظې ته د سپارلو په نيت ولولي او پوښتنې بيا دا مرسته کوي چې محصل په کار واچوي، د اړوندو پوښتنو ځوابونه د کتاب د متن په تفصيلي برخه کې پيدا کړي. پوښتنې محصل دې مجبوروي چې د ياد مضمون په برخه کې کورنۍ دندې واخلي او په دې برخه کې سيمينارونه وليکي. مانا دا چې دا اثر محصل او استاد دواړه هڅوي چې په تدريسي بهير کې د دوو فعالو خواوو په توګه برخه واخلي. نو ځکه خو موږ دې اثر ته د يوه ښه تدريسي اثر په سترګه ګورو. په دې اثر کې د لرغونې دورې د (۲۸) شاعرانو او يو تن نثر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکونکي پر ژوند او د کلام پر بېلګو هر اړخیز بحث شوی، هم له شکلي پلوه او هم له محتوایي پلوه د دوی اثار تحلیل شوي دي. له شکلي پلوه د لرغوني دورې د نظم برخه پر دوو برخو وېشل شوې ده: هغه شعرونه چې په ملي اوزانو کې ویل شوي او هغه فورمونه چې له نورو ژبو او په تېره بیا له عربي ژبې څخه راغلي دي. له عربي ژبې څخه په راغلو شعري فورمونو کې (قصیده، غزل، مثنوي او رباعي) څېړل شوي او د ولسي ادبیاتو په برخه کې، لنډۍ، بګتۍ، سروکي او نورې ټول پښتو فورمونه معرفي شوي او تحلیل شوي دي.

په دې اثر کې له ګڼو اخځونو څخه ګټه پورته شوې، خو خپل تحلیلي نظر او تدریسي تجربه هم ورسره ملګرې شوې ده.زه د خپلې تجربې پر بنسټ چې نږدې (۳۰) کاله کېږي پر تدریس بوخت یم، وایم چې دا اثر یو ښه غوره تدریسي اثر دی او استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون چې د کوم مقصد لپاره لیکلی، د هغه لپاره یې پوره او کره ګڼم. زما له نظره دا اثر د (پوهاندۍ) علمي رتبې لپاره ښه او مناسب اثر دی، نو ځکه خو له ټولو اړوند څانګو، ادارو او لوړو مقاماتو څخه هیله کوم چې استاد یون ته ددې اثر د بشپړتابه له امله د (پوهاندۍ) علمي رتبه منظور کړي او همدارنګه ددې کتاب د چاپ په برخه کې ژر اقدام وکړي.

د هېواد د ملي فرهنګ د ښېرازۍ او استاد یون ته د لا زیاتو بریاوو هیله کوم

په درنښت

پوهاند یارمحمد یزال

د پښتو څانګې استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تقريظ:

# د پښتو لرغوني ادب په باب يو نوی اثر

# له يوه نوي تعبير او تفسير سره

د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد ښاغلي پوهنوال محمد اسمعيل يون د پوهاندی علمي رتبې لوړېدا ته د څانګې د استادانو د پرېکړې له مخې د ادب تاريخ (لرغونې دوره) تر سرليک لاندې په نږدې (شپږ نيم سوه) مخونو کې په ترتيب سره په لاندې ډول خپل تدريسي اثر بشپړ کړی دی:

دغه علمي اثر له ټاکلو مفرداتو سره سم په لومړي څپرکي کې ادبتاريخ څه ته وايي؟ ادبي تذکره څه ته وايي، پښتو څو ادبي دورې لري، تر لرغونې دورې دمخه پښتو ادب او په خپله د پښتو ادب پر لرغونې دورې باندې بحث شوی دی. په دويم څپرکي کې د پښتو لرغونو ادبياتو حوزې (غور، کسي غر او ملتان) راپېژندل شوې دي، تر څو د هغه دور دغه مهم مرکزونه د شاګردانو ادبي هڅې لاپسې ګړندی کړي، په درېيم څپرکي کې يې د پښتو لرغونو ادبياتو څېرې لکه: امير کروړ، بېټ نيکه، شيخ اسمعيل، خرښبون او نور راپېژندلي دي، دغسې په څلورم څپرکي کې يې د پښتو ژبې اړيکې له نورو (عربي او دري) ژبو سره وړاندې کړې دي، په پينځم

(c) ketabton.com: The Digital Library

څپرکي کې يې د لرغونې دورې پر نظم (ولسي او مشترک) بحث کړی دی، په شپږم څپرکي کې يې د لرغونې دورې په نثر بحث کړی، دا ځکه چې دغه برخه ډېره لږه ده او ځانته په مستقل سمستر کې د تدريس جوګه نه ده.

په اووم څپرکي کې د پښتو لرغونې دورې متروکې کلمې او جغرافيوي نومونه سپړل شوي دي، همدارنګه اتم څپرکي کې په لرغوني دوره کې پر لومړنۍ ژباړه بحث شوی او څېړل شوې ده، دغسې په نهم څپرکي کې د شيخ رضي لودي پاړکی او په غبرګون کې يې د نصر لودي پاړکی او د اسمعيل د نارو (څلوريځو) په غبرګون کې د خرښبون څلوريځ وړاندې شوی او سپړل شوی دی، په لسم څپرکي کې د لرغونو ادبياتو محتوايي فورمونه، لکه: وياړنه، ويرنه او نور تر بحث لاندې نيول شوي دي، ورپسې په يوولسم څپرکي کې يې د لرغونې دورې اسلامي افکار، حماسي افکار، ملي افکار او نور سپړل شوي دي، په دولسم څپرکي کې د لرغونې دورې عمومي ځانګړنې ښودل شوې دي، په ديارلسم څپرکي کې د لرغونې ادبي دورې پر کيفيت او کميت بحث شوی او په څوارلسم څپرکي کې د لرغونو ادبياتو مهمې ټولنيزې، سياسي څېړې او حادثې تر څېړنې لاندې نيولې دي، تر څو د لرغونې دورې ټولنيزې او سياسي څېړې وپېژندل شي او د حالاتو او حادثو په اړه معلومات ترلاسه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته ټکیو ته په پاملرنې د ښاغلي محمد اسمعیل یون دغه تالیفي اثر په دې ډول ارزوم:

۱- دغه تالیفي تدریسي اثر له نویو اصولو او میتودونو سره سم ترپایه پورې په معیاري بڼه لیکل شوی دی.

۲- تراوسه پورې د پښتو ادب تاریخ لومړی (لرغونې) دورې د غسې تدریسي اثر نه درلود، یا به د چپتړ په بڼه تدریسېده او یا به هم د ناتکمیلې تدریسي محتوا له اثارو څخه کار اخیستل کېده، زه فکر کوم چې ددې اثر په رامنځته کېدو سره به دغه خلا ډکه شي.

۳- په دې اثر کې په راټوله شوې ډېټا ډېر زیار او زحمت ویستل شوی دی، تعبیر او تفسیر یې ښه او په زړه پورې دی.

۴- د ښاغلي لیکوال په دې تالیفي اثر کې د اهمیت وړ موادو څخه کار اخیستل شوی، اوډون یې سیستماتیک دی او منځپانګه یې هم ډېره ښه ده، نو ځکه یې بکروالی او نوښت په خپل ځای ډېر مهم دی، دا ځکه چې په دې برخه کې دا لومړنی ګام دی، کېدی شي چې په راتلونکي کې تر دې لا زیات ښه اثر وکښل شي، خو دا به یې د لارې مشال وي.

۵- ددې اثر په لیکلو کې له پخوانیو او اوسنیو مستندو او معتبرو مدارکو څخه کار اخیستل شوی، چې دغه اثر ته یې ښکلی خوند او رنګ وربښلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶- ژبه یې خوندوره، ساده، روانه او سلیسه ده، غوټې او ابهام نه لري.

د پورته شپږو مادو له مخې زه د ښاغلي یون دغه علمي تدریسي اثر مثبت ارزوم او له مربوطو چارواکو څخه هیله کوم چې ددې اثر د بشپړاوي له امله ښاغلي یون ته د پوهاندۍ علمي رتبه منظور کړي، او هم یې د ژر چاپ سپارښتنه کوم او لیکوال ته یې په راتلونکي کې تر دې د لا زیاتو بریاوو هیله لرم.

په درنښت

ډاکتر محمد اجان حقپال

د پښتو څانګې استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

له (۱۳۷۱ل) کال څخه بیا تر (۱۳۹۳ل) کال پورې پوره (۲۳) کاله کېږي چې زه (یون) د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې پر تدریس بوخت یم، د تدریس ډېره برخه مې په خپله څانګه کې پر مسلکي او اساسي مضامینو او کمه برخه یې تر پوهنځي بهر په نورو پوهنځیو او په خپله په خپل پوهنځي کې په نورو فرعي څانګو کې د پښتو ژبې او ادب پر تدریس تېره کړې ده.
په دې ټول بهیر کې له ځینو وقفو پرته چې هغه هم د جګړو او ځینو نورو عواملو له امله رامنځته شوي، د تدریس ټول جریان مې په منظم ډول پرمخ وړی دی، په خپله څانګه کې ما اکثره (ادبپوهنه) مضمون تدریس کړی او په ادبپوهنه کې هم (ادب تاریخ) او په ادب تاریخ کې بیا هم تر ډېره لومړۍ یا لرغوني دوره او بیا منځنۍ دوره.
لرغوني یا لومړۍ دوره مې ځکه ډېره تدریس کړې چې ما اکثره لومړي ټولګي ته تدریس کاوه چې دوه یا درې (الف، ب او ج) ټولګي به یې درلودل. په لومړي ټولګي کې له تدریس څخه زما هدف دا و چې یو خو نوي محصلین پر تدریس پیل کوي، زړونه او ذهنونه یې تازه وي، دا مهال که دوی ته پاخه بنسټونه کېښودل شي، نو د دوی د ذهني او فکري اعمار لپاره ډېر ګټور پرېوزي، نو که د ادبیاتو پیل دوی ته په ښه او منظم ډول تشریح شي، د دوی مینه او لېوالتیا ورسره زیاتېږي، خپل خپل تشبثات هم کوي نو ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د همدغه هدف لپاره کوښښ کاوه لومړي ټولګي ته تدریس وکړم. د (ادبپوهنې بنسټونه) او (ادب تاریخ) دواړه مضمونونه ما تدریسول. د پښتو څانګې د لومړي ټولګي په همدې لومړي سمستر کې محصلین له ادب، ادبیاتو، ادبپوهنې، ادب تاریخ، ادب تیوري او ادبي کره کتنې، ادیب، ادبپوه، شعر، شعار، نظم، نثر او ګڼو نورو اصطلاحاتو او مفاهیمو سره مخامخېدل، یوه اساسي پوښتنه به همدا وه خیر نو دا ادب څه شی دی؟ ددې پوښتنې په ځواب کې به ما دوی ته نه یوازې لومړنې معلومات او تعریفونه وړاندې کول، بلکې له دې سره اړوند پورتنې اصطلاحات به مې هم ورته تعریفول. د ادبپوهنې بنسټونه هغه مضمون و چې د پورتنیو اصطلاحاتو تعریفونه او مفاهیم یې مشخصول. دا مضمون مې نږدې پنځه لس کاله متواتر تدریس کړی، له دې لارې مې له محصلینو سره د پوهاوي او راپوهاوي مستقیم اړیکي ټینګ کړي او یوه مثبته تجربه مې ترلاسه کړې ده. د دې تجربې یوه برخه دا وه چې محصل باید شخصاً په تدریس کې د یوه ګډونوال په توګه مطرح شي. ما نه یوازې دوی ته کتابي تعریفونه او توضیحات وړاندې کول، بلکې د دوی نظریات مې هم اخیستل، دوی به خپل خپل تعریفونه او مفاهیم، انګېرنې او نظرونه هم وړاندې کول او بیا به مو په ګډه هغه تعریف ته ترجیح ورکوله چې کلونه کلونه به پرې پوهانو کار کړی و، د هغوی د تجربې نچوړ به و، حقیقت او واقعیت سره به یې سمون درلود، ادیبانو او ادبپوهانو ته به د منلو وړ و. دا خبره باید څرګنده شي چې په ټولنیزو علومو کې تعریفونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ساینسي تعریفونو په بڼه نه دي، چې مطلق او ثابت دي، د نظرونو اجماع ته اړتیا نه لري، د زمان او مکان موقعیت پرې هم اغېز نه کوي، ځکه چې پر تجربې ولاړ دي. هر هغه علم چې پر تجربې ولاړ وي، د هغه په تعریف کې د نظر اختلاف نه وي، خو ادبیات چې یو ژبنی هنر او ټولنیزه پدیده ګڼل کېږي، د ساینسي تعریفونو په چوکاټ کې نه را ایساریږي. په داسې یو حالت کې د استاد او محصلینو ترمنځ د مفاهیمو د لېږد رالېږد ، پوهاوی او راپوهاوی، د ګڼ شمېر سره ورته او بېلابېلو تعریفونو وړاندې کول او شنل خورا مهم دي.

د (ادبپوهنې بنسټونو) ترڅنګ مې (ادب تاریخ) مضمون هم تدریساوه، د لومړي ټولګي د لومړي سمستر لپاره د تدریسي کاریکولم له مخې د پښتو ادبیاتو (لومړۍ یا لرغونې) دوره غوره شوې ده، چې نږدې نهه سوه کاله ادبي بهیر رانغاړي. ددې مضمون د تدریس په برخه کې د استاد او محصل دواړو رابطه او همکاري ملګرې وه. د دواړو مضامینو د تدریس پرمهال نه یوازې محصلین په مستقیم ډول په تدریس کې برخوال وو، بلکې ما دوی ته د کورني کار په بڼه د ادب تاریخ د همدې دورې او ادبپوهنې د مضمون ټولې اړوندې موضوعګانې ورکولې او دوی به پرې علمي سیمینارونه ترتیبول. دا موضوعګانې د کتابتوني او ساحوي څېړنې په بڼه څېړل کېدلې، د شننې او ارزونې بڼه یې هم درلوده. دوی به چې کله خپل سیمینارونه بشپړ کړل، نو دوی ته بیا ددې مجال ورکول کېده چې خپل سیمینارونه په خپل ټولګي کې ولولي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نور محصلین تري پوښتني ګروېږنې وکړي، دې کار به د محصلینو استعداد هم ښکاره کاوه، د هغوی جرئت به یې هم زیاتوه، نیمګړتیاوو ته به هم متوجه کېدل او ترڅنګ به یې د اړوند مضمون او په هغه کې د شاملو محتویاتو له پراختیا سره هم مرسته کوله.

پر (۱۳۸۹ل) کال مې داسې یو کار وکړ چې د لومړي ټولګي په لومړي سمستر کې د ادب تاریخ به مضمون کې د لرغوني دورې شاملې (۵۶) موضوعګانې مې پر (۵۶) محصلینو ووېشلې، هر یو ته مې وویل چې دا مو د سیمینار موضوع شوه، ښه یې وڅېړئ، ویې شنئ او که چېرې ښې لیکنې مو وکړې، نو د یوه کتاب په بڼه به یې چاپ کړو او د همدې ټولګي د لومړي سمستر راتلونکو محصلینو ته به د یو مرستندوی درسي کتاب په بڼه کار ورکړي. څه زما مثبت فشار و او څه هم د محصلینو مینه، لېوالتیا. دوی ټولو خپل سیمینارونه بشپړ کړل، (۵۶) لیکنې مو په یوه واحد کتاب کې راټولې او (د پښتو ادب لرغوني دوره) نوم مو ورکړ، کتاب مو پر (۱۳۸۹ل) کال چاپ او بیا مو د محصلینو د تشویق په خاطر د ځینو محصلینو د والدینو په ګډون ورته د کتاب پرانیستې یوه پراخه غونډه هم جوړه کړه. لوستونکي اوس دا اثر په چاپي او برېښنایي بڼه ترلاسه کولای شي. دا په افغانستان کې څه چې په نړۍ کې به لومړی ګام وي چې د یوه ټولګي محصلین دې په خپله د خپل ځان لپاره درسي یا مرستندوی درسي کتاب ولیکي او عملاً دې تري نور محصلین ګټه پورته کړي. تر دې کال وروسته مې په بل لومړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګي کې بې‌ہا محصلینو ته چې ټول شمېر یې نږدې (۱۲۰) تنو ته رسېده، کورنۍ دندې یا سیمینارونه وسپارل، خو دا ځل څېړنه، شننه او یا هم سپړنه نه وه، دا ځل یوازې ژباړه وه. هغوی ټولو ته مې وویل، هر څوک چې پر هره ژبه پوهېږي، له همغې ژبې څخه دې پښتو ته یو یو اثر وژباړي. له سیاسي اثارو پرته بل هر ډول، علمي، ادبي، څېړنیز او نور اثار ژباړلای شي. محصلینو ته مې درې میاشتې وخت ورکړ او ورته مې وویل چې دا ژباړه مو د کورني کار او یا سیمینار په توګه درمحاسبه کوم او تر سیمینار هم زیاتې نمرې لري. دوی خپل کار ته اوږه ورکړه او په پای کې یې (۱۱۴) عنوانه بېلابېل ادبي، تاریخي، علمي او نور اثار وژباړل، دا هم په نړۍ او سیمه کې یوه بې ساري بېلګه ده چې د یوه ټولګي محصلین دې خپلې ټولنې ته پر یوه وخت دومره اثار ډالۍ کړي. دا اثار که څه هم ددې کتاب د لیکلو تر وخته نه دي چاپ شوي خو اکثره یې د چاپ وړ دي او زموږ د ټولنې د علمي او ادبي اړتیاوو د خړوب لپاره یې چاپ ضروري دی.

له دې سریزې څخه مې هدف دادی چې هر استاد ته په کار دي، د تدریس په بهیر کې خپله تجربه لاپسې پخه او بل پښت ته یې وړاندې کړي، محصلینو ته ددې مجال ورکړي چې هغوی په تدریسي بهیر کې د یوې اساسي برخې په توګه ګډون وکړي، نه یوازې دا چې د یوه بې دخله مخاطب په توګه یوازې د اورېدونکي په رول کې پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې ما د (پوهاندۍ) علمي رتبې لپاره د تېزس موضوع ټاکله، نو د پښتو څانګې له مشرتابه او استادانو سره په مشوره مې د (ادب تاریخ) همدا (لومړنۍ یا لرغونې) دوره غوره کړه، څانګې هم په تېر تدریسي بهیر کې زما ماضي او تېرې تجربې ته په کتو سره له یادې موضوع سره موافقه وکړه، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي او د لوړو زده کړو وزارت هم موضوع تائید کړه. تر هغه وروسته مې په دې برخه کې د ټولو لیکل شویو او متفرقو اثارو په راټولولو لاس پورې کړ. که څه هم په ټولیز ډول د پښتو ادب تاریخ او په تېره بیا د لرغونې دورې په باب ګڼ شمېر اثار لیکل شوي، اکثره یې پر خپل ځای او پر خپل وخت ګټور دي، خو داسې یو بل اثر ته هم اړتیا وه چې د تېرو لیکلو شویو اثارو مزایاوې هم ولري او په همدې مشخصه برخه کې د یوه اوږده تدریسي بهیر نچوړ او تجربه هم ورسره ملګرې وي.

نو په دې خاطر مې په ټینګه وپتېیله چې د ژبو او ادبیاتو پوهنځیو د پښتو څانګې محصلینو ته داسې یو تدریسي اثر ولیکل شي چې د پښتو ادب لرغونې دوره هم په ښه ډول توضیح او تشریح کړای شي او محصلینو ته هم ددې مجال ورکړي چې د تدریس پرمهال په تدریسي بهیر کې د یوه فعال عنصر په توګه مطرح شي. دلته غواړم په دې برخه کې هغو ټولو اثارو ته هم په لنډیز سره نغوته وکړم چې د پښتو ادب تاریخ د همدې لرغونې دورې په باب لیکل شوي او یا هم له دې دورې سره اړیکې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اثارو کې یو شمېر هغه اثار شامل دي چې په مشخص ډول د پښتو لرغونو ادبیاتو یا هم لرغونې دورې ته ځانګړي شوي دي. ځینې نور بیا داسې اثار دي چې په مجموعي ډول د پښتو ادبیاتو او په تېره بیا د هغو د بېلابېلو دورو؛ منځنۍ او یا کلاسیکې دورو په باب لیکل شوي او څه ناڅه یې پر لرغونو ادبیاتو هم رڼا اچولې ده.

د پښتو ادبیاتو پر شکلي او محتوایي اړخونو هم ځینې اثار لیکل شوي، چې هغو هم د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې منظوم او منثور کلام د بېلګو په توګه را اخیستي او هغه یې شنلي او ارزولي دي. دلته غواړو دې ډول اثارو ته اشاره وکړو:

د یادونې وړ ده، چې دا کار به لوستونکو او محصلینو ته د پښتو لرغونو ادبیاتو په باب د شوي کار، تحلیل، ارزونې او شننې یو جاج او انځور وړاندې کړي. درانه محصلین او لوستونکي کولای شي د لا زیاتو معلوماتو لپاره یادو اثارو ته هم مراجعه وکړي او له هغو څخه هم خپله خپله ګټه پورته کړي.

تر کومه ځایه چې د ادبي تاریخ لیکنې په بهیر پورې اړه لري، له ادبي څېړنو جوتېږي چې په معاصر مفهوم د ادبي تاریخ لیکنې بهیر د روانې لمریزې پېړۍ د دویمې لسیزې له لومړیو کلونو څخه راپیلېږي او تراوسه یې په دې تېرو اوو اتو لسیزو کې ډېر ورو پرمختیایي حرکت لرلی دی. موږ دلته ددې پرمختیایي یون ارزونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د لیکل شویو ادبي تاریخونو کره کتنه نه کوو ، یوازې لیکلي ادبي تاریخونه او ادبي تاریخ ډوله اثار په ډېر لنډیز سره درپېژنو:

((د پښتو ادبي تاریخ د منابعو پېژندنه او ارزیابي)) اثر لیکوال دغه لیکل شوي ادبي تاریخونه او ادبي تاریخ ډوله اثار په مناسب تفصیل سره معرفي کړي دي، موږ یې د نوموړي اثر په حواله په ډېر لنډیز سره درپېژنو:

**تاریخچه شعر پښتو**: په معاصر مفهوم د ادبي تاریخ لیکنې بهیر د ارواښاد پوهاند عبدالحی حبیبي له (تاریخچه شعر پښتو) نومي اثر څخه کېږي. ځینو بیا دغه اثر ادبي تاریخ ډوله اثارو کې شمېرلی، خو ځینو بیا له دې امله چې د ادبي تاریخي دورو وېش او ځینې نورې ځانګړنې لري، د پښتو لومړنی ادبي تاریخ بللی دی. ارواښاد استاد دغه اثر په دري ژبه لیکلی او په پرله پسې ډول په (طلوع افغان) کې خپور شوی پر (۱۳۱۴ل) کال د زمري د میاشتې پر (۱۳)مه نېټه یې خپرېدنه بشپړه شوې ده. (د اثر په دې وروستیو کې په کندهار کې په کتابي بڼه هم خپور شوی دی.)

**د پښتو د ادب تاریخ**: دا د پوهاند صدیق الله رښتین لیکلی اثر دی چې پر (۱۳۲۳ل کال یې ادبي جایزه ګټلې وه) او لومړی ځل پر (۱۳۲۵ل) کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پښتو ادب:** دا د پښتو ادب يوه لنډه رساله ده، چې اجمل خټک پر (۱۹۴۷م) کال په اردو ژبه ليکلې او تر اوسه څو ځله خپره شوې ده.

**پښتو ادب:** دغه کوچنی ادبي تاريخ ډوله رساله پر (۱۹۵۱م) کال په کراچۍ کې چاپ شوی، خو د ليکوال نوم پرې نه دی ليکل شوی.

**ادبيات سرحد لومړی ټوک:** په اردو ژبه ليکل شوی ادبي تاريخ ډوله اثر دی، چې رضا همدانی ليکلی او پر (۱۹۵۳م) کال په لاهور کې چاپ شوی دی.

**د افغانستان ادبيات په لرغونو زمانو کې (پښتو ادبيات):** ارواښاد غلام جيلاني جلالي د پوهاند عبدالحی حبيبي د پښتو ادبياتو تاريخ لومړی ټوک او پوهاند صديق الله رښتين د پښتو د ادب تاريخ پر بنسټ ليکلی او خپلې څېړنې يې هم ورسره ملې کړې دي.

**د پښتو ادبياتو تاريخ دويم ټوک:** دا ادبي تاريخ استاد حبيبي پر (۱۳۲۳ل) کال د کابل پوهنتون په چوکاټ کې د ژبو او ادبياتو پوهنځي تر تاسيس وروسته ليکلی او بيا لومړی ځل پر (۱۳۳۸ل) کال په کتابي بڼه چاپ شوی او بيا تر ننه څو ځله چاپ او خپور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د يادونې وړ ده چې ارواښاد علامه پوهاند حبيبي دمخه پر (۱۳۲۳ل) کال د پښتو ادبياتو تاريخ لومړی ټوک کښلی، چې له (۱۳۲۵ل) کال څخه تراوسه څو ځل چاپ شوی او په دربيم چاپ (۱۳۵۴ل) کال پرې ډېرې زياتونې هم شوي. دا اثر د ادبياتو پرځای د پښتو ژبې تاريخ دی، نو ځکه (د پښتو ادبي تاريخ د منابعو پېژندنه او ارزيابي) اثر ليکوال هغه د ادبي تاريخونو په لړ کې نه دی معرفي کړی.)

**پښتو علاقايي ادب**: دغه ادبي تاريخ ډوله اثر سلطان محمدصابر ليکلی او د کويټې اولس مجلې د (۱۹۶۳م) کال د خصوصي ګڼې په (۲۶۱-۳۰۴) مخونو کې چاپ شوی دی.

**لغة البشتو**: دا يو لنډ ادبي تاريخ ګوټی دی، چې استاد پوهاند حبيبي ليکلی او په عربي ژبه په قاهره کې چاپ شوی دی.

**نظری به ادبيات پشتو**: د پوهاند حبيبي عربي رساله پر (۱۳۵۶ل) کال سمندر غورياني دري ته ژباړلې او پر (۱۳۵۷ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي له خوا چاپ شوې ده.

**د پښتو ادبياتو تاريخ**: دا يو درسي متن دی، چې پوهاند رښتين پر (۱۳۴۳ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې د څلورم ټولګي محصلانو ته ليکلی دی. دا اثر پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۳۴۶ل) کال دویم ځل لپاره بیا چاپ شوی، چې تر لومړي چاپ په کې زیاتوالی راغلی دی.

**د پښتو ادب تاریخ**: دا هم یو درسي متن دی، چې پوهاند عبدالحی حبیبي د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د دریم ټولګي د زده کړیالانو لپاره لیکلی او پر (۱۳۴۷ل) کال په ګستتنر ډول چاپ شوی دی.

**د پښتو ادب لنډ تاریخ**: دا هم پوهاند عبدالحی حبیبي د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د څلورم ټولګي زده کړیالانو لپاره لیکلی او پر (۱۳۴۷ل) کال د پوهنتون په چاپ خونه کې ګستتنر شوی دی.

**پښتو زبان و ادب پر ایک نظر**: یوه ادبي تاریخ ډوله رساله ده، چې فقیر حسین ساحر په اردو ژبه لیکلې او پر (۱۹۶۵م) کال د پښتونخوا په پېښور کې چاپ شوې ده.

**پښتو زبان اور ادب کی تاریخ**: دا ادبي تاریخ محمد عباس مدني په اردو ژبه لیکلی او پر (۱۹۶۹م) کال د پښتونخوا په پېښور کې چاپ شوی دی.

**تاریخ ادبیات مسلمانان پاکستان و هند**: دا په اردو ژبه د هند او پاکستان د مسلمانو خلکو د ژبو او ادبیاتو د تاریخونو یوه اوږده لړۍ ده، چې د دیارلسم ټوک په پیل کې یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ادبیاتو ستر څېړکی په (۱۸۳) مخونو خوندي کړی دی. د ادبي تاریخ دا دیارلسم ټوک پر (۱۹۷۱م) کال د پنجاب پوهنتون له خوا د پاکستان په لاهور کې چاپ شوی دی.

**روهي ادب:** په پښتونخوا پېښور کې لومړنی لیکل شوی بشپړ ادبي تاریخ دی، چې پروفیسور محمد نواز طایر په دوو ټوکونو کې لیکلی او پر (۱۹۷۸م) کال د پېښور پوهنتون پښتو اکیډیمۍ له خوا چاپ شوی دی. (دا ادبي تاریخ اردو ژبې ته هم ژباړل شوی او په همدغه نوم چاپ دی.)

**د پښتو ادبیاتو تاریخ:** د پښتو ادبیاتو د تاریخ دا لړۍ د کابل پوهنتون استاد پوهنوال ډاکتر زېورالدین زېور په درېو ټوکونو کې د ادبیاتو پوهنځي د محصلینو لپاره، لومړی ټوک لرغونې دوره (۱۳۵۹ل)، دویم ټوک منځنۍ دوره (۱۳۵۷ل) او درېیم ټوک معاصره دوره (۱۳۶۰ل) کال لیکلې، دا اثار د کابل پوهنتون په چاپخونه کې ګستتنر شوي دي. (وروسته بیا دا درې واړه ټوکونه جلا جلا لومړی د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، بیاد مومند خپرندویه ټولنې او په دې وروستیو کې د میهن خپرندویې ټولنې له خوا چاپ شوي دي.)

(د پښتو ادبي تاریخ د منابعو پېژندنه او ارزیابي) تر اثر وروسته بل اثر چې مورږ ته د پښتو ادبیاتو په باب لیکل شوي اثار راپېژني

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د پښتو ادب تاریخ (کره کتنه) اثر دی. په دې اثر کې ادبي تذکرې هم معرفي شوي دي.

البته د پښتو ادب تاریخ (کره کتنه) اثر لیکوال ځینې هغه ادبي تاریخونه هم راپېژني چې د پښتو د ادبي تاریخ د منابعو پېژندنه او ارزیابۍ اثر د تالیف تر کال (۱۳۶۷لمري) څخه وروسته چاپ شوي یا لیکل شوي دي. موږ دلته د نوموړي اثر په استناد یوازې د ادبي تاریخونو او د هغو د لیکوالو نومونه راوړو:

۱- تاریخچه شعر پښتو (د پوهاند حبیبي)، ۲- د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک (پوهاند عبدالحی حبیبي)، ۳- د پښتو د ادب تاریخ د پوهاند صدیق الله رښتین، ۴- د پښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوک (پوهاند حبیبي)، ۵- د پښتو ادب تاریخ (پوهاند حبیبي)، ۶- د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره (ډاکتر زېورالدین زېور)، ۷- د پښتو ادبیاتو تاریخ- اوسنۍ دوره د ډاکتر زېورالدین زېور، ۸- د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دورې)- لومړی ټوک (سرمحقق زلمی هېوادمل)، ۹- د پښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوک (معاصره دوره) (کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي)، ۱۰- د افغانستان ادبیات په لرغونو زمانو کې (پښتو ادبیات) (غلام جیلاني جلالي)، ۱۱- د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ (شهسوار سنګروال)، ۱۲- پښتوادب د پېړیو په پوړیو کې (حبیب الله رفیع)، ۱۳- لغة البشتو (پوهاند عبدالحی حبیبي)، ۱۴- د پښتو ادبیاتو تاریخ (پوهاند صدیق الله رښتین)، ۱۵- د پښتو ادب تاریخ (پوهاند

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالحی حبیبي)، ۱۶- د پښتو ادبیاتو لنډ تاریخ (پوهاند عبدالحی حبیبي)، ۱۷- د پښتو ادب لنډ تاریخ (څېړنوال سید محی الدین هاشمي)، ۱۸- تاریخ ادبیات افغانستان (محمد حیدر ژوبل)، ۱۹- پښتو ادب (اجمل ختټک)، ۲۰- پښتو ادب (د لیکوال نوم یې معلوم نه دی)، ۲۱- پښتو ادب (عبدالحلیم اثر)، ۲۲- د پښتو شعر و ادب تاریخ (شېرافضل بریکوټی)، ۲۳- پشتو زبان ادب کی مختصر تاریخ (عبدالله جان عابد)، ۲۴- د پښتو ژبې او ادب تاریخ (پروفیسور حنیف خلیل).

دلته ځینې هغه ادبي تاریخونه چې د پښتو ادبي تاریخ د منابعو پېژندنه او ارزیابي نومي اثر تر چاپ او خپراوي وروسته چاپ شوي او یا لیکل شوي د پښتو ادب تاریخ (کره کتنه) اثر په حواله یې په ډېر لنډیز درپېژنو:

**پښتو ادب لنډ تاریخ:** څېړنوال سید محی الدین هاشمي لیکلی، د پښتو ادبیاتو لنډ تاریخ دی، چې (۱۳۸۲- ۱۳۸۳ل) کال کې د صبا مجلې په (۴۵-۹۷) ګڼو کې پرله پسې خپور شوی دی.

**تاریخ ادبیات افغانستان:** دا اصلاً د دري ژبې او ادبیاتو تاریخ دی، محمد حیدر ژوبل لیکلی، لومړی برخه کې د پښتو ژبې او وروسته د پښتو ادبیاتو په اړه ډېرې لنډې څرګندونې لري.

دا اثر لومړی پر (۱۳۳۶ل) کال او بیا تر (۱۳۸۲ل) کال وروسته څو ځله د میوند خپرندویې ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پښتو شعر و ادب تاریخ:** دا ادبي تاریخ شېر افضل بریکوټي لیکلی او پر (۱۳۷۴ل) کال په پښتونخوا پېښور کې چاپ او خپور شوی دی.

**پشتو زبان اور ادب کی مختصر تاریخ:** دا ادبي تاریخ په اردو ژبه عبدالله جان عابد لیکلی او پر (۱۳۸۶ل) کال په پښتونخوا پېښور کې چاپ شوی دی.

**د پښتو ژبې او ادب تاریخ:** د پښتونخوا پېښور پوهنتون د پښتو ادبیاتو د ماسترۍ د پروګرام د لومړۍ پارچې (مضمون) لپاره پروفیسور حنیف خلیل لیکلی او پر (۲۰۰۶م) کال په پښتونخوا پېښور کې چاپ شوی دی.

**پشتو زبان و ادب کی تاریخ (ایک خاکه):** حنیف خلیل په اردو ژبه لیکلی ادبي تاریخ دی، چې پر (۲۰۰۸م) کال په پښتونخوا پېښور کې د یونیورستي بکس پبلشرز له خوا په (۷۴۸) مخونو کې چاپ او خپور شوی دی.

پر دغو اثارو سربېره په وروستیو کې یو شمېر نور اثار چې د لرغوني ادبي دورې په باب لیکل شوي دي، په دې ډول دي:

**د پښتو ادب لرغوني دوره:** دا هغه اثر دی چې پر (۱۳۸۸ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د محصلینو له خوا په ګډه لیکل شوی او پر (۱۳۸۹ل) کال د یون

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلتوري يون له خوا چاپ شوی دی. په دې اثر کې د (۵۶) محصلينو له خوا (۵۶) بېلابېلې ليکنې راټولې شوې چې ټولې د لرغونې ادبي دورې او له هغې سره پر تړلو موضوعاتو راڅرخي. دا کتاب هم دلرغونې دورې د ادبياتو په باب خورا مهم اثر دی.

**د پښتو لرغونې شاعري**: د پوهنمل سيدغني غني له خوا ليکل شوی او په ننګرهار کې د مومند خپرندويه ټولنې له خوا لومړی ځل پر (۱۳۹۲ل) کال چاپ شوی دی. دا اثر د علمي ترفيع لپاره ليکل شوی او ټول شنل شوي او ارزول شوي موضوعات يې پر پښتو لرغونې شاعرۍ راڅرخي. دا اثر د پښتو لرغونې شاعرۍ د څېړنې او پېژندنې په برخه کې يو اختصاصي اثر ګڼل کېدی شي.

**د پښتو ادبياتو لرغونې دوره**: دا اثر استاد (فريد هلال) ليکلی او په جلال اباد کې (کتاب خپرندويه ټولنې) له خوا په ښکلې قطع او صحافت چاپ شوی دی.

دا هم د پښتو لرغونو ادبياتو په باب څېړنه او شنه ده او د ښوونې او روزنې پوهنځي او د دارالمعلمينو د استادانو، محصلينو د يو شمېر پوښتنو او اړتياوو د رفع کولو لپاره ليکل شوی دی. اثر ډېره تفصيلي بڼه نه لري، خو د لوستونکو او محصلينو لپاره ګټور اثر ګڼل کېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د زړو پاڼو تول**: د زرین انځور د (۱۱) لیکنو ټولګه ده چې دوه لیکنې یې د پښتو لرغونو ادبیاتو شننې ته وقف شوي او نورې یې د کلاسیکو ادبیاتو په باب دي، دا اثر پر (۱۳۹۴ل) کال د مومند خپرندویې ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

((پورته مو د پښتو ژبې ځینې ادبي تاریخونه او ادبي تاریخ ډوله اثار چې په افغانستان او پښتونخوا کې چاپ شوي وو. په ډېر لنډیز سره دروپېژندل، د هغو پر منځپانګې، محتویاتو او نورو ځانګړنو مو ډېر بحث ونه کړ، خو دلته ددې خبرې یادونه ضروري بولو چې له ځو ګوتو په شمېر ادبي تاریخونو پرته، زموږ زیاتره د ادبیاتو تاریخونه په عنعنوي او دودیزه بڼه لیکل شوي او د ادبي تاریخ لیکنې معاصر معیارونه، د لیکنې اصول او لارې په پام کې نه دي نیول شوي. سربېره پر دې په پښتو ژبه او ادب کې په معاصر مفهوم د ادبي تاریخ لیکنې بهیر، چې له پیلامې یې لږو ډېر اتیا کلونه تېرېږي، د نورو ګاونډیو ژبو په ځانګړې توګه د پارسي او اردو په پرتله ډېر ورو او په اصطلاح د مېږي په پله روان دی او په پښتو کې د یو جامع او عمومي ادبي تاریخ او یا د هرې ادبي دورې په اړه د یو ځانګړي ادبي تاریخ لیکنې لپاره اکاډیمیکې او هر اړخیزې څېړنې ته اړتیا شته.)) (۴۷: ۵۰۴- ۵۱۲)

ما په خپل دې اثر کې د لوړو زده کړو وزارت له خوا د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د همدې لرغونې دورې لپاره د تصویب شوي کاریکولم ټول محتویات په پام کې نیولي او هغو ته مې داسې څېړنیزه، شننیزه او تدریسي بڼه ورکړې چې محصلین په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې خپل ځان شامل وګڼي. دا اثر له سریزې پرته تهول (۱۴) څپرکي لري. په لومړي څپرکي کې يې لومړۍ یا لرغوني دوره تشریح شوې، ادب تاریخ، ادبي تذکره څه ته وايي؟ پښتو څو ادبي دورې لري؟ دا مسایل تشریح شوي، تر لرغونې دورې دمخه پښتو ادب ته هم نغوته شوې او بیا د پښتو ادب لرغونې دوره شنل شوې ده. په دویم څپرکي کې د پښتو ادبیاتو لویې حوزې؛ غور، کسي غر، ملتان او نورې سیمې تشریح شوي او په درېیم څپرکي کې له امیر کروړه رانیولې تر شیخ محمد صالح پورې د پښتو ادبیاتو (۲۹)بېلابېلې څېرې؛ او د هغوی د کلام بېلګې تشریح شوي، هم د دوی ژوند ته کتنه شوې او هم يې کلام ارزول شوی دی. په څلورم څپرکي کې له نورو ژبو، له عربي او دري سره د پښتو ژبې اړیکي څېړل شوي، په پنځم څپرکي کې د لرغونې دورې نظم پر دوو برخو: د پښتو خپل یا ولسي ادبیاتو فورمونه، لکه لنډۍ، بګتۍ، سروکي او نور څېړل شوي او هم له نورو ژبو څخه راغلي نظمي فورمونه لکه، قصیده، رباعي، غزل، مثنوي او نور ارزول شوي دي.

په شپږم څپرکي کې د لرغونې دورې نثر: د سالو وږمه، تذکرة الاولیا او نور څېړل شوي دي. اووم څپرکي کې د لرغونې دورې د ادبیاتو لغوي شننه شوې، متروکې کلمې، پخوانۍ کلمې او جغرافیایي نومونه شنل شوي دي. په اتم څپرکي کې په لرغونې دوره کې منظومه ژباړه، د هغې فورم، هنري ښکلا او د هغې پرتلنه څېړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نهم څپرکي کې په لرغونې دوره کې د شيخ رضي لودي او نصر لودي، د اسمعيل او خرښبون او همدارنګه د سلطان بهلول لودي او خليل خان نيازي ترمنځ لومړنۍ مشاعرې او مناظرې څېړل شوې دي. په لسم څپرکي کې د لرغونو ادبياتو محتوايي فورمونه لکه وياړنه، ويرنه، ستاينه، ساقينامه او نور څېړل شوي او اورزول شوي دي. په يولسم څپرکي کې د لرغونو ادبياتو فکري ځرنګوالی، اسلامي افکار، غنايي افکار، سياسي افکار، ملي او نور افکار څېړل شوي او شنل شوي دي. په دولسم څپرکي کې د لرغونې دورې عمومي ځانګړنو ته نغوته شوې، ددې دورې د ادبياتو خپل چاپېريال، نرږه والي، د نورو ژبو اغېزو، لوړتيا او ځوړتيا ته ګوته نيول شوې ده. په ديارلسم څپرکي کې د لرغونې دورې د ادبياتو څرنګوالي او څومره والي يا کيفيت او کميت ته اشاره شوې او يو بل سره پرتله شوي دي. په څوارلسم څپرکي کې د لرغونې دورې موثرې سياسي او ټولنيزې څېرې او حادثې بيان شوي او د پښتو کرونولوژي راغلې ده او په همدې وروستۍ برخه کې د اثر پايله يا نتيجه راغلې ده. چې په عمومي ډول يې د لرغوې ادبي دورې ځانګړنې يو ځل بيا په ګوته کړي دي. د يادونې وړ ده چې د هر څپرکي په پای کې د هغه څپرکي محتوايي لنډيز او د محصلينو د فکر کارونې لپاره د هغه څپرکي اړوند پوښتنې هم راغلې، چې نه يوازې محصلين به د تدريس په بهير کې له دې پوښتنو سره مخامخېږي او هغوی به ورته ځوابونه پيدا کوي، بلکې دا پوښتنې به دوی ته د کورنيو دندو يا سيمينارونو په بڼه هم ورکول کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی به په دې برخه کې لا ډېره پلټنه او څېړنه کوي، تشریحي، توضیحي، لنډ او تفصیلي ځوابونه به ورته پیدا کوي.

دلته ددې خبرې یادونه هم ضروري بولم چې دا اثر د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې په باب نه لومړنی اثر دی او نه هم وروستنی، دا د تېرو لیکلو شویو اثارو په دوام یو بل اثر دی چې د هغو پخوانیو اثارو ګټورې مزایاوې په کې هم خوندي دي او نوې زیاتونې هم لري. تر دې وروسته به نور اثار هم لیکل کېږي چې کېدی شي ددې اثر له ځینو ګټورو خواوو ګټه پورته کړي او لا ښه پوره او کره اثر ترې ولیکل شي، بشري ژوند د نورو تجربو او تېرو کارونو تداوم دی، علم هم پر یوه ورځ نه دی رامنځته شوی، د یوې ژبې د ادبیاتو څېړنه هم په یوه، دوو یا څو اثارو کې نه شي رالنډېدلای، هر اثر له یوه یا څو لیدلورو څخه د یوې ژبې پر ادبیاتو رڼا اچوي. دا اثر هم د تدریسي لیدلوري له مخې لیکل شوی، چې محصلین ورڅخه څرنګه ښه ګټه پورته کړي او ځان په تدریسي بهیر کې شامل وګڼي.

په دې اثر کې له کتابتوني څېړنې څخه زیات کار اخیستل شوی دی. کتابتوني څېړنه او ارزونه دلته ځکه ډېره کاربدلې چې دا د لرغونې دورې ادبیات دي، په دې برخه کې سړی مجبورېږي ټول یا هم اکثره هغه اثار ولولي چې تر دې وړاندې لیکل شوي، دا اثار یو پر بل پسې تعقیب او تحلیل کړي او ویې ارزوي او بیا خپلې لیکنې ته مسیر وټاکي. ساحوي څېړنه دلته ځکه ډېره عملي نه بریښي چې اوس ددې امکان نه شته چې څوک دې یوې ساحې ته لاړ شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته دي د زر يو نيم زر کلونو پخوانيو اثارو به باب عملي پلټنه پيل کړې او يا دې د هغه وخت ليکل شوي اثار بيا مومي. البته دا کار ممکن دی چې پخواني ادبيات دې د هغو په پاب د پخوانيو اثارو ترڅنګ د ادبپوهنې او ادب تيوری د اصولو او نورو نويو اثارو په رڼا کې وارزول شي او وشنل شي.

په دې اثر کې د پښتو ادب د لرغونې دورې په باب له اکثرو پخوانيو او نويو ليکل شويو اثارو څخه ګټه پورته شوې او خپله تدريسي تجربه هم ورسره ملګرې شوې ده. هيله ده درنو لوستونکو ته هغه هدف او پيغام په ښه ډول ورسوي چې ددې اثر د ليکلو پرمهال په پام کې نيول شوی و.

په دې اثر کې دا ټکی هم د يادونې وبولم، لکه څنګه چې مې يادونه کړې، تر دې اثر دمخه هم د پښتو لرغونو ادبياتو په باب پامور شمېر اثار ليکل شوي او په دې اثر کې هم ورڅخه ګټه پورته شوې، ځينو ځايونو کې لکه د ليکوالو د پېژندنې په برخه کې له دې اثارو څخه په منظم ډول يوه برخه رانقل شوې، ځکه چې د پخوانيو ليکوالو د پېژندنې په برخه کې ډېر کم څه نوي زيات شوي، خو په دې برخه کې بيا هم د نورو ليکوالو د اثارو پرتلنه ورسره شوې، کوم ځای کې چې پخوانی املا او انشا کې کوم سمون ته اړتيا وه، له سمون څخه هم کار اخيستل شوی، د تحليل په برخه کې پر پخوانيو شننو سربېره نورې زياتونې او سپړنې هم پرې زياتې شوې، نو ځکه خو که درانه لوستونکي د يوه اثر په اخيستل شوي متن کې ځينې بدلونونه ګوري، نو دا د همدغه نوي عصر د اړتيا مطابق ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي، د یوه لیکوال د پښتواني تحلیل په دننه دننه کې ځینې نور تحلیلونه هم ورزیات شوي دي. ددې ترڅنګ تر یوه حده هڅه شوې چې د لرغوني دورې پر ادبیاتو زموږ د ادبپوهانو له خوا د شویو تحلیلونو محتوا راواخیستل شي، نه کټ مټ متن او کومو ځایونو کې چې د متن کټ مټ را انتقال ته اړتیا وه، هلته متن په همغه واحده بڼه را انتقال شوی دی.

په پای کې غواړم د پښتو څانګې له مشرتابه او درنو استادانو؛ پوهاند محمد صابر خویشکي، پوهندوی بخت میر وزیري، پوهاند یارمحمد یزال، پوهندوی دوکتور محمداجان حقپال، پوهنوال محمد رفیق رفیق او نورو څخه د زړه له تله مننه وکړم چې له پیله رانیولې او د اثر د بشپړاوي تر بریده پورې یې له ما څخه خپلې تولې ممکنه مرستې ونه سپمولې. همدارنګه قدرمن ورور ضیاءالرحمن ضیاء، چې ددې اثر په کمپوز، ډیزاین او سمون کې یې زیات زیار وګاله د زیاتې قدردانۍ وړ بولم. له خوږو محصلینو او ګرانو لوستونکو څخه هم هیله کوم چې ددې اثر تر چاپ وروسته د تدریس او لوستو پرمهال دې اثر ته بڼه ځیر شي او کله چې یې هر ډول نیمګړتیا ته پام شو، نو له ما سره دې اړیکي ټینګ کړي، چې هغه نیمګړتیا حل او په نورو چاپونو او یا هم بربښنایي بڼه کې یې سمون راولو.

په درناوي

د افغاني ادب د لا غوړېدو په هیله

پوهنوال محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی یا لرغوني دوره

څرنگه چې ادبيات په ژبې او ژبه بيا په قوم يا ملت پورې اړه لري، نو ښه به وي چې دلته په پيل کې د پښتنو د اصل و نسب او د پښتو ژبې د ريښې په باب هم لږ تم شو. د پښتنو د اصل او نصب په باب پوهانو بېلابېل نظرونه څرگند کړي دي: ((افغاني پوهان پښتانه اکثره د لرغوني باختريا خلک گڼي، يو شمېر نا افغان معتبر ليکوال هم په دې عقيده دي چې پښتانه په وروسته زمانه کې له شمال څخه راغلي دي. پښتانه يو وخت د غور په غرونو کې متمرکز و او وروسته بيا مهاجرين ورسره يوځای شوي او د هغوی ژبه او دودونه يې منلي دي.)) (۴۲: ۲۶۸)

((ځينو تاريخپوهانو پښتانه نژاده گڼلي، خو موجوده پوهنه او تاريخي- مقايسوي ژبپوهه بيا دا يوه افسانه گڼي. نويو علومو تاريخي واقعيتونه او د پېښو ډېر تياره اړخونه د فني وسايلو په مرسته روښانه کړي او دې نتيجې ته رسېدلي چې پښتانه د لويو بشري کورنيو په ډله هندو اروپايي او په هغو کې بيا اريايي باختري توکم دی.)) (۱۸: ۵)

د نورو بېلابېلو تاريخي شننو، څېړنو، تاريخي اسنادو او تېر پېژندونکو وروستی نچوړ او نتايج هم دادي چې ((پښتانه د اريايي قومونو له جملې څخه يو قوم دی او دا قوم يا قبيله په لسو اريايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قومونو کې تر ټولو قوي او غښتلی قوم و.)) ((پښتو ژبه د ژبو د هندو اروپايي کورنۍ، د اریاني څانګې د ختيزو ژبو په ډله کې يوه مطرح او پامور ژبه ده.))

((معاصره ژبپوهنه د تاريخي او پرتليزې ژبپوهنې د يوې نظريې په حکم اريايي مړې او ژوندۍ ژبې او لهجې پر دوو لويو څانګو وېشي چې هره يوه يې بيا دوه دوه ښاخونه لري:

## لومړي باختري ژبې:

الف- جنوبي باختري ژبې: لکه ساکي، پښتو، اورمړي او پاميري ژبې.

ب- شمالي باختري ژبې: لکه سوغدي، ىغنوبي، خوارزمي، الياني او اوسيتي.

## دويم ايراني ژبې:

الف- جنوبي ايراني ژبې: لکه زړه فارسي، منځنۍ فارسي، نوې فارسي، تاتي، بختياري او کومزاري.

ب- شمالي ايراني ژبې: کوردي، بلوچي، تاليشي او غلياني.))(۱۸: ۸)

د نړۍ د دايرة المعارف له مخې پر (۲۰۱۵م) کال په ټوله نړۍ کې د پښتنو شمېر تر (۶۰) مليونو تنو اوړي. خو دا ټول (شپېته مليونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنه) پښتانه په پښتو ژبه خبرې نه کوي، يو زيات شمېر يې داسې دي چې خپله ژبه يې هېره کړې ده.

ځينې نور يې بيا داسې دي چې کورنۍ او مورنۍ ژبه يې پښتو ده، خو د ښار، دفتر او بازار ژبه يې بله ده. کېدی شي د نړۍ په کچه له هرو دريو پښتنو څخه يوه يې خپله ژبه هېره کړې وي، خو له نسلي او روحي پلوه له پښتونولۍ څخه نه دي تېر شوي، ځان پښتون بولي او پر پښتونولۍ وياړ هم کوي. په هندوستان او اوسني پاکستان کې په ډله ييز او کتله يي ډول نسلي پښتنو خپله ژبه هېره کړې او يا هم پرې هېره کړای شوې ده چې شمېر يې مليونونو تنو ته رسېږي. د افغانستان په يو شمېر لويو ښارونو او نورو سيمو لکه کابل، هرات، فراه او نورو کې هم يو زيات شمېر پښتنو په ډله ييز او کتله يي توګه خپله ژبه هېره کړې ده، سره له دې چې له نسلي او کلتوري پلوه يې له خپل قوم سره رابطه نه ده شلېدلې، خو له ژبني پلوه ورته سخت زيانونه اوښتي دي. نړيوال دايرة المعارف چې په نړۍ کې د سلو ټاپ يا ګڼ ويونکو ژبو لست خپور کړی په هغه کې يې پښتو په دوو هېوادونو کې ياده کړې ده، په پاکستان کې يې د څلورو ګڼ ويونکو ژبو په ډله کې ياده کړې چې تر اردو، پنجابي او سندهي وروسته څلورم مقام لري او په افغانستان کې يې د لومړۍ ژبې په توګه ياده کړې چې تر بلې هرې ژبې زيات ويونکي لري. سره له دې چې پښتو د نړۍ په سلو ټاپ او ګڼ ويونکو ژبو کې حسابېږي او که ټول ويونکي يې په پام کې ونيول شي، د نړۍ په (۳۰-۴۰) مخکښو ژبو کې حسابېږي، خو بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم لکه څنګه چې په کار ده، پښتو ژبې ته د بېلابېلو عواملو او ګڼو دلایلو له امله هغومره کار نه دی شوی چې په کار و. دا کار بېلابېل عوامل لري چې د ټولو څېړل یې یو جلا بحث غواړي. دې سره سره چې پښتو ته ډېره سرکاري یا دولتي پاملرنه نه ده شوې، خو بیا هم پښتو ژبې د ولس په مټ خپل ځان ساتلی او د نورو قوي ژبو له یرغل سره یې مقابله کړې ده. ځکه خو نو ((پښتو ته د ژبپوهنې په اصطلاح (ځانساتې) یا محافظه کاره ژبه ویل کېږي او انګلیسي ژبې ته یوه ژبخوره ژبه.))(۶۱: ۳۲) هره هغه ژبه چې د پښتو ژبې په موقعیت او حالت کې واقع وای، ځان یې د قوي سیالانو په مقابل کې نه شو ساتلای. د پښتو ژبې په دفاعي سیستم کې د نورو عواملو ترڅنګ ادبیاتو او په تېره بیا ګړنیو ادبیاتو خپل خپل رول لرلی دی. د ادبیاتو یوه ځانګړنه همدا ده چې ((ادبیات یو ژبنی هنر ګڼل کېږي.)) کله چې ژبه نه وي ادبیات نه شته، څرنګه چې ژبه د ادبیاتو بنسټ ګڼل کېږي، دغسې ادبیات هم د ژبې په ښکلا، ځلا او بقا کې خپل رول لري. طبیعي خبره ده چې لومړی په یوه ټولنه کې ژبه رامنځته کېږي او بیا ادبیات، نو د ژبې یو معمول تعریف همدا دی چې ((د پوهولو او راپوهولو وسیله ده))(۴۶: ۴)

او یا هم (( ژبه د هغو اوزانو نوم دی چې انسان پرې خپل مطالب بیانوي، دېته په عربي کې (لسان یا لغت)، یوناني کې ورته (یوغوس)، په انګرېزي کې ورته (لینګویج) په پارسي او اردو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته (زبان) په سنسکریت کې ورته (جوا) او په پښتو کې ورته (ژبه) وايي.)) (۲۲: ۲۰-۲۱)

کله چې ژبه رامنځته شي، ورو ورو وده کوي او د بېلابېلو مفاهيمو او ضروریاتو د څرګندولو لپاره کارېږي. ادبيات هم د انسان د اړتیاوو د نامستقیم بیان د پوره کولو لپاره کارېږي او ادبي ژبه هم د همدې اړتیا پر بنسټ رامنځته کېږي. کله چې په یوه ټولنه کې ادبيات رامنځته شي، بیا په هغه ټولنه کې ورسره ټولې تړلې نورې اصطلاحګانې لکه، ادب، ادیب، ادبپوه، ادب تیوري، ادب تاریخ او نور رامنځته کېږي. ددې لپاره چې موږ د (ادب تاریخ) پر تعریف، هدف او ماهیت باندې ښه پوه شو، ښه به وي چې تر هغه وړاندې څو پورتنیو نومونو یا اصطلاحاتو ته هم لږ تم شو او هغه هم په لنډیز سره معرفي کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ادب

ادب په هره ژبه کې ځانته خپل لغت لري، په انګليسي کې ورته (politeness)، په لاتيني کې ورته (urbanitate)، په فرانسوي کې (la politesse) په روسي کې ورته (вежливость) او نورو ژبو کې ورته نور لغتونه کارېږي، په عربي، پښتو، دري، اردو او ځينو نورو ژبو کې (ادب) کلمه په يو شان او تقريباً په يو مفهوم کارېږي. (ادب) د ژبپوهنې له مخې د بل هر لغت په څېر لغوي او اصطلاحي ماناګانې لري.

پښتو- پښتو تشريحي قاموس کې يې د لغوي پېژندنې په اړه داسې راغلي دي: ((۱- عزت، خاطر، لحاظ، سرېتوب. ۲- تميز، تهذيب، تعظيم. ۳- علم، پوهه، زده کړه. ۴- حيا، پرده، تربيت، پالنه.)) (۹: ۳۰)

د فرهنګ ادبيات پښتو دربيم ټوک ليکوال د (فرهنګ معين) په حواله د ادب لغوي مانا: ((فرهنګ، پوهه، هنر، ښه سلوک، تاديب او تنبيه راخيستې ده.))

پوهاند عبدالحی حبيبي د پښتو ادبياتو تاريخ په لومړي ټوک کې ليکي: ((ادب په عربي ژبه کې ښېګڼې او کناست او د ژبې او زړه ظرافت او ذکاوت ته وايي، چې ظرافت او حسن تبادل يې لنډ لغوي تعريف دی.)) اما په اصطلاح کې ادب په دې ډول تعريفېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ادب هغه پوهنه یا هغه ریاضت دی چې سړی د هغې په وسیله یو فضیلت او یوه ښېګڼه له ښېګڼو څخه مومي یا له تېروتنو او خطاوو څخه ژغورل کېږي. خلاصه: دا چې ادب د لغت او اصطلاح له مخې ښېګڼه ده، چې سړی له خطا او بدو څخه ساتي او په خوی او خلق اړه لري، چې بیان یې د اخلاقو د علم کار دی.)) (۱۴: ۱)

ګل پاچا الفت یې په ادبي بحثونه اثر کې داسې راپېژني: ((اصل یې (هذب) دی، بې عیبه په مانا. د هذب کلمه په اصل کې د هغې ونې لپاره استعمالېدله چې ځینې څانګې او ځینې ښاخونه به یې قطع شول او صافه به شوه، وروسته دا کلمه له محسوسیاتو نه معنویاتو ته رانقل شوه او هغه چاته هم وویل شوه، چې عیبونه به یې ورک شول، یانې مهذب به شو. اهل لغت ټول په دې باندې متفق دي چې د مهذب کلمه د یو کامل انسان لپاره د ونې له تهذیبه رانقل شوې ده... نو د هذب د کلمې (ذ) په (د) بدل شو او دغه ابدال په عربي کې ډېر مثالونه لري. لکه: هذم= هذب، جذم= جدم... نو هذب هدب شو او هدب په ادب بدل شو.

ځینې وایي چې په یوناني ژبه کې ادیب هغه چاته ویل کېده چې خبرې به یې خوږې وې او د ښه اواز او ښې نغمې خاوند به و، نو هر کله چې عربي او یوناني لغتونه یو له بل سره ګډ شوي دغه لغت هم له یوناني څخه اخیستل شوی دی.)) (۴: ۵-۶)

د (ادبي بحثونه) لیکوال په یو ځانګړي سرلیک کې د ادب د کلمې تاریخ داسې بیانوي: ((ځینې وایي چې دا کلمه (ادب) د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاهلیت په زمانه او د اسلام په ابتداء کې نه وه، ځکه چې نه د هغه وخت به ادبي اثارو کې راغلې او نه په قرانکریم کې شته، بلکې لومړی ځل دا کلمه په دې نبوي حدیث (ادبنی ربی فاحسن تادیبی) کې ذکر شوې ده.

(دا حدیث محدثینو په دغو الفاظو نه دی ضبط کړی) ځینې نور وايي چې دا کلمه د جاهلیت په زمانه کې هم وه او دا چې د هغه وخت په اشعارو او قرانکریم کې نه شته، ددې دلیل نه شي کېدی چې دا کلمه په هغه وخت کې هډو موجوده نه وه، دوی د خپلې مدعا د ثبوت لپاره دا دلیل راوړي. کوم وخت چې دا کلمه په حدیث او یا د اصحابو یا د تابعینو په اقوالو کې راغله او هېچا یې د مانا او مفهوم پوښتنه ونه کړه، معلومه ده چې پخوا هم وه او ارتجالاً نه ده ویل شوې. وايي چې دا کلمه د حضرت علي(رض) په اقوالو کې هم ډېره راغلې ده او د جاهلیت په وخت کې (اکثم بن سیقي) د بني تمیمو مشهور خطیب ذکر کړې ده.))

همدا لیکوال د ادب تعریف سرلیک لاندې لیکي: ((لغوي مانا خو یې تهذیب ده او څه شی چې له چا سره او یا کوم شي سره لایق او مناسب وي هم ادب ورته ویل کېږي، لکه د مجلس اداب، د معاشرت اداب او داسې نور...

اصطلاحاً: ادب هغه پوهه ده، چې انسان په خپله وینا او بیان کې خطا او غلطۍ څخه ساتي، ځکه ادبي علوم هماغه بلل کېږي چې د وینا ښه والی او بدوالی، غلط او صحیح، خوږوالی او پېکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

توب ښيي او په منثور او منظوم کلام کې د فصاحت او بلاغت له خوا بحث کېږي.

د ادب په تعریف کې ویل شوي چې ادب د ښو الفاظو په وسیله د خپلو احساساتو او ادراکاتو یا د زړه د خبرو ښکاره کول او د اورېدونکو په ذهن کې کېنول دي، یانې ادب یوازې د افکارو او روحي حالاتو اظهار نه دی، بلکې له یوه ذهنه بل ذهن ته انتقال او ابلاغ هم په کې ملحوظ دی.

دا انتقال که په ښه ډول او مهارت سره وي، چې هم په کې ښه کلمات انتخاب شوي وي او هم د کلماتو د ښه ترکیب او ښه استعمال په لحاظ د فصاحت او بلاغت مراعات شوی وي، ادب ورته ویل کېږي. که دا سې نه وي نو عادي خبرې دي.)) (۴: ۸)

پوهاند صدیق الله رښتین په خپل اثر (د پښتو د ادب تاریخ) کې ادب دا سې راپېژني: ((ادب د عربو په لغت کې د پوهې، ځیرکۍ، بلنې او د هر شي د اندازې ساتلو په مانا وو راغلی دی او په اصطلاح کې ادب په دوه ډوله دی: یو نفسي ادب دی، چې اخلاقي فضیلت او ښېګڼې ته وایي او بل درسی ادب دی چې له دې څخه مطلب په ښه طریقه ویل او لیکل او خپل مطلب ښکاره کول دي.

ادب علم په اوله مانا د اخلاقو له علم څخه عبارت دی او په دویمه مانا د ادب علم هغه پوهنه ده چې د ویلو، لیکلو او ښې وینا ډولونه راښیي او د نظم او نثر حالات، ښه والی، بدوالی او نورې مرتبې بیانوي. په دې لحاظ هغه ټولې پوهنې چې سړي ته د وینا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډولونه په ښه طريقه ليکل او ويل زده کوي هغه د ادب علم بلل کېږي. هر کله چې د نظم او نثر د علومو د بيان، د تاريخ د ليکلو او د پوهولو راپوهولو دوه لارې دي، نو په دې دواړو کې مهارت پيداکول او په دې واسطه خپل مطالب او خيالات بيانول او ښکاره کول د ادب غايه او غرض ګڼل کېږي. د نوي ادب په مفهوم کې انتقادي روح لرل هم داخل دي.)) (۲۰: ۵)

د ((ادبي مسائلو)) اثر ليکوال د ادب د اصطلاح د پېژندنې په اړه په تفصيل سره بحث کړی چې دلته يې په لنډيز سره ځينې څرګندونې را اخلو:

د ادب د کلمې د اشتقاق په برخه کې ډېرې خبرې شوي دي، يوه ډله لغت پوهان د ادب ريښه د اوستايي (دب) له ريښې سره مربوطه ګڼي، چې د ليکلو مانا لري او مونږ يې د دري ژبې (دبير)، (دبيرستان) په کلمو کې، چې د ليکوال، منشي، ښوونکيو او ښوونځي ماناوې لري، راپاتې دي. ځينې وايي چې ادب د (اديپوس) له يوناني کلمې څخه چې د ليکلو مانا لري، عربي ته ورغلی دی، ځيني نور بيا ادعا کوي چې ادب په اصل کې د عربي له هذب څخه مشتق شوی، يا ددې کلمې اوښتی شکل دی. (۶: ۲)

د (ادب مسائلو) ليکوال وايي چې ماته دغه ټولې ادعاوې سمې برېښي او ددغو کلمو په شان يې تصادفي بولم، نه تاريخي. ليکوال دې برخه کې د ادب د مقولې د مفهوم د څرګندولو لپاره د عربو د مشهور ليکوال او څېړونکي (طه حسني) او دده د همکارانو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسانه او په زړه پورې تشریح راوړې، چې په ((التوجیه الادبي)) نومې اثر کې یې راوړې ده.

ادب دوې ماناوې لري: یوه خاصه مانا او بله عامه مانا.

د ادب مادې د اسلام په پیل کې پر دوو بېلو، خو سره نږدې ماناګانو باندې دلالت کاوه:

لومړی نفس ته د اخلاقي ښېګڼو او تعلیم او تمرین لپاره ریاضت ورکول او بله له دغه ریاضت څخه اغېزمن کېدل، ګټه اخیستل او د ښو اخلاقو کسبول.

وروسته بیا دغه مقوله د تعلیم او ښوونې په مانا مستقله شوه او مودب د فاعل اسم په صیغه د ((ښوونکي=معلم)) د اصطلاح د اندول په توګه استعمال شوه او د ادب کلمې پر هغو معلوماتو باندې دلالت کاوه چې ښوونکي به زده کوونکو ته له شعر او کیسو، اخبار، انساب او نورو هغو شیزونو څخه چې د ماشوم د نفسي تهذیب لپاره ده کاراوه او یا یې ورسره له علم او پوهې څخه په خوند اخیستلو کې مرسته کوله، ورزده کول.

د ادب او تادیب د کلمو استعمال په اسلامي لومړۍ پېړۍ کې رواج وموند، په دې وخت کې عربي ثقافت یوازې دوه جنبې درلودې: دیني ثقافت او غیر دیني ثقافت. په دیني ثقافت کې قرآن، احادیث او ورسره مربوط موضوعات او په غیر دیني ثقافت کې شعر، اخبار، انساب او ورسره متعلق موضوعات شامل وو. دغه دیني ثقافت بیا وروسته د ادب موضوع شوه. په دویمه او دریمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هجري پېړۍ کې پر عربي ژبنيو پوهنو باندې پيل وشو ، نحو ، صرف او لغتپوهنه د خپلواکو علمي څانګو په بڼه رايج شول. په همدې ترځ کې د ادب د مقولې ميدان پراخوالی وموند او په نظم او نثر او د هغه په شرحه او کره کتنه، اخبار، انساب او پر عربي ژبپوهنه باندې يې دلالت وکړ.))(۶: ۳)

د ياد اثر ليکوال پر فطري او اکتسابي ډولونو باندې د ادب وېش، د غور او تامل وړ بولي او يادونه کوي چې حتی سليم عقل هم حکم کوي چې د هغو شيانو محتويات چې متقدمانو پر فطري او اکتسابي باندې وېشلي دي، ټول اکتسابي دي.

نوموړی د ادبي علومو د پېژندنې په اړه ليکي: ((پخوا ادبي علوم هغو پوهنو ته ويل کېدل چې د بليغې وينا لارې چارې او احوال يې ښودل، نو ادبي علوم د ژبنيو علومو او ژبنيو اثارو پر ټولې مجموعې باندې اطلاق کېدل، د ادبي علومو دغې ارتې ساحې پوهان دې ته مجبور کړل چې د څېړنې د اسانتيا لپاره يې پر بېلابېلو او سره جلا ، خو بيا هم مربوطو څانګو ووېشي.)) (۶: ۶)

د ادب مسالې ليکوال د ادبي علومو د څانګو پر پخوانې وېش مفصل بحث کړی، چې دلته يې په لنډيز سره ځينې برخې را اخلو:

عربي او نورو پوهانو ليکلي، چې د ادب علم منظوم او منثور کلام د فصاحت او بلاغت په لحاظ مطالعه کوي... د ادب د علم موضوع کلام دی او څرنګه چې کلام له کلمو څخه جوړېږي، نو ادبي علم د کلماتو ډولونه او حالتونه څېړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ پوهانو د ادبي علومو څېړونکی ادیب بللی دی او له عالم څخه یې بېل کړی دی، یانې د دوی په عقیده که څوک د متداولو علومو په یوه څانگه کې تخصص ترلاسه کړي، عالم نومېږي، خو که د علومو په لویو باغونو کې له هرې څانگې څخه یو گل وشکوي او گلدسته ورنه جوړه کړي، ادیب بلل کېږي. لیکوال یادونه کوي چې: زموږ پخواني پوهان پر څانگو باندې د ادبي علومو د وېش په موضوع کې یو نظر نه لري. ځینې پوهان یې پر (اتو) څانگو، ځینې یې پر (دولسو) او ځینې نور یې پر (څوارلسو) څانگو وېشي. که ددې موضوع په باب ټولې نظریې سره یوځای کړو، نو ادبي علوم لومړی پر دوو لویو څانگو د اصلي او فرعي په حیث او بیا هره څانگه پر خپلو ځانگړو ښاخونو باندې وېشل شوې ده، چې دې لاندې وېش کې دغه څانگې (شلو) ته رسېږي.

د ادب د علم اصول پخوا هغو علومو ته ویل کېدل چې د ادبیاتو اصلي او اساسي موضوعات یې څېړل او له کلام یا کلمو سره یې مستقیم اړیکي درلودل. پر دې لاندې ښاخونو وېشل شوي دي:

۱- د لغت علم (لغتپوهنه) مفرد لفظونه یې د اصل، نوعې او مادې په لحاظ څېړل.

۲- د صرف علم: مفرد لفظونه یې د صورتونو او شکلونو په لحاظ څېړل.

۳- د اشتقاق علم، د لفظونو ترمنځ گډ اړیکي یې د اصالت او فرعیت په لحاظ څېړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- د نحوې علم: د لفظي شکلونو ترکیب او د اصلي ماناګانو له ایرادولو څخه یې بحث کاوه.

۵- د معاني علم: له لغوي ماناګانو پرته د افادو طریقې او ډولونه یې څېړل.

۶- د بیان علم: د مانا کیفیت او څرنګوالی یې د څرګندتوب او مهموالي له نظره څېړل.

۷- د عروضو علم: د شعرونو وزنونه او بحرونه یې مطالعه کول.

۸- د قافیې علم: د بیتونو د پای د کلمو د شکلونو څرنګوالی یې څېړه.

۹- د بدیع علم: د کلام لفظي او لغوي ښېګڼې او ښکلاوې یې څېړلې.

د ادب د علم فروعات هغو ته ویل کېدل چې له ادبیاتو سره یې بنسټیز او نېغ اړیکي نه لرل، خو په نامستقیمه توګه یې له ادبي موضوعاتو سره تعلق درلود او د ادب د علم د مرستیالو علومو په بڼه پېژندل کېدل، پر دې لاندې ښاخونو باندې وېشل شوي دي:

۱- د خط علم: د لیک او لیکنې انځورونه یې څېړل.

۲- نقد الشعر یا قرض الشعر: د منظوم کلام کیفیتونه او څرنګوالی یې څېړل.

۳- د انشاء علم: د منثور کلام کیفیتونه او څرنګوالی یې څېړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- د محاضراتو علم: د حاضر ځوابۍ او بدیهه ویلو اصول، طریقې او کیفیتونه یې څېړل.

۵- د تاریخ او قصص علم: د تېرو دورو د خلکو احوال اوضاع او دودونه یې څېړل.

۶- د انسابو علم: د کورنیو او قبیلو خپلوي او اړیکې یې څېړل.

۷- د مسالک او ممالک علم: د ښارونو، قصبو او کلیو نومونه او اوضاع یې څېړل.

۸- د امثالو علم: د متلونو پېژندنه، منبع او د کارولو ځایونه یې څېړل.

۹- د تدوین علم: تدوین شوي شعرونه او د هغو مصنوعه ترکیبونه یې څېړل.

۱۰- د اغلوطاطو علم: هغه لفظونه او ترکیبونه یې څېړل چې د ژبې له قیاسي قواعدو سره یې سمون نه درلود.

۱۱- د روایت علم: د روایاتو له احوال او د روایت له سموالي او ناسموالي څخه یې بحث کاوه.

له هغو تعریفونو څخه چې پخوانیو عربي او ختیزو پوهانو د ادب د علم لپاره راوړي دي، څرګندېږي چې زموږ د پخوانیو پوهانو په نظر د ادب د مقولې مفهوم او مدلول له ژبې سره او د ادب د علم مانا له ژبپوهنې سره برابره وه. ادبیات چې اوس یې موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې مقولې په توګه کاروو په عربو کې يې رواج نه درلود او د اتکل له مخې له ترکي ژبې څخه زموږ ژبو ته راغلی دی.)) (۶: ۹)

په (اريانا دايرة المعارف لومړي ټوک) کې د ادب د کلمې د پېژندنې په اړه داسې لولو: ((که څه هم د نورو ټولنيزو علومو او فنونو په څېر ادب کوم داسې ټاکلی او ځانګړی تعريف نه لري چې هر چېرې د هر چا لپاره يو شان د منلو وړ وي. له دې سره سره د ادبپوهانو او څېړونکو له خوا چې د ادب د کلمې د لغوي او اصطلاحي توضيح، تعبير او پېژندنې په برخه کې څه ويل شوي دي هغه ډېر مشترک ټکي سره لري.

((ادب)) عربي کلمه ده، چې ځينو فرهنګونو يې لغوي مانا: روزنه، ښه معاشرت، ښه کړه وړه، اخلاق او نمانځنه راخيستې او په ځينو کې يې مانا پوهنه، ځيرکي، فرهنګ او هنر راغلې دي. پخوا به د ادب کلمه په عامه توګه اصطلاحاً د لغاتو، صرف، نحوې، معاني، بيان، بديع، عروض، قافيه، د خط اصول، د قرائت اصول، انشاء، تاريخ پر علومو اطلاق کېدله، کله کله په عام مفهوم د يوې ژبې ټولو ليکلو اثارو ته هم ادبيات ويل شوي دي، خو اوس يې دغه لفظي او اصطلاحي تعبير بدلون موندلی او د اجتماعي علومو او فنونو د يوې سترې او مهمې څانګې په توګه هغه ژبنی هنر او فن دی چې ټولنيز واقعيتونه او حقايق په کې د ژبې په وسيله د ذهني تصويرونو او انځورونو له لارې څرګند برېي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بله وينا: هره هغه ممتازه وينا که ګړنۍ (شفاهي) وي، که ليکنۍ، نظم وي که نثر، خو چې هنري ارزښت ولري، ادب بلل کېږي.)) (۲: ۲۵۸)

سيد رسول رسا په ادبي تنقيد کې ادب داسې راپېژني: ((د علم ادب يا لټريچر يو جامع تعريف او تشريح که د دنيا د موجود خيال مطابق وکړای شي، نو هغه به دا وي چې د انساني زړه له جذباتو، احساساتو او انساني ميلان نه لبريزه تجربه چې د ادبي الفاظو په شکل کې په يو داسې جامع او ښکلي رنګ کې وړاندې شي، چې د ويونکي، ليکونکي يا اديب مطلب پر اورېدونکي يا لوستونکي باندې په مکمل طور واضح شي، چې د هغه د زړه جذبات او احساسات هم هغه شان راولړزوي، لکه څنګه چې اديب په زړه کې د ليک پر وخت رالړزېدلی او راپارېدلی وي او دغه شان لوستونکي يا اورېدونکي د اديب د زړه له يوې مخصوصې ادبي تجربې پوره خوند واخلي. يانې ادب يوازې د احساساتو او جذباتو د ادبي الفاظو په ذريعه اظهار نه دی، بلکې له يو ذهن نه بل ذهن يا له يو زړه نه بل زړه ته انتقال او ابلاغ هم په کې ملحوظ دی.)) (۴۷: ۵۱)

د (ادب څه دی؟) ليکوال يې ګڼ شمېر پېژندنې وړاندې کړې چې يوه په کې داده: ((ادب د اديب د خپل ځان يا جهان په هکله هغه اظهار دی، چې په کې د هغه محسوسات، جذبات او تخيل ګډ وي، هغه که په هره موضوع ليکي، ولې خالص د بهرنيو څيزونو او هم هغه شانتې په ساده ژبه نقشه نه وړاندې کوي، بلکې خپل تخيل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساس ورسره په داسې رنګ ګډ کړي، چې د هر چا د خوند ځيز شي. په دې اولني اثر کوونکي ځيز ښکلې شاعرانه ژبه او جذبه وي. په دې باندې په جذباتو کې هم هغه شانتې ورې لويې څپې پيدا شي، لکه چې اديب محسوس کړي وي او تر هغه پس که عقل ترې فايده ولاړولی شي او هر څه ترې په ښه منطقي انداز راويستلی شي، نو وي دي.))(۴۷: ۵۳)

نومورې ليکوال په خپل پورتني اثر (ادب څه دی؟) کې د يو شمېر بهرنيو ادبپوهانو هغه پېژندنې هم راوړي چې د ادب يا ليټرېچر (Literature) د کلمې د تعريف او پېژندګلوۍ لپاره يې په خپلو اثارو کې وړاندې کړي دي. موږ دلته ځينې دا پېژندنې را اخلو:

((که له موږ نه دا پوښتنه وشي، چې ادب وايې څه ته، نو زموږ لوی لوی نقادان به په دې وينا مجبور شي چې: که له ما نه پوښتنه نه کوې، نو زه پرې پوهېږم او که له ما نه پوښتنه کوې، نو بيا پرې هېڅ نه پوهېږم.))

(سنټ اګستين انګرېزي ادبپوه)

په ادب کې منطقي رښتيا خو نه وي، ولې ادبي صداقت يا ادبي رښتيا په کې موجوده وي. (ارسطو)

بل ليکوال (ارنلډبيټ) بيا وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«زه به تاسو ته دا ووايم چې لټريچر (ادب) څه ته وايي؟ نه! زما دا ارمان دى چې ما تاسو ته دا بيانولى شواى، ولې زه به داسې ونه کړاى شم، هېڅوک دا نه شي بيانولى په دې راز رښا غورځولى شي، اشارې ورکېدى شي، بس تر دې نه زيات هېڅ نه شي کېدى.»

(هيډسن) ليکي:

« ادب پر دغو کتابونو او صرف پر دغو کتابونو باندې مشتمل دى، چې اول د خپلې موضوع او د بيان د چل له کبله د عامو خلکو د خوښې څيز شي، دويم په دوى کې د ژبې او د بيان د ښايست پوره پوره خيال ساتل شوى وي.»

هيډسن په بل ځاى کې د ادبي اثر مقصد داسې ښودلى دى: «ولې د يو ادبي کتاب مقصد که هغه په معلوماتو کې زياتوالى راولي او که نه، د جمالياتي ذوق تندې سړول دي.»

د انګرېزي ژبې کره کتونکى (سکاټ جيمس) د ادب پېژندنې په اړه په زړه پورې څرګندونې لري او يوه ادبي پنځونه (تخليق) له نا ادبي ليکنې څخه داسې بېلوي: « په يو ادبي تخليق او نا ادبي تخليق کې بېلګوټه ډېر ژرکېږي. هغه په دې رنګ چې د کوم تخليق مونږ جاج اخلو که د هغه په هکله دا پوښتنې وړاندې کړي:

١- کومې دعوې چې شوې دي هغه غلطې دي که صحيح؟

٢- دليلونه له منطقي پلوه سم دي او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- پر کومو خبرو چې یې بحث کړی دی هغه له دغې مسئلې سره څه تړون لري او که نه؟ نو دغسې تخلیق یا تضنیف به نا ادبي وي. مثلاً د اقتصادیاتو په هکله یو کتاب یا پر سیاست یوه رساله. ولې د کوم تصنیف په مطالبو کې چې له رښتیا او دروغو سره زموږ څه کار نه وي. کوم څه چې موږ یې په منطقي تله تلل ضروري ونه ګڼو، د کوم په هکله چې موږ د خپل ښایست له ذوق نه کار اخلو، کوم چې زموږ پر تخیل او وجدان باندې اثر وکړي. هغه ادبي تضیف دی او دغو تخلیقاتو ته (اغېزناک لیک) وایي)). (۴۷: ۵۳) د (تخلیق او تنقید) اثر لیکوال هم د ادب د پېژندنې لپاره د بهرنیو پوهانو څرګندونې را اخیستې چې ځینې یې دلته را اخلو:

لیکوال (میتهوارنلډ) وایي:

((ادب د انساني ژوند تفسیر دی.))

نامتو لیکوال (نیومن) لیکلي دي:

((د ادبیاتو مراد د ژبې په ذریعه د خیال څرګندول دي، خیال څخه مې مراد د تخیل احساسات، رایې، استدلال او د انساني دماغ نورې کیسې دي.))

بل لیکوال (هیډسن) ویلي دي:

((د ادب کار دادی چې معلوماتو کې یې ترقي یا وده وي او که نه، خو چې په کوم ډول یوه موضوع وړاندې کوي، هغه دومره خوندوره وي چې د انسان ښکلا ییزه تنده ماته کړي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (تخلیق او تنقید) اثر لیکوال د ادب د پېژندنې په اړه د بهرنیو ادبپوهانو د بېلابېلو نظریاتو د وړاندې کولو په پای کې د ادب تحلیلي او تشریحي پېژندنه په دې ډول کوي:

((هر څه چې په ژوند کې دي، هغه په ادب کې شته، حقه خبره داده چې ادب هېڅ‌کله هم د ژوند له تجربو سره نه پرې کېدونکې تړون لري، ځکه خو ادب د ژوند اظهار، یانې څرګندونه ګڼل کېږي. ادب دی که ژوند، دواړه یو بل نه ځان نه شي خلاصولی، که ادب له ژوند نه ډېر څه اخلي، نو ژوند ته ورکوي هم ډېر څه، د ادب عملي او ښکلاییز اړخونه د ژوند د ګڼو فیضو څرګندونه کوي، ادب نه یوازې زموږ احساسات رالړزوي، ورسره ورسره زموږ د معلوماتو پانګه هم درنوي. مطلب دا هغه څیزونه چې موږ ترې خبر نه یو ادب ترې موږه خبروي، همدغه د ادب د عملي اړخ په کارنامو کې شامله کارنامه ده. بل د ادب جمالیاتي اړخ دی، چې د ښکلا، حسن او جمال په نامه یادېږي، لنډه دا چې ادب د یو قوم د عروج او زوال په مرحلو کې ډېر لوی لاس لري او حقه خبره داده چې د یو قوم د اجتماعي ژوند ټول اړخونه د ټولو فنونو په نسبت په ادب کې تر ټولو نه زیات جوت دي.)) (۲۱: ۳۲-۳۹)

د (پښتو ادب پوهنه) لیکوال هم د ادب په اړه د یو شمېر بهرنیو ادبپوهانو پېژندنې راخیستې، چې په خپلو اثارو کې یې د ادب د تعریف په باب وړاندې کړي، موږ یې دلته ځینې پېژندنې راوړو:

لیکوال (ډسکودس) وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((هغه معلومات چې له کتابونو څخه نه حاصلېږي ادب دی.))

لیکوال (بروک) لیکلي دي:

((د لایقو ښځو او سړو لیکلي احساسات او خیالات په داسې رنګ څرګندول چې لوستونکي ترینه خوند واخلي.))

بل ادبپوه (امرسن) وایي:

((ادب د انسان هغه کوښښ دی، چې هغه په کې د خپل حالت د غلطیو تلافي کوي.))

په خپله د پښتو ادبپوهنه لیکوال د ادب کلمې د اصطلاحي پېژندنې په اړه داسې څرګندونې کړي دي: (( ادب هر څوک لولي، ولې چې ادب هغه سندره ده، چې په غم کې هم خوشالي راولي، د ژوند نه د مزې اخیستلو لپاره انسان کې نوې جذبه راپاروي، خو ادب نه خو مادي شیز دی، چې مشاهده یې وکړای شي او نه د ساینس څه کوټلې فرموله ده، چې سملاسي د انسان ذهن ته کوز شي. په دې هکله ډېر بحثونه شوي دي، خو ولې د خپلې معنوي ژورتیا او پراختیا له کبله د ادب یو جامع تعریف په لنډو ټکو کې چا تراوسه نه دی کړی.))

ادب ته په لویدیز کې د لیتراتوره یا لیتریچر (Literature) اصطلاح کارول کېږي، چې اصلاً له لاتنین کلمې څخه اخیستل شوې، چې مانا یې توری (حرف) دی.)) (۴۷: ۵۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (ادب تیوری اساسونه) اثر لیکوال لیکي: ((اوس په لویدیز کې معمولاً د (لیتراتوره) کلمه په دوو ماناوو استعمالېږي:

۱- د یوې موضوع په باب د لیکلو اثارو مجموعه، د هنري او ادبي صنایعو موجودیت یا نه موجودیت په کې اهمیت نه لري، لکه د طب په باب لیتراتوره (ادبیات) او داسې نور.

۲- هغه هنري اثار چې د بداعت او ښکلا، یانې د ادبي صنایعو مراعات په کې شوی وي. په دغه وروستۍ مانا په ختیځ او لویدیځ کې په یوه مفهوم استعمالېږي...

بدیعي ادب د هنر یوه داسې نوعه ده، چې د خلکو پر ذهن او روحیاتي نړۍ باندې زښته ډېره اغېزه کوي، د تفکر طرز او احساس یې روزي او د انساني اخلاقو، بشري عواطفو په سمون او هغو ته په سالم تشکل ورکولو کې لوی لاس لري. څومره چې لیکوال د خپل چاپېریال او خپلې ټولنې د ژوند پر رمزونو پوه او د هغو رسا افاده کوي، هماغومره دده د اثارو لوستونکي ته له دغو رمزونو څخه پرده پورته کېږي او د خپلې ټولنې ښه او بد درک کوي.)) (۳۱: ۳)

د ادبي مطالعاتو په لړ کې تل دا پوښتنې رامخې ته کېږي، چې څه شی ادبیات دي؟ او څه شی په ادبیاتو کې نه شو شمېرلای؟

دا پوښتنې ظاهراً ډېرې ساده او سطحي برېښي، خو ځوابونه یې بیا هومره اسانه نه دي.

د (ادبپوهنه) اثر لیکوال په دې هکله لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((د لویدیځ یو ادبپوه (اډوان ګرینلا) د یوې ژبې ټول چاپ شوي او خطي اثار په ادبیاتو کې شمېري، که موږ د نوموړي دا پورتنی نظر ومنو او د یوې ژبې ټول چاپ شوي او خطي اثار ادبیات وګڼو، نو بیا نور ټولنیز او سایسني علوم (لکه فزیک، کیمیا، بیولوژي، هندسه، تاریخ، جغرافیه او...) څنګه د ځانګړو علومو او فنونو په توګه مطرح کولای شو؟ پر همدې اساس ویلای شو، چې د یوې ژبې ټول اثار ادبیات نه دي.)) (۴۸: ۲)

دلته د ادب او ادبیاتو د لغوي او اصطلاحي مانا په باب د بحث دا خوره وره لمن راټولوو او د پایلې په توګه وایو:

((ادبیات د ادب جمع ده او په نننیو ادبي څېړنو کې یې یوه ډېره عامه پېژندنه داسې ده، چې ادبیات د اجتماعي علومو او فنونو د یوې سترې او مهمې څانګې په توګه هغه ژبنی هنر او فن دی چې ټولنیز واقعیتونه او حقایق په کې د ژبې په وسیله د ذهني تصویرونو او انځورونو له لارې څرګندېږي. یا په بله وینا:

((ادبیات د یوې ژبې د لیکلو او نالیکلو هنري اثارو مجموعې ته ویل کېږي.)) دغه پورتنۍ څرګندونې د ادبیاتو یوې کوټلې او منلې پېژندنې لپاره داسې هم افاده کولای شو: ((هره هغه وینا چې ګړنۍ وي که لیکنۍ، نظم وي که نثر، خو چې هنري ارزښت ولري ادب بلل کېږي.)) (۴۷: ۵۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ادیب**: هغه چاته ویل کېږي چې ادبیات رامنځته کوي، لیکوال او شاعر دواړو ته د ادیب اصطلاح کارېږي. یانې هر هغه شخص چې د هنري ادبیاتو د پنځونې سبب کېږي، هغه ادیب دی.

**لیکوال**: موږ په پښتو کې د ادیب کلمې د انډول لپاره لیکوال کاروو، لیکوال په عامه مانا هغه چاته ویل کېږي چې لیک کوي که هغه د ژوند په هره برخه کې وي، خو په ځانګړې او خاصه مانا د لیکوال کلمه هغه چاته کارول کېږي چې هنري لیکنې کوي مانا همدا ادبیات پنځوي.

**شاعر**: هغه چاته ویل کېږي چې شعر لیکي، شعر هم په حقیقي مانا. یانې دا چې کلام یې هنري ارزښت ولري او له ناظم سره یې توپیر په همدې هنري ارزښت کې دی.

**ناظم**: هغه چاته ویل کېږي چې نظم جوړوي. نظمونه معمولاً له هنري ښکلا څخه ډېر برخمن نه وي، خو وزن او اهنګ یې اساسي برخه ده.

**نظم**: ((په لغت کې د مرغلرو پېیلو، ترتیبولو، سینګارولو، شعر ویلو او وزنوال کلام ته ویل کېږي.)) (۳۷: ۲) او په اصطلاح کې ((همغه کلام دی چې وزن او اهنګ ولري.)) په یوه نظم کې کېدی شي پر وزن او اهنګ سربېره هنري ښکلا هم ځای پرځای شوي وي، دې حالت کې نظم پر خپل نظمي جوړښت سربېره شعري کیفیت هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلوي، خو که ښکلا ییز کیفیت ونه لري یو موزون کلام یوازې د نظم بڼه خپلوي.

**نثر**: ((نثر عربي کلمه ده، په لغت کې شیندلو او پاشلو ته وايي، په اصطلاح کې همغه کلام ته وايي چې مقید وزن او اهنګ نه لري.)) البته مسجع نثر د خوند، لذت او ضرورت لپاره ځای نیم وزن او اهنګ لري او ځینو برخو کې پر قافیې سربېره له ردیف څخه هم برخمن وي. ځینو نورو بیا یوازې د وزن له قید څخه ازاد متن ته نثر وايي.

(( نثر په لغت کې پاشلو او تیتولو ته وايي، خو په اصطلاح کې هغه کلام دی چې د وزن له قېد څخه ازاد وي.)) (۲۲: ۴۱)

لنډه لنډه کیسه، لنډه کیسه، منځنۍ کیسه، اوږده کیسه او یا هم اوږد داستان د منثورو فورمونو له مشهورو ډولونو څخه دي.

له مانیز پلوه ادبي اثار ډېر ډولونه لري، نړدې هره محتوا چې رانغاړي تقریباً په همغه نامه یادېدلای شي. لومړی شخص چې ادبیات یې د محتوا له مخې ډلبندي کړل، ارسطو و چې په خپل اثر (کتاب الشعر) یا (بوطیقا) کې یې ادبي اثار پر دریو ډولونو: ((اپیک، (رزمي) لیریک، (غنایي) او ډراماتیکو اثارو وویشل.))(۱: ۱) په پښتو کې هم ددې کته ګوریو ترڅنګ ویاړنې (فخریې) ویرنې، مرثیې او حبسي شعرونه هم شته، دې ټولو ته به پر خپل ځای نغوته وکړو. دا پورته مسایل چې موږ یې یادونه وکړه، طبیعي خبره ده چې د یوې پوهې له مخې شنل کېږي او ارزول کېږي او یو پوه یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

عالم ته اړتیا لري چې ادبي اثار تحلیل کړي، ویې ارزوي. هغه علم چې ادبیات له هر اړخیز پلوه څېړي هغه ته (ادبپوهنه) وایي، ښه به وي چې دلته لومړی پر ادبپوهنې او بیا د هغې پر بېلابېلو څانګو لږ بحث وکړو. له دې بحث څخه مو هدف دادی چې کله هم د ادب تاریخ له نظره د پښتو ادبیاتو لرغوني دوره څېړو، نو د ادبپوهنې له څانګو او د هغې له اصولو سره اشنا کېدل راته ضروري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ادبپوهنه

**ادب پوهنه:** د ((ادب)) او ((پوهنه)) له یوځای کېدو څخه جوړه کلمه ده، چې لغوي مانا یې د ادب یا ادبیاتو پېژندنه یا د هغې په هکله پوهه او زده کړه ده. په عام مفهوم ادبپوهنه هغه پوهه ده چې د ادبیاتو په هکله څېړنه کوي یا په بله وینا: هغه پوهنه چې ادبیات مطالعه کوي ادبپوهنه بلل کېږي.

د ادبپوهنې یوه بله پېژندنه په دې ډول ده:

((ادبي اثار، شعر او هنري نثر د هنر له ډولونو څخه دي او د ټولنیز شعور یوه بڼه ده، هغه پوهنه چې د ټولنیز شعور دغه بڼه مطالعه کوي د ادبپوهنې په نامه یادېږي.)) (۴۷: ۱۱۸)

(ادبیات) او (ادبپوهنه) ادبي څېړنې او ادبي مطالعات دوه ځانګړي اصطلاحات دي، که د دوی ترمنځ نږدې اړیکي شته، نو ترڅنګ یې د بېلتون داسې لیکه او کرښه هم شته چې دوی په خپله، خپله ځانګړتیا او جلاوالی څرګندوي.

د (ادبي تیوري او ادبي کره کتنې اثر لیکوال په دې اړه لیکي: ((پر دې باید وپوهېږو چې ادبپوهنه، ادبي څېړنې، ادبي مطالعات او ادبیات یو له بله څرګند توپیر لري، په دې مانا چې (ادبیات) یو ژبنی هنر دی او (ادبپوهنه) د هنر د بېلابېلو اړخونو علمي مطالعه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هم جوته ده چې ((ادبپوهنه د کلمې په علمي مفهوم ساينس نه دی، خو د نورو ټولنيزو علومو په لړ کې يو ډول پوهه ده.)) (۵: ۱)

د ادبياتو او ادبپوهنې ترمنځ يو ډېر ستر توپير دادی چې ادبيات تخليقي اړخ او جنبه لري، اديب يې رامنځته کوونکی او پنځوونکی دی او ادبي مطالعات يا ادبي څېړنه (ادبپوهنه) د ادب په هکله د يو ډول پوهنې ترلاسه کول يا زده کړه ده. په دې مانا چې لوستونکی د نورو تخليق کړي ادبي اثار لولي او تر تحليل وروسته پرې ځان پوهوي.

همدې محتوا ته په کتنه ادب پنځوونکی يا تخليق کوونکی هنرمند دی او ادبي مطالعه کوونکی د لوستونکي او زده کوونکي په ډله کې شمېرل کېږي.

((ځينو بيا د ادبياتو او ادبپوهنې ترمنځ د اړيکو ښودلو په لړ کې له دې توبير څخه له يوې مخې سترګې پټې کړې او ويلي يې دي: څوک چې په خپله اديب نه وي او ادبي ليکنه ونه کړای شي، پر ادبياتو نه پوهېږي، نو ځکه بايد ادب څېړونکی او ادبپوه يا د ادبياتو مطالعه کوونکي هم اديب وبولو، ياني يو څوک هغه وخت د بل پر شعر او يا هنري نثر باندې پوهېدی شي چې په خپله يې شعرونه ويلي او ادبي نثري ليکنې يې کړې وي)). (۴۸: ۱۴)

په داسې حال کې چې واقعيت داسې نه دی، د بېلګې په توګه: مونږ ډېر داسې نالوستي ولسي شاعران لرو چې نه يې ادبيات مطالعه کړي او نه يې د شعر فنون لوستي دي، نه لفظي بديعې او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنوي صنايع پېژني، نه ورته تشبيه، استعاره، كنايه، مجاز، قافيه او د هغې اركان او عيبونه معلوم دي، خو داسې غوره ادبي منظوم اثار يې تخليق كړي او پنځولي دي، چې ډېر ستر هنري او ادبي ارزښتونه لري. همدارنګه ډېر داسې ادبپوهان او ادبي څېړونكي هم پېژنو چې د شعر پر ټولو فنونو او تلازماتو پوهېږي، خو نه شعر جوړولای او نه هم ادبي ټوټه يا لنډه كيسه او نور ادبي ژانرونه ليكلای شي.

نو ويلای شو چې: ادبيات او د ادبياتو په هكله پوهه او معلومات دوه بېل شيان دي، ادب په خپله د اديب نوښت او پنځونه (تخليق) دی.

ادبپوهنه درې اساسي څانګې لري، ادب تيوري، ادبي كره كتنه، ادب تاريخ.

ددې ترڅنګ ادبي تذكره، متن پوهنه او كتابپوهنه د ادبپوهنې پر څنګزنو څانګو كې راځي، دلته غواړو د ادبپوهنې پر همدغو اساسي او فرعي څانګو هم لنډه رڼا واچوو:

**ادب تيوري:** ((ادبي تيوري)) له ((ادبي)) او ((تيوري)) دوو توكو څخه جوړه كلمه يا اصطلاح ده چې له ((ادب)) څخه مقصد د ((ادب په ټول پوره)) اثار دي او د تيوري مانا ((نظري اصول))، نظري پوهه يا د نظرياتو ټولګه ده چې په دې ترتيب د ((ادب تيوري)) مانا د ادب په اړه نظريې او ټوليز اصول ګڼل كېږي. (۱۶: ۱۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اصطلاحي توګه ((ادبي تيوري هغه پوهنه ده چې د ادبياتو پر ماهيت، مبتدا، غايه، ارزښت، رسالت او پرمختګ رڼا اچوي او دغه مسايل څېړي.)) د ((ادبي تيوري)) د پېژندنې لپاره ادبپوهانو يو شمېر توضيحي او تشريحي څرګندونې کړې، چې ډېر سره ورته ټکي لري، دلته يې ځينې را اخلو:

کانديد اکاډميسين محمد صديق روهي وايي: ((ادبي تيوري هغه پوهنه ده چې د ادبياتو پر ماهيت، مبدا، نمايه، ارزښت، رسالت او انکشاف باندې بحث کوي.))

دوکتور اسدالله حبيب وايي: ((ادب تيوري د ادبي پديدو يا اثارو ټولنيز ماهيت، د ځانګړنو پرمختيا، قانونمندي او ټولنيز نقش مطالعه کوي او د ادبي اثارو د ارزښت موندنې د څېړنې لپاره عام اصول ټاکي.))

يو بل تعريف کې راځي:

((ادب تيوري د ادبي مطالعاتو لپاره هغه منظمه او منسجمه لاره ده چې پر يوې نظريې ولاړه وي او د هماغې نظريې پر بنسټ د ادبي متونو مطالعه کوي.)) ځينې نور تعريفونه يې په دې ډول دي:

((ادب تيوري هغه علم يا پوهه ده چې د ادبي اثارو ټولنيز ماهيت، ځانګړنې او د ادب د ودې او پرمختګ قوانين مطالعه کوي.))

د (ادب د تيورۍ اساسونه) اثر ليکوال وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«ادبي تیوري د ادبپوهنې یوه ډېره مهمه څانګه ده، چې د هنرمند له خوا د ژوند د ترسیم او د هغه د درک، د ټولنې پر ذهني وده او انکشاف د بدیعي اثارو د ارزښت معلومولو، د بدیعي اثارو د انواعو، د هغو د افادو د لارو، د لیکوالو د سبکونو، ادبي مکتبونو او داسې نورو تحقیق او څېړنه کوي.» (۳۱: ۴)

«ادب تیوري د ادبپوهنې ستره او اساسي څانګه ده چې د ادب ټولنیز ارزښتونه، د ادب د پراختیا ټاکلي پړاوونه، د ودې او انکشاف تاریخي عنعنه، د ادبي اثارو اساسي فورم او نورې ځانګړنې څېړي او د ادبي موادو د څېړنې لپاره عمومي لارې او اصول ټاکي.» یو لنډ تعریف یې دادی: «ادب تیوري د ادب د بېلابېلو برخو او مسایلو په هکله د نظریاتو مجموعه ده.» (۴۷: ۱۶۷-۱۶۸)

د ادبي تیوري په اړه دې پورته بېلا بېلو پېژندنو له مخې ویلی شو چې په عامه توګه په ادب تیوری کې د ټولنپوهنې د علمي قوانینو له مخې د ادب او ټولنې ترمنځ د اړیکو، د ادبیاتو د پیدایښت د عواملو، د ادبي مکتبونو، میتودونو او سبکونو، په ادبیاتو کې د شکل او مضمون څرنګوالی... او د بېلابېلو ادبي انواعو او ژانرونو په هکله بحث او څېړنه کېږي.

د ادب تیوري ترڅنګ ادبي کره کتنه هم د ادبپوهنې مهمه څانګه ګڼل کېږي، د ادبي کره کتنې لغوي او اصطلاحي مانا وو ته څکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تمېرو چې دا دواړه له ادب تاریخ سره مرسته کوي چې د یوې ژبې اثر څنګه په ښه ډول وڅېړل شي.

**ادبي کره کتنه:** په پښتو ژبه او ادب کې د عربي ژبې د (نقد) او (تنقید) او د انګرېزي ژبې د (کرېټسیزم) د کلمې لپاره کره کتنه وضع شوې ده، نو لازمه ده چې لومړی یې په دغو ژبو کې لغوي مانا او مفهوم وپېژنو او بیا یې بېلابېلې اصطلاحي پېژندنې راواخلو:

فرهنګ عمید د (نقد) د کلمې د لغوي مانا په اړه لیکي: ((نقد عربي کلمه ده، مانا یې سره کول یا کره کول، د کره او کوټه پیسو جلا کول، د کلام د عیبونو او ښېګڼو څرګندول او هم د هغو پیسو په مانا چې سملاسي ورکول کېږي، د نسیه خلاف (ضد).)) (۳۲: ۹۱۴)

پښتو پښتو تشریحي قاموس څلورم ټوک د کره کتنې د کلمې مانا داسې کړې ده: ((کره کتنه پښتو کلمه ده، لغوي مانا یې نقد، انتقاد، کرېټسیزم (انګرېزي) رښتینې قضاوت، ادبي نقد یا د انتقاد فن... او د ادبي کره کتنې مانا: وینا پېژندنه، د خبرو سنجونه، د ادبي اثارو د ارزښت او قیمت پېژندنه او د هغو له شرحې او تفسیر څخه عبارت ده، په داسې توګه چې د هغو اثارو ښه او بد او منشاء وپېژندل شي.)) (۱۱: ۵۴۹)

د (ادبي تیوري او ادبي کره کتنې) اثر لیکوال په لویدیځه نړۍ کې د عربي نقد د کلمې یا اصطلاح مفهوم په هکله لیکلي دي: ((په لویدیځه نړۍ کې د (نقد) عربي اصطلاح او کلمې معادل په

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګليسي ژبه کې (criticism) په فرانسوي ژبه کې (locritique) په الماني ژبه کې (kritik) کارول کېږي، دا ټولې اصطلاحګانې چې په پورته دريو ژبو کې مو يادې کړې ريښه يې يوه ده او له يوناني کلمې (crites) څخه چې د (حکم او قاضي) مانا لري، مشتق شوي دي. له همدې مادې او ريښې څخه دي چې (krinein) کلمه د (قضاوت کولو) مانا ورکوي.)) (۵: ۶۰-۶۱)

په پښتو ژبه کې د (کره کتنې) لغوي مانا ژوره، پخه، په غور او دقت کتنه او ارزونه ده.

تر کومه چې خبره د ادبي کره کتنې (ادبي نقد) په اصطلاحي پېژندنې پورې اړه لري، په دې هکله په بېلابېلو څېړنيزو اثارو کې بېلابېلې توضيحي او تشريحي پېژندنې راغلې دي، چې تر ډېره سره ورته ټکي لري، موږ يې دلته ځينې را اخلو:

د (اشنايي با نقد ادبی) اثر ليکوال يې داسې راپېژني: ((ادب نقد (کره کتنه) چې هغې ته وينا سنجونه، وينا پېژندنه او وينا پوهنه هم ويل کېږي، د ادبي اثارو له ارزښت موندنې يا پېژندنې، تشريح او تفسير څخه عبارت دی، چې د هغې په نتيجه کې دا جوته شي چې د دغو اثارو ښېګڼې او بدګڼې (ښکلاوې او نيمګړتياوې) يا ښه او بد څه دي او د هغو منشاء کومه ده. ځينو د نظر خاوندانو يې د پېژندنې په اړه ويلي دي: په نړۍ کې د ترټولو غوره څيز، چې پېژندل شوی او يا د انسان په فکر او ذهن کې دی د هغو د پېژندنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره داسې هڅې او هلې ځلې دي چې له شخصي موخې، غرض او ګټې څخه لرې او خلاصې وي.)) (۲۵: ۲۱)

د (ادبي څېړنې) ليکوال د برېتانيکا دايرة المعارف او امريکا انسايکلوپيډيا په حواله د کره کتنې پېژندنې داسې راوړي دي:

((کره کتنه د هنرونو په باره کې يوه مستدلله او سيستماتيکه مباحثه ده، چې د هغو تخنيکونه او محصولونه توضيح او ارزوي. په دې ترتيب کره کتنه له استيتيکو کتنو (ښکلا پېژندنو)، عکس العملونو او کره کولو سره توپير لري.))

او د امريکا نادايرة المعارف په حواله ليکي:

((د يوه هنري اثر تنقيح، ارزونه او له هغه څخه انطباع اخيستنه د استيتيکي تجربې يوه حتمي او ضروري برخه ده.)) (۲۳: ۱۰۵)

د (ادبي تيوريو او ادبي کره کتنې) اثر ليکوال يې داسې راپېژني: ((ادبي نقد (کره کتنه) هغه پوهنه ده چې ادبي اثار د هنري او ښکلا پېژندنې د پديدو په توګه مطالعه کوي، د پوهنې په دې څانګه کې د پام وړ يا موجود اثر له نورو ادبي اثارو سره له اړيکو لرلو پرته په يوازې يا ځانګړې توګه ارزول کېږي.)) (۵: ۵۳)

اريانا دايرة المعارف ادبي کره کتنه (نقد) او نقاد په توضيحي او تشريحي بڼه داسې رامعرفي کوي:

((ادبي کره کتنه (نقد) د ادبپوهنې يوه ستره او مهمه څانګه ده. د نقد لغوي مانا فرهنګونو: وينا پېژندنه، د خبرو سنجونه، رښتينې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قضاوت او د ادبي اثارو ارزښت معلومونه را اخيستې ده. په عربي کې پخوا د (نقاد) اصطلاح په عامه توګه د اصلي او کوټه (ناچلو) ديناورونو او درهمونو بېلوونکي شخص لپاره کارېدله، خو اوس به ادبي اصطلاح د وينا يا ليکنې د ښو او بدو اړخونو (ښېګڼو او بدګڼو يا عيبونو) معلومونکي ته نقاد يا (کره کتونکی) وايي.

ادبي کره کتنې ته (ادبي تنقيد) يا (ادبي نقد) هم وايي، چې لغوي مانا يې محاکمه کول دي او کره کتونکی يا (ناقد) هغه څوک دی چې د نقد په وسيله د اثارو د ښه والي او بدوالي يا څرنګوالي په هکله لوستونکي ته يوه پرېکړه صادروي.

ادبي کره کتونکی د يو ادبي اثر د ژورې او هر اړخيزې مطالعې په لړ کې هغه تشريح او توضيح کوي او د اثر د محتوا پر اصلي روح، د ليکوال پر پيغام او ادبي اثر د رامنځته کولو پر اصلي موخه او غرض لوستونکی پوهوي او د کره کتنې د ټاکليو اصولو په رڼا کې يې ادبي ښکلا، ښېګڼې او بدګڼې، نيمګړتياوې او کمزورتياوې بيانوي.

يا په بله وينا: لوستونکي ته د اثر هر اړخ او د ليکوال فکر او غرض په اغېزمنه توګه ورښيي.)) (۲: ۲۷۱)

د (فرهنګ زبات و ادبيات پښتو) درېيم ټوک ليکوال يې د پېژندنې په اړه ليکلي دي: ((ادبي کره کتنه د ادبپوهنې درېيمه اساسي څانګه ده، د ختيځ او لويديځ په ژبو کې يې ډول ډول پېژندنې وړاندې شوې، په زياترو پېژندنو کې يې اساسي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنسټیز ټکي دادي چې کره کتنه د یوه اثر ښه او بد یا ښکلي او بدرنګ اړخونه ارزوي. د ادبي کره کتنې عمومي موخه د وخت لپاره د هغې ارزښت موندل یا معلومول دي.)) (۵۵: ۱۷)

د (ادب او ادبي کره کتنه) لیکوال د کره کتنې د پېژندنو په اړه د ځینو لویدیځو ادبپوهانو نظریات راوړي دي چې دلته یې د کره کتنې د بېلابېلو اړخونو د پېژندنې لپاره د نوموړي اثر په حواله په لنډیز سره را اخلو:

انګرېزي کره کتونکی او شاعر میتوارنلډ (Mathew Arnold) ویلي دي:

(( په نړۍ کې چې د ډېرې ښې خبرې شوي او یا کوم ښه او غوره اندونه رامنځته شوي دي، د هغو د بې پرې پېژندنې او عامونې د هیئت نوم کره کتنه ده.))

په ایټالوي دایرة المعارف کې یې لیکلي دي: ((کره کتنه د هغه عمل یا ذهني خوځښت نوم دی، چې د یو شي یا ادبي ټوټې د هغو ځانګړنو توپیر وکړي، چې ارزښت ولري.))

یو جرمني عالم په دې اند دی: ((کره کتنه (یا ادبي ښکلا پېژندنه) په ځانګړې توګه دا ویني چې یوه لیکنه یا ادبي ټوټه (اثر) تر کومه بریده د ښکلا د هغو قوانینو او قواعدو مطابق ده، چې د تصنیف پرمهال منل شوې ده.)) (۵۰: ۱۲۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامتو کره کتونکی (لوناچارسکي) د ادبي کره کتونکي د کار د لارو چارو په هکله دا سې نظر ښکاره کړی دی: ((کره کتونکی باید تر ټولو لومړی د اثر محتوا او د هغه ټولنیزه منځپانګه وڅېړي، بیا له ټولنیزو ډلو سره د هغه د اړیکو تر څرګندولو او پر ټولنیز ژوندانه باندې د هغه د اغېزو تر ټاکلو وروسته د هغه فورم (بڼې او شکل) ته پام اړوي او د اثر بنسټیزو موخو سره د فورم اړیکي معلوموي او د هغو پایلو ترلاسه کولو سره مرسته کوي، چې د اثر له زیات اغېز او هنري بیان څخه عبارت دي.)) (۳۴: ۵)

(سپنګارن) وايي:

((کره کتونکی د انتقاد په ترڅ کې دغو پوښتنو ته ځواب ورکوي:

۱- هنرمند د څه څرګندولو لپاره کوښښ کړی دی؟

۲- ایا په خپل مرام کې بریالی شوی دی؟

په دغو پوښتنو پسې جوخت دریمه پوښتنه راولاړېږي: ایا هغه څه چې هنرمند څرګند کړي دي په څرګندولو ارزي؟)) (۲۳: ۱۰۶)

د (اې ای رچرډز) په اند: (( کره کتنه د یو انصاف لرونکي لیکوال شننه، مدلله څېړنه او په پای کې یې د ښکلاییزو ارزښتونو په اړه پرېکړه کول دي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ابرامز) د ادبي اصطلاحاتو فرهنگ کې د ادبي کره کتنې په هکله ليکي: ((ادبي کره کتنه د ادبي اثارو تعريف، توصيف، طبقه بندي، شننه او ارزونه ده.))

د (کادن) د تعريف له مخې: ((ادبي کره کتنه هغه هنر يا علم دی چې د ادبي اثارو پرتلنې، سپړنې او څېړنې، شننې، تفسير او څېړنې ته ځانګړی شوی دی.))

عربي ليکوال (احمد امين) وايي: ((کره کتنه د ادبپوهانو په اصطلاح د هر هنري اثر چې موضوع يې ادب، يا انځور، يا موسيقي وي، درسته ارزونه، د هغه د خپل ځاني ارزښت سپړنه او د هنر په ورشو کې د هغه د کچې ټاکنه ده او هغه ملکه چې دغه ارزونه رامنځته کوي، ذوق دی او دا ذوق کوم بسيط او ساده شی نه دی، بلکې له ډېرو شيانو څخه مرکب دی، چې ځينې يې د عقل له قوې او ځينې يې د شعور له قوې څخه عبارت دي.))

(دکتور هاشم صالح مناع) د خپل اثر (بدايات فی النقد الادبي) کې ليکي: (( کره کتونکو د کره کتنې ډول ډول اصطلاحي ماناوې کړې دي، چې د ټولو لفظونه بېل بېل، خو مانا يې يوه ده.)) نوموړی د يو شمېر پېژندنو تر راوړلو وروسته يو جامع تعريف داسې وړاندې کوي: ((کره کتنه د هنري کار ارزول، له هر اړخه د هغه ارزښت ټاکل او پر هغه باندې د اغېز ښندونکو عواملو شنل، سپړل، علت ښوول، پېژندل او د هغه د مثبتو او منفي خواوو څرګندول او بيا پر هغه باندې حکم کول دي.))

(ډاکتر سيروس شمسيا) په خپل اثر (ادبي نقد) کې د ادبي کره کتنې د پېژندنې په هکله داسې وايي: ((د ادبي کره کتنې تعريف د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوانيو پوهانو په اند له هغه تعريف سره چې نن مهال کېږي، توپير لري. د پخوانيو ادبپوهانو په اند له کره کتنې څخه موخه معمولاً دا وه چې د يو اثر عيبونه بيان کړي، يا يې د الفاظو د څرنګوالي په هکله څه ووايي، يا ووايي چې مانا له بل اثر څخه اخيستل شوې ده او په ټوليزه توګه د لفظ او مانا له څرنګوالي څخه وغږېږي، البته دغه مانا په خپله د نقد له لغت څخه هم په ګوته کېږي، ځکه نقد له (کره) څخه د (کوټه) ببلولو ته وايي، په دې ډول پخوانيو کره کتونکو کار زياتره د ضعف د نقاطو ښودل وو.)) داکتر شمسيا زياتوي:

((په لرغوني لويديځ کې هم خبره دغسې ده، د (ويبستر) په نامه فرهنګ د criticism د ويي لغت، مانا داسې کاږي [د کره کتنې کار چې معمولاً عيب لټول دي] اما په اوسني نوي پېر کې له ادبي کره کتنې څخه موخه د اثر د عيبونو څرګندول نه دي (که څه هم کېدی شي دې چارې ته هم نغوته ولري.) ځکه ادب کره کتنه د لومړۍ کچې (لومړۍ درجې) او مهمو اثارو څېړنه کوي او په دې ډول اثارو کې زيات تر دې چې د ضعف ټکي ارزښت ولري، د قوت ټکي مطرح دي. ځکه نو ادبي کره کتونکی هڅه کوي د هغه لوړې کچې ادبي اثر په شننه او تحليل سره لومړی د هغه جوړښت او مانا لوستونکو ته څرګنده کړي او بيا هغه قوانين چې ددغه ادبي اثر د سترتوب لامل شوی دی، توضيح کړي، ځکه نو ادبي کره کتنه له يوه لوري د اثر په څرګندونه کې د ادبي قوانينو کارول دي او له بله پلوه د هغو تازه او ممتازو اصولو کشف دی، چې په دغه اثر کې نغښتي دي.))

(شمسيا) وړاندې ليکي: ((ادبي کره کتنه يو خلاق کار دی او ادبي کره کتونکی بايد د اثر د ښېښتن په کچه د ذوق او خلاقيت

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څښتن وي. البته په دې توپير چې ليکوال او شاعر د فضيلت څښتن دی، خو د ادبي پوهنو پر ټولو اړخونو خبر نه دی. په داسې حال کې چې ادبي کره کتونکی ښايي له ټولو علومو سره په دقيقه توګه اشنا وي، چې له هغو ټولو څخه د اثر د لوړتيا د لاملونو په شننه او څېړنه کې د افزارو په توګه کار واخلي. په دې ډول کېدی شي د ادبياتو او د هغو د اړوندو مسايلو په غوړېدو کې د ادبي کره کتنې پر ارزښت پوه شو. ځکه په کره کتنې سره لومړی ادبيات تل تر تله متحول او ژوندي پاتې کېږي. ځکه کره کتونکی د لوړو کچو ادبي اثارو په څېړنه کې له هغو د وسيلو له هغې برخې کار اخلي چې په کار ورځي او خپل په خپله ځينې زاړه علمي او فني وسايل له منځه ځي او دويم د لوړو کچو اثارو په څېړنه کې نوي معيارونه او وسايل کشفوي او د خپل هېواد ادبياتو ته يې وړاندې کوي. په دې ډول لوستونکی د کره کتونکي په مرسته داسې معيارونه تر لاسه کوي، چې لوړ کچې اثار وپېژني، سطحي اثارو ته پام وانه ړوي او ددې ترڅنګ ددې لامل هم ګرځي چې ادبي او فرهنګي بهير خپل درست او سم مسير ته برابر کړ. ګواکې کره کتونکی په نا مستقيمه توګه خلکو ته ورښيي چې کوم اثار بې ارزښته دي او په دې سره کېدی شي پر فرهنګي کارونو خپټه اچوونکي هم د ناوړه ګټې اخيستنې مجال ونه مومي.)) (۴۷: ۵۲۱-۵۲۲)

د (برسمند سخن) اثر ليکوال (ډاکتر نادر وزين پور) د ادبي کره کتنې د پېژندنې په اړه ډېرې مفصلې څرګندونې لري، چې دلته يې ځينې ټکي په لنډيز سره را اخلو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((نقد (کره کتنه) په لغت کې له ناخالصو زرو څخه د چاندي زرو بېلول او په ادبي اصطلاح د ادبي اثارو ارزښت پېژندنه او ارزښت ټاکنه ده. د کره کتنې (نقد) د پېژندنې په اړه باید ووایو چې (نقد) یا کره کتنه یوازې په ادبي چارو پورې مربوطه نه ده او کېدی شي چې پر هر ډول علمي، فني، هنري، فلسفي، تاریخي او نورو ډول ډول اثارو ترسره شي.

تر کومه چې خبره په ادبي کره کتنې پورې اړه لري، کله چې زموږ په ټولنو کې د (نقد) یا (انتقاد) خبره راپورته کېږي، د ځینو خلکو په ذهن کې سملاسي (د عیب لټونې) په مانا او مفهوم افاده کېږي. په داسې حال کې چې له نقد څخه هدف هېڅکله هم یوازې نورو ته د یو ادبي اثر ناوړه، کمزورې یا نیمګړې خواوې ښوول او په ګوته کول نه دي، بلکې له نقد څخه هدف د یو ادبي اثر ارزښت پېژندنه او نورو ته د هغو ښودنه ده، ځکه که د یو ادبي اثر پر معنوي ارزښتونو باندې پوهېدل د ټولو خلکو لپاره ممکن او شوني نه دي، د نقاد یا کره کتونکي د هڅې او کوښښ په نتیجه کې د هغه اثر ټولې خواوې د کره کتونکي په وسیله په ژوره توګه تر غور او څېړنې لاندې نیول کېږي او بیا هغه د خپل کار نتیجه او ارزښت ټاکنه نورو ته خپروي. خو له بده مرغه زموږ په ټولنه کې ډېر ځله کله چې واورېدل شي پر هغه یا دغه کتاب کره کتنه (نقد) شوی، خلکو ته دا فکر پیدا کېږي چې خامخا د اثر عیبونه او کمزورۍ په ګوته شوي، ځکه چې زموږ په ټولنه کې څوک له نقاد (کره کتونکي) څخه بله هیله او توقع نه لري.)) (۵۲۲:۴۷-۵۲۳)

د ادبپوهنې ددې څانګو تر پېژندنې وروسته اوس راځو خپلې اصلي موضوع (ادب تاریخ) ته؛ ادب تاریخ هم د ادبپوهنې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساسي څانګو څخه ګڼل کېږي، څرنګه چې ادب تاريخ دلته موږ ته د يوه مضمون په توګه مطرح دی، نو غواړو څه ناڅه په تفصيلي ډول دلته دې بحث ته تم شو او د ادب تاريخ په باب خپل بحث له يوې پوښتنې پيل کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ادب تاریخ څه ته وايي؟

(ادب تاریخ) له (ادب) او (تاریخ) دوو توکو څخه جوړه یا رغول شوې کلمه یا اصطلاح ده د ادب کلمې د لغوي او اصطلاحي مانا په باب مو دمخه بحث کړی دی. او د (تاریخ) لغوی مانا نېټه، وخت، سنه، د کوم شي د وخت تعینول او د هغه کتاب نوم چې تېرې پېښې بیانوي او په اصطلاح کې په ځانګړې توګه د بشري پېښو مجموعې ته وایي، چې اجتماعي، سیاسي، اقتصادي، علمي، ادبي او کلتوري اوضاع او د پېښو د اړیکو څرنګوالی د علت او معلول پر اساس په کې څېړل شوی او ثمرې پرې بنا شوې وي. په عامه توګه دهر شي د تېر وخت مطالعې ته تاریخ وایي.)) (۱۰: ۹۳۴)

له اصطلاحي پلوه د ادب تاریخ د پېژندنې لپاره د بېلابېلو ادبپوهانو او څېړونکو له خوا یو لړ توضیحي او تشریحي څرګندونې وړاندې شوې، دلته یې ځینې ډېر عامې پېژندنې وړاندې کېږي.

پوهاند عبدالحی حبیبي یې داسې راپېژني:

((د یوې ژبې ادب تاریخ ټول هغه تحولات او لوړتیاوې او احوال چې له ابتداء څخه ورپېښ شوي، بیانوي.)) (۱۵: ۱۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهاند صدیق الله رښتین په خپل اثر (د پښتو د ادب تاریخ) کې د ادب تاریخ پېژندنه داسې کړې ده: ((د ادبیاتو تاریخ ډېر عام مفهوم لري او په عامه مانا د یو ملت د علمي، ادبي، فکري ترقۍ او یا تنزل د حالاتو بیان ته د ادبیاتو تاریخ ویل کېږي.)) (۲۰: ۸)

د پښتو ادبیاتو تاریخ (معاصره دوره) لیکوال یې څو پېژندنې په دې ډول را اخیستي دي:

((۱- د ادب تاریخ هغه پوهنه ده چې د هنري ادبیاتو د پیدایښت او ودې جریان له تاریخي شرایطو سره د ارتباط په ترځ کې څېړي.

۲- ادبي تاریخ د انسان ژوند، لکه څو مره چې په ادب (هنري ادبیاتو) کې تجلي کړې ده، رابرسېره کوي.

۳- د یوې ژبې ادبي تاریخ باید د هغې ژبې د ویونکو د کلتور په چوکاټ کې وڅېړل شي.)) (۲۴: ۱۸-۱۹)

اکاډمیسین دوکتور عبدالاحمد جاوید د (دري ژبې د ادبیاتو په باب) په خپل اثر کې وایي: ((ادب تاریخ هغه بحث دی چې د یوې ژبې د ادبي افکارو وده، تسلسل، د کیفیت څرنګوالی او له منځه تلل په کې څېړل کېږي.))

د ((ادب د تیوري اساسونه) اثر لیکوال یې داسې راپېژني: ((ادب تاریخ د تاریخي پراختیا او انکشاف، د تاریخي اجتماعي شرایطو او د هغو د چاپېریال له پلوه ادب څېړي او د تاریخ په جریان کې د بېلا بېلو تاریخي پوړیو اهمیت او اغېزه په ګوته کوي.)) (۳۱: ۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د «پښتو ادبياتو اصطلاحي قاموس» ليکوال يې داسې راپېژني: «ادب تاريخ په عامه توګه د نړۍ او په خاصه توګه د يو هېواد او قوم د ادبياتو د پرمختګ جريان مطالعه او تر څېړنې لاندې نيسي، چې د تکامل په مختلفو ټاکلو او ځانګړو دورو او مرحلو کې څرګند شوی وي او همدارنګه د ځانګړو ليکوالو اثار هم تر تحليل او څېړنې لاندې نيول کېږي. په بله وينا:

ادب تاريخ په مختلفو سياسي، اجتماعي او اقتصادي پېښو کې د ادب پرمختيايي جريان تر څېړنې لاندې نيسي او په دغه جريان کې د مختلفو اثارو ارزښت او مقام ټاکي.

په لنډ ډول سره: ادب تاريخ د ادبي جريان پرمختګ او مختلفې پديدې او ټاکلې دورې تر څېړنې لاندې نيسي.» (۲۷: ۲)

د «فرهنګ ادبيات پښتو» درېيم ټوک ليکوال ليکي: «ادب تاريخ د ادبپوهنې يوه څانګه ده، چې د ادبي پرمختيا بهير څېړي او په ترڅ کې يې د ډول ډول ادبي پديدو ځای او ارزښت ټاکي. ادب تاريخ کله د يوې ټولنې او يا سيمې د ادبي جرياناتو پرمختيا په تاريخي دورو او کله هم په يوې ټاکلې دوره کې تر مطالعې لاندې نيسي.»

د «پښتو ادب تاریخ (کره کتنه) اثر ليکوال د ادب تاريخ په اړه د ګل محمد نورزي د کابل مجلې «ادب پېژندنه» ليکنې په حواله داسې توضيحي څرګندونې راخيستي دي: «د ادبياتو تاريخ د يوه فرهنګ او ثقافت د پېژندګلوۍ لپاره تر ټولو غوره وسيله ده، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په مرسته پوهېږو ادبي اثار، افکار او ادبیات له څه تغیراتو او د کومو لاملونو په وسیله له نني پرمختګ یا مخځوړ سره مخامخ شوي دي.)) (۴۰: ۳۰)

که د ادب تاریخ پورتنۍ بېلابېلې پېژندنې په غور سره ولولو، ډېر شریک ټکي به په کې وګورو، له دې ټولو څخه د ادبیاتو تاریخ د پېژندنې لپاره دا سې مشترک ټکي وړاندې کولای شو: ((د ادبیاتو تاریخ هغه پوهنه ده چې د تاریخ د بېلابېلو پېړیو په پوړیو کې د یوې ژبې علمي، ادبي لوړتیا او ځوړتیا څېړي او د ټولنیزو چاپېریالي شرایطو او حالاتو په رڼا کې د ادبي ودې او تنزل د پېښو اصلي عوامل په ګوته کوي.)) (۴۸: ۲۳-۲۴)

## د ادب تاریخ موضوع:

څومره چې د ادب موضوع پراخه ده او په ادبي اثارو کې د بشري پوهنو او انساني معلوماتو او اطلاعاتو ډېرې برخې چې د شعر او ادبي نثر په بڼه بیان شوي، د ادب په ساحه کې مطالعه کېږي، دغسې د ادب تاریخ موضوع هم ډېره پراخه ده.

پوهاند عبدالحی حبیبي د پښتو ادبیاتو تاریخ په لومړي ټوک کې د ادب تاریخ د موضوع په اړه لیکي: ((د یوې ژبې ادب تاریخ ټول هغه تحولات او لوړتیاوې او احوال چې له ابتدا څخه ورپېښ شوي، بیانوي، نو لکه د ادب موضوع چې ډېره ارته او پراخه ده د ادب تاریخ موضوع هم دغسې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژبې پخوانی حال او وروستني انقلابونه او ټول تحولات ښيي.
په ژبه کې چې څه علوم او فنون موجود وي، تاريخ يې څرګندوي،
په تفصيلي توګه د يو ملت د فکري او علمي لوړتياوو احوال او
اوضاع ليکي، د ټولو پوهانو د ژوندانه پېښې او د ودې کتابونه او
علمي کارنامې او اثار ښيي.)) (۱۴: ۱۰- ۱۱)

د ادب تاريخ موضوع داده چې په پرله پسې پېړيو کې لفظي او فکر بدلونونه وڅېړي او مقصد ورڅخه دا وي چې د ويناوو او افکارو ترمنځ توپير پيدا کړي او بيا ورڅخه د منطقي او فکري لارو لپاره بنسټونه پيدا کړي. سربېره پر دې ادب تاريخ زموږ د فرهنګ له تېر تاريخ سره د پېژندنې ښه وسيله ده. دا موږ ته په ګوته کوي چې موږ له کومو حوادثو لوړتيا او ځوړتيا څخه تېر شوي يو او اوسني حالت ته رسېدلي يو.

د پښتو ادبياتو تاريخ (معاصره دوره) ليکوال د ادبي تاريخ د موضوع په اړه داسې نظر لري: ((د ادبي تاريخ د موضوع په باب بېلابېلې نظريې څرګندې شوې دي. ددې نظريو په قطب کې هغه نظريه ده چې ادب تاريخ د فرهنګ له تاريخ سره يو شانته ګڼي. ددغې نظريې پر اساس ادب تاريخ د يو ملت د علمي، ادبي، فکري او هنري ترقۍ يا تنزل د حالاتو بيان او د تاريخ د هرې دورې د حالاتو څرګندونکی دی.

په دغه تعريف کې ساينس، فلسفه، عقايد، هنر او نورې کلتوري پديدې هم شاملې دي. په دې ترتيب د ادب اصطلاح د فرهنګ مترادفه ګڼل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بل قطب کې هغه نظریه ده چې ادب تاریخ د ادبي تذکرې سطحې ته راټیټوي او په هغه کې د کرونولوژۍ پر اساس د شاعرانو او ادیبانو د ژوند حالات او اثار معرفي کوي...

ددغو دوو قطبونو ترمنځ یې مهم تعریفونه په دې ډول دي:

۱- ادب تاریخ هغه پوهنه ده چې د هنري ادبیاتو د پیدا ښت او ودې جریان له تاریخي شرایطو سره د ارتباط په ترڅ کې څېړي.

۲- ادب تاریخ د انسان ژوند لکه څومره چې یې په ادب (هنري ادبیاتو) کې تجلي کړې ده، رابرسېره کوي.

۳- د یوې ژبې ادبي تاریخ باید د هغې ژبې د ویونکو د کلتور په چوکاټ کې وڅېړل شي.

اوسنی عمومي تمایل دادی چې ادب تاریخ باید ژبني هنري اثار (ګړني او لیکني) له هغو شرایطو سره په ارتباط کې وڅېړي چې نوموړي اثار په کې ایجاد شوي دي.)) (۲۴: ۱۸-۱۹)

دې پورتنیو څرګندونو ته په پاملرنه که موږ د یوې ژبې ټول هغه لیکلي اثار په پخوانۍ اصطلاح ادبیات وبولو، چې د بېلابېلو علومو او فنونو په اړه دي (لکه کیمیا، بیولوژي، هندسه، ریاضي، تاریخ، جغرافیه، فلسفه، اقتصاد او...) نو په دې صورت کې د ادب تاریخ موضوع ډېره پراخېږي او ټول علوم او فنون او د هغو تاریخي بهیر او د ودې او پرمختیا څرنګوالی د ادبیاتو دتاریخ نه، بلکې دعلومو او فنونو تاریخ بولو او که چېرې ادبیات د یوې ژبې هنري او تخلیقي اثار وي، نو په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورت کې بیا یوازې همدغه ډول ادبي اثار د ادبیاتو په تاریخ کې مطالعه کېږي او د ژبې هر ډول اثار د ادبیاتو په تاریخ کې نه ځایېږي. د ژبې هر ډول اثار لا څه چې اوس هغه منظوم اثار هم، چې هنري او ادبي ارزښتونه نه لري، په ادبیاتو کې نه شمېرل کېږي، نو د ادبیاتو په تاریخ کې هم د مطالعې مورد نه لري. لکه ځینې مذهبي فقهي، طبي، تاریخي او جغرافیایي او نور ډول ډول مسایل، چې زموږ په ژبه (پښتو) کې په نظم بیان شوي، خو هنري او ادبي ارزښتونه یې په نشت حساب دي.

کله کله له ځینو خلکو سره دا پوښتنه وي چې ادبي تذکره او ادبي تاریخ دواړه د یوه لیکوال پنځونې مطالعه کوي او خوندي کوي یې، نو ددې دواړو ترمنځ توپیر څه دی؟ یا هم ځینې لوستونکي یې یو بل سره نه شي توپیرولای، نو ددې په خاطر چې د دواړو ترمنځ توپیر وشي، ښه ده چې ادبي تذکره هم په لنډیز سره دروپېژنو او له ادب تاریخ سره یې توپیر هم په ګوته کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ادبي تذکره څه شی دی؟

د ادبي تذکرې د لغوي او اصطلاحي پېژندنې په اړه په اريانا دايرة المعارف (پښتو) لومړي ټوک کې داسې راغلي دي: ((تذکره عربي کلمه ده چې لغوي مانا يې فرهنګونو: ذکر، بيان، يادښت، يادونه، تبصره او د پېژندنې پاڼه ښودلې او په اصطلاح کې هغه اثر ته ويل کېږي چې په کې د پوهانو، عارفانو، ديني او ملي مشاهيرو او نورو نوميالیو شخصيتونو، د احوالو، ژوند پېښو او اثارو پېژندنه کېږي.

په ادبي او فرهنګي مطالعاتو کې ادبي تذکره هغه اثر ته ويل کېږي چې د شاعرانو او ليکوالانو ژوند پېښې او اثار په کې معرفي شوي وي او ضمناً په کې د هغوی د منظومو او منثورو ليکنو بېلګې هم خوندي شوي وي.)) (۲: ۲۶)

## د ادبي تذکره ليکنې عمومي اصول:

سرمحقق زلمي هېوادمل په خپله يوه مقاله ((ادبي تذکره او ادبي تاريخ)) کې د تذکره ليکنې پر اصولو مفصل بحث کړی چې دلته يې په لنډيز سره ځينې ټکي را اخلو:

((د تذکره ليکنې عمومي او کُلي اصول داسې ښودلای شو:

۱- **د شاعر يا ليکوال بشپړ احوال:** تذکره بايد د شاعر، ناظم يا ليکوال نوم، تخلص، مستعار نومونه، د زوکړې نېټه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار نوم، کورنۍ، قوم، زده کړې، استادان، دوستان، شاګردان، کورنۍ وضعه، د اوسېدو ځای، سفرونه، عقیده، مذهب، عرفاني لاره (که یې ولري) که شاعر مړ وي د مړینې نېټه، مړستون، دا چې شاعر یا لیکوال پر څو ژبو پوهېده او دې ته ورته نورې خبرې.

۲- **د شاعر اثار او ایجادات:** په ادبي تذکره کې دې د شاعر یا لیکوال د ژوند پېښنو ترڅنګ د هغه منظوم یا منثور اثار هم معرفي شي.

۳- د شاعر او لیکوال د اثارو د شکلي او موضوعي ځانګړنو څرګندونه دې وشي، خو پر هغو کره کتنه او تبصره د تذکره لیکونکي نه، بلکې د ادبي کره کتونکي او ادبي مورخ کار دی.

۴- د شاعر او لیکوال د ژوند پېښنو او اثارو د پېژندنې ترڅنګ د هغوی د شعرونو او نثري لیکنو بېلګې راوړل. د کلام یا لیکنو د بېلګو په راوړلو کې باید د تذکرې لیکوال:

الف- که د شاعر یا لیکوال منظم اثار په لاس کې وي له هغو څخه دې داسې ځانګړې بېلګې راواخلي چې د هغه د فکر او هنر ارتقایي بهیر ورڅخه جوت شي.

ب- که شاعر یا لیکوال څو اثره ولري له هغو څخه دې څو نمونې راخوښې کړل شي.

ج- که د نظم یا نثر یوه بېلګه په لاس کې نه وي په هغه صورت کې ادبي تذکره لیکونکی پړ نه ګڼل کېږي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ادبي تذکرو ډولونه:

د اردو ژبې پیاوړی لیکوال (ډاکتر علمدار حسین بخاري) په خپلې هغې مقالې کې چې په ((ادبي تاریخ نویسي)) اثر کې د ((اردو شاعرو کا تذکرے اور ادبی تاریخ نگاری)) د بېلابېلو ځانګړنو له مخې ادبي تذکرې پر شپږ ډوله ښودلې او وېشلې دي:

۱- هغه ادبي تذکرې چې په هغو کې یوازې د پیاوړو شاعرانو او لیکوالانو د ژوند حالات او د کلام بېلګې خوندي شوې وي.

۲- هغه ادبي تذکرې چې په کې د یادونې وړ ادیبان راغلي او د هغو د نظم او نثر زیاتې بېلګې په کې وي، خو د ژوند مفصل حالات په کې راغلي نه وي. لکه بیاضونه او نورې غورچانې ټولګې.

۳- هغه تذکرې چې په کې دیوې ژبې شاعري پر بېلابېلو پړاوونو وېشل شوې وي او له دې ډول تذکرو څخه موخه د یوې ژبې د شاعرۍ د ودې او پرمختیا ښودنه وي.

۴- هغه ادبي تذکرې چې د یوې مخصوصې یا ځانګړې ادبي دورې د شاعرۍ څرګندویي کوي.

۵- هغه تذکرې چې د یوې سیمې یا یوې ډلې د شعر او ادب استازیتوب کوي.

۶- هغه ادبي تذکرې چې یوازینۍ موخه یې د شعر او ادب کره کتنه او سمون وي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

په فرهنګنامه ادبي فارسی، دويم ټوک کې يې ادبي تذکرې پر دوه ډوله وېشلې دي:

۱- عامه ادبي تذکره: چې به کې په عام ډول د يوې ژبې ټول شاعران معرفي کېدی شي. لکه په دري ژبه کې د عوفي ((لباب الباب)).

۲- خاصه ادبي تذکره: هغه تذکره چې په يوې خاصې زمانې پورې اړوند ېږي او په کې د هغې ځانګړې زمانې شاعران پېژندل کېږي، لکه په دري ژبه کې د احمدبيګ ګرجي ((تذکره اراء)) چې ليکوال په کې د خپلې زمانې شاعران معرفي کړي دي.))

## د ادب تاريخ او ادبي تذکرې توپيرونه:

دمخه مو لومړی ((ادب تاريخ)) او بيا ((ادبي تذکره)) په لږو ډېر تفصيل دروپېژندل او له هغې څخه دې پايلې ته ورسېدو چې تذکره په عامه توګه د تاريخ پوهنې څانګه ده او په تاريخي څېړنو پورې اړه لري، خو په ادبي مطالعاتو کې ((ادبي تاريخ)) او ((ادبي تذکره)) د تاليف دوه ځانګړي او جلا ډولونه دي. چې يو له بل سره لږو ډېر اړيکي لري.

په ځانګړې توګه ادب تاريخ په زياتو مواردو کې پر ادبي تذکره ډډه لګوي، خو ادب تاريخ ادبي تذکره نه ده او دغسې ادبي تذکره هم له اوسنيو معيارونو سره سم ادبي تاريخ نه دی. د دواړو ترمنځ جوت توپيرونه شته د (ادبي تاريخ او ادبي تذکره) مقالې ليکوال دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

توپیرونه داسې ښودلي دي: ((کېدی شي په یوې ادبي تذکره کې د یوې ژبې د بېلابېلو دورو او په بېلابېلو جغرافیوي سیمو او ان فرهنګي حوزو کې د اوسېدلو شاعرانو، ناظمانو او لیکوالانو احوال او اثار مطالعه شي او دا معرفي، کېدی شي په الفبایي سیستم یا د سیمو په لحاظ او یا هم د تاریخي تقدم او تاخر له مخې په کرونولوژیک سیستم ترتیب او تنظیم شوې وي. حال دا چې په ادب تاریخ کې دا روش نه تعقیبېږي.

په ادب تاریخ کې د هرې دورې اثار، لیکوال او شاعران په خپله دوره کې د ادبي پېښو او ادبي جریاناتو د انکشاف پر اساس څېړل کېږي.

د ادب تاریخ په مورد کې دا خبره هم د هېرولو نه ده، چې په ادب تاریخ کې د یوې ژبې د ټولې جغرافیې اثار نه شي مطالعه کېدی او دا ځکه چې په بېلابېلو جغرافیوي سیمو کې، چې تر مختلفو سیاسي، اقتصادي او اجتماعي سیستمونو لاندې واقع وي، هورې د ادبیاتو ایجاد او ودې شرایط هم توپیر سره لري او مونږ نه شو کولای چې د یوې ژبې ګرده اثار، چې په بېلابېلو هېوادونو کې تر بېلابېلو اجتماعي شرایطو لاندې یې وده موندلې وي، په یو ادب تاریخ کې مطالعه کړو.

د مثال په توګه که مونږ اوس یوه پښتو تذکره لیکو کېدی شي په دې تذکره کې په افغانستان، پښتونخوا، جنوبي پښتونخوا، پاکستان، کشمیر، هند او بنګال کې ځینې تېر شوي شاعران، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو ژبه يې اثار پرې ايښي وي، سره يوځای معرفي کړو، خو په ادب تـاريخ کـې هلتـه د ادبـي پديـدو د ايجـاد او ودې مراحـل لـه سياسي، اجتماعي او اقتصادي شرايطو سره په ارتباط کې مطالعه کېږي. موږ نه شو کولای چې په دغـو ګـردو سـيمو او هېوادونـو کـې ايجاد شوي ادبيات په يوه ادبي تاريخ کې يوځای سره مطالعه کړو.

کله چې څوک پښتو ادب تاريخ ليکي، نو په پخوانيو دورو کې چې ددغـو سـيمو برخليـک پـه سياسـي، اجتمـاعي او اقتصـادي لحاظ سره د يوه واحد يا سره مشابه نظام په وسيله ټاکل کېده، دومره مشکل نه دی محسوس ځکه نو موږ کولای شو چې په لومړيو دوو پخوانيو دورو کې دغه ګرده ادبيات په يوه واحد ادبي تاريخ کې راوړو، خو په معاصره دوره کې چې په ادبياتو کې د تجدد، معاصريت او نويوالي نښې په دغو ټولو سيمو کې پر يو وخت نه دي څرګندې شوي او تر يو ډول شرايطو لاندې يې وده نه ده موندلې، حتی د پښتونخوا او بلوچستان په سيمو کې دغسې توپيرونه ښکاره دي. حال دا چې په معاصره دوره کې دغه دواړه سيمې تر يوه سياسي سيستم لاندې واقع دي. دا په دې مانا چې په بلوچستان کـې د معاصـرو ادبيـاتو انکشـاف او ودې جريـان د پښتونخوا پـه پرتلـه ډېـر ورو پـرمخ درومـي، نـو ځکـه مـوږ د پښتونخوا او بلوچستان معاصر ادبيات هم په يوه واحد ادبي تاريخ کې نه شو څېړلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدی شي په ((ادبي تذکره)) کې د ادبي او هنري اثارو د لیکوالو او شاعرانو ترڅنګ ځینې ناظمان هم معرفي شي، د شرقي ژبو تذکرې د دغسې ناظمانو په معرفیو، احوالو او اثارو ډکې دي، خو په ادب تاریخ کې د ناظمانو او هر ډول لیکوالو اثار د مطالعې ځای نه لري.

د تذکرې او ادبي تاریخ ترمنځ دا او داسې نور لوی واړه توپیرونه شته او مورږ کولای شو د تالیف ددغو دواړو ډولونو د مطالعې ساحې سره بېلې کړو.)) (۴۷: ۴۶۸)

له پورته څرګندونو څخه جوتېږي چې ادبي تذکره او ادب تاریخ د تالیف دوه ځانګړي ډولونه دي، چې هېڅکله باید یو شی ونه ګڼل شي. ځکه چې ادبي تذکره یوازې لیکوال او شاعران راپېژني او د هغو له اثارو سره مو اشنا کوي، خو ادب تاریخ بیا د یوې ژبې ادبیات له تاریخي پېښو سره په اړیکه کې تشریح او توضیح کوي، نومیالي لیکوال او شاعران هم راپېژني او د هغوی د اثارو ادبي او هنري ارزښتونه هم او په یوه ځانګړې ادبي دوره کې د دغو اثارو او د هغو لیکوالو او شاعرانو له دریځ څخه مو هم خبروي. البته دا بېله خبره ده چې د ادب تاریخ په لیکنه کې ادبي تذکرې د یوه اخځ او سرچینې په توګه خپل لوړ ارزښت او اهمیت لري. د ادبپوهنې پر دې اساسي څانګو تربحث وروسته اوس غواړو د ادبپوهنې فرعي یا څنګزنو څانګو ته هم په لنډیز سره اشاره وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ادبپوهنې فرعي څانګې:

په ادبي څېړنو کې د ادبپوهنې يو شمېر فرعي څانګې هم ښودل شوي دي، چې دلته يې په لنډه توګه درپېژنو:

د فرهنګ ادبيات پښتو دربېيم ټوک ليکوال د ادبپوهنې فرعي څانګې داسې راپېژني:

((ادبپوهنه پر اصلي او بنسټيزو څانګو سربېره دا لاندې فرعي څانګې هم لري:

الف: د ادبپوهنې تاريخ، چې له څېړونکو سره د ادبپوهنې د هرې څانګې د ودې او پرمختيا په پېژندنه کې مرسته کوي.

ب: متن پوهنه

ج: کتاب پوهنه

سربېره پر دې ادبپوهنه له فلسفې، ښکلا پېژندنې، هنر پېژندې او ژبپوهنې څخه مرسته غواړي.)) (۵۵: ۱۰- ۱۱)

کانديد اکاډميسن محمد صديق روهي د ادبپوهنې د فرعي څانګو په اړه ليکي:

((ادبپوهنه ځينې فرعي څانګې هم لري، لکه: ادبي هيسټوروګرافي (د ادبي تاريخ ليکنې ميتودولوژي) سبک پېژندنه، بيبلوګرافي (کتابښود) او ډراماټرجي، البته ډراماټرجي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سینماتوګرافي په شان د هنر پوهنې جلا څانګه ده. او سنی تمایل دادی چې هغه د ادبپوهنې په ساحه کې ونه څېړل شي.»

د ادبپوهنې د فرعي څانګو په پورتني وېش کې سبک پېژندنه یا سبک پوهنه هم د ادبپوهنې یوه فرعي څانګه بلل شوې، خو اوسني زیاتره ادبپوهان سبک پېژندنه یا پوهنه د ادبپوهنې په اصلي څانګه (ادبي تیوري) پورې اړوند ښاخ بولي او د ادبپوهنې فرعي څانګه یې نه ګڼي.

دوکتور اسدالله حبیب د ادبپوهنې فرعي څانګې داسې راپېژني:

«ادبپوهنه پر اصلي څانګو سربېره ځینې فرعي څانګې هم لري چې هغه د ادبپوهنې د تاریخ لیکنه، متن پوهنه او کتاب پېژندنه ده.

الف: د ادبپوهنې د تاریخ لیکل مورږ د ادبپوهنې د هرې اصلي څانګې له تاریخي ودې او پرمختیا سره اشنا کوي او د هرې څانګې له سترو لاسته راوړنو څخه په استفاده د بریالیو څېړنو د ترسره کولو لارې چارې برابروي.

ب: متن پوهنه، اثر له هر ډول اشتباهاتو او له بهر څخه وارد شویو مطالبو څخه پاکوي او د اثر له لیکوال سره د مواردو په پېژندنه او تشخیص کې مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج: د ليکوال د اثارو په کتاب پېژندنه کې په لنډو څرګندونو او توضيح سره، چې د هغو کتابونو د بېلابېلو چاپونو په اړه چې د نوموړو اثارو په هکله ليکل شوي او د هغو اثارو په اړه چې له عمومي ادبپوهنې څخه بحث کوي، ليکل کېږي. دغه ډول څېړنې له لوستونکو يا مطالعه کوونکو سره دا مرسته کوي، چې د زيات شمېر کتابونو او څېړونو ترمنځ د خپلې خوښې او اړتيا وړ څه په اسانۍ سره ترلاسه کړي.)) (۱۲: ۵)

د ادبپوهنې د اساسي او فرعي څانګو تر پېژندنې وروسته اوس راځو د خپل بحث بلې موضوع ته او هغه دا چې دې پوښتنې ته بايد ځواب پيدا کړو چې ادبي دورې څنګه ټاکل کېږي؟ غواړو ددې پوښتنې ځواب د ادبپوهنې د همدې اساسي او فرعي څانګو د اصولو په رڼا کې ترلاسه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ادبي دورې څنګه ټاکل کېږي؟

کله چې موږ د ادبپوهنې په رڼا کې ادبيات څېړو، نو يوه مهمه پوښتنه په کې دا رامنځته کېږي چې ادبي دورې څنګه ټاکل کېږي؟ نوې دوره له پخوانۍ څخه څومره اغېز اخلي. ايا ادبي دورې هم د سياسي تاريخ د دورو په شان مشخصه نېټه، پيل او پای لري او که نه يوه په بلې کې داخلېږي. ادبپوهان په عمومي ډول په دې نظر دي چې يوه ادبي دوره هغه وخت تشکيلېږي چې ادبيات يې داسې کمي او کيفي ځانګړنې ولري چې تر هغې پخوانۍ يې توپير او چت ځرګند شي. د زمان اوږدوالی او لنډوالی په کې قيد او شرط نه دی. څرنګه چې يوه ادبي دوره په بله کې تداخل او امتداد پيداکوي په دې خاطر اسانه خبره نه ده چې ی‌وه دوره له بلې څخه په يوه مشخصه تاری‌خي نقطه کې جلا شي، دا حالت د نړۍ د اکثرو ژبو په ادبياتو کې پېښ شوی دی. په ادب تاريخ کې يوه موضوع هم د ادبي دورو د وېش مسله ده، دلته غواړو په دې پوه شو چې د ادب تاريخ له نظره ادبي دورې څنګه ټاکل کېږي او څنګه يوه له بلې بېلېږي؟

د ادبياتو د تاريخ ډېره ستره او مهمه بنسټيزه دنده د تاريخ په اوږدو کې د يوې ژبې د ادبياتو مطالعه او پر بېلابېلو ادبي دورو د هغو وېشنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یادونې وړ ده چې په ادب تاریخ لیکنه کې د ادبي دورو تشخیص او ټاکل یو ستونزمن کار دی او د ادبي مورخ زیاته پاملرنه او کړاو غواړي.

د ادبي دورو وېش لپاره کوم ټاکلی او منلی معیار نه شته او د بېلابېلو ژبو ادب تاریخ لیکونکو په دغه برخه کې ځانګړي ځانګړي معیارونه کارولي دي.

د «ادبپوهنه» اثر لیکوال د ادبي دورو د وېش په اړه د یو ټاکلي او منلي معیار د نشتوالي لامل داسې ښودلی دی: «د ادبي دورو د وېش په برخه کې تر ډېره د یوه ټاکلي معیار د نشتوالي یو ستر علت دادی چې ځینې ادبي جریانونه په اسانۍ سره خپل ځای نوي ادبي جریان ته نه خوشې کوي. کله کله د یو ادبي جریان ریښې ډېرې پخوانۍ وي، په تدریجي توګه وده مومي. د هغه د انکشاف په دوران کې ښایي یو بل قوي ادبي جریان رامنځته شي او یا له منځه ولاړ شي. لنډه دا چې ادبي مکتبونه، ادبي تمایلات اکثره داسې نه دي چې له کوم سیاسي رژیم سره رامنځته شي او د هغه له سقوط سره سم بې له ځنډه محوه شي. کله کله شرایط بدل شوي وي، خو ادبي عنعنه لا پرځای پاتې وي.» (۴۸: ۲۷)

د پښتو ادبیاتو تاریخ (معاصره دوره) اثر لیکوال کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي هم د ادبي تاریخ په لیکنه کې د ادبي دورو د ټاکنې او وېش موضوع له ستونزو ډکه بللې او د ادبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دورو د وېش د مسلې په اړه يې مفصل بحث کړی، چې په لنډيز سره يې ځينې ټکي را اخلو:

«د ادبي تاريخ ليکنې ميتودولوژي يوه لويه ستونزه د ادبي دورو ټاکنه ده. ادب تاريخ ليکونکو په دې اړه له بېلابېلو لارو او ميتودونو څخه کار اخيستی دی، چې ځينې يې دادي:

۱- د ادبي ژانرونو، ادبي سبکونو يا ادبي مکتبونو پر اساس د دورو ټاکنه:

د دورو د وېش لپاره ددې ميتود يا لارې ښېګڼه داده چې د ادب ذاتي تطورېې د معيار په توګه ټاکلی دی. ادب تاريخ په اصل کې د ادبي جرياناتو تاريخ دی، نو کله چې يو ادبي مکتب خپل ځای بل ادبي مکتب ته پرېږدي د ادب تاريخ بله دوره پيلېږي. ادبي مکتبونه که له يوې خوا له ټولنيزو، اقتصادي او سياسي پېښو سره اړه لري، له بلې خوا نسبي خپلواکي هم لري. د ادبي دورو د ټاکنې ددغې لارې يوه ستره ستونزه داده چې ادبي ژانرونه او ادبي مکتبونه کله کله پر يو وخت پيلېږي. د بېلګې په توګه: په پښتو ادبياتو کې اکبر زمينداروی لومړنی شاعر دی چې د مثنوي او غزل بېلګې يې تر موږ رارسېدلې دي، نو دغه دوره په پښتو ادبي تاريخ کې په څه نامه ياده کړو؟ د غزل دوره يې وبولو او که د مثنوي. همدارنګه په اروپا کې د سمبوليزم، دادائيزم او سورياليزم ادبي مکتبونه پر يو ټاکلي وخت (۱۹۲۴-۱۸۸۰م) راټوکېدلي دي او په يو ادبي چاپېريال کې يې وده کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د پاچهانو د کورنيو پر اساس د دورو وېش:

د دورو د وېش دا لاره د ادبي پديدو د پرمختيا له توضيح او تحليل سره مرسته نه شي کولای. ادبي سبکونه، مکتبونه او ژانرونه د کوم پاچا يا واکمن په حکم يا دستور منځته نه راځي او د هغه مړينه هم پر ادبي جريان کومه ځانګړې اغېزه نه لري.

۳- د ټولنيز-اقتصادي فورماسيون د تيورۍ پر بنسټ د ادبي دورو وېشنه:

ددې لارې پلويان د ادب تاريخ د دورو وېشنه هم د پنځو تاريخي دورو له مخې کوي. ددې نظريې د پلويانو په اند ادب د ټولنيز شعور يو شکل دی، چې د بنسټ له بدلېدو سره سم بدلون مومي، يانې کله چې تولیدي مناسبات بدلون مومي په ادب کې هم بدلون راځي.

د يادونې وړ ده، چې د ادبي دورو د وېش دغه نظريه (تيوري) د ادبي تاريخ په برخه کې په بشپړه توګه د تطبيق وړ نه ده. د مثال په توګه په پانګوالي نظام کې په اروپا کې د سورياليزم، دادايزم او داسې نور زيات شمېر ادبي مکتبونه رامنځته شوي، ان دا چې کمونيستي ادبيات هم په دغه دوره کې ايجاد شوي، نو په ادب تاريخ کې د يوې تاريخي دورې تر سرليک لاندې د ټولو ادبي جريانونو شرحه له ستونزو ډکه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۴- د تاریخي، سیاسي او ټولنیزو پېښو پر اساس د ادبي دورو وېشنه:

ددغې لارې له مخې په ادب تاریخ کې د دورو وېش هم لږ و ډېرې نیمګړتیاوې لري. که څه هم سیاسي او ټولنیزې پېښې پر ادبي بدلون او تحول باندې اغېزه لري، خو هغه د ادب تاریخ اصلي موضوع نه ګڼل کېږي. د ادب تاریخ اصلي موضوع په خپله ادب دی.))

استاد محمد صدیق روهي د ادبي دورو د وېش په اړه د خپلو څرګندونو په پای کې وايي: ((اوس نو پوښتنه راولاړېږي چې د ادبي دورو د وېشنې معیار څه شی دی؟ ددې پوښتنې په ځواب کې ویل کېدی شي چې د ادبي اثارو د محتوا او شکل په بدلون سره نوې ادبي دوره پیلېږي. ادبي تحول باید اصلي معیار وي لیکن باید زیار وایستل شي، چې د ادبي تحول علتونه څرګند شي. البته دا احتمال شته چې ځینې وختونه ادب او سیاست یو له بله دومره نږدې وي چې ادبي تحول او سیاسي تحول یو ګډ نوم غوره کړي، لکه په پښتو ادب کې د روښانتیا دوران.)) لیکوال په پای کې وړاندیز کړی چې دده په اند په ادب تاریخ کې د ((ادبي دورې)) پرځای د ((ادبي دوران)) کلمې کارول غوره دي. ځکه چې یوه دوره پای ته نه وي رسېدلې چې بله پیل شي او لوړې ځوکې ته ورسېږي. د مثال په توګه: د ریالیزم دوره چې دمخه پیل شوې ده لا تراوسه دوام لري او ددغې دورې په اوږدو کې د نیچرلیزم (ناتورالیسم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمبولیزم، اګزیستنتالیزم او سوریالیزم په شان یو شمېر ادبي مکتبونه راوټوکېدل او ثمرې ته ورسېدل.

د ((دوران)) کلمې مقصد دادی چې په یوه دوره کې ښایي ډېر نور ادبي جریانونه د شهرت اوج ته ورسېږي. دغسې لوړې څوکې یا د شهرت اوج د ((دوران)) په نامه یادېږي.)) (۴۷: ۴۳۷- ۴۴۰)

د ادبیاتو د تاریخ د دورو د وېش په باب د پښتو ادبیاتو (معاصره دوره) اثر د لیکوال په دغو پورتنیو څرګندونو کې مورږ د ادبي دورو د وېش بېلابېلې لارې وپېژندلې او په ترڅ کې یې د هغو له ځانګړتیاوو او نیمګړتیاوو هم خبر شو او په پای کې د لیکوال هغه نظر مو هم ولوست چې د ادبي دورو د وېش په اړه یې وړاندې کړی دی.

د ((ادبیاتو تاریخ مسالې)) د مقالې لیکوال کاندید اکاډمیسین محمد انور نومیالی د ادبي دورو د وېش په اړه داسې نظر لري: ((که د ادبي اثارو کیفیت یې ډېر وي او هم یې د کلتوري اوښتونونو له پړاو سره د کیفي تغیر نښې څرګندې وي، نو کېدلای شي چې د ښې دقیقې پېژندنې او تصنیف لپاره یې خاصه دوره بندي وټاکو، خو دا دوره بندي هېڅ لازمه نه ده، چې باید د نېټې او کرونولوژۍ په اعتبار وي. کېدی شي چې د ادبي اثارو د نوعیت یا د کوم شاعر په نامه او یا د کومې بلې مبداء پر بنا یې تثبیت کړو.

د خاصو دوره بندیو په مورد کې به ښه دا وي چې د هرې ژبې خپل محتویات په پام کې ونیسو او ځانګړې دوره بندي یې منځته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړو. که په دې مورد کې د نورو ژبو تقلید کوو او یا د هغو له دوره بندیو څخه تقلیدي استفاده کوو، نو څرنګه چې محتوا یې تفاوت سره لري. ارومرو پر ډېر مشکل اخته کېږو. ځکه چې یوه ژبه ښايي په خپله یوه دوره کې د کمیت او کیفیت له پلوه ډېره شتمنه، خو بله ژبه بیا په هم هغه زماني حد کې ښځي ښل تاریخي جریان ولري، چې د بلې ژبې لپاره کفایت نه کوي، د هرې ژبې د ادبیاتو تاریخي تصنیف هم باید د هغې ژبې په محتوا کې تثبیت شي.))
(۴۵: ۸۹)

شوروي ادبپوه (عبدالنبي ستار زاده)، په خپله مقاله کې، چې پوهنمل لطیف ناظمي په دري ژبه ((دوره بندی ادبیات از نګاهی روش شناسی)) تر سرلیک لاندې ژباړلې ده، د ادبي تاریخ د دورو د وېش او ډلبندۍ طرحه داسې وړاندې کړې ده:

((کولای شو ووایو چې د ادبیاتو په دوو ډولونو ډلبندۍ یانې علمي او عملي ډلبندۍ کې لاندې طریقې راڅرګندېږي:

۱- د واکمنو کورنیو پر بنسټ د ادبیاتو د دورو وېش.

۲- د زماني بهیر پر بنسټ د ادبي دورو وېش.

۳- د ادبي ښوونځیو، سبکونو او ژانرونو پر بنسټ د ادبي دورو وېش.

۴- د ټولنیزو، سیاسي او تاریخي پېښو پر بنسټ د ادبي دورو وېش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- د عامو تاریخي دورو پر بنسټ د ادبي دورو وېش)) (۴۷: ۴۴۱)

د ((ادبپوهنه)) لیکوال د ادبي دورو د وېش په اړه د مفصل بحث په یوه برخه کې لیکي: ((په لویدیزه نړۍ، په ځانګړې توګ د انګرېزي ژبې په ادب تاریخونو کې د ادبي دورې د ټاکلو یو معیار دادی چې هره دوره یا عصر د یو نومیالي استازي لیکوال او ادیب په نامه یادېږي، لکه د (چاسر) عصر، (سپنسر) عصر او داسې نور او یا ادبي دورې د پېړیو په نوم نومول کېږي، لکه د (پنځلسمې پېړۍ ادبیات، د (اتلسمې) پېړۍ ادبیات او داسې نور. ځینې وخت یې بیا د مسلطو ادبي مکتبونو په نوم نوموي، لکه د( کلاسیزم) عصر، د (رومانتیسیزم) عصر او نور.

زموږ په ادبیاتو کې د ادبي دورو په وېش او ټاکنه کې هم دغه ستونزه موجوده ده. په پښتو او دري ژبو، چې د ادبیاتو د تاریخ په نوم کوم اثار لیکل شوي، لیکوالانو یې پرته له دې چې په ادب کې د فورم او محتوا د کمي او کیفي بدلون، د ادب د ودې او انکشاف جریان او د هغه عوامل په پام کې ونیسي له خپلې خوښې او ذوق سره سم یې د ادبي دورو وېش په عنعنوي توګه کړی دی:

چا پر هېواد باندې د بهرنیو یرغلګرو او د تاړاکونو او چا د کورنیو شخړو او اشخاصو ترمنځ د سیاسي واک د لېږدېدو، ځینو بیا د سیاسي نظامونو د بدلون او اوښتون او ځینو نورو د ادبي جریاناتو او مکتبونو او د هغو په راس کې د نومیالیو ادیبانو په نوم ادبي دورې وېشلې او ټاکلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید ووایو چې دغه پورتني وېشونه او د ادبي دورو د ټاکلو او بېلولو لارې هېڅکله هم د یوې ژبې د ادبیاتو د ودې او انکشاف د تاریخي سیر له تشریح او روښانولو سره مرسته نه شي کولی.)) (۴۸: ۲۸)

لیکوال د ادبي دورو پر وېش باندې د مفصل بحث په پای کې د ادب تاریخ لیکونکي ته لارښوونې او سپارښتنې کوي: ((د ادب تاریخ لیکوال ته لازم دي چې هغه باید تر هرڅه لومړی پر ادبي تیوري وپوهېږي، چې د هغې له مخې د خپلې ژبې د ادبي اثارو مطالعه وکړي، ځکه چې د ادب تاریخ په واقعیت کې د ادبي تیوري د تطبیق ډګر دی:

- د ادبي تاریخ لیکوال باید د هرې دورې د خلکو له ټولنیزو، دیني، مذهبي او سیاسي عقایدو، تاریخي ټولنیزو حالاتو، پېښو، د ادبي غورځنګونو او تحریکونو یا ادبي مکتبونو او جریانونو، په هکله هراړخیز معلومات ولري، چې د ادبي تاریخ دورې په سمه او مطلوبه توګه وټاکلی یا ووېشلی شي.
- د ادب تاریخ په هره دوره کې باید د هغې دورې د نومیالیو او استازو ادبي خېرو د ژوند پېښو، د ټولنیزو حالاتو، شرایطو او مسایلو پر وړاندې د دغو استازو ادیبانو دریځ، خلکو او ټولنې ته د دغو ادیبانو د اثارو او افکارو د پیغام په ترڅ کې د ځانګړو اصولو او مشخصاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مخې د غوره ادبي اثارو په هکله قضاوت، د رامنځته شويو ادبي غورځنګونو او جريانونو مناسبه پېژندګلوي او د دغو ادبي مکتبونو او سبکونو د رامنځته کېدو، ودې، انکشاف، اغېزو او له منځه تللو د عواملو د ښودنې په هکله يوه هر اړخيزه او جامع سپړنه او څېړنه لازمي ده.

- يوازې د يو يا بل شاعر او ليکوال د ژوند پېښې، د نظم او نثر د بېلګو رااخيستل په هېڅ ډول د ادبياتو تاريخ نه شو بللای، بلکې د يوې ادبي تذکرې نوم ورکولای شو، چې البته د ادبياتو د تاريخ ليکنې پرمهال ورڅخه پر خپل ځای لړو ډېره ګټه پورته کېدی شي.

- ادب تاريخ سربېره پر دې چې موږ ته په هره ادبي دوره کې د هغې دورې نوميالي استازي او مشهور اديبان او د هغوی ارزښتناک ادبي اثار راپېژني، د هغه عصر او دورې د ټولنيزو، عقيده يي، سياسي، علمي، فرهنګي او نور حالاتو يوه نقشه هم زموږ مخې ته ږدي، چې د دغو اثارو اديب په کې روزل شوی، ادب په کې رامنځته شوی، د بېلابېلو عواملو له مخې يې د لوړتيا او ځوړتيا پړاوونه وهلي دي. څومره چې په ادبي تاريخ کې د هرې دورې او عصر روحيه او د پېښو انځور هر اړخيز او جامع وي، په هماغه کچه يې د ليکوال او اثر د معقوليت او مقبوليت چانس زيات دی.)) (۴۸: ۲۸-۲۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ادبي دورو د ټاکلو د عامو اصولو له مخې اوس راځو د پښتو ادبیاتو د تاریخي دورو ټاکلو ته.

د پښتو ادبیاتو د تاریخي دورو د ټاکلو په برخه کې هم د نظر اختلافات شته، ښه به وي چې دلته د پښتو ادبپوهانو نظریات وړاندې کړو او بیا په پای کې د هغو د نظرونو له ټولګې څخه وروستۍ نتیجې ته ورسېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په پښتو ادب تاریخونو کې د ادبي دورو وېش

دمخه مو یادونه وکړه چې په ادب تاریخونو کې د ادبي دورو وېش په باب د ساینسي فورمولونو په شان کوم ثابت او منلي اصول او معیار نه شته او زیاترو ادب تاریخ لیکونکو یا په عنعنوي بڼه د نورو ادب تاریخونو په تقلید او یا هم د خپل ځانګړي ذوق له مخې د ادبي دورو د وېش چاره ترسره کړې ده. په پښتو ادب تاریخونو کې هم دا دود او عنعنه پالل شوې دي، موږ دلته د پښتو ادب تاریخونو له جملې څخه په ځینو تاریخونو کې د ادبي دورو وېش را اخلو، کتنه ورته کوو او په پایله کې په پښتو ادب تاریخونو کې د دورو د وېش وروستی او د یو نسبي معیار په توګه منل شوې طرحه، چې په عمل کې پلې شوې هم ده، وړاندې کوو. دا نظریې استاد محمد صدیق روهي هم راټولې کړې او کتنه یې ورته کړې ده. موږ به ټولې دا نظریې وړاندې کړو او ورپسې به د استاد روهي نظر، شننه او ارزونه هم وړاندې کړو:

پوهاند عبدالحی حبیبي (د پښتو ادبیاتو تاریخ) په لومړي ټوک کې چې پر (۱۳۲۳ل) کال په کابل پوهنتون کې د ادبیاتو پوهنځي د تاسیس پرمهال ددغه پوهنځي د محصلانو لپاره لیکل شوی، د پښتو ادبي تاریخ دورې څلور ښودلې او یادونه یې کړې چې د هرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دورې لپاره به د ادب تاريخ ځانګړی ټوک ليکي. استاد حبيبي ليکلي دي:

(( زه په دې کتاب کې د پښتو ادب دورې پر څلور ډوله وېشم . د پښتو ادب تاريخ به څلور ټوکه وي، په دې ډول:

(۱) لومړۍ دوره، اول ټوک: په دې دوره کې به دا وښودل شي چې تر اسلام دمخه د پښتو ژبه وه که يه؟ د ژبې موقعيت په پخوانو اريايانو کې څه و؟ او پښتو له زړو اريايي ژبو سره څه نسبت لري؟...

(۲) دويمه دوره يا دويم ټوک: د پښتو ژبې دويمه دوره د اسلام له ابتداء څخه شروع کېږي او تر زر (۱۰۰۰) هجري کال پورې رسېږي...

(۳) دريمه دوره او دريم ټوک: دا دوره له (۱۰۰۰) هجري څخه شروع کېږي تر (۱۳۰۰) هجري پورې رارسېږي... په دې دوره کې پښتو ادب ښه وده کړې ده، په نظم او نثر کې ډېر تحولات پېښ شوي دي او نوي مکتبونه رامنځته شوي دي.

(۴) څلورمه دوره يا څلورم ټوک: له (۱۳۰۰) څخه شروع کېږي او د ژبې د وروستنيو (۶۰) کالو پرمختګ او لوړتيا راښيي، د نوي ادب د نوو تحولاتو ښکندونه کوي، د ژبې د عصري نهضت تاريخ دی.)) (۱۴: ۵-۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ترتيب استاد حبيبي د پښتو ادبياتو تاريخ پر څلورو دورو وېشلی دی. د لومړۍ دورې لپاره يې د ادبياتو تاريخ لومړی ټوک ليکلی، چې د ادبياتو پرځای د پښتو ژبې تاريخ دی او د دويمې دورې لپاره يې دويم ټوک ليکلی، نور يې د ادبياتو د پوهنځي د پښتو څانگې د درېيمو او څلورمو ټولگيو محصلانو لپاره درسي نوټونه ليکلي، چې په دې وروستيو کې د ((پښتو ادبياتو لنډ تاريخ) په نوم چاپ شوي دي.

پوهاند صديق الله رښتين په خپل اثر ((د پښتو د ادب تاريخ)) کې د پښتو د ادبي تاريخ دورې څلور بللي او داسې يې راپېژندلي دي:

((اوله دوره: له دويمې هجري پېړۍ (۷۱۸ع) څخه شروع او تر (۹۰۰هـ) يا (۱۴۹۴ع) کال پورې رسېږي. (د سوريانو، غوريانو او لوديانو عصر).

دويمه دوره: له (۹۰۰) هجري څخه تر (۱۱۰۰هجري ۱۶۸۷ع) پورې ده (د بابر او د هغه د اولادې زمانه).

درېيمه دوره: له (۱۱۰۰) هجري څخه تر (۱۲۵۰هجري-۱۸۳۴ع) پورې رارسېږي (د هوتکو او سدوزو زمانه).

څلورمه دوره: له (۱۲۵۰ هجري-۱۸۳۴ع) څخه راپه دېخوا شروع شوې ده (د محمدزو عصر او اوسنۍ دوره)) (۲۰: ۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغسې په نورو ادبي تاريخونو کې هم د ادبي دورو د وېش مساله يا د دغو دوو ادبي تاريخونو په تقليد او يا هم د خپل ذوق له مخې د ادبي دورو وېش شوی او شمېر يې تر دې لږ يا ډېر ګڼل شوی دی.

لکه څنګه چې دمخه مو يادونه وکړه، کانديد اکاډميسين محمد صديق روهي د ادبي دورو د وېش په باب د اکثرو پښتو ادبپوهانو نظريې راټولې کړي او په دې برخه کې يوه هر اړخيزه شننه او ارزونه کړې چې دلته يې يادول خورا ضروري دي. استاد روهي وايي:

((تر هرڅه مخې د ادبي دورو د وېش لپاره بايد يو منطقي معيار وټاکل شي. ددغه معيار له مخې بايد د هرې دورې ځانګړتياوې وښودل شي. که چېرې هماغه معيار پر ټولو ادبي دورو باندې د تطبيق وړ نه وي، نو د ادبي دورو تصنيف خپل اعتبار او ارزښت له لاسه ورکوي.

د پښتو ادبي تاريخ ليکونکو د ادبي دورو د ټاکلو لپاره له بېلو بېلو معيارونو څخه کار اخيستی دی. ددغو پوهانو او استادانو کار د قدر وړ دی، خو د يوناني فيلسوف (ارستو) دا خبره به نه هېروو چې ويلي يې وو: ((خپل استاد اپلاتون راباندې ګران دی، خو حقيقت تر هغه نه زيات راباندې ګران دی.)) نو ددې لپاره چې د ادبي دورو د نوي ډېزاين په باب قضاوت وکړای شو پخوانو معيارونو ته به يوه انتقادي کتنه وکړو. علمي څېړنه ددې غوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي چې باید په ټاکلې ساحه کې د نورو پوهانو کارونه ارزیابي شي.

د پښتو ژبې لوی ادبي مورخ علامه حبیبي د خپل اثر ((د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، دریم ټوک)) کې په حقه ګیله کوي چې دده د کتاب تر لومړي چاپ وروسته په دېرشو کلونو کې هېڅوک میدان ته رانغی چې دده له خوا پیل شوی کار تکمیل کړي. لوی استاد د همدغه کتاب په سریزه کې لیکي: ((زما هیله هغه وخت دا وه چې دا کتاب به سمدستي د لومړي صنف د محصلانو په کار ورشي او بیا چې دغه زده کوونکي استادان شي او خارج ته د لوړو زده کړو لپاره لاړ شي او په لوړو پوهنتونونو کې لوست وکړي، نو به دوی د خپلې پوهنې په رڼا کې نوې او ژورې څېړنې وکړي او ښايي چې تر دې ډېر ښه او ګټور او محققانه کتابونه پر همدغه موضوع باندې وکاږي... مګر زه چې اوس ګورم هغه امید مې ترسره نه شو.))

د لوی استاد پوهاند حبیبي غوښتنه او پراخ نظري موږ ته اجازه راکوي چې لومړی دده په یاد شوي کتاب کې ادبي دورې تر بحث لاندې ونیسو. پوهاند عبدالحی حبیبي د پښتو ادب دورې پر څلورو برخو وېشلې دي: په لومړۍ دوره کې دا کوښښ شوی دی چې تر اسلام دمخه د پښتو ژبې موجودیت او د نورو اریایي ژبو ترمنځ د پښتو ژبې موقعیت تثبیت کړي. دویمه دوره د اسلام له ابتدا څخه شروع کېږي او تر (۱۰۰۰ هـ.ق) کاله پورې رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درییمه دوره له (۱۰۰۰هـ.ق) کاله څخه پیلیږي او په (۱۳۰۰هـ ق) کې پای ته رسیږي. څلورمه دوره له (۱۳۰۰هـ ق) څخه شروع کیږي.

اروانباد پوهاند حبیبي د ادبي دورو تر معرفي کولو وروسته لیکي: ((زه دا منم چې زما کار او سعی به خورا ابتدایي وي، مګر هیله لرم چې وروستني پښتانه به دا چاره ښه بشپړه کړي او دا بڼ به د تحقیق او پلټنې په ګلونو ښه ښکلی او سمسور کړي خو:

باغ د ګلو به سمسور وي موږ به نه یو

د بلبلو به پرې شور وي موږ به نه یو

پوهاند حبیبي د ادبي دورو په وېش کې د قدماوو لاره نیولې ده، په دې مانا چې ((د لغاتو فلسفه))، ژبه او ژبنی پوهنې هم د ادب جز بولي. په اوسني وخت کې د ژبې د تاریخ حساب له ادبي تاریخ څخه جلا دی ځکه چې ادبي تاریخ یوازې هنري ادبیات تر څېړنې لاندې نیسي. که ژبپوهنه او ادبپوهنه د علم جلا څانګې وګڼو نو لومړۍ دوره د پښتو په ادبي تاریخ کې ځای نه لري. البته کېدی شي چې په سریزه کې ورته اشاره قدرې وشي.

دویمه خبره داده چې د ادبي دورو په دغه وېش کې کومې مهمې فرهنګي او ادبي پېښې په نظر کې نه دي نیول شوې. د مثال په توګه (۱۳۰۰هـ ق) د څلورمې ادبي دورې پیلامه ګڼل کیږي. چې دغه دوره د امیر عبدالرحمن خان له پاچهۍ سره متصادفه ده. په دغه وخت کې د ادبي تحول څرک نه لګیږي، بلکې په ادبي لحاظ شنډه دوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده. له قرينې څخه ښکاري چې د کتاب مولف ګرد عدد او د پېړۍ د پيلېدو معيار ته توجه کړې ده.

تر پوهاند حبيبي وروسته استاد صديق الله رښتين د پښتو ادبياتو يو پياوړی مورخ دی او د ادبي تاريخ په غنا او روښانولو کې يې د قدر وړ خدمتونه کړي دي. پوهاند رښتين په خپل اثر (د پښتو د ادب تاريخ) کې ټولې ادبي دورې پر پنځو دورو وېشلې دي.

ده په خپل وېش کې تر اسلام نه مخکې دوره حذف کړې ده، ځکه چې په هغه زمانه کې د پښتو د ادبي اثارو کوم څرک نه دی لګېدلی. البته په دې وروستيو وختونو کې داسې اسناد لاس ته راغلي دي چې وايي د (۱۵۰ ق. م) په حدودو کې د (مالنده پنهو) په نامه يو کتاب په پښتو ژبه کښل شوی و، دغه کتاب په پالي ژبه ترجمه شوی دی او په هغه کې يادونه شوې ده چې نوموړی کتاب له پښتو ژبې څخه ژباړل شوی دی. څرنګه چې د پښتو کتاب لاسته نه دی راغلی، نو د ادبي دورو په وېش کې تر اسلام نه مخکې زمانه په حساب کې نه ده نيول شوې.

پوهاند رښتين ادبي دورې داسې ټاکلي دي: اوله دوره له (۱۰۰هـ) نه تر (۸۰۰هـ) پورې، دويمه دوره له (۹۰۰هـ) نه تر (۱۱۰۰هـ) پورې. دريېمه دوله له (۱۱۰۰هـ) نه تر (۱۲۵۰هـ) پورې. څلورمه دوره له (۱۲۰۰هـ) نه تر (۱۳۵۰هـ) پورې . پنځمه دوره له (۱۳۵۰هـ) نه راپدېخوا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه وېش کې ځينې ښېګڼې ليدل کېږي خو په مجموع کې د معيارونو په لحاظ د تامل وړ برېښي. نوموړي پوه د لومړۍ دورې د ادبي خصوصياتو په باره کې ډېر په زړه پورې تحليل کړی دی. ده دويمه دوره له ميا روښان څخه پيل کړې ده. دغه نظر هم معقول ښکاري خو دومره بايد ووايو چې لازمه نه وه دويمه دوره د بابر پاچا او د هغه د اولادې په نامه ياده شي. همدارنګه څلورمه دوره يې د محمدزيو د سلطنت له پيلېدو سره تړلې ده او د پنځمې دورې په وېش کې چې هغه هم د محمدزيو د سلطنت ادامه ده، تداخل ليدل کېږي. د کتاب مولف ادبي دورې له پاچهي کورنيو سره په ارتباط کې ساتلې دي. په دغه اثر کې پر ادب باندې د سياسي او اقتصادي عواملو اغېزه له پامه غورځېدلې ده او يا لږ ارزښت ورکړ شوی دی. کله کله د پاچهي کورنۍ په بدلېدو سره د استاد او دده د سبک پيرو (لکه رحمان بابا او دده شاګرد محمد يونس) ادبي دورې سره بېلېږي، ياني د ادبي تحول پرځای د پاچهانو تاريخ معيار ګڼل شوی دی، خو دغه معيار هم په سيستماتيک ډول نه دی مراعات شوی. د کتاب په اوله دوره کې (د پښتو د ملي ادب ځينې برخې) تر عنوان لاندې د پښتو افسانې، نکلونه، وړې قصې، نارې، د پښتو لنډۍ او پښتو متلونه معرفي شوي دي.

دلته څو ټکي د پاملرنې وړ دي. لومړی دا چې د ملي ادب اصطلاح د فوکلوري ادب پرځای استعمال شوې ده. فوکلوري ادب د ملي ادب يو ټوک دی. ليکنی ادب هم د ملي ادب ټوک ګڼل کېږي. دويم دا چې د فوکلوري ادب بېلګې (نمونې) چې په اولې دورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې اړه ولري د سند په توګه نه دي راغلي. فوکلوري ادب به غالباً تر اسلام نه مخکې زمانه کې موجودو او لا تراوسه دوام لري، نو ښايي چې په يوې خاصې ادبي دورې پورې ونه تړل شي، په تېره بيا چې کوم سند هم لاس ته نه وي راغلی. دربېيم دا چې ښاغلي مولف ګمان کړی دی چې د نکلونو ناري په رښتيا سره د نکل د پرسوناژونو ايجاد دی. څلورم دا چې ښاغلی مولف د اروپا رومانونه هم د پښتو په اوله ادبي دوره کې معرفي کوي په داسې حال کې چې د اروپا رومانونه په اروپا پورې اړه لري. پنځم دا چې په اوله دوره کې پښتو ناول نه دی ليکل شوی. موږ ددې کتاب پر موضوعاتو نور څه نه وايو خو صرف دومره يادونه کوو چې په هغه وخت کې د داسې کتاب ليکنه يو ارزښتمن کار دی، د قدر په سترګه ورته ګورو. (د افغان ياد) په کتاب کې چې د غلام محی الدين افغان په ياد د مقالو يوه مجموعه ده؛ پوهنمل نورمحمد غمجن تميل (په پښتو ادبياتو کې د ادبي ټوټو ونډه او تاريخي سير) تر سرليک لاندې د پښتو ادبي تاريخ پر دورو باندې هم بحث کړی دی. پوهنمل غمجن د پښتو ادبياتو دورې پر څلورو برخو وېشلې دي: لومړۍ دوره له دويمې هـ ق پېړۍ څخه پيلېږي تر (۹۵۰هـ ق) پورې رسېږي. دويمه دوره له (۹۵۰ هـ ق) يانې روښانی نهضت څخه تر (۱۲۰۰ هـ.ق) پورې دوام کوي. وروسته نوې دوره شروع کېږي چې پر افغانستان باندې د انګرېزانو حمله يې معيار ګڼلې دی. بيا معاصره يا اوسنۍ دوره راځي چې له (۱۳۵۷هـ.ش) کال څخه پيلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه وېش کې د معیار انتخاب او بیا د معیار سیستماتیک او منسجم تطبیق دواړه د تامل وړ برېښي. د معیار په انتخاب کې سیستم نه لیدل کېږي. ځینې کلونه په هجري قمري او ځینې په هجري شمسي راغلي دي.

کله چې ښاغلی لیکوال لومړی او دویمه دوره یادوي، بیا نو د ترتیبي عدد سلسله پرېږدي، د نوې دورې او اوسنۍ دورې په نامه بل معیار انتخابوي. د نوې دورې نوم هم مناسب نه دی، ځکه سړی نه پوهېږي چې په نوې پسې به څه شی راځي. ښاغلی لیکوال تر نوې دورې وروسته معاصره یا اوسنۍ دوره ټاکلې ده، په دې حساب نوې دوره په اصل کې زړه دوره ده. دویمه خبره داده چې په لیکلي ادب کې د انګرېزانو تر یرغل وروسته تر شلمې پېړۍ پورې کوم عمده ادبي تحول نه لیدل کېږي له دې امله د انګرېزانو لومړی یرغل د نوې ادبي دورې د پیلېدو معیار نه شي ګڼل کېدی. درېیمه خبره داده چې ښاغلی لیکوال (۱۲۰۰هـ.ش) د انګرېزانو د لومړۍ حملې تاریخ بللی دی، په داسې حال کې چې دغه حمله اوه لس کاله وروسته په (۱۸۳۸ع) کې ترسره شوه.

څلورمه خبره چې تر ټولو مهمه ده هغه داده چې د امیر دوست محمد خان له وخت نه تر (۱۳۵۷ هـ.ش) کال پورې د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې څرګند ادبي تحول راغلی دی، معاصر ادبیات د امیر حبیب الله په پاچاهي کې پیل شوي دي او بیا د محمدظاهر شاه د پاچهۍ په زمانه کې د ادبي تاریخ بل پړاو پیل شوی دی، لیکن

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی لیکوال پر دغو ادبي تحولاتو سترګې پټوي او له (۱۲۰۰هـ ش) نه تر (۱۳۵۷هـ ش) کال پورې ټوله یوه ادبي دوره ګڼي. (د ادب تیورۍ اساسونه) مولف سرمحقق دوست شینواري د (پښتو لیکلي ادب د مکتبونو، سبکونو او میتودونو په پوړیو کې) تر عنوان لاندې د پښتو ادبي تاریخ پر دریو پړاوونو وېشلی دی: لومړی پړاو چې په هغه کې د (ملنده پڼو) کتاب او د (سره کوتل کتیبې) ته هم د پښتو د پانګې په توګه اشاره شوې ده. دا پړاو د هغه په واقعي مانا له امیر کروړ څخه شروع کېږي او مولف همدغه د لیکلي ادب لومړی پړاو بولي. دده په نظر، د اسعد سوري قصیده ((په پښتو شعر کې د تجدد پړاو دی)) خو سره له دې دغه قصیده هم د لیکلي ادب په لومړي پړاو پورې اړه لري. دویم پړاو له بایزید روښان سره پیلېږي. دغه پړاو تر فرعي عنوان لاندې شرح شوی دی: روښاني مکتب، د رحمان بابا سبک، هندي مکتب، د هوتکیانو دوره، نورې دورې. وروستي د ادب نوی پړاو چې د امیر شېرعلي خان له وخت نه شروع کېږي شرح شوی دی. دغه پړاو (د انتقادي ریالیزم پیدا ایښت) په نامه یو فرعي عنوان لري.

په دغه پورتني وېش کې ښاغلی مولف د دورې پرځای د پړاو کلمه غوره بللې ده.

په دې وروستیو وختونو کې د پړاو کلمه زیاتره د مرحلې په مانا استعمالېږي، یانې دیوې دورې دننه ځینې مرحلې د پړاوونو په نامه یادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوړتني وېش په باره کې به په لنډه توګه څو ټکو ته ګوته ونیسو. لومړی دا چې د سره کوتل کتیبه د پښتو په ادبي پانګه ورګډول زیاتو باوري څېړنو ته انتظار باسي.

دویم دا چې محترم مولف سبک، مکتب او مېتود جلا شیان ګڼي خو په تصنیف کې یوه اصطلاح د بلې پرځای استعمالوي. درېیم دا چې د خوشال بابا په شان ستر شاعر او مفکر د جلا سبک خاوند نه دی ګڼل شوی. څلورم دا چې په تصنیف کې انسجام نه شته، مولف د سبکونو یا مکتبونو لړۍ پرېږدي د هوتکیانو دوره او نورې دورې پیلوي. پنځم دا چې د ادب نوی پړاو د امیر شېرعلي خان له باچاهي نه پیل کوي خو دداسې اثارو بېلګې نه شي پیداکولی چې معاصر ژوند به کې منعکس شوی وي. هره ادبي دوره د هغې دورې د خصوصیاتو درلودونکو اثارو سره پیلېږي، خو چې په خپله اثار موجود نه وي، ادبي دوره هم وجود نه لري. د امیر شېرعلي خان په دوره کې ځینې اثار شته خو د کوم ادبي تحول پیلامه نه شي ګڼل کېدی.

د پښتو د ادبي تاریخ د دورو د وېش په برخه کې د اکاډمیسین کاندید محمد انور نومیالي هم یوه طرح وړاندې کړې ده. ښاغلی نومیالی د (ادبي دورې) د اصطلاح پرځای د (ادبي دوران) اصطلاح غوره ګڼي او داسې استدلال کوي چې ((نن ورځ تاریخ پوهانو د دورې او دوران ترمنځ توپیر په مرسومي توګه تثبیت کړی دی.)) د مثال لپاره دوی دوره هغه بولي چې د یوې پروسې د پیدا ښت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

انکشاف او زوال درې سره مرحلې په هغې کې سرته رسېدلې وي او له بلې وروستنۍ نوې دورې څخه یې ټول مشخصات توپیر ولري.

خو دوران داسې حالت ته وایي چې د هغه په ترخ کې لا د یوې او بلې دورې ترمنځ تاریخي بېلوالی نه وي راغلی اما په هغه صورت کې صرف د نوې دورې مخکښې محتویات تبارز کوي او انکشاف یې د زړې محتویات نفې کوي.»

د ښاغلي نومیالي دغه یادونه پرځای او سمه ده، خو په دغه کتاب کې مورږ د ادبي تاریخ عنعنه په پام کې نیولې ده، د پښتو د ادبي تاریخ په برخه کې د دورې کلمه هم صدق کوي.

د محترم نومیالي په عقیده د پښتو ادبیاتو لپاره په مجموعي توګه درې دورانه ټاکلای شو:

۱- د شفاهي ادبیاتو دوران.

۲- د خوشال د کتبي ادبیاتو دوران.

۳- د معاصرو کتبي ادبیاتو دوران.

دغه وېش هم د تامل وړ دی. لومړی دا چې د خوشال د کتبي ادبیاتو له دوران څخه مخکې دوران د شفاهي ادبیاتو دوران بلل شوی دی، په داسې حال کې چې د اسعد سوري او ښکارندوی قصیدې، د شیخ متي عرفاني شعر او د زرغون خان ساقي نامه په فوکلور کې نه راځي او د خپلو خصوصیاتو له پلوه له فوکلوري ادب سره څرګند توپیر لري. دویم دا چې د روښانیانو عرفاني اثار

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم په فوکلور کې راځي په داسې حال کې چې دغو اثارو ته څوک فوکلور نه شي ویلای.)) (۲۴: ۲۸-۳۸)

استاد روهي د خپل تحلیل په ترڅ کې په خپل کتاب کې د خپلې طرحې په باب هم یادونه کوي او وايي: ((تر دغو پورتنیو یادونو وروسته به د دغه کتاب طرح وړاندې شي. ښايي دغه طرح هم وروستنۍ طرح نه وي د ادبیاتو استادان کولای شي په راتلونکې کې نوې طرح وړاندې کړي. په دغه کتاب کې د پښتو ادبي تاریخ پر دریو عمده دورو وېشل کېږي: لرغونې دوره، منځنۍ دوره او معاصره (اوسنۍ) دوره. هره دوره پر پړاوونو وېشل کېږي.)) خو مخکې تر دې چې د استاد روهي له خوا د پښتو ادبي دورو وېش ته راشو، ښه به وي چې دې پوښتنې ته چې پښتو څو ادبي دورې دي؟ هم ځواب ورکړو، دا پوښتنه د پښتو ادب له اکثرو مینوالو سره مطرح ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو څو ادبي دورې لري؟

لکه څنګه چې مو د پښتو ادبیاتو د دورو د وېش د څرنګوالي په باب د بېلابېلو پښتو ادبپوهانو نظرونه راوړل چې زیات ورته والی او څه نا څه توپیرونه په کې وو، خو د ادبي دورو د شمېر په باب د پوهانو ترمنځ د نظریاتو اختلاف ډېر کم دی، اکثره په دې نظر دي چې پښتو ادب تاریخ پر درېو لویو دورو وېشل کېږي چې کېدی شي هر یوه یې بیا پر خپل وار پر څو پړاوونو ووېشل شي، خو پر درېو دورو اکثره متفق دي. لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه استاد روهي دا ټول نظریات سره پرتله کړي، شنلي او ارزولي دي او د هغو له منځه یې د نچوړ په توګه درې دورې غوره بللې دي. استاد روهي په خپل اثر (د پښتو ادبیاتو تاریخ - معاصره دوره) کې دا درې دورې داسې په ګوته کړي دي:

## لرغونې (پخوانۍ دوره):

پخوانۍ دوره چې په هغې کې قبیلوي نظام مسلط ښکاري، تر شپاړسمې میلادي پېړۍ پورې دوام کوي. د تحریري اسنادو له مخې په ادبي تاریخ کې دغه دوره له امیر کروړ څخه پیلېږي او د بایزید روښان تر ظهور او پاڅون پورې رسېږي. په شپاړسمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلادي پېړۍ کې د پښتونخوا په ختیځه برخه کې د هند مغلي سلطنت په زمانه کې فیوډالي تولیدي مناسبات منځته راځي او په ادبیاتو کې هم بدلون لیدل کېږي.

پخوانۍ دوره د ټولنیزې اروا پوهنې او فرهنګي عنعنې له پلوه د (ریګویدا) او د (اوستا) له سندرو او ګاڼونو سره ورته والی لري. د ځینو ادبپوهانو په عقیده، د ریګویدا او اوستا د سندرو او ګاڼونو او د پښتو د لرغونو سندرو موضوعګانې او قالبونه سره ورته دي. د پخوانۍ دورې عمده موضوعګانې د نمانځنې سندرې، ویاړنې (قومي تفاخر)، ویرنې، مینه، ښېلتون او اخلاقي ښوونې دي چې په هغو کې پېچلي تخیلات او لفظي ضایع چنداني نه لیدل کېږي. د غوریانو د واکمنۍ په دوره کې د قصیدې جوړونه، یو نوی پړاو ګڼل کېږي، ځکه چې په دغو قصیدو کې له پاستورال (د شپنو شعر سره فاصله منځته راغلې ده.

که څه هم قصیدې له درباري ادب سره نږدېوالی لري خو په هغو کې د پاستورالو سندرو روحیه هم ساتل شوې ده، د پښتنو قبیلو مشران او واکمنان د یووالي او قبیلوي قدرت د سمبولونو په توګه ستایل شوي دي. که دغه قصیدې د هغه وخت له عربي او فارسي قصیدو سره پرتله کېږي. د پښتنو واکمنان د قومي یووالي د سمبولونو او خواخوږیو دوستانو په توګه ستایل شوي دي. شاعر د صلې او انعام د اخیستلو لپاره شعرونه نه وایي او نه په ستاینه کې له اغراق څخه کار اخلي. په داسې حال کې چې د فارسي ژبې شعر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عربي شعر د وزن پیروي کوي. د پښتو د لرغونو اریایانو د سندرو وزن ساتي. تراوسه پورې پښتو شعر همدغه خصوصیت ساتلی دی، یانې د شعر وزن د څپې (فشار، اکسنټ) او د هجاوو (سېلابونو) د شمېر پر اساس ټاکل کېږي.

## منځنۍ دوره:

منځنۍ ادبي دوره له شپاړسمې میلادي پېړۍ څخه تر شلمې پېړۍ پورې دوام کوي. د پښتو ادبیاتو منځنۍ دوره له سیاسي او ایډیالوجیکي مبارزې سره پیلېږي، خو دغه مبارزه د فیوډالي شرایطو له چوکاټ څخه دباندې نه وځي. میا روښان د یوې مذهبي فرقې د لارښود په توګه په توره او قلم مبارزه کوي. د روښانیانو او خټکو ادبیات په عمده توګه تبلیغ او تنویر ته متوجه شوي دي. روښان او خوشال خټک دواړو د پښتنو د خپلواکۍ او ملي حاکمیت لپاره توده او سره جګړه پرمخ بیولې ده. سره جګړه یانې د قلم له لارې مبارزه یوه فکري سیستم ته اړتیا لري. روښانیانو د عرفان له لارې د خلکو د سیاسي شعور د لوړولو، په هغو کې د خودۍ او پرځان متکي کېدلو د احساس د ویښولو لپاره اهنګ وال ادبي اثار ایجاد کړل او په دې توګه د کتبي ادبیاتو پانګه رامنځته شوه.

خوشال خټک پښتو ادبیات د مضمون، شکل او قالب له پلوه غني کړل. ده د فارسي (په حقیقت کې د عربي) ژبې ټول قالبونه (لکه مثنوي، غزل، قصیده، رباعي، مخمس او نور) او لفظي او معنوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

صنایع په پښتو ادب کې راوستل. د مضمون له پلوه دده په اثارو کې ډېر زیات نوښتونه لیدل کېږي چې د هغه وخت په شرایطو کې ساری نه لري.

د منځنۍ دورې ادبیات د مضمون او شکل په لحاظ د پخوانۍ دورې له ادبیاتو سره جوت توپیر لري. ددې دورې په ا دبیاتو کې د لرغونو سندرو وزنونه متروک شول، کلاسیک معنوي او لفظي صنایع په پښتو ادب کې باب شول، د مفکورې په لحاظ سیستماتیک اثار منځته راغلل او پېچلي تخیلات د پښتو ادب په بڼ کې راوټوکېدل. په دغه وخت کې پښتو ادبیاتو د سیمې له ادبیاتو رنګ واخیست. د افکارو ژورتیا ، د تخیل رنګیني او د قالبونو تنوع د منځنۍ ادبي دورې غوره ځانګړنې ګڼل کېږي. دا ثرګنده خبره ده چې د روښانیانو عرفان، د خوشال د ملي تشخص احساس، د رحمان بابا ادبي بلاغت، د حمید او کاظم شیدا نازکخیالي د پخوانۍ ادبي دورې په اشعارو کې نه لیدل کېږي.

په منځنۍ ادبي دوره کې درې مهم پړاوونه د فکري، سیاسي او هنري ځانګړنې له مخې د تشخیص وړ دي چې غوره استازي یې په فکري لحاظ د روښان پلویان، په سیاسي لحاظ خوشال خان خټک او په هنري لحاظ رحمان بابا ، حمید ، شیدا ، حنان بارکزی او نور دي.

## معاصره یا اوسنۍ دوره:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو د ادبي تاریخ اوسنۍ دوره د شلمې پېړۍ له دوهمې لسیزې څخه پیلېږي.

دا باید ووایو چې پر (۱۸۹۳م) کال د ډیورنډ د تحمیلي کرښې په اثر د ادبي تحول اوسنۍ دوره په لره او بره پښتونخوا کې د سیاسي جریانونو د جلاوالي په سبب یو شانته انکشاف نه کوي، خو پیلامه یې یو شانته ده.

د افغانستان دننه پښتو ادبیات په اوسنۍ دوره کې درې مهم پړاوونه لري: د روښانتیا پړاو، د ویښتیا پړاو، د اوښتون پړاو، څلورم پړاو چې کېدی شي د سمون پړاو یې وبولو نوی پیل شوی دی.

د وروستي پړاو څرنګوالی په هېواد کې د سیاسي ثبات له راتلو سره اړه لري او تراوسه یې هویت په څرګند ډول نه دی تثبیت شوی.

د اوسنۍ ادبي دورې ادبیات د منځنۍ دورې ادبیاتو سره د محتوی، شکل، ژانرونو او قالبونو له پلوه څرګند توپیر لري او د ادبي تحول نوې دوره بلل کېدی شي.

د مضمون او محتوا له پلوه د اوسنۍ دورې په ادبیاتو کې نوي فکري او سیاسي تمایلات (لکه نېشنلیزم، سوسیالېزم، لیبرالیزم) او نوي هنري مېتودونه (لکه ریالېزم او نور)، نوي ادبي ژانرونه، (لکه ناول، لنډه کیسه، نوی شعر، ادبي ټوټې، طنز او نور) رامنځته شوي دي. په ادبي قالبونو کې هم د ترانې، نوي شعر، منثور شعر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایجادولو سره تنوع او نوښتونه منځته راځي.)) (۲۴: ۳۸-۴۲) او نوره ډول ډول رنګیني په کې لیدل کېږي.

یو شمېر لیکوالو تر (۱۳۵۷ل) کال وروسته پښتو ادبي بهیر پر دوو برخو وېشلی، یوې برخې ته یې استوګن ادبي بهیر او بلې ته یې نا استوګن ادبي بهیر ویلی دی. استوګن په دې مانا چې د هېواد په داخل کې رامنځته شوی او نا استوګن هغه چې د مهاجرت او کډوالۍ په چاپېریال کې رامنځته شوی، ځینو بیا همدا بهیر یې د هنري ارزښت له مخې د (شعر) او (شعار) پر څانګو هم وېشلی، هغه شعرونه چې شعري ارزښت ولري هغو ته یې شعر او هغه چې هنري ارزښت یې کمزوری وي، هغه یې شعاري پړاو ویل دی.

که موږ د استاد روهي او نورو لیکوالو او پښتو ادبپوهانو ټول نظرونه سره تحلیل او تجزیه کړو نو په وروستي تحلیل کې دې نتیجې ته رسېږو چې پښتو ادب تاریخ په مجموعي ډول پر همدې دریو لویو دورو (لرغوني، منځنۍ او اوسنۍ) دورو وېشل کېږي چې هره دوره یې بیا په خپل منځ کې نور پړاوونه لوړتیا او ځوړتیا ، یا ځوړتیا او لوړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تر لرغونې دورې دمخه پښتو ادب

لکـه څنګـه چـې څرګنـده ده، پـه هـره ژبـه کـې لـومړی ادبيـات رامنځته کېږي او بيا ادبي څېړنې يا د ادبپوهنې علم، چې د همدې علم د بېلابېلو څانګو له مخې ادبي دورې وېشـل کېـږي، د ادبيـاتو ماهيت او اهميت په ګوته کېږي او يـوه ادبي پديـده د معيـارونو پـر بنسټ له ناادبي ليکنو څخه جلا کېږي، څرنګه چې ادبپوهنه پر شتو او لاس لرلو ادبي پديدو بحث کوي، نه پـر خيـالي او ناشـتو اثـارو، نو ځکه خو کله چې پر پښتو ادبياتو بحث کېږي، خبره د امير کـروړ تر لاس لرلي شعر يا کلام وړاندې نه ځي، دا په دې مانا نه ده چې تـر امير کروړ وړاندې يا پښتو ژبه نه وه يا يې ادبيات، خو ادب تـاريخ پر همغو اثارو بحث کوي چې عمـلاً پـه لاس کـې دي، څرنګـه چـې د امير کروړ تر منظومې ويارنې دمخه موږ بل ليکلی منظوم يا منثـور کلام په لاس کې نه لرو، نو ځکه خو د پښتو ادبياتو تاريخ د لومړۍ دورې پيل هم له همدې ويارنې سره اړه پيدا کوي. البتـه د ژبپـوهنې په رڼا کې د پښتو ژبې لرغونتيـا تـر دې وړانـدې لسـګونو پېړيـو تـه رسـېږي. څرنګـه چـې يـوه ژبـه موجـوده وي، طبيعـي خبـره ده چـې ادبيات يې هم شته، خو دا چې ددې ادبياتو ليکلې بېلګـې د زمـانې د ناخوالو له امله اوس زموږ پـه لاس کـې نـه شـته، نـو ځکـه خـو يـې ادب تاريخ په باب څه نه شي ويلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته یو ځل بیا یادونه کوو چې ښایي درنو لوستونکو سره دا پوښتنه پیدا شي، چې د پښتو کوم پخواني ادبي اثار چې زموږ په واک کې دي او موږ پرې دلته خبرې کوو، هغه خو د اسلامي دوران د دویمې پېړۍ دي، ایا تر دې دمخه او تر اسلامي عصر دمخه زمانو پښتو اثار نه شته او یا نه دي ترلاسه شوي؟

ددغسې احتمالي پوښتنو په ځواب کې باید وویل شي، چې تر اسلامي عصر دمخه هم د پښتو اثارو د موجودیت ځینې څرکونه له موږ سره شته، چې د ګرانو لوستونکو د معلوماتو او ددې بحث د پس منظر په توګه به یې دلته یوازې تشه یادونه وکړو.

١. له هغو یونانو باختري باچهانو څخه چې په هندوستان کې پاچهۍ ته رسېدلي دي، یو هم (مناندر) نومېږي، ددغه (مناندر) د حکومت او پاچاهۍ زمانه مورخانو د دویمې قبل المیلاد پېړۍ په اواسطو کې ټاکلې ده.

(مناندر) نسبت نورو یونانو باختري پاچاهانو ته له هندي رسومو سره ډېر بلد و او په هندي روایاتو کې دا سړی د (ملنده) په نامه یادېږي. دغه مناندر باچا به په مختلفو علمي او مذهبي موضوعاتو کې له عالمانو او روحانیونو سره بحثونه کول، مناندر باچا چې له بودایي حکیم (ناګه سینه) سره کوم بحثونه کړي دي، دغو بحثونو ته (ملنده پنهو) وایي او دغه ملنده پنهو د بودایي مذهب له ډېرو مهمو کتابونو څخه ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څېړونکي عقيده لري چې ددغه کتاب اصلي متن په زړه پښتو برابر شوی و، چې هغه پښتو متن اوس ورک دی، اما ددې پښتو متن (پالي) ترجمې شته.

د هېواد نامتو تاريخپوه پوهاند ميرحسين شاه هم په خپلې يوې ليکنې کې همدا موضوع ياده کړې ده، هغه وايي: ((هغه پاچا چې تر ميلاد (۱۵۰) کاله دمخه پښتو متن ورته منسوب دی په هندي رواياتو کې د (ملنده) په نامه يادېږي، ملنده يا مناندر په هندي تعبير يو هوښيار او پوه سړی و او په مذهبي بودايي رواياتو کې هم لوړ مقام لري. پوهان، روحانيون او مذهبي خلک به د شاه په دربار کې د تل لپاره تول وو، پاچا به له هغوی څخه ګټه پورته کوله، شاه او عالمانو به پر علمي موضوعګانو بحثونه سره کول. دپاچا (مناندر) له معروفو بحثونو چې له بودايي حکيم (ناګاسينه) سره يې کړي د (ملنده پنهو) په نامه يادېږي او د بودايي مذهب له ډېر مهمو کتابونو څخه شمېرل کېږي. ددغه کتاب اصلي متن په پخوانۍ پښتو ژبه برابر شوی و چې له بده مرغه اصلي متن يې اوس په لاس کې نه شته، اما اثار يې په (پالي) ژبه په (سيلون)، (برما) او (سيام) کې ساتل کېږي. ددې پښتو کتاب د پالي ژباړې پخوانۍ نسخه چې په څلورمه ميلادي پېړۍ کې خطاطي شوې، د جاپان له يو بودايي معبد څخه لاسته راغلې ده.)) (۴۱: ۴۰-۴۱)

ددې ډلې څېړونکو د څېړنو له مخې دا ښکاري، چې تر ميلاد (۱۵۰) کاله دمخه لا پښتو ژبه ددې جوګه وه، چې کتاب په کې وليکل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. د هندوستان د راجستان ایالت په یوه پخواني مندر (معبد) کې د څو ژبو د اشعارو یوه مجموعه پیدا شوې ده، چې په مجموعه کې د راغلو څو شعرونو ژبه پښتو ده. ددې مجموعې له وجوده (روشن لال ملهوتره) خبر کړي یو، هغه وایي: ددې مجموعې هغه اشعار چې پښتو دي، په (دوناګري) خط لیکل شوي دي، اشعار یې د لنډیو غوندې جوړښت لري، دا شعرونه ځینې خاصې دعاګانې دي. دا شعرونه تراوسه نه دي څېړل شوي، ددې شعرونو څېړنه او تحلیل به څرګنده کړي چې دا شعرونه کله لیکل شوي دي؟ د چا دي؟ د خط ډول یې موږ په دې باوري کوي چې دا شعرونه به تر اسلام دمخه زمانو کې لیکل شوي وي.

له دې یادونو څخه ښکاري چې تر اسلامي عصره دمخه هم په پښتو اثار لیکل شوي، خو دا چې د (ملنده پنهو) د کتاب اصلي پښتو متن زموږ په واک کې نه شته او له راجستان ایالت څخه ترلاسه شوي په (دوناګري) خط لیکلي پښتو اشعار څېړونکو لا نه دي کتلي او نه یې دي څېړلي، نو ځکه موږ تر اسلامي عصره دمخه پر پښتو اثارو له لوړو لومړنیو یادونو پرته نور څه نه شو ویلای، نو ځکه خو د پښتو لرغونو ادبیاتو بحث له موجودو لاسته راغلو اثارو څخه پیلوو.)) (۵۳: ۲۴-۲۵)

پر دغو دوو موارد و سربېره ښایي ځینې نور داسې اثار هم ومیندل شي، چې تر اسلامي عصره دمخه د پښتو اثارو د ایجاد ښکارندویي وکړي، خو دلته مو دغو څو موارد و ته اشاره وکړه، چې د پښتو د ادبي تاریخ د لومړۍ دورې په تاریخي پس منظر کې یې یادونه ضروري ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې بحث وروسته اوس راځو د پښتو ادبیاتو لرغونې دورې ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتو ادب لرغونې دوره

د لرغونې ادبي دورې په باب ادبپوهانو له خوا بېلابېل نظريات وړاندې شوي، وروستی نظر چې د نورو ادبپوهانو د نظرونو تر شننې وروسته وړاندې شوی، هغه د استاد روهي نظر دی چې موږ مخکې هم ورته اشاره وکړه. د پښتو ادبياتو د لرغونې دورې د پيل په باب د استاد روهي نظر پراخ مستدلل او منطقي بربنسټ، کېدی شي يو زيات شمېر ادبپوهان همدا نظر ددې دورې د پيل په باب د مناسب نظر په توګه محاسبه کړي.

«د پښتو د ادبي تاريخ لومړۍ دوره له دويمې هجري پېړۍ څخه پيلېږي او د لسمې هجري پېړۍ تر پايه ان د يوولسمې پېړۍ تر لومړيو کلونو پورې دوام کوي. ددې دورې کوم ادبي اثار چې زموږ په واک کې دي، زياتره متفرق اثار دي، ددې دورې ډېر منظم او بشپړ اثار زموږ څېړونکو تراوسه نه دي ترلاسه کړي، يا دا چې تراوسه نه دي کشف شوي او يا له منځه تللي دي.

ددې دورې اثار سره له دې چې متفرق دي، خو تاريخي تسلسل لري او زموږ په هېواد کې له پېښو شويو تاريخي او فکري جرياناتو سره په ارتباط کې راپيدا شوي دي او هم دغه اثار د خپلو شکلي او جوړښتي خصوصياتو، د بيان د ډول او د موضوعي ځانګړنو له پلوه ځينې ګډې وجهې لري، چې د همدغو مشخصاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خپل تاریخي قدامت له امله موږ د پښتو دغه ګرده ترلاسه شوي متفرق اثار د پښتو د ادب تاریخ په لومړۍ دوره کې مطالعه کوو.

پخوانۍ دوره چې په هغې کې قبیلوي نظام مسلط ښکاري، تر شپاړسمې میلادي پېړۍ پورې دوام کوي. د تحریري اسنادو له مخې په ادبي تاریخ کې دغه دوره له امیر کروړ څخه پیلېږي او د بایزید روښان تر ظهور او پاڅون پورې رسېږي. په شپاړسمه میلادي پېړۍ کې د پښتونخوا په ختیځه برخه کې د هند مغلي سلطنت په زمانه کې فیوډالي تولیدي مناسبات منځته راځي او په ادبیاتو کې هم بدلون لیدل کېږي.

په دې لرغوني دوره کې په ټولیز ډول تر (۲۸) زیات بېلابېل شاعران معلوم دي. ددې شاعرانو د کلام مجموعي بېلګې نږدې (۳۳) عنوانو منظومو ټوټو ته رسېږي. په دې مانا چې د امیر کروړ له شعره رانیولې بیا تر شیخ صالح پورې د بېلابېلو شاعرانو د کلام بېلګې په دې دوره کې د مطالعې وړ دي. پر یادو (۲۸) شاعرانو د سلیمان ماکو نثر هم په همدې لرغوني ددوره کې ځای لري چې خورا خوږ او په پښتو ادبیاتو کې له تاریخي پلوه د خورا زیات ارزښت وړ دی.

پخوانۍ دوره د ټولنیزې اروا پوهنې او فرهنګي عنعنې له پلوه د (ریګویدا) او د (اوستا) له سندرو او ګاڅونو سره ورته والی لري. د ځینو ادبپوهانو په عقیده، د ریګویدا او اوستا د سندرو او ګاڅونو او د پښتو د لرغونو سندرو موضوعګانې او قالبونه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته دي. د پخوانۍ دورې عمده موضوعګانې د نمانځنې سندرې، وياړنې (قومي تفاخر)، ويرنې، مينه، بېلتون او اخلاقي ښوونې دي چې په هغو کې پېچلي تخيلات او لفظي ضايع چنداني نه لېدل کېږي. د غوريانو د واکمنۍ په دوره کې د قصيدې جوړونه، يو نوی پړاو ګڼل کېږي، ځکه چې په دغو قصيدو کې له پاستورال (د شپنو) شعر سره فاصله منځته راغلې ده.

پوهانو د امير کروړ وياړنه، د بېټ نيکه مناجات، د شيخ اسماعيل او خرښبون نارې او همدارنګه د ملکيار هوتک سندره او نور شعرونه له زړو اريايي سندرو سره ورته او نږدې بللي دي.

که څه هم قصيدې له درباري ادب سره نږدېوالی لري خو په هغو کې د پاستورال سندرو روحيه هم ساتل شوې ده، د پښتنو قبيلو مشران او واکمنان د يووالي او قبيلوي قدرت د سمبولونو په توګه ستايل شوي دي. که دغه قصيدې د هغه وخت له عربي او فارسي قصيدو سره پرتله کېږي. د پښتنو واکمنان د قومي يووالي د سمبولونو او خواخوږيو دوستانو په توګه ستايل شوي دي. شاعر د صلې او انعام اخيستلو لپاره شعرونه نه وايي او نه په ستاينه کې له اغراق نه کار اخلي. په داسې حال کې چې د فارسي ژبې شعر د عربي شعر د وزن پيروي کوي. د پښتو د لرغونو اريايانو د سندرو وزن ساتي. تراوسه پورې پښتو شعر همدغه خصوصيت ساتلی دی، يانې د شعر وزن د څپې (فشار، اکسنټ) او د هجاوو (سېلابونو) د شمېر پر اساس ټاکل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو د تخنیک په دې برخه کې د پښتو پر لرغوني شاعرۍ هم د پښتو همغه عام قوانین د تطبیق وړ دي چې هم پر پښتو لیکلې شاعرۍ هم پر ګړنۍ شاعرۍ د تطبیق وړ دي. دا جوړښت څپیز خجیز یا سطلابوتونیک دی. پوهاند ډاکتر مجاور احمد زیار په دې باب وايي: ((پښتو شعر د جولیز جوړښت او تخنیک له پلوه په سېلابوتونیک ډول پورې اړه لري، نه په سېلابیک او عروضي (متریک) پورې، کله چې وایو د پښتو شعر رغاونیز تخنیک سېلابوتونیک دی، دوه عنصره مو سترګو ته ودرېږي: څپه او وزن.)) (۲۸: ۴)

له دويمې هجري قمري پېړۍ څخه د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې د پیل په باب دا نظریه په واقعیت کې د اکثرو پښتو ادبپوهانو او تاریخپوهانو د نظریاتو نچوړ دی او یوه اتفاقي نظریه ده. لوی استاد عبدالحی حبیبي، پوهاند صدیق الله رښتین، کاندید اکاډمیسن محمد صدیق روهي، سرمحقق زلمی هېوادمل، سرمحقق سید محی الدین هاشمي، نورمحمد غمجن او نورو ګڼو پښتو ادبپوهانو چې کوم نظریات ورکړي، اکثره په همدې نظر دي چې د پښتو ادب لرغوني دوره له (۱۳۹هـ ق) کال یاني د امیر کروړ د لاسته راغلي شعر څخه پیلېږي او بیا تر ( ۹۳۰هـ ق) کال پورې چې د روښان د ژوند او مبارزې کلونه دي، تر دې دمه رسېږي. البته د روښانیانو له مبارزو له پیل سره نه قطع کېږي، تداوم یې ان تر (۱۰۰۰هـ ق) کال پورې رسېږي چې وروستی شاعر یې شیخ محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

صالح الکوزی دی چې د (۱۰۰۰هـ ق) په حدودو کې یې ژوند کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لومړي څپرکي لنډيز

په لومړي څپرکي کې مو په تفصيل سره د لرغونې دورې د پيل، ادب تاريخ، ادبي تيوري، ادبي کره کتنې، په مجموعي ډول د ادبپوهنې پر اساسي او فرعي څانګو، ادبي تذکرې، ادبي دورې څنګه ټاکل کېږي؟ پښتو څو ادبي دورې لري؟ تر لرغونې دورې دمخه پښتو ادب او نورو اړوندو مسايلو په باب په نسبتاً تفصيل سره معلومات وړاندې کړل، اوس غواړو د همدغو درسونو لنډيز ته راشو.

د پښتو ادب لرغونې دوره د دويمې هجري پېړۍ له نيمايي څخه پيلېږي او دا ځکه چې په همدې زمانه کې يو ليکل شوی شعر تر موږ رارسېدلی دی، دا شعر د امير کروړ يوه وياړنه ده چې د پټې خزانې په وسيله موږ ته رارسېدلی او پټې خزانې بيا په خپل وار سره له نورو اثارو څخه رانقل کړی دی.

ادب تاريخ د ادبپوهنې يوه څانګه ده چې د تاريخ په بېلابېلو پړاوونو کې د يوې ژبې د ادبياتو وده او پرمختګ لوړتيا او ځوړتيا څېړي.

ادبپوهنه هغه علم دی چې ادبيات له هر پلوه څېړي او مطالعه کوي يې. ادبپوهنه د (ادب تاريخ، ادبي کره کتنه او ادبي تيوري) درې اساسي څانګې لري.

ادبي دورې د ادبپوهنې د اصولو پر اساس ټاکل کېږي، يوه ادبي دوره هغه وخت رامنځته کېږي چې په ادبياتو کې د پخوا په انډول کيفي او کمي بدلون محسوس شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ادبپوهانو تر دې دمه پورې پښتو ادبي دورې پر درېو لويو دورو وېشلي دي؛ لرغونې دوره چې د دويمې هجري پېړۍ له دويمې نيمايي څخه پيلېږي او د يولسمې هجري پېړۍ پورې رسېږي، دويمه يا منځنۍ دوره چې د لسمې هجري پېړۍ له نيمايي پيل او د يوولسمې هجري پېړۍ تر پايه پورې رسي او معاصره دوره چې د امير حبيب الله خان پر وخت د سراج الاخبار جريدې او په پښتو ادبياتو کې د نويو څپو له پيل څخه بيا تر (۱۳۵۷ل) کال پورې رارسي، البته دا دورې بيا په خپل وار سره بېلابېل پړاوونه هم لري. طبيعي خبره ده، هغه دوره چې اوس يې موږ د لرغونې دورې په نامه يادوو، تر دې دمخه هم پښتو ادبيات موجود وو، خو موږ يې تر دې دمه کومه ليکلې بېلګه نه ده ترلاسه کړې، د بېلګې د نشتوالي مانا دا نه ده چې ادبيات به نه وو، خو په ادب تاريخ کې تر ډېره حده پر ليکلو ادبياتو بحث کېږي.

د پښتو ادب لرغونې دوره چې له امير کروړ پيلېږي، تر روښانيانو رسېږي او ان تر (۱۰۰۰ هـ ق) حدودو پورې امتداد پيدا کوي. د پښتو شعر بېلابېل انواع په خپله لمن کې رانغاړي، محتوايي او شکلي بېلابېل فورمونه په کې موجود دي، قصيدې، مثنوي، غزل او رباعي فرمونه هم په همدې دوره کې راخپل شوي دي. د پرديو ژبو اغېزې شته خو ډېرې زياتې محسوسې نه دي، لومړۍ منظومه ژباړه هم په همدې لرغونې دورې پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لومړي څپرکي پوښتنې

- ادب تاریخ څه ته وایي؟
- ادبپوهنه څو څانګې لري؟
- د پښتو ادبیاتو لرغونې یا لومړۍ دوره له کومه پیل او تر کومه وخته رسي؟
- د ادب تذکرې او ادب تاریخ ترمنځ توپیرونه څه دي؟
- د ادبي دورو د ټاکنې معیارونه څه دي؟
- ادب تیوري څه ته وایي؟
- ادبي کره کتنه څه ته وایي او ادبیاتو ته یې ګټه څه ده؟
- د ادبپوهنې فرعي څانګې کومې دي؟
- ادبیات څه ډول تعریفولای شو؟
- د پښتو لرغونو ادبیاتو په باب د لس عنوانو بېلابېلو لیکل شویو اثارو نومونه واخلئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## د پښتو لرغونو ادبیاتو لویې حوزې

د هرې ژبې په یوه مشخصه جغرافیه کې چې ګڼ او یا هم پاموړ شمېر ادبي اثار رامنځته شي، هغه یوه فرهنګي یا ادبي حوزه ګڼل کېږي، حتمي نه ده چې دا ادبي حوزې دې د اثارو د کمیت او کیفیت له پلوه سره یوشان وي، یا دې یو بل سره سل په سلو کې په رابطه کې وي او یا دې هم یوه پر بلې اغېزه ولري، کېدی شي متقابلې اغېزې او رابطې هم ولري خو چې په یوه مشخصه جغرافیایي ساحه کې بېلابېل اثار راوټوکېږي، هغه د یوې ادبي حوزې بڼه خپلوي. پښتو ادبیات هم په لرغونې دوره او هم په راوروسته دورو کې بېلابېلې ادبي حوزې لري چې دلته یې یوازې په لرغونې دوره کې د مهمو حوزو یادونه کوو. البته دا په دې مانا نه ده چې پښتو ادب په دې زماني بهیر کې نورې حوزې نه درلودلې او یا به په نورو سیمو کې ادبي اثار نه وي رامنځته شوي، خو کوم څه چې موږ دلته یادوو او د تاریخي اثارو په توګه مطرح دي، هغه دادي چې د نورو سیمو په انډول له دې سیمو څخه زیات لیکلي اثار ترلاسه شوي دي.

((کله چې سړی د موجودو او لاس ته راغلو پښتو ادبي اثارو پخواني اسناد مطالعه کوي، نو راښکاري، چې دغه لومړني اثار په ځینو داسې مراکزو کې رامنځته شوي، چې هلته د پښتنو خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

محلي حکومتونه او قبيله يي نظامونه وو او پښتانه هلته د خپل ملي هويت او سياسي اقتدار خاوندان وو.

به دغو مراکزو کې يو لرغونی مرکز او د پښتنو پخوانی ټاټوبی (غور) دی، بل مرکز يې د (کسې غره) لمنې دي او دريم يې هم (ملتان) دی.

خو مخکې تر دې چې په دغو دريو مراکزو کې د پښتو پر ايجادي ادبياتو خبرې وکړو، ښه به وي دا خبره له ياده ونه باسو، چې د دويمې هجري پېړۍ شاوخوا په غزني کې دلويکانو شاهي کورنۍ موجوده وه، چې تر (ګرديز) او (زابلستان) پورې سيمې يې په ولکه کې وې او د منطقې له سيمه ييزو شاهي کورنيو سره يې روابط هم درلودل.

د غزني د لويکانو د کورنۍ يو سړی (جوير) نومېده، چې د (۱۲۰هـ ق) په حدودو کې يې د ژوند زمانه وه، ددې کورنۍ قدرت د (سبکتګين) (۳۶۵هـ ق) په وسيله ختم کړای شو. د لوی استاد مرحوم پوهاند عبدالحی حبيبي د څېړنو له مخې د لويکانو د کورنۍ نژادي تقارب له غلجي پښتنو سره ښکاره دی او دغه غلجي پښتانه له زابلستان څخه تر غزني پورې ځمکو کې له پخوا څخه مېشت وو او اوس هم مېشت دي.

د غزني د لويکانو د کورنۍ د يوه لويک يو پښتو بيت موږ ته رارسېدلی دی. د بيت د ويونکي نوم نه دی څرګند، خو د (خانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویک) او (خنچل شاه کابلي) معاصر و او پر (۱۶۳هـ ق) کال ژوندی ښکاري.

دغه بیت لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي د سلطان سخي سرور د کراماتو د یو خطي کتاب له یو حکایت څخه رانقل کړی دی او په اوسنۍ املا استاد داسې لیکلی دی:

په زمي غزنه ښخېد لویک لویانو بایله لویا

کښه تور به براغلوم (بلوم) ممله تازیو په ملا

دا لوړ بیت تر تاریخي تحلیل وروسته داسې تفسیر شوی دی:

څنګه چې د غزني خانان لویک په جبري ډول مسلمان شوی و، نو له کابله یو بل لویک دا لوړ بیت ورواستاوه، چې دا لاندې مفهوم ځنې اخیستل کېږي:

((های افسوس! لویک بت د غزني په ځمکه کې ښخ شو، لویا خو خپله لویي بایلوده، زه به لښکر درواستوم ته د تازیانو (عربو) ملګري مه کوه.))

د بیت له ژبني تحلیل څخه داسې نتیجه اخیستل شوې ده، چې د اسلامي عصر په لومړیو پېړیو کې پښتو په شرقي خواوو کې پهلوي ژبې ته نږدې وه.

د غزني د لویکانو ددغه یو پښتو بیت تر دې لنډې یادونې وروسته بېرته خپل اصلي مقصد ته راګرځو او د پښتو ادبیاتو د ټوکېدو هغه لومړني درې مرکزونه یا حوزې ښیو، چې په اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړیو پېړیو کې هلته پښتو اثارو د ایجاد زمینې درلودې او د پښتو هغه لومړني لیکلي اثار چې موږ ترلاسه کړي دي، په دغو دریو سیمو کې ټوکېدلي دي.)) (۵۳: ۲۶-۲۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غور ادبي حوزه

غــور د افغانســتان يــوه لرغــونې او تــاريخي ســيمه ده چــې د پاچاهيو سلسلې په کې تېرې شوې دي او ددې سیمې پاچهانو د اسلام د مقدس دین د خورولو په چارو کې هم لويـه برخه درلـودلې ده.

د پښتو په لرغونو استوګنځايونو کې يوه هم د غور سيمه شامله ده، چې د غـور پـر سـوريانو سربېره د پښـتنو د ځينـو نـورو قبـايلو نسبت هم له دې سيمې سره ښکاره دی.

په پښتنو قبايلو کې يوه لويه قبيله، د (غوري) يا (غوريـاخېلو) پښــتنو ده، چــې د تــاريخي اثــارو او نســبي تحقيــق د کتــابونو د روايـاتو لـه مخـې د (کنـد بـن خرشـبون بـن سـړه بـن) پـه اولاد کـې د (غوري) په نامـه د يـو تـن ذکـر راځـي. د (مخـزن افغـاني) د روايـت لـه مخې ددې سړي اصلي نوم (شيخ ابراهيم) و، خو څنګـه چې پـه غـور کـې زوکـړی و، نـو ځکـه د (غـوري) پـه نامـه مشـهور و او اولاده يـې تراوسـه د (غــوري) او يــا (غورياخېـل) پــه نامــه يــادېږي. پــه غــوري پښتنو کې څلور لويې قبيلې شاملې دي: (دولت يـار، خليـل، زړانـي او څمکني)، چې بيا دې هرې قبيلې ته نورې لسګوني پښتنې قبيلې او ښاخې منسوبې دي.

د غور د مرکز (چغچران) چې پـه دې وروسـتيو کـې يـې د (فيـروز کوه) په نامه ياد کړ، ختيځ ته اوس هم د (دولت يار) په نامـه يـو کلـی شته، چې د غوري پښتنو د دولت يار د قبيلې له نامه سره اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«د استاد پوهاند عبدالشکور رشاد د څېړنې له مخې دغه غوري پښتانه د چنګېزخان (۶۲۴هـ ق. مړ) تر بريدونو وروسته له غور څخه کوچېدلي دي، مخ په جنوب او شرق رالېږدېدلي دي.

پر غوريا خېلو پښتنو سربېره د نورو ډېرو پښتني قبيلو د اوسېدو پخوانی ټاټوبی هم غور و او ډېرې پښتني قبيلې له دې سيمې څخه نورو سيمو ته تللي او خورې شوې دي. له دغو تاريخي رواياتو او اسنادو ښکاري چې د اسلامي عصر په لومړيو کې د غور زياتره اوسېدونکي پښتانه وو او د دوی ژبه پښتو وه.

زموږ د هېواد نوميالی مورخ ارواښاد مير غلام محمد غبار په خپل يو اثر (افغانستان و نگاهی به تاريخ آن) کې ليکلي دي چې د غور قديمي اريايي ژبې د وختونو په تېرېدو سره خپل ځای ځينو محلي لهجو او پښتو ته پرېښود او د غور سيمو ته د پښتنو د پرله پسې مهاجرتونو له امله دا ژبه هلته عامه شوه. د غور له پاچهي کورنيو څخه يوه کورنۍ د سوريانو ده، په (طبقات ناصري) کې د (قاضي منهاج السراج جوزجاني) د ليکنو له مخې د ضحاک (پښتو: سهاک) په اولاده کې دوه ورونه وو، چې د يو نوم (سور) او د بل (سام) و، سور يې مشر ورور او پاچا و او دا بل يې د لښکرو مشر و، تر اسلامي عصره دمخه دوی په غور کې پاچاهي درلوده.

د غور دغه سوري شاهي کورنۍ په تاريخونو کې د (شنسبانيانو) په نامه هم مشهوره شوې ده او دا ځکه چې د دې کورنۍ يو مشر نيکه شنسب (شين اسپ) نومېده، چې د پلار نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې (خرنک) و، دا شنسب د حضرت علي(رض) په زمانه کې مسلمان شوی او د غور پاچا منل شوی دی.

د شنسب زوی امیر پولاد و، چې د خپلو پلرونو نوم یې بیا راژوندی کړ. هغه وخت چې (ابو مسلم مروزی) د (بني امیه) امیران له خراسان څخه وشړل او د (بني عباس) په پلوۍ ودرېد، نو امیر پولاد د غور لښکرې د ابو مسلم په مدد وکوچولې او د (آل عباس) د پاچاهۍ د ټینګښت لپاره یې ډېرې هڅې وکړې. د امیر پولاد د پاچهۍ مرکز د غور په (مندیش) کې و، کله چې دی وفاتېده نو یې پاچاهي زامنو ته ورسېده.

د پښتو د ادبي تاریخ یوه مهمه سرچینه پټه خزانه ده، په دې کتاب کې د معتبرو پخوانیو کتابونو، لکه د شیخ کټه متي زی (لرغوني پښتانه) او د محمد بن علي البستي (تاریخ سوري) په استناد راغلي دي، چې د امیر پولاد سوري زوی، امیر کروړ و، چې پر (۱۳۹هـ ق) کال د غور په مندیش کې پاچا شو.

امیر کروړ د غور کلاوې: بالشتان، خیسار، تمران، برکوشک او نور ونیول. دده پاچهي دوه مرکزونه درلودل، یو (مندیش) او بل (زمینداور) و. امیر کروړ ډېر غښتلی پهلوان و، چې په یوازې ځان به له سلو تنو سره جنګېده، ده هم د عباسي دعوت په جنګونو کې ګډون درلود او ډېرې بریاوې یې ترلاسه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیر کروړ عادل پاچا و او پر دې سربېره ده په پښتو اشعار هم ویل. امیر کروړ پر (۱۵۴هـ ق) کال د پوشنج په جګړو کې مړ شو او پرځای یې دده زوی (امیر ناصر) پاچا شو.

د امیر کروړ کوم شعر چې پټې خزانې راوړی دی، د سر بند یې دا دی:

زه یم زمری پر دې نړۍ لـه مـا اتـل نسـتـه
په هند و سند و پر تخار او پـر کابـل نسـتـه
بـل بـه زابـل نسـتـه - لــه مــا اتــل نســتـه

دا لوړ شعر د پښتو تر ټولو پخوانی لاس ته راغلی شعر دی چې د اسلامي عصر په دویمه پېړۍ کې د غـور یـوه پښـتانه پاچا (امیـر کروړ) سوري ویلی دی.

تر دې شعره بل پخوانی شعر تر اوسه نه دی ترلاسه شوی، امکان لري په اینده کې د امیر کروړ تر شعره ډېر پخواني پښتو اشعار کشف شي.

څنګه چې غور د پښتنو یو لرغونی ټاټوبی و، دغه رنګه تراوسه معلوم لاس ته راغلی پخوانی شعر هم همدغې سیمې تـه منسوب دی، نو پر دې اساس موږ غور د پښتو ادبیاتو د ایجاد پـه لومړنیو مراکزو کې تر ټولو پخوانی مرکز بللی شو.)) (۵۳: ۲۶-۳۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر امیر کروړ سرېبره شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري هم د غور دربار ته منسوب شاعران وو، چې هر یو د اسې غرا قصیدې وویلې چې د پښتو ادب په تاریخ کې بل ځای ساری نه لري.

د شیخ اسعد سوري قصیده

:

د فلک له چــارو څـه وکړم کوکار

زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار

او د ښکارندوی غوري:

د پسرلي ښکلونکي بیا کړل سی‌نګارونه

بیا یې ولونل پــه غـــرونو کـــې لالونـه

د هنـري ښـکلا او فکـري محتـوا لـه مخـې دواړه د هنـر پـه ګانـه پسوللې قصیدې دي.

ددې بحث په نتیجه کې باید ووایو چې غـور، لکـه څنګـه چې د پښـتنو پـه لرغـونـو ټـاټوبو کـې شـامل دی، دغـه رنګـه تراوسـه لا د پښـتو ادبیاتو د ایجاد لومړنۍ سیمه هم ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کسي غر ادبي حوزه

«د پښتنو په لرغونو استوګنځايونو کې يوه ډېره مشهوره او تاريخي سيمه د سليمان د غرونو لمنې دي، ددې غرونو لمنې د شپږ سوو کيلو مترو په شاوخوا کې اوږدوالی لري او پښتانه له ډېرې لرغونې زمانې تراوسه په کافي تعداد د دغو ډېرو مشهورو غرونو په لمنو کې استوګنه لري.

دغه د سليمان غرونه په ځينو کتابونو او تاريخي اثارو کې (د کسې غره) په نامه هم راغلي دي او د جنوبي پښتونخوا، بلوچستان، دېرو او د کندهار د شاوخوا خلک اوس هم د سليمان غرونه د کسې د غره په نامه يادوي.

څنګه چې د کسې غره په لمنو کې له ډېرې پخوا زمانې څخه پښتانه مېشت وو، نو دوی د خپلې ټولنې له شرايطو او د دوی په ټولنه کې له مسلطو فرهنګي نورمونو سره برابر ادبيات هم درلودل او دغه ادبي روايات او د ادبي اثارو د ايجاد بهير په ګړنۍ او ليکنۍ بڼه له ډېرې پخوا زمانې نه تراوسه پورې ددغه بختور غره په لمنو کې د مېشتو قبايلو ترمنځ، جريان لري.

په سلګونو پښتانه شاعران ددې غرونو په لمنو کې روزل شوي او د پښتو د ولسي ادب يوه عمده او بهانده چينه د همدغو غرونو په لمنو کې د مېشتو پښتنو په سېمو کې موجوده ده. د پښتو ادبياتو په دوو لرغونو تذکرو (تذکرة الاولياء) او (پټه خزانه) کې د کسې غره په لمنو کې د ځينو اوسېدلو پښتنو ځينې زاړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخواني شاعران خوندي دي. چې ددغو اشخاصو او اشعارو زمانه زموږ مورخانو د درېيمې هجري پېړۍ له اوايلو ان تر څلورمې او پنځمې هجري پېړۍ پورې ګڼلې ده، څنګه چې دا اثار د پښتو په لومړنيو ادبي اثارو کې درېږي، نو ځکه موږ هم (د کسي غر) د پښتو ادبياتو د ايجاد په لومړنيو دريو مراکزو کې حساب کړ.

د کسې د غره په لمنو کې د روزل شويو شاعرانو په ډله کې تر ټولو معلوم پخوانی سړی، شيخ بېټنی دی چې د ژوند زمانه يې د درېيمې هجري پېړۍ شاوخوا اټکل کېدی شي.

د شيخ بېټني يو مناجات سليمان ماکو په تذکرة الاوليا کې راوړی دی، چې د پښتو د زړو اشعارو په لړ کې ډېر مهم شعر دی او ځينې داسې ټکي يې له پارکي څخه ترلاسه کېږي چې په فکري لحاظ له ډېرو زړو اريايي افکارو سره تړاو لري. د شيخ بېټني د مناجاتو يو بند يا دوه بيتونه دادي:

لويه خدايه، لويه خدايه ستا په مينه په هرځايه

غر ولاړ دی درناوي کې ټوله ژوي په زاري کې

پر شيخ بېټني سربېره د اسلامي عصر په درېيمه او څلورمه پېړۍ کېددې سيمې دوه نور شاعران هم موږ ته معلوم دي، چې ځينې اثار يې پښتو تذکرو تر موږه پورې رارسولي دي. په دغو شاعرانو کې يو هم شيخ اسمعيل دی، چې د ده دوه پارکي زموږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

واک کې دي. په دغو دوو پاړکو کې يو يې د (تذکرة الاولیا) پاڼو او بل يې (پټې خزانې) خوندي کړی دی.

د شيخ اسماعيل د لومړي پاړکي يو دوه بيتونه دا دي:

تېښته وکړه لــه ابـليسه چې ابليس لعين ښکاره

ســـــــــــــــــــــــــــــــــي

هلـته ورکـه پـلوشـه سي ټول نړۍ نوره تياره

ســـــــــــــــــــــــــــــــــي

د دويم پاړکي لومړۍ برخه يا څلوريزه يې

داده:

کـه يون دی يون دی مـــخ کـــې بېلتـــون دی

لـــه کسې غره څخه ځـــــي خرښـــــبون دی

د شيخ اسماعيل په دوو راغلو پاړکو کې يې لـومړی پـه (تـذکرة الاولیـا) کـې او دويـم يـې پـه (پټـه خزانـه) کـې راغلـی دی، د شـيخ اسماعيل پر پاړکو سربېره د کسې د غره په لمنو کې دغه وخت د يو بل پخواني ويناوال د وينا نمونه هم پټې خزانې تر مـوږه رارسولې ده، دا ويناوال خرښبون دی، چې د کلام يا پاړکي يو بند يې دادی:

بېلتانــه نــاره مـــې وســوه پـــه کــور بانــدې

نــه پــوهېږم چــې بــه څــه وي پــېښ پــه وړانــدې

لـــه خپلوانـــو بـــه بېلېـــږم پـــه ســـرو ســـترګو

دواړه ســـترګې مـــې پـــه وينـــو دي ژړانـــدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته تاسې د دريو تنو پښتنو ويناوالو اشعار ولوستل، چې دغو دريو تنو د اسلامي عصر د دريمې او څلورمې پېړۍ په حدودو کې د دغه تاريخي غره په شاوخوا کې ژوند کړی دی.)) (۵۳: ۳۲-۳۵)

## ملتان ادبي حوزه او نورې سيمې

د مورخانو او تاريخي کتابونو له ليکنو څخه معلومېږي، چې د لومړيو دوو اسلامي پېړيو په شاوخوا کې پښتانه په کافي تعداد د سليمان د غرونو له لمنو او د پښتونخوا له سيمو د سند او پنچاب سيمو ته ورغلي او هلته مېشت شوي وو.

((ځينې مورخان په دې نظر دي چې په لومړيو اسلامي پېړيو کې په (سند) او (ملتان) کې د اسلامي حکومتونو د ټينګښت يو دليل په هغو سيمو کې د پښتنو موجوديت و د پنجاب او سند سيمو ته کوچېدلي پښتانه د خپل شجاعت او نارينتوب له پلوه په سيمه کې د راجاګانو او محلي حکومتونو د توجه وړ وو.

له همدې امله د پنجاب په غربي برخو او ملتان کې له اوسېدونکو پښتنو څخه (شيخ حميد لودي) د (۳۷۰هـ ق) په شاوخوا کې د لاهور او پنجاب د راجا له خوا له ملتانه نيولې تر لغمانه پورې د پرتو شاوخوا سيمو واکمن وټاکل شو او (راجا جيپاله) د دغو پښتنو د حکومت په وسيله له خپلو غربي سرحدونو څان ډاډمن کړ او په دې توګه د څلورمې هجري پېړۍ د دويمې نيمايي په جريان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د ملتان په لودیانو کې د شیخ حمید لودي له خوا د لودیانو د واکمنۍ بنسټ کېښول شو او په دې ډول پښتانه په اسلامي عصر کې د هند په یوه برخه کې قدرت ته ورسېدل، چې د غربي پنجاب پر ځینو برخو او ملتان سربېره د پښتونخوا او اوسني افغانستان ځینې سیمې یې هم تر لاس لاندې وې او د پاچهۍ مرکز یې ملتان و.

تر شیخ حمید لودي وروسته د لودیانو د پاچهۍ سلسله دده په کورنۍ کې جاري وه، په شیخ حمید پسې دده زوی (نصر) او بیا یې لمسی (داود) د ملتان د لودي کورنۍ واکمنان وو، ددې کورنۍ پاتې شوني تر (۴۳۲هـ. ق) پورې هلته وو.

د ملتان د لودي شاهي کورنۍ یادونه مو په دې ځای کې ځکه وکړه چې له دغې شاهي کورنۍ څخه دوه تنه داسې کسان موږ ته ښکاره دي چې په پښتو پارکي څنې پاتې دي، نو د همدغو دوو تنو پخوانیو پښتنو ویناوالو د شتوالي له امله موږ د ملتان سیمه د پښتو ادبیاتو د ایجاد په لومړنیو مرکزونو کې وشمارله.

د ملتان د لودي شاهي کورنۍ په دوو تنو ویناوالو کې یو (نصر لودي) دی او بل (شیخ رضی لودي) دی.

د نصر لودي او شیخ رضی لودي لړ احوال او اشعار (شیخ احمد ابن سعید اللودي) په خپل کتاب (اعلام اللوذعي فی اخبار اللودي) کې راوړي دي. دا کتاب به (۶۸۶هـ ق) کال کې لیکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددغـو دوو لـودي پښـتنو اشـعار او احـوال بيـا (کـامران خـان سدوزي) په خپل کتاب (کليد کامراني) کې د دمخني ياد شوي شيخ احمد ابن سعيد اللودي د کتاب له مخې راوړي دي.

کليد کامراني پـه (۱۰۳۸هـ ق) کې د کنـدهار پـه (ښـهر صـفا) کې ليکل شوی دی او ددغه کلید کامراني لـه مخـې بيـا دغـه اشـعار او احوال (محمد هوتک) په (پټه خزانـه) کـې اخيسـتي دي، پـه دې ډول مورږ وينو چې د ملتـان د لوديـانو اشـعار پـه دريـو واسـطو تـر مـوږه پورې رارسېدلي دي. په دغو دوو تنو ويناوالو کې (نصر لـودي) د (شيخ حميد لودي) زوی دی، چې تر خپل پلار وروسته په ملتان کې پـاچهي تـه هـم رسـېدلی دی. د پـاچهۍ زمانـه يـې اسـتاد عبـدالحی حبيبي د (۳۹۰هـ ق) شاوخوا ښوولې ده.

ددې کورنۍ بل ويناوال (شيخ رضی لـودي) دی، چې دی د شـيخ حميد لودي وراره او د نصر لودي د اکا زوی و.

شيخ رضی لودي د شـيخ حميـد لـودي د پـاچهۍ پـه زمانـه کـې د اسلام د مقدس دين د تبليغ لپـاره پښـتونخوا تـه تللـی و. پټـه خزانـه وايي، چې دی (دوه کاله) د کسې پـه غـره کـې ګرځېـده او ډېـر خلـک يې مسلمانان کړل.

پټې خزانې د دغو دوو سره تره زامنو (شيخ رضی لودي) او (نصـر لودي) دوه پاړکي خونـدي کـړي او دا پـاړکي د ليکـونو (خطـونو) پـه بڼه تبادله شوي دي. پـه دې پـاړکو کـې لـومړی پـاړکی د شـيخ رضـی لودي دی، ددې پاړکي يو دوه بيتونه دادي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الحاد پــه لــور دې ترپلل ګروه دې زمـوږ وكـوراوه
مـــوږ رونـــلی پـــه زيار نـــه تـــا پـــه تـــورو تـــوراوه

کله چې دا ليک په ملتان کې نصر ته ورسېد ، نو يې ده ځواب ووايه چې يو دوه بيتونه يې دادي:

د الحاد په تور، تورن سوم زه لرغون خو ملحد نه يـــــم
زمـا دښنه هسې تو راکړی کـــه ملحـــد يـــم د دښـــنه يـــم

په دې دوو لوړو شعري ټوټو کې شيخ رضی د خپل اکا زوی (نصر) ته ويلي دي، چې تـه لـه سنته او خپلې لارې اوښتی يې او د پلرو عقیدوي لار دې پرېښې ده.

نصر په ځواب کې ويلي چې زه پر سنت ټينګ يم، کوم تورونه چې د لارې د پرېښودو په باره کې پر ما لګول شوي دي، هغه دروغ دي.

په دغو شعرونو کې راغلې خبرې له ځينو تاريخي وقايعو سره اړه لري، چې د اشعارو د مفاهيمو د پوهېدو لپاره موږ اړ يو چې دغه تاريخي مسايل لنډ تشريح کړو.

د ملتان لودي شاهي کورنۍ د غزني له پاچهانو سره په رقابت کې واقع وه او تل به د غزني د پاچهانو له خوا د ملتان پر لوديانو حملې کېدلې او تر هغې چې د دې کورنۍ د پاچهۍ سلسله د غزنوي پاچهانو له خوا ختمه شوله. مورخين په دې عقيده دي چې د ملتان پر لوديانو د قرمطيت او الحاد تورونه هسې خوشې بابيزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې دي او د همدې تور په وسیله د غزني پاچهانو د ملتان د لودیانو د ټکولو لپاره ځانته یوه پلمه پیداکوله. که نه وي د ملتان لودیان هم مسلمانان وو او د غزني پاچهان هم مسلمانان وو، نو څنګه کېدی شول چې یو مسلمان پاچا دې پر بل لښکرکشي وکړي؟ همدا علت و، چې د ملتان پر لودیانو د الحاد او قرمطیت تورونه لګول کېدل او دا یې ښوول چې دوی له اسلامي سنته او اسلامي لارې اوښتي دي او په دې توګه یې د دوی د وهلو او پر دوی د حملې لپاره شرعي جواز پیداکاوه. لکه چې تاسې د (نصر لودي) په ځوابیه پاڼکي کې ولوستل، نصر د الحاد تورونه رد کړي دي او ویلي یې دي، چې زه مومن یم او پر خپله پخوانۍ لاره ټینګ یم.

ملتان یو له هغو سیمو څخه ګڼل کېږي چې په اسلامي څلورمه پېړۍ کې هلته د پښتو ادبیاتو د ایجاد زمینې موجودې وې. ملتان په پخواني هند کې تراوسه معلومه لومړنۍ سیمه وه چې پښتو ادبیات په کې ایجاد شوي دي. تر دې زماني وروسته د اسلامي عصر په بېلابېلو پېړیو کې پښتانه د هندوستان ډېرو سیمو ته تللي او هلته مېشت شوي دي. د دوی له مېشتېدو سره په هندوستان کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې زمینې هم برابرې شوې دي او په وروستیو اسلامي پېړیو کې پر ملتان سربېره د هندوستان په ډېرو نورو ښارونو کې پښتو ادبیات ایجاد او پښتو اثار ولیکل شول، چې دا جریان له څلورمې هجري پېړۍ نه تر نن ورځې پورې رارووان دی.)) (۵۳: ۳۶-۳۹)

په همدې لرغوني دوره کې پر شیخ رضي لودي او نصر لودي سربېره موږ د ملتان د بل پښتون واکمن د سلطان بهلول لودي او د هغه د دربار د شاعر خلیل خان نیازي دوه څلوریزې هم لرو چې یو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته یې د سوال او ځواب په بڼه ویل شوي او د هغوی د پېژندنې په برخه کې به پرې پوره بحث وشي.

د بورته دریو غټو مرکزونو ترڅنګ، د هندوستان ځینې نور ښارونه او همدا راز د هېواد نورې سیمې لکه: غزني، بُست، زمینداور او نورې سیمې هم شته چې هم په لرغونې دوره کې او هم تر هغې وروسته په کې پښتو ادبیات ټوکېدلي او وده یې کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دویم څپرکي لنډیز

په تېر بحث کې مو ږ هغه درې مرکزونه وښوول، چې د اسلامي عصر په لومړیو پېړیو کې د پښتو لومړني اثار په همدې مرکزونو کې ایجاد شوي دي. دا مهال پښتانه په زیات تعداد کې په همدې سېمو کې پراته وو، غور، د کسي غر او ملتان، درې دا سې مرکزونه وو، چې پښتنو په کې خپل محلي حکومتونه درلودل او یا یې تر خپل قبیله یي نظام لاندې په کې ژوند کاوه.

د پښتونخوا، افغانستان او پخواني (روه) نورو سېمو کې پښتانه خواره وو، د سند او پنجاب لمنو ته هم په کافي تعداد کې رسېدلي وو او د پنجاب په یوه خورا لرغوني ښار (ملتان) کې یې حکومت هم جوړ کړی و.

((په دې مرکزونو کې چې کوم ادبیات ایجاد شوي دي، هغه ادبیات دا لاندې خصوصیات لري:

۱) په اسلامي لومړیو پېړیو کې ایجاد شوي پښتو ادبیات د خپلو شکلي جوړښتونو له مخې د پښتو هغه لرغوني سندرې دي، چې د خپل جوړښت له پلوه له زړو اریایي ادبیاتو سره نږدېوالی لري او د پښتنو خپل شعري اوزان دي، چې دغه اوزان د پښتون ولس ترمنځ موجود او مروج وو او دا نمونې راڅرګندوي چې د اسلامي عصر د لومړیو څلورو پېړیو په دوران کې په دغو مراکزو کې ایجاد شوي پښتو اشعار په خپلو دغو لرغونو ملي اوزانو کې ویل کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲) په دغو سندرو کې ډېر پېچلي موضوعات او افکار نه دي بیان شوي، بلکې د هغه زمان له غوښتنو او د پښتنو موقعیت ته په پاملرنه د مفاخرې او پر حربي او پوځي کارنامو ویاړ، له خپل قوم او کورنۍ سره مینه ددې سندرو د بیان اساسي موضوع ده. د اسلامي اساساتو حمایت هم د دغو سندرو په بیانونو کې شامل موضوعات دي.

۳) د اسلامي لومړیو پېړیو پښتو پارکي، لکه چې د شکلي جوړښت له پلوه خپله ملي بڼه لري او د نورو ژبو د شاعرۍ اغېزې پر دې شعري اوزانو او اشکالو نه لیدل کېږي، دغه رنګه د نورو ژبو اثرات هم پر دې اشعارو زیات نه لیدل کېږي، یو نیم د عربي ژبې او نورو ګاونډیتوب ژبو لغت هم په دغو اشعارو کې شته، چې دا ډول اخیستنې د اسلام د پاک دین له راتګ، له نورو ژبو سره د ګاونډیتوب او راشه درشې له امله طبیعي عمل دی.

۴) په دې مراکزو کې ایجاد شوي اشعار ساده دي او ډېرې هنري رنګینۍ نه لري او په ځینو کې د هنر تومنه ډېره نه لیدل کېږي. ویناوالو سک سیخ د خپل مطلب پر ویلو پیل کړی دی او د هنري رنګینو ډېر خیال یې نه دی ساتلی، خو دا خبره هم باید هېره نه کړو چې ددې پړاو په اشعارو کې ځینې یې په ساده ګۍ کې هم ښکلي دي.)) (۵۳: ۴۰-۴۲)

په دغو دریو لیو مرکزونو کې موږ د امیر کروړ سوري، شیخ اسعد سوري، ښکارندوی غوري، بېټ نیکه، شیخ اسمعیل، خرښبون، شیخ رضی لودي، نصر لودي، سلطان بهلول لودي او ځینو نورو شاعرانو بیلګې لرو چې پښتو ادب پرې روښانه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دويم څپرکي پوښتنې

- پښتو لرغونې ادبي دوره څو لويې ادبي يا فرهنګي حوزې لري؟
- په غور ادبي حوزه کې کومې ادبي څېرې راټوکېدلې دي؟
- د ملتان ادبي حوزې ځانګړنې کومې دي؟
- پر (غور) (کسي) او (ملتان) ادبي حوزو ولې د نورو ژبو د ادبياتو تاثيرات نه ليدل کېږي؟
- په (کسي غره) ادبي حوزه کې کوم شاعران ټوکېدلي دي؟
- په (غور)، (کسي) او (ملتان) ادبي حوزو کې د پښتو ژبې او ادب د نړه والي علتونه کوم دي، ددې حوزو ادبي ځانګړنې په ګوته کړئ!
- کومو پښتنو واکمنو په دې حوزو کې شعرونه ويلي دي؟
- په غور، کسي او ملتان ادبي حوزو کې شعرونه په کومو وزنونو کې ويل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریيم څپرکی

# د پښتو لرغونو ادبياتو څېړې او د کلام بېلګې

پښتو لرغونې شاعري يا د پښتو ادبياتو لومړنۍ يا لرغونې دوره څه کم زر کاله زمانه په غېږ کې نيسي، په دې ټول زماني بهير کې کېدی شي په سلګونو يا زرګونو شاعران او ليکوال تېر شوي وي، خو زموږ په لاس کې اوس د هغوی ليکلي اثار نه شته، د کومو شاعرانو يا ليکوالو د کلام بېلګې چې په دې څه کم يوه زريره کې د ادبپوهانو لاس ته ورغلي، د هغوی ټول شمېر (۲۹) يا نږدې دېرشو تنو ته رسېږي، دلته غواړو همدا شاعران يا ناظمان دروپېژنو، د هغوی د کلام بېلګې درته وړاندې کړو او هم يې کلام له شکلي او مانيزه پلوه وڅېړو:

د يادونې وړ ده چې تراوسه پورې دا شاعران د ادب تاريخ په بېلابېلو اثارو کې په لنډيز او تفصيل سره معرفي شوي، ما تر ډېره حده کوښښ کړی چې دا ټول اثار سره پرتله کړم، د هغوی شننې او ارزونې هم راواخلم، خو په ځينو اثارو کې پېژندنې نسبتاً يو شان وې، خو ارزونې يې يو څه توپير درلود. د پېژندنې په برخه کې چې ماته تر ټولو خوږ او کره متن ښکاره شو، هغه د لوی استاد حبيبي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ادبیاتو تاریخ (دویم ټوک) متن و چې هم یې تاریخي تسلسل ته ډېر پام کړی و او هم یې د متن ژبه خورا خوږه وه، د لوی استاد ارزونه او شننه هم خورا خوږه او ژوره وه، تر استاد حبیبي وروسته چې زموږ نورو لیکوالو هم د ادب تاریخ کوم اثار لیکلي، د استاد حبیبي متن یې د اثر محور جوړوي، نو ما هم غوره وبلله چې دلته د استاد حبیبي متن د دې د لرغونې دورې د لیکوالو یا شاعرانو د پېژندنې په برخه کې د اساسي محور په توګه راشي او نور نوي او وروستي معلومات هم پر همدې چورلیز راوڅرخي، البته د شننې او ارزونې یا څېړنې په برخه کې د نورو لیکوالو له اثارو، د متن له اوسنیو معیارونو څخه هم ګټه پورته شوې ده او همدارنګه خپل تحلیل، شننه او ارزونه هم ورسره مله شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# امیر کروړ (جهان پهلوان)

## (۱۳۹هـ) حدود

په پښتو ادب تاریخ کې امیر کروړ هغه ادبي، سیاسي او ملي څېره ده چې تر ده دمخه لا تر دې دمه د بل کوم شاعر یا لیکوال لیکلی اثر نه دی ترلاسه شوی، نو کله چې د پښتو ادب تاریخ پر لیکنې برخه خبرې کېږي، نو پیل یې له همدې امیر کروړه کېږي. په تاریخونو کې راغلي چې: ((د سوریانو د شنسب کهول مشهور و، دوی د غور پر غرو پاچاهي کوله، دا شنسب د خرنک زوی و، چې د اسلام په پیل کې ژوندی و، دده زوی امیر پولاد ډېر مشهور شو، د خپلو پلرو نوم یې بیا ژوندی کړ، کوم وخت چې ابو مسلم مروزي د (بني امیه) امیران له خراسانه وشړل او د (بني عباس) په پلوۍ ټینګ ودرېد؛ نو امیر پولاد د غور لښکر د ابو مسلم مرستې ته بوت او د عباس کورنۍ د پاچاهۍ لپاره یې ډېر کارونه وکړل، دده مرکز په غور کې (مندېش) و او پر ټول غور یې حکومت کاوه چې مړ شو، نو یې امارت زامنو ته پاتې شو، بیا نو د (امیر بنجي نهاران) تر وخته د دوی احوال معلوم نه شو.

دا روایت د خراسان مشهور مورخ (منهاج سراج جوزجاني) د (منتخب تاریخ ناصري) په حواله کښلی دي، وایي چې امیر پولاد د ابو مسلم (۱۳۹هـ) معاصر و (بنجي نهاران) د هارون الرشید (۱۷۰هـ) له درباره عهد او لواء راوړه او بیا نو ددې کورنۍ یو بل مشهور پاچا امیر سوري یادوي، چې د آل صفار (۲۵۴-۲۹۶هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاصر دی. له دې څخه ښکاري چې د (شنسب) له وخته یانې د اسلام له پیل څخه بیا د سلطان محمود او مسعود تر وختو پورې د (سور) کورنۍ امارت لاره، خو په خواشینۍ سره ددغو شاهانو احوال مورخینو ته په تفصیل نه وو معلوم، نو یوازې د څو تنو نومونه یې یاد کړي دي. وروسته چې د غور پاچاهان پر غزنوي کورنۍ غالب شول، دا ټول له سوري کورنۍ څخه وو او د دوی کورنۍ پر بامیانو، تخارستان، سیستان، زابل او کابل پاچاهي کوله، هندوستان هم دوی فتح کړ او د ګنګا تر څنډو پورې یې سلطنت ورسېد. د پښتو ادبي اثار داسې ښکاره کوي چې دغې سوري کورنۍ (پښتو) ویله او په دوی کې د پښتو ادب غوره او خورا ښه زاړه اثار پیداشوي دي.

لکه څنګه چې د (طبقات ناصري) په روایت کې راغلي، امیر پولاد د (۱۳۰هـ) په شاوخوا کې د غور مشهور سوري پاچا و، په دغو وختو کې د خراسان خلکو غوښتل چې خپل هېواد ازاد کاندي، ددغه تحریک په سلسله کې د خراسان یو مشهور سړی (ابو مسلم مروزي) راپور ته شو، چې د خراسانیانو په کومک یې د (بني امیه) اخر پاچا (مروان) مات کړ او پر (۱۳۲هـ) یې په کوفه کې (ابوالعباس علي بن عبدالله بن عباس) پر خلافت کېناوه. د سوریانو کورنۍ چې د غور او خراسان له مشهورو واکوالو څخه وه، له ابو مسلم سره ملګرې وه، د پټې خزانې مولف محمد هوتک د (شیخ کته متي زي) د ((لرغوني پښتانه)) په حواله هسې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ((امیر کروړ جهان پهلوان د امیر پولاد سور زوی و او دا امیر په جګړو کې د ابو مسلم خراساني کلک ملګری او بریالی مل و.)) که څه هم نور مورخان د امیر کروړ نوم نه اخلي او منهاج سراج تش دومره وايي چې پس له امیر پولاده دده زامن د غور واکوال وو، مګر محمد بن علي البستي په (تاریخ سوري) کې د امیر پولاد یو زوی چې امیر کروړ جهان پهلوان سوري غوري دی، ستایي او دده پښتو اشعار رانقلوي او داسې ښکاري چې امیر کروړ جهان پهلوان ډېر شجاع، ادیب او د قلم او توري څښتن و.

که څه هم (تاریخ سوري) اوس نه شته، خو د (پټې خزانې) مولف د (لرغوني پښتانه) په حواله د امیر کروړ په باب لاندې معلومات موږ ته سپارلي دي.

((نقل کا: زبدة الواصلین شیخ کټه متي زی غوریاخېل په خپل کتاب لرغوني پښتانه کې چې دی نقل کا له تاریخ سوري څخه چې په بالشتان یې کتلی او موندلی و، شیخ کټه علیه الرحمه هسې وايي چې: په تاریخ سوري کې راوړي:

امیر کروړ د امیر پولاد سوري زوی و، چې په کال (۱۳۹هـ) سنه هجري د غور په مندېش کې امیر شو او ((جهان پهلوان)) یې باله. وايي چې د غور کوټونه او د بالشتان او خیسار او تمران ماڼۍ او بر کوشک یې ونیول او د رسالت له کهوله یې په خلافت کې ډېر کومکونه وکړل. نقل کا چې امیر کروړ ډېر غښتلی او پهلوان او په یوه تن له سلو جنګاورو سره جنګېده، ځکه یې نو کروړ باله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنـی یـې ده کلـک او سـخت. وایـي چې امیـر کـروړ بـه پـه دوبـي زمینداور کې و او هلته یې ماڼۍ درلوده، چې کټ مټ د مندېش پـه شان وه او پـه دغـه ځـای کـې یـې ښـکار کـاوه او عشـرت. پـه تـاریخ سوري کې راوړي چې دا امیران له پېړیو په غور او بالشتان او بست کې وو او د هغه (سور) نومې له اولاده دي، چې د سهاک له پښـتـه وو. امیر پولاد په هغه دعوت کې شریک و، چې ابوالعباس سفاح د بـین امیه سره جګړه کړلـه او ابـو مسـلم یـې هم مرسـتی و. شـیخ کتـه علیـه الرحمه له تاریخ سـوري نقـل کـا چې: امیـر کـروړ عـادل او ضـابط او د ښـې وینـا خاونـد و، ده بـه هـر کلـه شـعرونه ویـل. پـه کـال سـنه (۱۵۴) هجري د پوشنج په جګړو کې مړ شـو او تـر ده وروسـته یـې زوی امیـر ناصر ایوادونه ضبط کـړل او د غـور او سـور او بسـت او زمینـداور پـر مځکو خاوند شو.)) (۵۱: ۳۰-۳۲)

د امیر کروړ د کورنۍ او پاچاهۍ پـه بـاب دغـه لـوړ معلومـات د تاریخ سوري په حواله مستند او ټینګ دي، که څه هم نـور مـورخین دده د نامه څرګندونه نه کـوي، خـو اساساً دا بیـان لـه نـورو تـاریخي متونو سره مخالفت هم نه لري. امیر پولاد او د سـوریانو کـورنۍ او د دوی معاصرت او کومکونه له ابو مسلم سره دا ثـابتوي چې دوی په غور کې لوی لاس درلود او په دې تاریخونه متفق دي، خو پـټـه خزانه د لرغوني پښتانه په حواله لـه تـاریخ سـوري څخـه دا خبـره هم ښکاره کوي چې په هغـه وخـت کـې د سـوریانو ژبـه پښـتـو وه او لکـه چې اوس هم ځینې سوري خلک په بادغیس کې پښتو وایي، د دوی پخوانو نیکونو هم پښتو ویله. امیر کروړ تراوسه هم په پښـتـنو کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افسانوي ډول مشهور دی، مثلاً که څوک وغواړي چې د يوه شي قدامت بيان کړي، نو وايي: د کروړ له وختو دی، مانا دا چې کروړ د پښتنو يو پخوانی تاريخي پهلوان دی چې د پښتو ژبې پخوانی شاعر هم ګڼل کېږي.)) (۱۳: ۴۴۰-۴۴۱) د پښتو ډېر زوړ او پخوانی شعر هم همدغه امير پورې تړلی دی.

د پښتو په خورا زوړو او پخوانيو ادبي اثارو کې چې تراوسه زموږ لاس ته راغلي دي د امير کروړ سوري شعر تر ټولو پخوانی دی، چې ځينو ادبپوهانو دا شعر يوه وياړنه بللې او ځينو يو حماسي شعر ګڼلی چې وروسته به بيا په دې باب لږه زياته رڼا واچوو، دا شعر پټې خزانې د تاريخ سوري په حواله خوندي کړی دی.

هغه وخت چې د پښتو په ګاونډيو او خويندو ژبو کې لا د شاعرانو او ليکوالو د کلام کومې څرګندې بېلګې نه دي رامنځته شوي، زموږ د پښتونخوا په غربي څنډو او د بادغيس، هرات او غور په سيمو کې د پښتو ژبې د شعر غږونه اورېدل کېدل او زموږ توريالي مشران لکه د تورې پر ميدان چې پهلوانان وو، دغسې د ادب او شعر پر ډګر هم دمخه وو.

داسې ښکاري چې په سوريانو کې د پښتو شعر د اسلام له پيل څخه موجود و، ځکه چې د امير کروړ د ژوند وخت تر (۱۰۰هـ) څخه وروسته شروع کېږي او بيا موږ وينو چې په دغو سوري خلکو او هم د غور په اوسېدونکو کې د سلطان محمود تر عصره د (۴۰۰هـ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

حدودو کې) هم د پښتو شعر ازانګې پورته وې، نو له دې څخه ثابتېږي، چې د اسلامي دورې په لومړيو څلور سوو کالو کې (غور) او (سوري قبايل) د پښتو شعر او ادب زانګو وه او په دغو وختونو کې پښتو ژبې پاخه اشعار او ادبي اثار درلودل.

پټه خزانه د امير کروړ سوري يو شعر داسې رانقلوي:

((په تاريخ سوري محمد بن علي البستي داسې کښلي دي چې: د عباسي دعوت په جنګونو کې چې امير کروړ ډېرې سوبې وکړلې، نو يې دا بيتونه وويل چې وياړنه يې بولي. هغه دادی چې شيخ کتہ عليه الرحمه له تاريخ سوري رانقل کړي دي)) (۵۱: ۳۲)

## وياړنه د امير کروړ جهان پهلوان

زه يم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نشته

پر هند و سند و پر تخار او په کابل نشته

بل پر زابل نشته - له ما اتل نشته

غشی د من مې ځي بريښنا پر ميرځمنو باندې

پر ژوبله يونم يرغالم په تښتېدونو باندې

پر ماتېدونو باندې - له ما اتل نشته

زما د بريو پرخول تاوېږي هسک په نمنځ په وياړ

د اس له سو مې مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ

کړم ايوادونه اوجاړ - له ما اتل نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د تورې تر شپول لاندې دي هرات و جروم

غرج و باميان و تخار بولي نوم زما په ادوم

زه پېژندوی یم په روم - لـه مـا اتـل نـسـتـه

پر مروه زما غشي لوني ډاري دښن راځخه

د هـريـرود پـر څـنډو ځم تښتي پلن راځخه

رپي زړن راځخه - له ما اتـل نسته

د زرنج سوبه مې د تورې په مخ سورو کړه

په باداری مې لوړاوی د کول د سـورو کـړه

ستسر مې تربور وکړه - لـه مـا اتـل نسـتـه

خـپلو وګـړو لـره لـور پـېرزوينه کـوم

دوی په ډاډينه ښه بامم ښه يې روزنه کوم

تل يې ودنه کوم - له ما اتل نسته

پر لويو غرو مې وينا درومي نه په ځنډو په تال

نړۍ زما ده نوم مـې بـولي پـر دريځ ستايوال

په ورځو شپو مياشتو کال - لـه مـا اتـل نـسـتـه

ددې شعر شننه، ارزونه او ځانګړتياوې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبپوهانو د امیر کروړ شعر له بېلابېلو لیدلوریو او خواوو تحلیل کړی او د هغه ځانګړنې یې په نښه کړې دي. د سرمحقق زلمي هېوادمل په وینا

((د امیر کروړ سوري لاس ته راغلی لرغونی شعر دغه لاندې ځانګړنې لري:

۱) د امیر کروړ سوري لاس ته راغلی پارکی چې د پټې خزانې پاڼو موږ ته رارسولی دی، د متونو د استناد له معمولو نورمونو سره برابر دی، دا ځکه چې پټې خزانې دا متن (د امیر کروړ سوري شعر) د (شیخ کټه متي زي) له (لرغوني پښتانه) څخه اخیستی دی او د پټې خزانې مولف د لرغوني پښتانه ماخذ ، هم راښوولی دی، چې هغه د (محمد بن علي البستي) (تاریخ سوري) دی او دا په دې مانا چې شیخ کټه د امیر کروړ په باب معلومات او دده شعر له (تاریخ سوري) څخه اخیستی دی.

د تاریخ سوري ماخذ معلوم نه دی، چې په دې کتاب کې به د امیر کروړ سوري شعر له کومه ځایه اخیستل شوی وي، ډېر احتمال شته، چې دا پارکی دې د ویلو له وخته د تاریخ سوري د تالیف تر وخته (۶۵۰ هـ ق حدود) په شفاهي ډول د خلکو په منځ کې خور راغلی وي او د روایاتو حافظو دې تر (محمد بن علي البستي) پورې رارسولی وي، دا عنعنه تراوسه زموږ په ولس کې موجوده ده او د پښتو ډېر ادبي اثار په کلیو او بانډو کې د پېړیو په ترڅ کې سینه په سینه انتقالېږي. د امیر کروړ سوري د شعر د انتقال او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضبط روش د شرقي څېړنو له معمولو روشونو سره سل په سلو کې موافق دی، نو ځکه موږ ورته یو مستند متن ویلی شو.

۲) د امیر کروړ لاس ته راغلی شعر د اشعارو د معنوي ډولونو له پلوه ویاړنه یا فخریه ده، چې شاعر خپلې بریاوې، سوبې، مېړانې او د هغه زمان له شرایطو سره سم خپل افتخارات په کې بیان کړي دي.

د دا ډول شعرونو ویل هغه وخت په عربو او عجمو کې باب وو او د منطقي په ادبي جریاناتو کې دغه ډول اشعارو لاره درلوده. د امیر کروړ د شعر له روحیې سره د برابرو اشعارو او اثارو ځینې بېلګې د اسلامي عصر د لومړیو پېړیو په شاوخوا کې د سیمې په ژبو کې سړی لیدلای شي.

له دې څېړنو څخه نتیجه اخیستلای شو، چې د امیر کروړ شعر د خپل زمان له روحیې سره برابر ایجاد شوی دی.

۳) د شکلي جوړښتونو له پلوه د امیر کروړ ویاړنه نه د شرق له دېواني شعري ډولونو، لکه قصیده، غزل، ترکیب بند، ترجیع بند، مخمس، مسدس او نورو سره یوشانوالی لري او نه سل په سلو کې د پښتو شاعرۍ له خپلو ملي شعري انواعو او اوازونو، لکه چاربیتو، بدلو، بګتیو، لوبو او کسرونو سره یوشانوالی لري، نو ځکه ښاغلي حبیب الله رفیع دغه ډول سندرې د پښتو لرغونې سندرې بللې دي او له خپلو څېړنو څخه یې دا نتیجه ایستلې ده، چې دا ډول لرغونې سندرې د زړو اریایي سندرو او د پښتو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسي سندرو ترمنځ د اتصال یوه کړۍ ده. د امیر کروړ شعر شکلي جوړښت یې د اوستا د (یشتونو) له ځینو برخو سره پرتله کړی، ددغو یشستونو او د امیر کروړ د شعر ترمنځ ډېر نږدېوالی لیدی شو.

کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي ویلي دي، چې د امیر کروړ ویاړنه د اوستا له (زامیادیشت) او (مهریشت) او د (ریګویدا) له ځینو سندرو سره پرتله کېدی شي.

۴) د امیر کروړ شعر د ژبنیو او لغوي څېړنو له نظره هم د توجه وړ دی، ځینې ترکیبونه او لغات په دې شعر کې شته، چې د پښتو لغتپوهانو او ژبپوهانو لپاره د تحقیق زمینې لري. که څه هم د امیر کروړ د شعر له ویلو کابو څه دپاسه دوولس نیم سوه کاله تېرېږي او له هغه وخته چې تر موږ رارسېدلی په غالب ګومان یې په شفاهي او تحریري ډول د انتقال بېلابېل مراحل تېر کړي دي، په دغسې مواردو کې هرومرو په متن کې د لاسوهنو او د کلماتو او لغاتو د ترکیبونو د تبدیلۍ امکانات شته، خو موجوده بڼه یې ځینې داسې ترکیبونه او لغات لري، چې په عامه پښتو ژبه کې یې ځینې اوس متروک دي او دا امکان شته، چې د پښتو په ځینو غرنیو لهجو کې لا تراوسه موجود وي.

۵) د امیر کروړ د شعر ژبه لا تراوسه خپله رواني لري، سره له دې چې ځینې لغات یې په عامه پښتو کې نه استعمالېږي، خو بیا همدا ژبه ډېره سخته او نا اشنا نه ده او کېدی شي چې ځینې لوستونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سوال وکړي، چې په دې څه دپاسه دولس نیم سوو کلونو کې په پښتو کې ډېر زیات ژبنی تحول نه دی راغلی؟

دغسې احتمالي پوښتنو ته په ځواب کې باید ووایو چې په پښتو ژبه کې د تغییر او تحول پروسه د اروپایي ژبو او حتی د پښتو د ځینو ګاونډیو ژبو په څېر نه ده او دا ځکه چې ددې ژبې د ویونکو په اجتماعي اقتصادي ژوند کې هسې تحول نه دی راغلی، لکه د نورو هغو چې راغلی دی. په ژبه کې د تحول پروسه د ژبې د ویونکو د اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي ژوند د تحول له پروسې سره متناسبه ده.

که چېرې د امیر کروړ په شعر کې د انتقال دومره اوږده جریان په ترڅ کې د تغیراتو او لاسوهنو احتمالات هم په پام کې ونیسو، نو بیا د ده د شعر پر ژبه د څه ویلو مجال نه پاتېږي.

۶) د امیر کروړ د شعر له مطالعې څخه سړي ته تر یوه حده د شاعر فکري سیر او د هغه زمان د پښتنو روحیه او هغه د استاد عبدالحی حبیبي خبره له خپل ټبر سره د امیر کروړ مینه ښه ترا څرګندېږي.

۷) د امیر کروړ تر زمانې وروسته تر څو پېړیو پورې په غور کې د پښتو ادب د ایجاد زمینې نورې وې او د هغه وختني غور په توابعو کې د پښتو ډېر نور اثار هم ایجاد شوي دي.)) (۵۳: ۳۰-۳۲)

استاد عبدالروف بېنوا د امیر کروړ د شعر په باب وایي: ((البته دغسې اشعارو ته پاک، سپېڅلي، ملي اشعار ویلی شو، ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي لوړ احساسات په داسې توګه په کې ځای شوي دي، لکه څنګه چې له یوه پښتون پهلوان څخه یې هیله کېږي او یو پښتون پهلوان باید همداسې د خپلې مېړانې احساسات څرګند کړي...)) (۷: ۳۲)

ځینې نور لیکوال بیا وایي: د امیر کروړ شعر له عادي محاورې سره یو څه توپیر لري، ګڼ شمېر پخواني کلمات یې خوندي کړي، د نورو ژبو له اختلاطه لری دی، ژبه یې روانه ده، د ژبې پراخوالی او پوخوالی ورڅخه څرګندېږي، په ملي اوزانو کې ویل شوی، دده د خپلو احساساتو او جذباتو ښکارندویي کوي، د پښتو شاعرۍ د پوخوالي څرګندونه کوي، کروړ په کې د یوه غښتلي کرکتر او پهلوان په توګه څرګندېږي، پرځان باندې د پښتنو د ډاډمنتیا روحیه څرګندوي. د یو عادل، مستحکم او مدبر حاکم انځورنه کوي.

استاد عبدالحی حبیبي بیا په ټولیز ډول ددې شعر ځانګړنې داسې په ګوته کړې دي:

(۱) د پښتو دا زوړ شعر چې د دویمې هجري پېړۍ له لومړۍ برخې څخه راپاتې دي، له ظاهري پلوه یانې د ژبې او ادا ، لغاتو او کلماتو له مخې محصوص رنګ او زموږ د اوسنۍ ژبې او له محاوروي جریان سره توپیر لري، ډېر داسې لغات او پښتو سوچه کلمات په کې راغلي دي چې اوس متروک او مهجور دي او په عمومي محاوره او ادب کې نه استعمالېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې شعر له ژبنۍ پلټنې څخه سرې دا نتيجه اخيستلای شي چې په دغه لومړنۍ دوره يانې په اوله او دوهمه هجري پېړۍ کې پښتو ژبه په غور کې د نورو ژبو له اختلاطه سوچه وه او دا سوچه توب او نږه والی يې تر (۴۰۰هـ) پورې هم ساتلی دی او هر څومره چې په اسلامي دوره کې پېړۍ پرې تېرېږي، هغومره ژبه له سوچه توبه لرې کېږي او نور عناصر پرې ګډېږي. تاسې دا شعر له سره تر پايه وګورئ يو عربي يا پارسي لغت په کې نه شته، ځينې لغات که يې له پخوانو ارياني ژبو سره مشترک وي، وي به. د ځينو کلماتو ګرامري کيف او اشتقاقي ډول دا راښيي چې پښتو ژبې پخوا قوي بنيه او غښتلې بنسټونه درلودل او د ايتمالوجۍ له پلوه يې ډېرې مزاياوې او ځانګړنې درلودلې چې اوس يې په خواشينۍ سره بايللي دي، مثلاً په دغه شعر کې د کلماتو د ساختمان او جوړښت له پلوه داسې مواد شته چې اوس يې نه لرو:

**الف**: پخوا ډېر مصادر په ژبه کې له خپلو مشتقاتو سره موجود وو چې اوس يوازې له هغو څخه يوه سپکه ريښه موږ ته پاتې او نور له منځه تللي دي، مثلاً: يون (تګ او کوچ)، يرغل (هجوم) رپ (تپش) چې اوس شته، مګر مصدري او فعلي صورتونه يې ورک شوي دي، خو په دغه شعر کې د يونم (ځم) يرغالم (هجوم کوم) رپي (رېږدي) په ډولو شته، نو چې مشتق افعال يې مستعمل وو، بايد د غو مادو ته په ژبه کې د (يونل، يرغالل، رپل) مصادرو ته هم قايل شو چې اوس مستعمل نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب: زړن (دلاور) دښـن (دښـمن) پلـن (پیـاده) اوس مسـتعمل او ژوندی نه دي، خو داسې ښکاري چې (ن) د نسبت یا فاعلیت ادات په پای کې لري او لومړۍ کلمه له زړه او دویمه له (دښ) یانې (عیب او زشتي) او دریيمه له پل (قدم) څخه جوړ شوی دی، چې اوسني اشکال یې دادي: زړه ور- دښمن- پلی.

ج: ځینې پخواني کلمات چې دې زاړه شعر لـه زړې ژبې څخه راخوندي کړي دي د ژبې پخواني وسعت او پراختیا څرګندوي او دا ښکاره کوي چې د ژبې ډېر مواد او ښه ښه کلمات پـه خواشینۍ سره له لاسه وتلي دي، مثلاً په دې شعر کې (من) خورا لرغونې کلمه ده، چې په سنسکریت کې هم وه اوس موږ په خپله مستعمله ژبه کې د (منل) مصدر لرو او مشتقات یې هم وایو، خو ریښه یې نه ده راتـه معلومه چې دا مصدر له کومه شوی دی.

که دقیق شو د (منل) مصدري عنصر (من) دی چې پـه سنسـکریت کې د (زړه)، (روح) او (ارادې) مانا لري. (ابو ریحان البیروني) وایي، چې: (من) اصلاً زړه ته وایي، څرنګه چې د ارادې محل او ځای زړه دی، نو پـه خپلـه اراده هم (مـن) بـولي او پـه دې شعر کې هم (مـن) د (ارادې) مانا ورکوي او له دغې مادې څخه د اریایانو د یوه پخـواني پلار او مشهور مقنن (مانو) نوم هم جوړ شوی دی، چې د (منـونکي) او (فکر کوونکي) مانا لري او دا ټول اسناد پـر دې دلالـت کـوي چـې (من) پخوانۍ اریایي کلمه ده، چې په پښتو کې هم وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغسې (دریځ) هم پخوانۍ پښتو کلمه ده، چې اوس یې مونږ نه لرو. که د ژبې د اصلیت له پلوه ددغې کلمې عنصر ته وګورو باید له (درېدل) او (ځای) څخه جوړه شوې وي، داسې دوه نورې کلمې هم په پخوانیو اشعارو کې شته لکه خاتیځ د ختلو ځای (مشرق) لویدیځ د لوېدلو ځای (مغرب).

له دغو لرغونو الفاظو څخه ښکاري، چې پخوا ژبې په دې ډول د ظروفو نومونه درلودل چې ورو ورو محوه شوي دي. فقط دغه درې کلمې اوس د پټې خزانې د اشعارو په استناد راته پاتې دي.))

(۲) د مانا له پلوه هم دا لومړی شعر ډېر قدیم دی، دا شعر له حماسي اشعارو څخه چې د دنیا د ادب یوه غوره برخه ده دا یو برجسته او غوره نښه ګڼله کېږي. د شاعر لوړ حماسي مقام او دده د توري غلبه او بری ښه تصویروي، شاعر د خپل پاخه شعر او غښتلې قریحې په مرسته خپله ویاړنه په داسې ډول کوي، چې یوه توانا او مقتدر شاعر ته ښایي. له دغې ویاړنې څخه د امیر کرو ملي مینه او د خپل ټبر د پالنې احساسات ښه ثرګندېږي او دغه د شعر یوه زړه ټوټه ده چې سړی د هغې زمانې د پښتنو اخلاقي او روحي کیفیت ښه ځنې معلومولای شي او د شاعر د احساساتو د محیط هېنداره ده، چې د پخواني ژوند مختلف پلوونه په کې ښکاري.

(۳) د شعر عروضي کیف او وزن هم د غور وړ دی او دا ثرګندوي چې پښتو ژبې پخوا د عروضو او بحر له پلوه هم پاخه اشعار درلودل او دغه مخصوص بحرونه له خورا زړې زمانې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شعر کې موجود وو او ددې ژبې عروضي او بحري هويت او ثرنګوالی بېل دی او پوره استقلال لري او د عربو د (خليل بن احمد) (علم العروض) لا دې ځمکې ته نه و راغلی، چې دلته د اشعارو مخصوص ملي او پښتني عروض او بحور موجود وو او تراوسه هم دغه اثار په ملي اشعارو کې پاتې دي چې د پښتو د علم او ادب په تدوين او ترتيب کې ښايي دغو مخصوصو بحرو او اوزانو ته خاصه توجه وشي.)) (۱۳: ۴۴۴-۴۴۷) استاد حبيبي د کروړ دا شعر تر ډېره حده يو حماسي شعر بولي او هم يوه وياړنه يا فخريه.

ځينې نور پښتو ادبپوهان هم د استاد حبيبي په شان د کروړ شعر يو حماسي شعر بولي او ځينې يې لا يوه حماسه بولي، د پښتو ادب يوه نوميالی کره کتونکی (زرين انځور) يې حماسه بولي او وايي: ((حماسه د جنګ د وخت سندره ده او جنګ د خپل وخت يو ډول حماسه ده.

کروړ په جګړوو کې شعرونه ويلي او په شعرونو کې يې جګړې کړې دي. دا هم د عمل حماسه ده او هم د شعر، دا هم د تورې حماسه ده او هم د وينا، دا هم د ميدان حماسه ده او هم د خبرو او کتاب.

کروړ هم د شعري او هنري شعر ايجادګر و او هم د ميدان حماسه جوړونکی. په لومړي شعر کې ښايي د کروړ شعر يوه فردي حماسه معلومه شي، خو تر دقت وروسته سړی پوهېدی شي چې دا حماسه يوه اجتماعي حماسه ده. په دې مانا چې کروړ تشه د ځان ستاينه نه کوي، هغه غواړي خپل ټبر او خلک په يوه خاصه تاريخي مقطع کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تثبیت کړي او د یوه باتور او مېړني قوم په توګه یې وځلوي.)) (۳: ۱-۴)

خو سرمحقق زلمی هېوادمل بیا د امیر کروړ شعر یوازې ویاړنه بولي او له حماسي شعره یې توپیروي، هغه وایي: ((د امیر کروړ لاس ته راغلی شعر د اشعارو د معنوي ډولونو له پلوه ویاړنه یا فخریه ده چې شاعر خپلې بریاوې، سوبې، مېړانې او د هغه زمان له شرایطو سره سم افتخارات په کې بیان کړي دي.)) (۵۳: ۳۰)

د امیر کروړ د شعر په باب د پوهانو له بېلابېلو نظریاتو او شننو کې یو زیات شمېر مشترک ټکي شته. ټول پر دې متفق دي چې دا شعر د پښتو په خپلو ملي اوزانو کې ویل شوی چې زړو اریایي سندرو ته ورته دی. د خلیل بن احمد فراهدي د عروضي سیستم تابع نه دی. رزمي محتوا هم لري، خو ددې ترڅنګ اکثرو ویاړنه هم بللې، د ویاړنې او حماسي شعر ترمنځ هم توپیر شته چې موږ به یې بیا پر خپل ځای یادونه وکړو. خو په دې خبره اتفاق دی چې د کروړ په دې کلام کې د ویاړنې عناصر تر بل هر عنصره زیات دي. شعر ډېر روان دی، له دې څخه ښکاري چې نه یوازې پښتو شعر به تر دې وړاندې ښه پړاوونه وهلي وي، بلکې کروړ به هم نور زیات شعرونه لیکلي وي، چې شعر یې دې مرحلې ته رسېدلی دی. په دې شعر کې د بلې ژبې هېڅ کلمه نه شته، دا خبره ددې مانا ورکوي چې د پښتو ژبې د شعر لمن دا مهال ډېره پراخه وه. دا شعر (اته) بنده لري چې د لومړي بند لومړی دوه مسرې یې (۱۴) (۱۴) څپې دی، خو دریمه مسره چې په واقعیت کې له دوو وړو مسرو څخه جوړه ده، بیا (۶) (۶) څپې لري د سر لومړی مسرې یې بیا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبل منځ کې همقافیه دي او د لومړي بند دواړه وړې مسرې یې په خپل منځ کې ګډه قافیه لري. د نورو بندونو دوه لوېې او یوه وړه مسره یې بیا په خپل منځ کې همقافیه دي او څلورمه وړه مسره یې بیا د کسر یا تکرار په توګه راځي (له ما اتل نه سته) هغه په ټولو بندو کې یو شان ده. له شپږم بند پرته چې هغه هم د مسرو د څپو د شمېر له مخې له لومړي بند سره مساوي دی، د نورو ټولو بندونو لوېې مسرې یې (۱۵) (۱۵) څپې لري او لنډه قافیه واله مسره یې چې د اوږدو مسرو قافیه تعقیبوي، هغه بیا (۷) (۷) څپې لري. ځینې بندونه یې ردیفونه هم لري خو ځینې یې پر قافیه ختم شوي دي. په مجموعي ډول (اتل، کابل، زابل، میرخمنو، تښتېدنو، ماتېدنو، ویار، لتار، اوجار، جروم، اودوم، روم، دښمن، پلن، زړن، مخسور، سور، تربور، پېرزوینه، روزنه، ودنه، تال، ستایوال، کال) یې د قافیې کلمې دي چې په هر بند کې دا کلمې په خپل منځ کې ګډه قافیه جوړوي. (نسته، نسته، باندې باندې، راځخه راځخه، وکړه وکړه، (کوم کوم) هغه کلمې دي چې په خپل منځ کې ګډه ردیفونه جوړوي.

په کلام کې د څپو د شمېر تساوي او تناسب، د خج پرځای کارونه هغه عوامل دي چې دا نظم یې د مشترک وزن په تار تړلی دی. د نورو ژبو د کلمو نشتوالی ددې نظم بله ځانګړنه ده. یوازې (باداري) کلمه کېدی شي له دري ژبې سره مشترکه وګڼل شي. نور نو له سیمه ییز نومونو لکه، (هند، سند، تخار، کابل، زابل،هرات، جروم، غرج، بامیان، روم، مروه، هریرود، زرنج) هغه کلمې دي چې په ټولو ژبو کې تقریباً په یوه شکل، یوه مانا او یوه تلفظ کارول کېږي. د نورو ژبو کلمې په کې نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هاشم د زید سرواني زوی

## (۲۲۳- ۲۹۷هـ)

لکه څنګه چې دمخه يې يادونه وشوه په لومړۍ او دويمه اسلامي پېړۍ کې د پښتونخوا لويديزې خواوې او د غور ځمکې د پښتو ادب د پالنې او ودې زانګو وه او دغه سوري کورنۍ وه چې له دوی څخه د غور د شاهنشاهۍ مشهوره کورنۍ پيدا شوه او ډېر مشهور شاهان او فاتحان لکه (سلطان غياث الدين او معزالدين محمد) او نور په کې راووتل او ددغې کورنۍ د واکمنۍ پرمهال بيا غور د پښتو شعر او ادب ټاټوبی و چې د دوی د دربار شاعران به وروسته تاسې وپېژنئ، خو له ټولو ادبي پلټنو څخه داسې ښکاري چې د غور او د هغه ځای په نږدې ځمکو کې پښتو يوه ادبي او درباري ژبه وه او د پښتو لومړني اثار هم په دغو سيمو پورې اړه لري.

تر جهان پهلوان امير کروړ وروسته چې بل پخوانی ادبي اثر زموږ ګوتو ته راغلی، تقريباً سل کاله دده تر عصر وروسته دی او دا ادبي نښه هم د غور په جنوبي خوا او د هلمند د غاړو په هغو ښارو پورې اړه لري، چې په هغو وختو کې يې روښانه مدنيت درلود او اوس وران دي. د پښتو بل شاعر او اديب چې تر امير کروړ وروسته موږ ته معلوم دی (ابومحمد هاشم بن زيد السرواني البستي) دی چې دده اشعار او احوال هم د پټې خزانې مولف د (شيخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتېء) له (لرغوني پښتانه) څخه نقل کړي چې دلته يې کټ مټ را اخلو:

((ذکر د زبدة الفصحاء- ابو محمد هاشم ابن زيد السرواني البستي رحمة الله عليه... په لرغوني پښتانه کې هسې حکايت کا شيخ کته رحمة الله عليه چې ابو محمد هاشم د هلمند په سروان په سنه (۲۲۳هـ) قدسي زېږېدلی او په بست کې يې له علما او فصحا لوستنه وکړه او وروسته ولاړ، په عراق يې په کلو کلو د لويو ائمه وو څخه سمع وکړه- او ابن خلاد- چې څرګند و په ابی العيناء سره يې په بغداد کې عمرونه تېر کړل او له هغه يې د عربي بلاغت او اشعار ولوستل او په (۲۹۴) هجري قدسي کال له عراقه ببرته راغی درې کاله وروسته په بست کې وفات شو، نقل کا، چې ابومحمد په عربي او فارسي او پښتو شعرونه ويل او هغه وخت چې دده استاد ابن خلاد ړوند شو، نو ده به يې خدمت کا او د هغه څخه به يې خواږه شعرونه- په ادب کې د عربو اورېدله- ابومحمد له عربي څخه په پښتو د خپل استاد ډېر شعرونه هم را اړولي دي.)) (۵۱: 60–59)

ابوهاشم سرواني يو له هغو شاعرانو څخه دی چې په عربي ژبه ښه پوهېده، لکه پته خزانه چې وايي: په کلو کلو د علم او ادب د زده کړې لپاره په بغداد کې مېشت و او د عربو د ادب له هغه مشهوره استاده يې استفاده کړله، چې ابن خلاد نومېد او په ابي العيناء معروف و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هاشم په سروان کې زېږېدلی او په بست کې يې ژوند تېراوه او هم هورې پر (۲۹۷هـ) کال مړ دی. د پټې خزانې له ليکه ښکاري چې دا سړی د پښتو ژبې ليکوال هم و او ده په پښتو يو کتاب کښلی و، چې په هغه کې يې د عربو د اشعارو فصاحت او بلاغت بيان کړي وو او نوم يې د ((سالو وږمه)) و.

په خواشينۍ سره چې دا کتاب اوس نه شته او د پښتو په منثور ادب کې چې د کوم لومړني کتاب نوم موږ ته معلوم دی، همدغه د ((سالو وږمه)) ده چې ((د نسيم ريګستان)) مانا لري او داسې ښکاري چې دا کتاب به د پښتو له لومړنيو مولفاتو څخه و.

## د هاشم اشعار:

ددې عالم او اديب سړي کوم شعر چې زموږ په لاس کې دی، د پټې خزانې په ذريعه له ((لرغوني پښتانه)) څخه رانقل شوی دی. لکه دا کتاب چې تصريح کوي هاشم سرواني د دريو ژبو شاعر و، هم يې په پښتو او هم په عربي او فارسي اشعار ويل، خو دده عربي يا فارسي کوم شعر د پټې خزانې مولف نه دی رانقل کړی، که يې فارسي شعر زموږ په لاس کې وای، نو به يقيناً ددې ژبې له لومړيو شاعرانو څخه هم وای.

پټه خزانه ليکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ابن خلاد چې یو ظریف او ادیب سړی و، په یو شعر یې درهم ستایلی دی او ابو محمد هغه شعر داسې په پښتو را اړولی دی))(۵۱: ۶۰)

ژبه هم ښه وینا کاندي چې یې وینه
د خاوند په لاس کې زر او درهمونه
ژبور ورله ورځي وینا یې اوري
د درهم خاوندان تل وي په ویاړونه
که درهم یې ځنې ورک سو، سي نتلی
پر نړۍ یې وي په خړو پېژندونه
که بد ای سوښی وبولي خلک وایي
دا وینا ده رښتیانیه له رښتونه
که بېوزلی ووایي رښتیا خبره
نور ووایي دا خوسوښي دی تېرونه
هو درهم ښندي هر چا له لویه برخه
د درهم د خاوند هر ځای پرتمونه
درهم ژبه ده که ښوک ژبور کېږي
ده وسله که ښوک په کاندي قتالونه.

دا (اوه بیته) چې زموږ لاس ته راغلي دي، د پښتو ژبې د دریمې هجري پېړۍ ادبي ډول، صبغه او رنګ رانښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شننه، تلنه او ارزونه:

ابوهاشم لومړنی څرګند شخص دی چې پښتو ته یې له عربي ژبې څخه ژباړه کړې، ژباړه یې دومره پخه او کره ده چې د ژباړې رنګ پرې غالب نه دی، نږه پښتو لغتونه یې په ژباړه کې کارولي، دا وییونه د خپلې زمانې د ژبې څرنګوالی په ګوته کوي، هغه مهال د ژبې د پرمختګ او تحول بهیر هم څرګند وي د همدې ژباړې له مخې پښتو ژبه د ختیزو ژبو په تېره بیا د عربي ژبې د شعر له شکلي جوړښتونو سره نږدې او اشنا کېږي.

د امیر کروړ تر شعر وروسته دا ژباړل شوی شعر دویمه بېلګه ده چې زموږ په ادبیاتو کې خوندي ده. د پښتو دا منظومه ژباړه چې موږ له تحلیلي پلوه ارزوو او د امیر کروړ له هغه لومړني شعره سره یې پرتله کوو، نو له مقایسوي تحلیله داسې نتیجه اخلو:

(۱) په دویمه هجري پېړۍ کې پښتو ژبه او شعر له لغوي پلوه تر ډېره حده سوچوالی درلود، خو په درېیمه پېړۍ کې د عربي ژبې لغوي او ادبي اغېزې پرې شوې دي او د عربي فکر او ادب اثر په هغو ځایونو کې غالب شوی، چې د عربو د حکومت اثر هلته ډېر و، یانې په خراسان او د پښتونخوا پر غربي څنډو تر زابلستان او کابل پورې د عربي ژبې اثر خپور شوی و.

(۲) په درېیمه هجري پېړۍ کې لا پښتو ژبې ځینې هسې لغتونه، کلمات او تعابیر درلودل چې اوس نه شته او د هاشم په دې شعر کې خوندي دي، مثلاً (ویاړونه، خړی، سونی، بلل، تېرونه، چې اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ريښې په ژبه کې بل راز شته- مثلاً ويار- ويارل- سوځې ويشتل- تېرى کول.

(۳) د هاشم دغه تونه شعر د بحر او وزن له پلوه هم عربي بحورو او عروضو ته نږدې دى، په داسې حال کې چې د امير کروړ شعر وزناً او عروضاً ځانته خاص رنګ او صبغه لري.

عربي وزن ته نږدېوالى په دې مانا نه دى چې په بشپړ ډول د عربي ژبې شعري يا نظمي اوزان پرې د تطبيق وړ دى. خو څرنګه چې دا له عربي ژبې څخه پښتو ته لومړى ژباړل شوى شعر دى، نو طبيعي خبره ده چې د عربي ژبې د شعري جوړښت خپل خپل تاثيرات لري، خو بيا هم دا شعر د ځپيز خجيز جوړښت له مخې د ښتو د عام شعر د شعري قواعدو تابع دى.

(۴) د شکلي جوړښت له پلوه ځينو دا شعر يو پارکى بللى، ځينو قطعه او ځينو ورته کوم خاص نوم هم نه دى ټاکلى. ددې نظم عربي بڼې ته که وکتل شي، نو د پيل بيت يې مقفى نه دى، خو نور ترپايه د غزل فورم تعقيبوي، يانې د يوې بې مطلعې غزل بڼه لري، پښتو ژباړه يې مطلع هم لري. پر پښتو بڼه يې د غزل قوانين د تطبيق وړ دي. د غزل په ډولونو کې يو هم بې مطلع غزل دى، عربي متن ته يې په لږ احتياط سره بې مطلع غزل ويلاى شو او پښتو بڼې ته يې تر ډېره حده د غزل فورم ويلاى شو. په خپله د غزل عام فورم دادى چې مطلع بايد ولري يانې د سر لومړى بيت يې مقفى وي او د نورو ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیتونو دویمه مقفی مسره یې د مطلع قافیه تعقیب کړي، ردیف په کې اختیاري وي، خو که یو ځل راوړل شو بیا یې راوړل حتمي دي.

د بیتونو شمېر تر پنځه لسو بیتونو پورې رسېدی شي. د غزل بل شکل دادی چې په پورته بڼه کې ردیف (=) هم ورسره یوځای شي.

د هاشم ابن زید سرواني منظومه ژباړه چې ګورو، نو پښتو ژباړه یې تر ډېره حده د غزل فورم راخپلوي، د سر بیت یې په پښتو کې مقفی دی:

ژبه هم ښه وینا کاندي چې یې وینه

د خاوند په لاس کې زر او درهمونه

(وینه) او (درهمونه) یې د قافیې کلمې دي. (نه) (نه) یې ګډ غږونه دي، نورې ټولې مقفی مسرې یانې د قافیې کلمې یې (ویاړنه، پېژندونه، رښتیونه، تیرونه، پرتمونه، او قتالونه) د مطلعې قافیه تعقیبوي، په مطلع کې یوازینی توپیر دادی چې د لومړۍ مسرې قافیه له نورو قافیو سره دوه مشترک غږونه او نورې ټولې قافیې یې درې مشترک غږونه لري.

نو که دا ژباړه د غزل فورم وګڼل شي، نو دا به په پښتو کې لومړنی غزل هم وي. که څه هم اوس پر دې توافق دی چې لومړنۍ غزله د اکبر زمینداوري له خوا ویل شوې ده. البته د اکبر زمینداوري غزل، هم د فورم له مخې غزل دی او هم د محتوا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخې. خو دا ژباړه تر ډېره حده يوازې د فورم له مخې غزل ګڼل کېدی شي، نه د محتوا له مخې.

نوددغو څرګندونو او نتايجو تر لوستلو وروسته وايو چې ابو محمد هاشم په پښتو ادبي تاريخ کې د عربي فکر او ادبي تحول لومړنی استازی او ښکارندوی دی او دده دا يوه قطعه شعر د خپل عصر د ادبي حالت څرګندونه په ښه ډول کوي.

له محتوايي پلوه دا شعر اخلاقي مسايل تشريح کړي، اخلاقي پيغام لري او انسان په نامستقيم ډول دېته هڅوي چې د دنيا مال او متاع پورې زړه ونه تړي. که څه هم يو شمېر خلکو ته درهم، مال او متاع تر هرڅه زيات ارزښت لري، خو دا کار په اساسي مانا د انسان د ژغورنې لار نه ده. شاعر لوستونکي ته په نامستقيم ډول اخلاقي پيغام رسوي او نفسي تذکيې ته يې رابولي.

له لغوي پلوه دا غزل د نورو ژبو تر ډېر اغېز لاندې نه دی، که څه هم دا يوه ژباړه ده او په ژباړه کې معمولاً لومړنۍ ژبه خپل اغېز ښندي، خو په دې شعر کې (قتالونه، درهم) عربي کلمې دي (خاوند) له دري ژبې سره ګډه کلمه ده. نورې ټولې پښتو کلمې دي. ځينې کلمې يې اوسنۍ ژبه کې متروکې ګڼل کېږي، لکه (سوښي، خړو) خو نورې کلمې يې اوس هم په ورځنۍ محاوره کې کارېدونکې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شیخ رضی لودي او نصر لودي

**(۳۵۰-۴۰۰هـ)**

د شیخ رضی لودي او نصر لودي نومونه او پېژندنه ځکه دلته یو پر بل پسې راوړو، چې د دوی لاسته راغلي نظمونه یو بل سره اړیکي لري او دوی دواړه له کورني پلوه هم یو بل سره ارتباط لري، خو مخکې تر دې چې د دوی پېژندنې او د کلام بېلګو ته لاړ شو، لومړی به لودیان لږ په لنډیز سره دروپېژنو.

لودیان هم لکه سوریان د پښتنو یوه مشهوره کورنۍ ده چې د سلطنت او مشرتابه مرکز وه او تر (۳۰۰هـ) په ختیزه پښتونخوا کې ددې کورنۍ د پاچاهانو نومونه اوربدل کېږي، څرنګه چې دا کورنۍ هم په واکمنۍ او پاچاهۍ او هم په ادب کې نوم لري، نو ځکه خو ضروري ده چې په لنډیز سره ددې کورنۍ یادونه وشي.

(لودي) دپښتنو یوه قبیله ده، چې دغه کورنۍ هم له دغې قبیلې ښخه وه او د غزني د لومړیو پاچاهانو (الپتګین) او (سبګتګین) په عصر کې (۳۵۱-۳۹۰هـ) له دې قبیلې ښخه (شیخ حمید) پر ننګرهار او پېښور تر ملتانه واکمنۍ درلوده او تر ده وروسته (نصر) چې زوی یې و، پاچا شو او ملتان یې د سلطنت مرکز و. شیخ حمید لودي د (۳۵۰هـ) په شاوخوا کې د (راجه جي پاله) له خوا له لغمانه تر ملتانه واکمن و د (۳۵۱هـ) په شاوخوا کې چې پر (جیپاله) له غربي خوا کومې حملې کېدې، حمید له ده سره کومک کاوه او په داخل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې يې ازادي او استقلال درلود، خو بيا چې (سبکتګين) پاچا شو، نو حميد روغه ورسره وکړه او پر (۳۹۵-۳۹۶هـ) چې سلطان محمود پر ملتان حمله وکړه، د شيخ حميد لمسی (ابوالفتوح داود) له دې کورنۍ څخه پاچا و، نو يې (ججه) ومنله خو تر (۴۰۲هـ) دمخه سلطان محمود دی ونيو او په غزني کې يې بندي کړ، (ګردېزي) ليکي، چې: محمود پر (۴۰۱هـ) د ملتان قرامطه سره ومروړل او (داود بن نصر) يې غزني ته راوست او د (غورک) په کلا کې يې بندي کړ او هورې ومړ.

که څه هم پخواني مورخين د (شيخ حميد) د کورنۍ افغانيت ته اشاره کوي، خو (فرشته) تصريح کوي چې دوی پښتانه وو او تر ده وروسته نور مورخين هم لکه (حيات خان) په (حيات افغاني) او (شېرمحمد) په (خورشيد جهان) او (مليسن انګرېز) (د افغانستان تاريخ) کې دوی پښتانه بولي، خو ځينې اوسني مورخان ددې کورنۍ پښتونواله نه مني او دوی عربي نژاده ګڼي، مګر د پټې خزانې مولف هم دوی پښتانه بللي او پښتو اشعار يې ځنې رانقل کړي دي.

پټه خزانه خپل سند هم ښيي او دا مطالب له (کليد کامراني) څخه نقل کوي او کليد کامراني هم له يوه کتابه اقتباس کوي چې (اعلام اللوذعي في اخبار اللودي) نومېده، ځکه چې دا کتاب پر (۶۸۶هـ) د يوه لودي سړي له خوا کښل شوی دی، نو د دوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتونوالي مهم او زوړ سند هم دغه دی او موږ کولای شو چې ددې کتاب پر تصریح اعتماد وکړو.

له دې کورنۍ څخه پخوانیو مورخانو درې تنه (حمید، نصر او داود) ذکر کړي دي، چې پاچاهان وو، خو پټه خزانه د شیخ حمید یو وراره (شیخ رضی) هم یادوي چې ده له خپل تربور سره یوه شعري معارضه او مناقشه کړې ده.

د لودیانو دا سلطنتي او ادبي کورنۍ که څه هم سلطان محمود منحله کړه او تر داود وروسته بل پاچا پاتې نه شو، خو وروسته هر وخت لودیان په تاریخ کې نوم لري. له دې څخه مشهور او نومیالي خلک راوځي، پر (۸۵۵ھ) بیا د ټول هند سلطنت نیسي او د لودي پاچاهانو برم تر (۹۳۲ھ) پورې په هند کې دوام کوي، سلطان بهلول، سکندر او ابراهیم ددې قبیلې مشهور شاهان دي چې د پښتو ادب ممیزه له دوی سره د سلطنت په ډول ملګرې ده.)) (۴۵۷:۱۳-۴۵۹) څرنګه چې دلته شاعران یا لیکوال د تاریخي تسلسل له مخې راوړل کېږي، نو دلته لومړی شیخ رضی لودي او بیا نصر لودي ته نغوته کېږي او بیا به نور لودي شاعران پر خپل ځای معرفي کېږي. نو اوس راځو شیخ رضی لودي او نصر لودي ته.

شیخ رضی او نصر لودي دواړه د شیخ حمید له کورنۍ څخه دي چې (رضی) د (حمید) وراره او (نصر) یې زوی دی او د مورخانو په وینا تر شیخ حمید وروسته دده زوی نصر پاچا شوی دی او رضی سلطنت ته نه دی رسېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ژبې ددغو دوو پخوانو شاعرانو احوال پټه خزانه داسې راوړي:

((ذکر د امیر الفصحا شیخ رضی لودي: پوه شه په دې چې کامران خان ابن سدو خان په ښهر صفا کې په سنه (۱۰۳۸هـ) هجري یو کتاب وکېښ چې کلید کامراني یې نوم و په دې کتاب کامران له کتابه د شیخ احمد بن سعید اللودي چې په سنه (۶۸۶هـ) یې کښلی او نوم یې ((اعلام اللوذعي في اخبار اللودي)) دی هسې نقل کا چې شیخ رضي لودي د شیخ حمید وراره و چې شیخ حمید په لمتان پاچا شو یو یې خپل وراره پښتونخوا ته ولېږه، چې د هغو غرو خلک د اسلام دین ته راولي. شیخ رضي راغی دوه کاله د کسي په غرو ګرځېده او هلته یې ډېر مخلوق مسلمان کړ، نقل هسې کا نصر د شیخ حمید زوی په ملتان کې د ملا حده له استازو سره کېناست او له دوی څخه یې د الحاد او اسماعیلي فرقې عقاید زده کړل او وګورهېدی د دوی په اعتقاد ملحد شو، چې شیخ حمید رحمة الله وفات شو، نو یې پرځای نصر کېناست او د الحاد ترویج یې غوره کړ او قرامطه یې راوستل. شیخ رضي چې سوچه مسلمان و خپل تربور نصر ته یې داسې پاړکی وکښل او ور وایې ستول:

د الحاد په لور دې ترپلل ګروه دې زموږ وکوراوه
موږ رونېلی په زیارنه تا په تورو توراوه
لرغون ولې ګروهېدلې چې دې ګوښې اړاوه
هغه ګروه دې اوس اړه کړ چې پلرو دې رڼاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لودي ستا په نامه سپک شو — که هر څو مو رناوه
نصره نه مو يې له کهاله — لودي نه يې په کاوه
زموږ رغا ده ستا له ګروهه — د ور ځلوی په رغاوه.

شيخ احمد لودي هسې نقل کا، چې نصر لودي هسې د شيخ رضي غبرګون وکاوه:

د الحاد په تور، تورن سوم — زه لرغون خو ملحد نه يم
زما دښنه هسې توراکړی — که ملحد يم د دښنه يم
له اسلامه نه تر پلمه — تورانو څخه په ترپله يم
ګروه مې هغه لرغوني دی — اوس هم کروږ په لرغونه يم
د اسلام پر هسک به ځلم — وتورانو ته تياره يم
د لودي زوی سنتي يم — د حميد له لوړ کهاله يم
تورانې دښن چې وايي — زه له ګروهه په اړه يم
دا يې تور تاسې دروهوی — زه مومن ستاسې په تله يم
د دښنو وېناوې مغږه — زه لودي يمه څو زه يم.

په دې ډول پټه خزانه د خپلو قوي اسنادو پر بنسټ ددغو دوو تنو پخوانو پښتنو مشرانو اشعار موږ ته سپاري چې د پښتو په ادبي تاريخ کې ډېر مهم دي او هم د ژبې په تحول کې ښې نتيجې ځنې ايستلای شو:

## ارزونه، شننه او پايله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینو ادبپوهانو دا شعرونه یا نظمونه پاړکي (قطعې) بللي او ځینو هم د پښتو د ولسي شاعرۍ کسرونو ته ورته بللي، دواړه نظمونه دیني محتوا لري، د نورو ژبو اغېزې پرې نه شته، یوازې د عربي ژبې یو څو لغتونه لري او ځینې متروک کلمات چې اوس نه کارول کېږي، پر هغه مهال د پښتنو او پښتو ژبې او ادب وده او پراختیا ورڅخه معلومېږي، پیغام په کې نېغ په نېغه انتقالوي.

سرمحقق زلمی هېوادمل، د ملتان د شاهي کورنۍ ددې د پاړکو د ارزښت په باب وایي: ((د ملتان د لودي شاهي کورنۍ د دوو تنو غړو نصر لودي او شیخ رضی لودي پاړکي د پښتو په پخوانیو منظومو اثارو کې شامل پاړکي دي او د همدغو دوو تنو پښتنو ویناوالو د پاړکو له امله موږ تر غور او د سلیمان تر غرونو وروسته ملتان دریېم مرکز بولو، چې پښتو منظومې په کې ایجاد شوې دي.

دا منظومې د خپلو شکلي جوړښتونو له امله په ظاهري ډول د شرقي شاعرۍ قطعو ته ورته پاړکي دي، خو موږ ته دا راښکاري، چې دا پاړکي د پښتو د ولسي شاعرۍ کسرونو ته ډېر ورته دي او دا دوه پاړکي موږ د پښتو د لرغونو سندرو په جمله کې شامل ګڼو، چې وروستیو اشکالو یې د کسرونو په بڼه تحول موندلی دی او اوس هم موږ د کټواز او بنو د مروتو او ګنډه پورو په سیمو کې ډېر کسروال شاعران پیدا کولای شو.

په معنوي لحاظ دا پاړکي د یوې مناقشې بڼه لري، چې په غالب ګومان د لیکونو په بڼه تبادله شوي دي او د اسلام د مقدس دین او

(c) ketabton.com: The Digital Library

له محمدي سنتونو څخه د پېروۍ په دفاع کې ویل شوي دي. په یوه پاړکي کې رضی، نصر ته ویلي دي، چې تا خپله اسلامي لاره پرېښې ده، په ځواب کې یې نصر، رضی ته کښلي دي، چې زه پر خپله لاره ټینګ یم، زما په باره کې چې تا څه اورېدلي دي، هغه د دښمنو تورونه دي، چې په دې حساب دواړه پاړکي په یو ډول د اسلام په دفاع کې ویل شوي دي.

په دې دواړو پاړکو کې ځینې داسې ژبني او ګرامري ترکیبونه لیدل کېږي، چې نن په عامه پښتو کې د استعمال موارد نه لري، دغه ډول په دې پاړکو کې ځینې داسې لغات هم شته چې په عامه پښتو کې یې مړ نه استعمالوو پر دې اساس هم دا دواړه پاړکي د ژبنیو څېړنو له پلوه هم د اهمیت وړ دي.

په دې پاړکو کې د هنر پلوشې نه ځلېږي او د څلورمې هجري پېړۍ د معمولي پښتو په چوکاټ کې یې ساده خبرې په نظم کې راوړې دي.)) (۵۳: ۳۹-۴۰)

لوی استاد عبدالحی حبیبي بیا وایي: ((د رضی او نصر دا اشعار چې موږ ګورو او د پښتو له مخنیو او وروستنیو اشعارو سره یې مقابله کوو، نو دا څو ځانګړنې تر سترګو کېږي:

(۱): د (۳۵۰هـ) تر حدودو پورې لا د پښتونخوا پر شرقي خواوو د عربي ژبې اثر لږ و، که څه هم د هاشم سرواني نظم د لودیانو تر عصر دمخه دی، خو څرنګه چې د پښتونخوا پر غربي څنډو د عربو د فکر، حکومت او ادب اثر ډېر و، نو د هاشم سرواني په نظم کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه اغېزې په څرګند ډول ښکاري، خو د لودیانو نظمونه که څه هم تر هاشم وروسته دي، خو د پښتو سوچه توب او د ژبې نرېوالی او څرګندوالی یې قوي دی او د عربي ژبې لږ اثر ښکاره کوي.

(۲): د لودیانو له دغو نظمونو څخه ځینې مړه او متروک مواد لاسته راځي او په دې خاصیت کې د امیر کروړ شعر ته ورته دي او دغه اثار موږ ته راښيي چې د غزنوي دورې تر لومړیو پورې لا دې ژبې په شرقي خوا کې مخصوص ډول او رنګ درلود، چې وروسته یې هغه رنګ بدل شو.

د ساري په توګه د (تور) یانې تهمت له مادې څخه په دغو ویناوو کې (تورن) د صفت په ډول او (تورا) په مصدري مانا او فعل یې (توراوه) او هم (توراني) داسې کلمات دي چې اوس نه شته، دغسې هم (وکوراوه) او (رغا) او (رغاوه) او نور ډېر نادر مواد لري چې اوس مړه دي.

(۳): له دوو عربي لغاتو (الحاد) او (سنتي) څخه ښکاري چې د عربي ژبې اثر په دغو وختو کې تش په دیني اصطلاحاتو پورې محدود و او دغسې عربي اصطلاحات په ژبه او ادب کې ننوتلي وو، خو د ژوند نورې څانګې ځنې تشې وې.

(۴): له دغو ویناوو څخه ښکاري چې په دغو وختو کې د پښتنو نفوذ او د پښتو د خپرتیا لمن شرقاً تر ملتانه وه او د پښتونخوا له غرو څخه پښتانه د شرق لوري ته ډېر خپاره شوي او د ژبې ادبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نفوذ یې هم له بادغیس او هراته د اباسین تر څنډو او ملتانه خپور شوی دی.

(۵): لودي سلطنتي او ادبي کورنۍ که څه هم له پښتونخوا څخه لرې په ملتان کې مېشته وه، خو دوی خپل پښتني تهذیب خوندي کړی و، خپله ژبه یې ساتلې وه او د اسلام سوچه خدمتګاران وو، دوی غوښتل چې د پښتونخوا په ټولو غرو کې د اسلام رڼا خپره کاندي، لکه چې شیخ رضی لودي په همدې مقصد د سلیمان په غرو کې تبلیغ کاوه او د لودیانو د الحاد خبرې فقط د دښمنانو او د دوی د سیاسي مخالفینو او رقیبانو (د سبکتګین د کورنۍ) پروپاګند و، څکه چې نصر لودي په خپل نظم کې له ځانه ښه دفاع کړې او خپل عقاید یې د پخوانیو په ډول د سنت تابع بللي دي.)) (۱۳: ۵۶۵-۵۶۶)

(۶) له شکلي پلوه د شیخ رضي لودي نظم یا پارکی تر ډېره حده بې مطلع غزل ته ورته دی. یوازې د سر بیت لومړۍ مسره یې له قافیې څخه ازاده ده، نور ټول بیتونه یې چې قافیه لري، د سر بیت د دویمې مسرې قافیه تعقیبوي، ردیف نه لري، هندسي جوړښت یې په دې ډول دی:

__________________

a__________________

__________________

a__________________

(c) ketabton.com: The Digital Library

________________

a________________

ترپایه

ټول اوه بیتونه لري، د شپیز خجیز جوړښت لـه مخـې د پښـتو د عامې شاعرۍ د قوانینو تابع دی. د څپو شمېر یې سره مساوي دی. هره مسره یې (۸) څپې لري او هرې درې څپې وروسته خج اخلي. د نصر لودي نظم بیا نهه بیتونه لري.

د سر بیت یې مقفی نه دی دویمه مسره یې قافیه لري، نور مقفی بیتونه یې بیا همدا لـومړۍ قافیـه تعقیبوي. ردیف هم لـري (نه، دښنه، ترپله، لرغونه، تیاره، کهاله، اړه، تله، زه) یې د قافیې کلمې دي (یم،یم) یې چې تر قافیې وروسته په یوه شکل او یوه مانا تکرار راغلی ردیف دی. هندسي جوړښت یې په دې ډول دی:

________________

=a________________

________________

=a________________

________________

=a________________

تر پایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځپو د شمېر له مخې هره مسره یې (۸) ځپې لري او دا قاعده پر ټولو مسرو یوشان د تطبیق وړ ده. دا نظم هم د فورم له مخې د بې مطلع غزل فورم کې شاملېدی شي. له محتوايي پلوه دواړه شعرونه یا نظمونه مذهبي، عقیده یي اخلاقي روحیه منعکسوي او په پښتو کې د سوال او ځواب په بڼه لومړنۍ مناظره، مشاجره یا مشاعره هم ورته ویلای شو، چې وروسته به پرې پر خپل ځای لږه نوره رڼا هم واچول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بېټ نيکه
## (۳۵۱هـ)

مخکې تر دې چې بېټ نيکه معرفي کړو، تر هغه وړاندې ضروري ده چې د پښتنو يوه بله تاريخي کورنۍ پېژندنې ته تم شو.

د پښتنو په تاريخ کې يوه ډېره مشهوره کورنۍ شته چې موږ يې د وجود وخت تر (۳۰۰هـ) وروسته تخمينولای شو، که څه هم ددې کورنۍ په باب په پښتو مورخينو کې ډېر متفرق او ډول ډول روايات شته او سړی نه شي کولای چې په ښکاره او څرګند ډول د دوی احوال وليکي، خو له ملي عنعناتو څخه چې تراوسه د پښتنو په منځ کې شته او هم له تاريخي ليکنو څخه سړی ځنې نتيجې اخيستلای شي او ددې کورنۍ د نوميااليو سړيو حال لږ لږ ځنې څرګندولای شي.

ددې کورنۍ لومړی مشر پښتون بابا (پټهان) دی چې نوم يې (کيس) و. د کسي غره (سليمان غره) ته منسوب او عربي نوم يې مورخينو (عبدالرشيد) کښلی دی چې ده درې زامن درلودل او د پښتنو مشهور رجال او نيکونه دي:

اول بېټ يا بېټنی، دويم سړبن او دريم غرغښت وو.

له ملي عنعناتو او تاريخي ليکنو څخه داسې ښکاري چې دې کورنۍ د غور له غرو څخه د کسې غره (سليمان غره) ته لېږد کړی و او په دغه غره کې اوسېدل او هلته دا کورنۍ ډېره شوه او ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهرت یې وموند او داسې سړي په کې پیدا شول چې د پښتو ژبې شاعران هم وو.

د پښتنو مورخان له پخوا زمانې څخه د دغسې لویې کورنۍ احوال او د سړیو نومونه لیکي، تر ټولو دمخه خورا زوړ مورخ سلیمان ماکو دی چې دی په خپله تذکرة الاولیا کې د ببړ نیکه، سړبن او اسمعیل احوال لږ لږ لیکي او هم د دوی اشعار خوندي کوي، دده د لیک نتیجه داده:

((ببړنی د کسې پر غرو باندې اوسېده، د خدای په عبادت بوخت و، سړبن دده ورور او اسمعیل یې زوی و چې سړبن په زویتوب قبول کړی و. د اسمعیل مرقد د کسې په غره کې دی.))

((له دې کورنۍ څخه یو بل مشهور سړی خرښبون دی چې پټه خزانه او نور مورخان دده نوم او احوال ذکر کوي، دا سړی هم د سړبن زوی دی، د کسې په غره او د کلات په (غونډان) کې اوسېده او په (مرغه) کې پر (۴۲۲هـ) وفات شو. وروسته به پر خپل ځای د دوی پر اثارو او ژوندانه خبرې وشي. دلته یوازې دومره وایو چې مورخان ددې کورنۍ پر وجود متفق دي او ابوالفضل مورخ په (ایین اکبري) او نعمت الله هروي په (مخزن افغاني) کې ددغې کورنۍ رجال او شهرت بیانوي او دا دواړه کتابونه د (۱۰۰۰هـ) په شاوخوا کې کښل شوي دي.

د پورته بحث لنډیز دادی، له زرو کلونو راپدېخوا چې کوم عنعنات او تاریخي کتابونه موجود دي ددغې کورنۍ شهرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

راښيي او د دوی ادبي اثار او اشعار هم رانقل شوي دي چې د پښتو په ادبي تاريخ کې ډېر اهميت لري او د لرغونې دورې په اثارو کې غوره، خوندور او له ملي احساساتو ډک همدغه منقول اشعار او سندرې دي.)) (۴۴۷:۱۳-۴۴۹)

اوس راځو د بېټ نيکه پېژندنې او د کلام شننې ته: بېټ نيکه په پښتنو کې ډېر شهرت لري، له پخوانۍ زمانې څخه مورخانو دده نوم او حال ليکلی دی او په پښتني عنعنه کې هم دا سړی يو خورا لوی پښتون او مشهور نيکه ګڼل کېږي.

ددې عنعنې تصديق په خارجي مورخينو کې د اکبر مغولي پاچا د دربار مورخ ابوالفضل علامي (۱۰۰۶هـ) په دې ډول کوي: ((په پښتنو کې درې ورونه بېټنی، غرښت او سړبن ډېر مشهور نيکونه دي.))

د بېټ نيکه نوم په تاريخونو کې (بېټنی) او (بټن) هم راغلی دی او نعمت الله هروي (نورزي) چې پر (۱۰۱۸هـ) يې (مخزن افغاني) تاليف کړی دی، هم د شيخ بېټني او دده د اولادې مفصل احوال راوړي او ځينو نورو تاريخونو ته حواله ورکوي چې (مجمع الانساب) ، (معدن اخبار احمدي) او (تاريخ ابراهيم شاهي) له هغو څخه دي او تر ده دمخه کښل شوي دي. تر نعمت الله وروسته اخوند درويزه ننګرهاري چې تر (۱۰۴۸هـ) پورې ژوندی و ، هم د شيخ بېټني او دده اولاد ذکر کوي او د پښتنو له مشاهيرو څخه يې ګڼي، خو تر دغو ټولو يو پخوانی او زوړ کتاب چې د بېټ نيکه ذکر او دده

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشعار په کې راغلي دي، د بارک خان د زوی (سلیمان ماکو) (تذکرة الاولیا) ده چې پې پر (۶۱۲هـ) لیکل شوې ده، ددې کتاب هغه یو څو پاڼې چې خوندي پاتې د شیخ بېټني ذکر داسې کوي: ((نقل هسې کاندي یارانو چې په روزګار د شیخ بېټني دده ورور چې سړبن نومېده او پر شیخ بېټني هم خورا ګران و، سړبن نه درلود زامن او هر کله به یې ویل خپل ورور ته، بېټني خپل زوی اسمعیل ورکاوه او لوی شو د سړبن په کاله، خدای مهربان د اسمعیل په برکت، سړبن ته نصیب کړه دومره زامن چې اوس تر وس تېر شو ګڼون د هغو...)) (۳۸: ۲۳)

نعمت الله هم دغه عنعنه په مخزن افغاني کې هسې لیکي:

((نقل است که سربنی برادر کلان بیتنی مفلس بود و از سعادت فرزند هم محروم بود، روزی سربن بخانه برادر خود که شیخ بیتنی باشد امده عرض کرد. که ای برادر! دعای تو درباب جمیع خلایق مستجابست، درباب من توجه نمی‌فرمانی. حضرت شیخ بیت فرمود که یک پسر مرا ببر و پرورش نما... اخر الامر شیخ پسر خود اسمعیل راببرادر خود سربنی داد...)) (۱۳: ۴۷۱)

په دې ډول زموږ د لومړي مورخ سلیمان ماکو قول که څه هم تر نعمت الله څلور سوه کاله دمخه دی خو یو له بله ربط او نږدېوالی سره لري او دا ښکاره کوي چې تر زرم هجري کال مخکې هم د بېټ نیکه له بابته پښتنو پرله پسې او مستند روایات درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بيټ نيکه نور احوال موږ ته نه دي معلوم او نه دده د ژوند وخت مورخانو تصريح کړی دی، يوازې د پټې خزانې له ليکلو څخه ښکاري چې اسمعيل د بيټ نيکه زوی نيو، د خرښبون معاصر و او دغه سړی پر (۴۱۱هـ) مړ شوی دی، نو چې د اسمعيل د ژوند وخت د (۴۰۰هـ) حدود وي ښايي چې پلار او اکا يې هم د (۳۵۰هـ) په حدود کې ژوندی وي.

## د بيټ نيکه اشعار:

د پښتو په پخوانو اشعارو کې د بيټ نيکه يو مناجات ډېر قيمتي دی او دا ادبي ټوټه سليمان ماکو په (تذکرة الاوليا) کې هسې راوړې:

((نقل کاندي چې شيخ بيټني سپين ږيری شو، نو ده به هر کله ښتن ستايه او رب ته به يې درخواست کاوه چې زما په کهول او سړين او غرښت په کهول برکت کېږده! بادار قبول کړ، دده درخواست او ډکه شوه، ځمکه د پښتنخا د دوی په کهول- نقل کاوه شي چې حضرت شيخ بيټني به ډېر تر ډېره دا سندرې لولې او کسې غره کې به ګرځېده په شپې.)) (۳۸: ۲۴)

لويه خدايه لويه خدايه ستا په مينه په هر ځايه
غر ولاړ دی درناوي کې ټوله ژوي په زاري کې
دلته دي د غرو لمنې زموږ کېږدۍ دي په کې پلنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا وګـــړي ډېـــر کـړې خدايه　　لويــه خدايــه لويــه خدايــه

***

دلـته لـږ زمـــوږ اور بـــل دی　　وو ړ کـورګی دی ووړ بورجـل دی

مـــينه ستـا کې مـوږ مېشته يو　　بـل د چـا پـه ملـه تلـه نـه يـو

هسک او مځکه نغښته ستا ده　　د مـــړو وده لـــه تـــا ده

دا پـالـنه ستـا ده خـدايـــه　　لويــه خدايــه لويــه خدايــه.

## د بېټ نيکه د شعر شننه او ارزونه:

((لکه څنګه چې دمخه وويل شول دا شعر د (۳۵۰هـ) پـه حدودو پـورې اړه لـري، لـه الفـاظو او کلمـاتو يـې هم دغـه مطلب ښـکاري، داسې لغات او کلمات په کې راغلي دي چې اوس يې ځينې پـه دغـو ماناوو مړه دي، مثلاً (ژوی) اوس ځوک د مخلوق او حيـوان پـه مانـا نه کاروي يوازې په زړو ادبياتو کې يې کله کله وينو او که دغـه کلمـه په فعلي مانا واخلو يانې (ژونـد کـوي) دا تعبيـر هـم زوړ دی او اوس مستعمل نـه دی دغـسې هـم هسـک دلتـه د اسـمان پـه مانـا دی او دا کلمه په دغـه مفهـوم ډېره زړه ده او لکه چې تاسو دمخه د اميـر کـروړ او نصر لودي په کلام کې ولوستل، پخوا يې اسمان هسک باله خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس هر لوري شي ته هسک وايو او دا لغوي تحول وروستني دی، لکه د عربي (سما) چې اسمان ته هم وايي او د هر ځای لوړې خوا ته هم وايي. پر دې شعر د پردیو ژبو اغېزه هم لږ ده او له هغو زړو اثارو څخه دی چې په غرو کې ویل شوي، د عربي او پارسي ژبو له اغېزو څخه تش وي لکه د امیر کروړ او لودیانو اشعار، د بېلګې په توګه په ټول شعر کې یوه پردۍ کلمه نه شته، یوازې د (خدای) مشترکه کلمه لري چې هغه هم ښايي د پښتو په ریښو کې ډېره نږدې وي او ددې سوچه توب علت هم دادی چې بېټ نیکه په سلیمان غره کې بېل اوسېده او پر ژبه یې د نورو ژبو اثر نه و شوی. د شعر وزن او عروض یې هم د پښتنو ملي بدلو ته ډېر ورته دي او یو تکرارېدونکی کسر لري (لویه خدایه لویه خدایه) چې دغه پخوانی ادبي رنګ تراوسه هم د پښتنو په بدلو کې لیدل کېږي او ښکاري چې دا یو پخوانی اریایي مزیت دی. دا شعر د مضمون او ادبي فکر له پلوه هم پخواني اریایي سندرو ته ورته دی. په پخوانیو اریایي اقوامو کې (کوله-کهول) څومره اهمیت درلود؟، پر دغه کهول باندې اکثر اجتماعي تشکیلات بنا کېدل، دوی هر کله خپلې کورنۍ او کهولونه ډېرول او کورنۍ یې د ټولو نعمتونو مرکز ګڼله.)) د بېټ نیکه دا شعر که له (ریګویدا) سره مقابله کړو، نو د مضمون له پلوه له دې مناجات سره نږدېوالی لري: ((خدای د ژوندون واکمن دی، مالک الملک دی، دی ښاغلې کورنۍ سړو ته ورکوي، نو خدایه! موږ ستا مریي یو! بې له اولاده. بې ښېګڼې مو، مه وژنه!...)) (۴۷۲:۱۳-۴۷۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم زموږ ځينو ادبپوهانو د ببېتۍ نيکه دا شعر له محتوايي او شکلي پلوه پخوانيو اريايي سندرو ته ورته بللی او وايي چې له هغو سره زيات مشترکات لري، خو که له شکلي پلوه يې وڅېړو له عربي ژبې څخه له يوه راغلي شعري فورم (مثنوي) سره هم تر يوه حده اړخ لګوي. مثنوي هغه فورم دی چې هر بيت يې مستقله قافيه لري، ځينې بيتونه يې پر قافيې سربېره کېدی شي، رديفونه هم ولري، خو د ټولو مسرو د څپو شمېر يې سره مساوي وي او يو مشترک وزن تعقيبوي، هندسي جوړښت يې په دې ډول دی:

a_______________

a_______________

b_______________

b_______________

c_______________

c_______________

د بيتونو وروستی شمېر يې معلم نه دی، ځينې بيتونه که رديفه ولري، نو يوازې په رديف کې يې شکل لږ تغير وي.

=d_______________

=d_______________

د ببېتۍ نيکه دا شعر دوه بندونه لري چې د هر بند په پای کې يې (لويه خدايه لويه خدايه) کسر تکرارېږي، چې د لومړي بيت لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسره هم ده. له دغه تکراري کسر پرته که هر بیت یې په جلا جلا ډول وځېږو، نو د مثنوي فورم ته ورته دی. هر بیت یې خپله مستقله قافیه لري، ځینې بیتونه یې ردیفونه هم لري، خو ټول یو مشترک وزن تعقیبوي، د مسرو د څپو شمېر یې هم سره مساوي دی، هره مسره یې (۸) څپې لري او تر پایه همدا جوړښت تعقیبوي. له محتوايي پلوه دا شعر یو مناجات ګڼل کېږي چې بنده له خپل رب څخه په عذر او زارۍ خپله مدعا غواړي.

لکه څنګه چې یادونه وشوه دا شعر زړو اریایي سندرو ته ورته دی، خو دا خبره هم د یادونې وړ ده چې له ځینو جزیي توپیرونو پرته مثنوي فورم ته هم نږدې دی. خو له عربي څخه د راغلي مثنوي فورم ټول خصوصیات نه رانغاړي، نو ځکه خو په وروستي تحلیل کې زړو اریایي سندرو ته ورته یې ځکه بللای شو چې دا ځانګړنې په کې زیاتې دي.

## شیخ اسمعیل

**(۴۰۰هـ) حدود**

د پښتنو مورخان او د اسماء الرجال خاوندان لیکي: چې اسمعیل په اصل د بېټ نیکه زوی و او لکه چې دمخه مو ولوستل د خپل تره (سړبن) په کور کې لوی شوی و، نو دی په ((سړبني)) مشهور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چې سلیمان ماکو لیکي: اسمعیل د بېټ نیکه په کور کې لوی شوی و او د سلیمان په غره کې مېشته او هم هورې وفات شو، دا مورخ وایي:

((د اسمعیل مرقد واقع دی د کسې پر غره چې زه هلته تللی وم...))(۳۸: ۳۱)

دغه روایات نعمت الله هم کټ مټ په مخزن کې داسې تایید کړي دي:

((چون اسمعیل بسن رشدی رسید از ریاضات شاقه بمراتب ولایت رسید و این شیخ اسمعیل سړبنی پسر حضرت بیټ است... شیخ اسمعیل سړبنی قدس سره صاحب عبادت و ریاضت شاقه بود مقتدای وقت بعلوم لدنی کاشف اسرار طریقت و حقیقت بوده در ولایت روه چون بوطن مالوف رسیدند به مقام خواجه منزل گرفتند و خلایق از جاهای دور بملازمت شتافتند...)) ((سلیمان ماکو او خواجه نعمت الله هروي دواړه وایي چې د اسمعیل د ژوندانه ځای سلیمان غر و، بل ځای نعمت الله تصریح کوي چې دده مزار په هغه ځای کې دی چې (وازه خوا) یې بولي او وازه خوا د سلیمان د غره په لمنو کې ده، علاوه پر دغه پټه خزانه کې هم د اسمعیل احوال لیکل شوي او وایي چې دی د خرښبون معاصر و، څرنګه چې د خرښبون وفات په (۴۱۱هـ) دی، نو مونږ د اسمعیل د ژوند عصر هم دغه ګڼو.))(۴۷۴: ۱۳-۴۷۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسمعیل د خپلې کورنۍ مشهور عابد او خدای دوست سړی و د مخزن افغاني له روایاتو څخه ښکاري چې دی له خپله کوره په سیاحت هم تللی او له لویو اولیاوو سره یې لیدنه کتنه هم شوې وه.

## د اسمعیل شعرونه:

د اسمعیل شعرونه موږ ته په دوو وسیلو رارسېدلي دي؛ لومړی شعر یې هغه دی چې (سلیمان ماکو) په خپله تذکره کې په دې ډول رانقل کړی دی.

((نقل کاوه شي چې شیخ ملکیار ستانه به تل تر تله د شیخ اسمعیل ستر ستانه پاړکي ویل او ږغ به یې کاوه دا شیخ د سړبن زوی و.)) (۳۸: ۳۲) شعر یې دادی:

تېښته وکړه له ابلیسه      چې ابلیس لعین ښکاره سـي

هلته ورکه پلوشه سي      تول نړۍ توره تیاره سي

سړی وران سي له ابلیسه      غوخ د پس په کټاره سي

که هر چا ابلیس خرخ کړ      نو یې هله ننداره سي

که سړی ابلیس ته پړ سو      نو پر کور د ویر ناره سي

د اسمعیل یو بل شعر چې دده پر کورنیو احساساتو دلالت کوي، د پټې خزانې لیکوال یې په دې شرح لیکي:

((هسې وایي، چې یو وقت خرښبون بابا او اسمعیل د سړبن او بېټني نیکه په مخ کې ناست وو، د دوی کور و د کسې په غره نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خربښبون د پلار او تره له خوا په تګ او رخصت ماذون شو ، اسمعیل نیکه دا سې ناري وکړلې» (۵۱: ۱۸)

کـه یـون دی یـون دی | مـخ کــې بېلتــون دی
لــــه کسې غـره څخه | ځـــــي خربښـــبون دی
کـــــه وروره وروره | خربښــــــــبون وروره
تـــه چې بېلتون کـړې | زمـــا ویـــر تـــه ګـوره
چـــې ځي مـرغـې لـــه | تـــوري کرغـــي لــــه
هـــمـزولي پــاتــــه | ځــي څــه برغـــې لـــه
د خـــدای د پـــــاره | خربښــــــبون یـــــاره
چـــې هـېـر مـو نه کړې | زمــــورږ کهـــــول واړه
زړه مـــــــې ریږېــــږي | یــــار مـــې بېلېـــږي
بـــېلتون یـــې اور دی | ځـــان پـــه ســـوځېږي.

لکه څنګه چې مو یادونه وکړه اسمعیل یو روحاني شخصیت او له متصوفینو سره مل سړی و ، نو ځکه دده په لومړني شعر کې د وعظ، تلقین او نصیحت رنګ شته او ځنې عربي لغات هم په کې راغلي دي چې دده روحاني ژوند ښکاره کوي اما دویم شعر یې په ملـي وزن دی او د پښـتو ژبـې د مخصوصـو عروضـو او اهنـګ ښکارندویي کوي او پردي لغات هم نه لري، نو ځکه ویلای شو چې دا شعر هم د پښـتو ژبـې په زړې دورې پـورې اړه لـري او پـه هغـو اشعارو کې حسابېږي چې د نورو ژبـو اثـر لـږ پـرې شـوی دی. دا سې ناري تراوسه هم د پښتو ژبې په افسانو او نکلونو کې شته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعري وزن او عروض يې مخصوص دي او په يوه خاص اهنګ ويل کېږي.

د شکلي جوړښت له مخې د شيخ اسمعيل لومړی شعر د هغه غزل بڼه لري چې مطلع نه لري. ياني د سر بيت يې مقفی نه وي يا يې لومړۍ مسره قافيه نه لري. له دغه توپير پرته نور د غزل د فورم شکلي قوانين پرې د تطبيق وړ دي. ياني دا سې بڼه لري.

____________________

=a____________________

____________________

=a____________________

____________________

=a____________________

تر پايه

دلته دريېمه مسره هم قافيه او هم رديف لري، خو که هغه قافيه او رديف راغلي هم نه وای، څه ستونزه نه پېښېدله.

د څپيز جوړښت له مخې يې د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي دی، هره مسره يې (۸) څپې لري، البته د څلورم بيت د لومړۍ مسرې يوه څپه کمه ښکاري خو دا کېدی شي، د زمانې په تېرېدو سره يو څه ترې لوېدلي وي او يا هم د (خرخ) په تلفظ کې څه بدلون راغلی وي. نورې ټولې مسرې سره برابرې څپې لري او يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزن تعقیبوي. (ښکاره، تیاره، کتاره، ننداره، ناره) یې د قافیې کلمې دي او (سي سي) یې ردیف دی. دویم شعر ی‌ې چې زموږ تاریخ لیکونکو او ادبپوهان هغه زړې نارې ګڼلي، په واقعیت کې پنځه بندونه دي چې هر بند یې په اوسني اصطلاح یوه څلوریزه جوړوي. څلوریزه هغه ډول شعري فورم دی چې څلور مسرې لري، د څپو شمېر یې سره مساوي دی، لومړی بیت یې قافیه لري او د دویم بیت دویمه مسره یې د لومړي بیت قافیه تعقیبوي، ردیف په کې اختیاري دی.

لومړی بڼه

a________________

a________________

________________

a________________

دویمه بڼه:

=a________________

=a________________

________________

=a________________

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته یو واحد نظم له پنځه و څلوریزو څخه جوړ شوی، هر بند یې د یوې څلوریزې بڼه لري، خو څلوریزه یا رباعي بیا د بېته وایي چې څلور مسرې ولري، تر هغو زیاتې نه وي، خو دا شعر بیا پنځه بندونه او شل مسرې لري. د ټولو مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي دی، هره مسره یې (۵) څپې لري. لومړی بند یې پر قافیې سربېره ردیف هم لري، (یون، بېلتون، خرښبون) د لومړي بند د قافیې کلمې دي، (دی، دی) یې ردیف دی. په دویم بند کې (وروره، وروره، ګوره) د قافیې کلمې دي، ردیف نه لري، درېیم بند کې (مرغې، کرغې، برغې) د قافیې کلمې او (له، له) یې ردیف دی، په څلورم بند کې (دپاره، یاره، واړه) د قافیې کلمې دي، ردیف نه لري، البته (واړه) کې د قافیې د اوسنیو معیارونو له مخې یو څه عیب لیدل کېږي. په پنځم بند کې (رپېږي، بلېږي او سوځېږي) د قافیې کلمې دي، ردیف نه لري. په دې ډول که موږ دې شعر ته ګورو نو د پښتو په همغه پخوانۍ اصطلاح دا بېلابېلې نارې دي چې د څلوریزو بڼه هم لري، په خپل منځ کې یوه ارتباطي مانا او یو مشترک وزن لري او څپېز جوړښت یې د څلوریزو په شان دی. ټول نظم یوه محتوا تعقیبوي او د هغه خپل یار او رور بېلتون دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خربښبون

## (۴۰۰هـ)

په پښتو کې خربښبون ډېر شهرت لري، د مشهور (سړبن) زوی و چې د بېټ نیکه وراره کېږي او ددې کورنۍ یو معروف شاعر دی، دده درې زامن (کند ، زمند ، کاسي) هم خورا مشهور دي او پټه خزانه یې احوال داسې لیکي: ((د پښتون بابا د کسي د عبدالرشید لمسی و، خاوند ده ته ښکاره کمالات او کرامات ورکړي وو، د خدای په عبادت به بوخت و، نقل کا چې: د پلار په ژوند کې لا رخصت شو او د خپلو اولادو سره راغی له کسې څخه غوړې مرغې ته او کله به ولاړ د غنډان غره ته او هلته به یې خدای ستایه او نمانځه او په کال کې به یو وار تلی د خپل تره بېټني نیکه لیدنه به یې کوله او پس له وفاته به یې هم زیارت ته ورتلی، خربښبون بابا د شیخ اسمعیل سره چې د بېټني نیکه زوی و، لوی شو او هغه وخت چې خربښبون د کسې له غره غنډان ته راته، نو اسمعیل بابا په ده پسې ډېر وژړل...)) (۵۱: ۱۸)

تر دې وروسته د پټې خزانې لیکوال هغه داستان رانقلوي چې دمخه یې د اسمعیل په احوال کې یادونه وشوه او د اسمعیل هغه نارې لیکي چې د خربښبون په فراق کې یې کړې دي. پټه خزانه د خربښبون د هغه غبرګون (ځواب) اشعار هم نقل کړي چې د اسمعیل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نارو په غبرګون کې د خرښبون له خوا ویل شوی وو. زموږ ځینو ادبپوهانو دا اشعار څلوریځ (مربع) ګڼلي دي:

## د خرښبون بابا څلوریځ

بېلتانــــه نـــاره مـــې وســـوه پـــه کـــور بانـــدې
نـــه پـــوهېږم چـــې بـــه څـــه پـــېښ وي پـــه وړانـــدې
لـــه خپلوانـــو بـــه بېلېـــږم پـــه ســـرو ســـترګو
دواړه ســـترګې مـــې پـــه وینـــو دې ژړانـــدې

***

اســـمعیله ســـتا نـــارو مـــې زړګـــی سُـــری کـــځ
بېلتانـــه خرښـــبون بیـــا لـــه تـــا پـــردی کـــځ
نـــه هېرېـــږي کـــه مـــې بیـــا نـــه ســـتا یـــادی کـــځ
پـــه چـــړو د ویـــر بـــه پـــرې ســـي دزړه مرانـــدې

***

ځمـــه ځمـــه چـــې اوږد یـــون مـــې دی و مـــخ تـــه
دیـــا نـــه ځـــوری بـــه اچـــوم و تـــرخ تـــه
ستاســـې یـــاد بـــه مـــې وي بـــس د زړه وســـخ تـــه
کـــه دا مځکـــه غرونـــه ټـــول ســـي لانـــدې بانـــدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«پټه خزانه وايي چې خرښبون د خپل عمر په پای کې په مرغه کې ساکن شو او دا مرغه يا غوره مرغه هغه ځای دی چې د کندهار شرقي جنوبي خواته د ارغسان او کلات ترمنځ د کوړک او سليمان غره په لمنو کې واقع ده او لکه دمخه چې وويل شول، خرښبون د غنډان په غره کې هم اوسېده، چې دا غر هم د کلات خواته د ترنک په ناوه کې دی.

خرښبون پر (۴۱۱هـ) کال په مرغه کې وفات شو اولاد يې هم هورې اوسېده، خو دده د زوی کاسي زامن بېرته د کسي غره او پښين ته تللي وو او د کند او زمند اولاد په ننګرهار، خيبر او پېښور کې خپاره شول.

داسې ښکاري چې د خرښبون اولاد ډېر شوی او وروسته د پښتنو ډېر قبايل دده په نامه يادېدل، لکه چې پر (۸۲۰هـ) ميرزا شهرخ د هرات تيموري پاچا کندهار ته راغی، نو د غزنين مشران او د پرمل او خرشواني افغانانو مشران دلته دده حضور ته راغلل.

دا روايت د هرات د دربار مورخ عبدالرزاق سمرقندي راوړی او دا ځنې ښکاري چې خرشواني (خرښبوني) پښتانه په دغو وختونو کې هم په غزني او وازه خوا کې پراته وو.» (۱۳: ۴۸۰)

## ارزونه او شننه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«د خربښون دا څوابي ځلوريځ شعر له دې پلوه چې تقريباً ټول پښتو دی او د نورو ژبو کلمات نه لري، نو ددې ژبې په ادبي اثارو کې اهميت لري او دا ښکاره کوي چې تر دې وخته لا په پښتو کې د پردو ژبو کلمات ډېر نه وو ګډ شوي.

ددې نظم جوړښت په پښتو کې له عربي څخه راغلو شعري فورمونو سره پوره سمون نه خوري، که څه هم د سر لومړی بند يې د ځلوريزې بڼه لري او د دوو نورو بندونو درې مسرې يې په خپل منځ کې هم قافيه دي او ځلورمه مسره يې بيا د لومړي بند د مقفی مسرو قافيه تعقيبوي.

ياني دا چې هندسي بڼه يې په دې ډول ده:

a__________________

__________________

a__________________

a__________________

=b__________________

=b__________________

=b__________________

a__________________

=c__________________

=c__________________

(c) ketabton.com: The Digital Library

=c________________

a________________

په لومړي بند کې (باندې، وړاندې، ژړاندې) د قافيې کلمې دي، ردیف نه لري، په دویم بند کې (سوری، پردی، یادی) د قافیې کلمې (کئ، کئ) یې ردیف دي او د څلورمې مسرې (مراندې) یې د لومړي بند قافیه تعقیبوي، په دریم بند کې (مخ، ترخ، سخ) د قافیې کلمې او ( نه، نه) یې ردیف دی او په څلورمه مسره کې (باندې) یې د لومړي بند قافیه تعقیبوي. که څه هم زموږ ځینو ادبپوهانو دا نظم مربع (څلوریځ) ګڼلی، خو له عربي څخه راغلی مربع فورم په دې شعر ټول ځکه نه تطبیقېږي چې مربع فورم څلور مسرې او څلو بنده لري چې هر بند یې په خپل منځ کې مقفی وي، په دې مانا چې هر بند یې څلور مسرې لري چې درې مسرې یې بیا په خپل منځ کې ګډه قافیه لري او څلورمه مسره یې د لومړي بند د مسرې قافیه تعقیبوي، د لومړي بند څلور واړه مسرې په خپل منځ کې هم قافیه وي. مربع ټول څلور بندونه لري، نو ځکه یې څلوریځ یا مربع ګڼي، خو دلته ټول درې بندونه دي، د څلورمې مسرې قافیه یې د لومړي بند قافیه تعقیبوي، دلته د بندو له مخې مثلث ته ورته دی او د مسرو د شمېر له مخې بیا مربع ته ورته والی لري، د لومړي بند ټولې څلور مسرې یې هم په خپل منځ کې هم قافیه نه دي، دغه راز د دویم بند د دریېمې مسرې په قافیه او ردیف (یا دی کئ) هم د همدې بند له نورو قافیو او ردیفونو سره له ګرامري پلوه یو څه بېلوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاري. په دې ډول نو له عربي څخه د راغلو فورمونو مثلث او مربع دواړه فورمونه پرې په بشپړ ډول د تطبيق وړ نه دي، خو د دواړو يو څه ځانګړنې په کې شته، د څپو د شمېر له مخې ټولې مسرې يوشان دي، (۱۲) (۱۲) څپې لري.

سرمحقق زلمي هېوادمل بيا په خپل اثر د پښتو ادبياتو تاريخ (لرغونې او منځنۍ دورې) کې د دغو دريو تنو شاعرانو (شيخ بېټنی، شيخ اسماعيل او خرښبون) يوه ټوليزه ارزونه کړې، هغه ليکي:

۱) دغه درې کسه شيخ بېټنی، شيخ اسماعيل او خرښبون د اسلامي عصر په دريمه پېړۍ او د څلورمې پېړۍ په شاوخوا کې د کسې په غره کې اوسېدلي دي او د هغه زمان ددې سيمې په پښتنو کې د نوم او شهرت خاوندان وو. دلته بايد دا خبره هېره نه کړو، چې د دوی تر زمانې دمخه پښتانه په غور او د سليمان په غرونو او د اوسني افغانستان اوروه په سيمو کې خپل سياسي او ملي شهرت ته رسېدلي وو او حتی د دوی تر زمانې دمخه يې د هندوستان سيمو ته هم نفوذ کړی و.

۲) د کسې د غره په لمنو کې د پښتو اثارو د دغو دريو لومړنيو هستوونکو له ډلې څخه د شيخ بېټني د ژوند زمانه هم همدغه مهال ټاکل کېدی شي، ځکه دا دواړه هم عصره وو او دواړو يو د بل په بېلتانه کې سوې نارې ويلې دي. په مخزن افغاني کې د نعمت الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

هروي د ليکنې له مخې د اسماعيل قبر په وازه خوا کې واقع دی او وازه خوا هم د سليمان د غرو په لمنو کې واقع ده.

۳) د کسې د غره په لمنو کې دغه لومړنې ايجاد شوې پارکې د خپلو جوړښتي خصوصياتو له مخې د پښتو د لرغونو سندرو په جمله کې حسابېږي. يوازې د اسماعيل يو پارکی په شکلي لحاظ په ظاهري ډول قطعې ته پاتېږي. خو موږ وايو، چې دا ټوټه شعر د شرقي شاعرۍ د قطعې ټول شرايط د وزن او تول له نظره نه لري او زموږ د پښتو کسرونو په ابتدايي ډولونو کې يې درولای شو.

۴) دغه اشعار په موضوعي لحاظ د بېلابېلو موضوعاتو بيانوونکي دي:

الف: د شيخ بېټني په مناجات کې يوه اورنۍ الهي مينه په ډېرو ساده الفاظو کې بيان شوې ده او موږ له دغه مناجاته څخه په پښتو ادبياتو کې د عرفاني افکارو د پيداکېدو لومړنی او ابتدايي څرکونه هم ايستلای شو.

ب: په دغه مناجات کې شيخ بېټنی د خپلو خلکو د زياتېدو هيله څرګنده کړې ده، دغسې افکار په زړو اريايي ادبياتو کې هم بيان شوي دي. استاد عبدالحی حبيبي د شيخ بېټني دغه مناجات د ريګويدا له ځينو سندرو سره مقايسه کړی دی او د شيخ او د ريګويدا د يوې سندرې ترمنځ يې مشابهتونه ښوولي دي.

ج: د شيخ بېټني د مناجات له مطالعې څخه د هغه وخت د پښتنو د ژوندانه اشکال هم ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د: د شیخ اسماعیل یو پاړکی دیني او اسلامي روحیه لري او د همده بل پاړکی او د خربښون پاړکی د کورنۍ د غړو ترمنځ، د مینې او محبت روحیه تمثیلوي.

هـ : د کسی د غره په لمنو کې دغه ایجاد شوي لومړني پاړکي، د پښتو په لومړنیو پاړکیو کې حسابېږي، نو ځکه په دغسې اشعارو کې د هنري ښېګڼو او ښکلا پلټنه چندان مورد نه لري، خو بیا هم د شیخ بېټني په مناجات کې یوه ساده او ابتدایي ښکلا لیدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شيخ اسعد سوري

## (۴۲۵هـ)

د سوري کورنۍ تاريخي احوال مو دمخه څه ناڅه روښانه کړل او دا راته څرګنده شوه چې د پښتو پخواني او ډېر لومړني اثار په دې کورنۍ پورې اړه لري او کله چې دوی سلطنت درلود، ادبي ذوق هم ورسره و.

له دې ټبره د پښتو يو بل مقتدر اور ژبی شاعر هم راوتلی دی چې نوم يې (اسعد) او د (محمد) زوی و، دا شاعر په لرغونې دوره کې ډېر لوړ مقام لري او د (۴۰۰هـ) په شاوخوا کې ژوندی و، پټې خزانې د (لرغوني پښتانه) په حواله له تاريخ سوري څخه دا سې نقل کړې دی.

((شيخ کټه په کتاب کې د لرغوني پښتانه له تاريخ سوري هسې نقل کا چې: اسعد سوري په غور کې اوسېده او هلته د سوري خاندان په پادشاهۍ کې ډېر عزتمند و شيخ اسعد د محمد زوی و چې په کال سنه (۴۲۵هـ) هجري په بغنين کې وفات شو شيخ اسعد ډېر ښه اشعار ويل نقل کا چې سلطان محمود غازي پر غور باندې د امير محمد سوري سره جګړه وکړه او په اهنګرانو يې محصور کا په دې وخت شيخ اسعد هم د اهنګران په کوټ کې و، هغه وخت چې سلطان محمود امير محمد سوري ونيو او بندي يې بوت غزني ته، نو امير محمد سوري چې خورا زړور او عادل ضابط امير و، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

غیرته د بند مړ شو او شیخ اسعد چې دوست و د امیر محمد سوري پر مرګ یې ساندې وویلې.)) (۵۱: ۳۸)

په دې ډول اسعد سوري د پټې خزانې په قول په اهنګران کې اوسېده او وفات یې د (زمینداور) په (بغنین) کې دی، دا شاعر لکه د سوري له ټبره چې و د پادشاهانو په دربار کې معتبر هم و او له امیر محمد سوري سره یې اشنایي او دوستي لرله. امیر محمد سوري د غور له مشهورو شاهانو څخه دی چې (قاضي منهاج سراج) یې احوال داسې راوړی:

((... چون تخت با میر محمود سبکتګین رسید امارت غوریان با میر محمد سوری رسیده بود ممالک غور را ضبط کرده ګاهی سلطان محمود را اطاعت نمودی و ګاه طریق عصیان سپردی و تمرد ظاهر کردی تا سلطان محمود بالشکر ګران بجانب غور امد و در قلعه اهنګران محصر شد و مدتها ان قلعه نګاه داشت و قتال بسیار کرد و بعد از مدتها بطریق صلح از قلعه فرود آمد و بخدمت سلطان محمود پیوست و سلطان او را با پسر کهتر او که شیش نام بود، بجانب غزنین برد چون بحدود ګیلان (نزدیک غزنه) رسید امیر محمد سوری برحمت حق پیوست بعضی چنان روایت کنند: که او چون اسیر شد از غایت حمیت که داشت طاقت مذلت نیاورد، خاتمی داشت در زیر نګین زهر تعبیه کرده بود انرا بکار برده در ګذشت.))(۱۳: ۴۸۲-۴۸۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امیر محمد سوري د مرګ په باب د پټې خزانې او طبقات ناصري روایت یو راز دی، بیهقي هم لیکي چې سلطان محمود پر (۴۰۵هـ) له بست او جنوبي خوا پر غور حمله وکړه او ویې نیو.

ابن اثیر وايي: دا جنګ پر (۴۰۱هـ) و چې د سلطان محمود له خوا د هرات حاکم (التونتاش) او د طوس حاکم (ارسلان جاذب) پر اهنګران راغلل او ابن سوري له لسو زرو لښکرو سره د دوی سره سخت جنګ وکړ، خو په پای کې دی ونیول شو او په زهرو یې ځان مړ کړ. (حمدالله مستوفي) هم لیکي، چې سوري د غور پاچا له سلطان محمود سره جنګ وکړ ځو په پای کې دی مړ شو، د پارسي شاعر عنصري هم په یوه قصیده کې چې د سلطان مدح کوي دې جګړې ته داسې اشاره کوي:

ګرفتن پسر سوری و کشادن غور

هراینه نتوان کرد در سخن مضمر

د مورخانو له دغو روایاتو ښه ښکاري چې محمد سوري په غور کې د سلطان محمود لوی معاصر رقیب او پایتخت یې اهنګران و او زموږ د پښتو ډېر مقتدر او لوی شاعر اسعد هم له دې پاچا سره هورې اوسېده او ددغه پاچا د دربار یو قصیده ویونکی شاعر و. د پټې خزانې مولف د لرغوني پښتانه په ذریعه له تاریخ سوري څخه یوه بولله (قصیده) رانقلوي چې شیخ اسعد سوري د امیر محمد سوري په ویرنه (رثاء) کې ویلې وه او هغه داده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فــــلک لــــه چـــارو خــــه وکــــړم کوکـــار
زمولـــوي هرګـــل چـــې خانـــدي پـــه بهـــار
هرغټـــول چـــې پـــه بيـــديا غوړيـــده وکـــا
ربـــژوي يـــې پـــاڼې کانـــدي تـــار پـــه تـــار
ډېـــر مخونـــه د فلـــک ځپېـــړه شـــنه کـــا
ډېـــر ســـرونه کـــا ترخـــاورو لانـــدې زار
د واکمـــن لـــه ســـره خـــول پرېباســـي مـــړ ســـي
د بېوزلـــو وينـــې تـــوې کانـــدي خونخـــوار
چـــې لـــه برمـــه يـــې زمـــری رپـــي ځنګلـــو کـــې
لـــــه اکوبـــــه يـــــې ډاري تېـــــرو جبـــــار
هـــم يـــې غشـــي ســـکڼې ډال د ژوبلـــورو
رســـتمان ځنـــې ځغـــلا کانـــدي پـــه ډار
چـــې يـــې مـــلا وي نـــه کړېـــږي پـــه غښـــتليو
دا فلـــک پـــر وکـــا خـــه کـــاري ګـــوزار
پـــه يـــوه ګـــردښت يـــې پرېباســـي لـــه برمـــه
نـــه يـــې غشـــی نـــه لينـــدۍ وي نـــه يـــې ســـپار
خـــه تېـــری خـــه ظلـــم کانـــدې ای فلکـــه
ســـتا لـــه لاس نـــه دی هـــېڅ ګـــل بـــې لـــه خـــار
پـــه ويرژلـــو لـــور نـــه کـــړې پـــه زړه کراړيـــه
پـــــر نـــتليـــــو اوروې د غـــــم نـــاتـــــار
هـــېڅ روغـــی مـــې پـــه زړه نســـته ســـتا لـــه ځـــوره
بېلـــوي پـــه ژړا ژړ مـــين لـــه يـــار

(c) ketabton.com: The Digital Library

لــه تېریـــو دې اوښـــې څـــاڅي لـــه اوربځیـــو
ځنـــې ژاړي پـــه ورتې ورتې ســـتا لـــه شـــنار
نـه بـه لاس واخلـې لـه ځـوره نـه بـه لـورې
نـــه بـــه مـــلا کـــړې لـــه ببوزلـــو لـــه تـــرار
نـــه بـــه زړه وســـوځوې پـــه هېڅـــا بانـــدې
نـــه بـــه پرېـــوځې لـــه ګردښـــته لـــه مـــدار
نـــه بـــه وصـــل کـــړې مـــین لـــه بـــل مینـــه
نـــــه بـــــه درملـــــې ټپونـــــه د افګـــــار
ســـتا لـــه لاســـه دي پراتـــه ژوبـــل زګېـــروي کـــا
هـــر پلـــو تـــه ټپـــي زړونـــه پـــه ځـــار ځـــار
کلـــه غـــوڅې کانـــدې مرانـــدې د زړګیـــو
کلـــــه تېرباســـــې وګـــــړی هوښـــــیار
کلـــــه ټکـــــې واچـــــوې پـــــر نـــــازولیو
کلـــه څېـــرې کـــړې ګرېـــوان د نمنځـــي چـــار
کلـــه غورځـــوې واکمـــن لـــه پلازونـــو
کلـــه کېنـــوې پـــه خـــاورو کـــې بـــادار
زمـــوږ پـــر زړونـــو دې نـــن بیـــا وویشـــت
ودې ژوبللـــــه پـــــه دې غشـــــي هـــــزار
پـــر ســـوریو بانـــدې ویـــر پرېـــووت لـــه پاســـه
محمـــــد واکمـــــن چـــــې ولاړی پـــــه بـــــل دار
یـــو وار شـــو اســـیر پـــه لاس د میرخمنـــو
انتقـــال یـــې وکـــړ قبـــر لـــه بـــل وار

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــــه ســــــماو یــــــې ودان اهنګـــــران و
پـــه تېیکنـــه وو پـــر درســـت جهـــان اوښـــار
د محمـــــود د ژوبلـــورو پـــه لاس کنبـــېوت
چـــې غزنـــه تـــه یـــې بـــاتلی پـــه تلـــوار
ننګیـــالیو لـــره قیـــد مړینـــه ده ځکـــه
ســـه یـــې والوتلـــه هســـک تـــه پـــر دې لار
تـــر نـــړۍ یـــې غـــوره خـــاورې هـــدیره کـــا
د زمریـــــو پـــــه بېړیـــــو کلـــــه وي ښـــوار
پـــه دې ویـــر د غـــور وګـــړي تـــور نمـــري شـــول
پـــه دې ویـــر رڼـــا تیـــاره ســـوله د ښـــار
ګـــوره ښـــاخي راڼـــې اوښـــې لـــه دې غرونـــو
دا کړونګـــې ســـاندې لـــي پـــه شـــورهار
نـــه هغـــه زرغـــا د غرونـــو د بیـــدیا ده
نـــه د زرکیـــو پـــه مســـا دی کتهـــار
نـــه غتهـــول بیـــا زرغـــونېږي پـــه لاښـــونو
نـــه بـــامي بیـــا مســـیده کـــا پـــه کهســـار
نـــه لـــه غرجـــه بیـــا راځـــي کـــاروان د مشـــکو
نـــه رادرومـــي غـــور تـــه بیـــا جـــوپې د شـــار
د پســـــرلي اوره تـــــودې اوښـــــې توینـــــه
مرغلـــرې بـــه نیســـان نـــه کـــړي نثـــار
دا پـــه ښـــه چـــې محمـــد ولاړ لـــه نړیـــه
پـــه ویرنـــه یـــې ســـو غـــور تهـــول ســـوګوار

(c) ketabton.com: The Digital Library

نــه ښــکاربږي هغــه ســور د ســور پــه لتــو
نــــه ځلېـــږي هغـــه لمـــر پـــر دې ديــــار
چـــې بـــه نجليـــو پـــه نڅـــا پـــه کـــې خندلـــه
چــــې بــــه پېغلـــو کـــا اتـــڼ قطـــار قطـــار
هغــه غــور پــه ويــر ناتــار د واکمــن کنبوســت
هغــــه غـــور ســـو د جانـــدم غونـــدې ســـوړار
لاس دې مـــات ســـه ای فلکـــه چـــې دې وکـــا
محمـــد غونـــدې زمـــری د مړينـــې ښـــکار
شـــين زړګـــی فلکـــه ولـــې لا ولاړ يـــې
ای د غــور غرونــو پــه څــه نــه ســوئ غبــار
مځکـــې ولـــې پـــه رېږدلـــو نـــه پرېـــوځې
لانــدې بانــدې ســه چــې ورک ســي دا شــعار
چــې زمــري غونــدې واکمــن ځــي لــه جهانــه
چــې څــوک نــه کــړي پــه نــړۍ بانــدې قــرار
ســخ پــه تــا ای محمــده د غـــور لمــر وې
پـــه نـــړۍ بـــه نـــه وي ســـتا د عـــدل ســـار
تــه پــر ننګــه وې ولاړ پــه ننــګ کــې مــړ ســوې
هــم پــه پــر ننګــه دې پــه ننګــه کــا ځــان جــار
کـه سـوري دې پـه تـګ ويـر کانـدي ويـرمن سـول
هــم بــه ويــاړي ســتا پــه نــوم ســتا پــه تېــار
پـــه جنـــت کـــې دې و تـــون زمـــوږ واکمنـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـــم پـــه تـــا دې وي ډېـــر لـــور د غفـــار.

## ددې بوللې ارزونه او شننه:

په پښتو لرغوني ادب کې شيخ اسعد سوري لومړی معلوم سړی دی، چې دده شعر د پارسي د همعصرو شاعرانو لـه اثـارو سـره نږدېوالی، ادبي رابطه او قرابت لري. دا خو ښکاره ده چې د (۴۰۰هـ) په حدودو کې د پارسي ادب د ساماني شاهانو په دربارو کې په ښه ډول روزل شوی و او بيا د غزنويانو پـه دربـارو کـې چـې د پارسـي شاعرانو د تجمع او راټولېدو ځای و، هم لا پسې روزل کېده. په دې وختـو کـې سـلطان محمـود پـه غزنـي کـې سـلطنت کـاوه، نـو ډېـر نوميالي پارسي شاعران په غزني کې راټول شوي او د قصيدې ويلو د عروج وخت و.

که د عنصري، فرخي، عسجدي او نـورو هغـو پارسي شاعرانو چې د غزنـي پـه دربـار کـې وو، اثـار او اشـعار وکتـل شـي، نـو دا ښکاري چې دغـه مهـال شـاعرانو او عمومـاً قصيدې ويلو تـه مخـه کړې وه او پر دغه وخت دغه ادبي فـن بشـپړ او پـوخ شـو. غزنـي او د غـور لتـې سـره نـږدې دي او د ادب او مـدنيت دغـو دوو مرکزونـو ضرور روابط سره درلودل، نو ځکه مـوږ لکـه پـه غزني کې چې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغو وختو کې ډېر قصیده ویونکي وینو، په غور کې هم ددې ادبي میلان او ذوق اثر ښکاره دی که تاسو د اسعد سوري د مرثیې دغه غرا قصیده له نورو هغو پښتو اثارو سره چې هم په دغو وختو کې په غرو او دښتو کې ویل شوي دي. ځنګ په ځنګ کښېږدئ. نو بې له کتنې او پلټنې څخه دا لاندې نتایج لاس ته راځي:

(۱) د وزن او عروضي کیفیت له پلوه دا قصیده د پارسي د اوږدو قصایدو په ډول ویل شوې ده او د څپیز خجیز جوړښت له مخې د پښتو د خپل شعري جوړښت تابع ده.

(۲) شاعر د پارسي قصیدو په ډول لومړی له فلکه شکوه کوي او فلک غندي، بیا نو خپل مطلب ته مخه کوي چې د محمد سوري ویر دی او دا تېښته یا ورتګ کټ مټ د پارسی قصیده ویونکیو په ډول دی.

(۳) په دې قصیده کې ډېر پارسي او عربي کلمات راغلي دي او دا ښکاره کوي چې په دغو وختو کې د غور پښتو خالصه نه وه، بلکې ډېر پارسي لغت ورسره ګډ شوي وو.

(۴) سره له دې چې په دې قصیده کې ډېر عربي او پارسي کلمات شته، بیا هم ډېر نادر او پخواني پښتو لغات لري او دا ځنې ښکاري چې تر دغه وخته لا پښتو ژبه په غور کې د لغاتو او کلماتو له پلوه ارته او غنې ژبه وه او تر دې دورې وروسته یې ډېر مغتنم ادبي مواد له لاسه ایستلي دي چې په لغوي شننه کې په ورته نغوته وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۵) دا قصیده په سلاست، بلاغت او ادبي ښېګڼو کې د پښتو له لومړۍ درجې اشعارو څخه ده او دا ښکاره کوي چې اسعد یو ډېر مقتدر او زبردست شاعر و، چې په خورا ښه ډول یې د محمد مرګ تصویر کړی او د خپل ویر تاثرات یې هم په استادۍ او مهارت په دې قصیده کې ځای کړي دي.

وګورئ شاعر د قصیدې په پیل کې فلک په غایب ډول غندي او دده ظلمونه بیانوي، بیا له (څه تېری څه ظلم کاندې ای فلکه!) بېرته له غیابه حاضر او مخاطب ته رجوع کوي او له مغایبې څخه مخاطبې ته التفات کاندي. دا مخاطبه تر هغه ځایه ده چې د ګرېز یا تېښتې (تخلص) موقع ده، وایي: (زمونږ پر زړونو دې نن بیا یو غشی وویشت) ترپایه...

په مرثیه قصیدو کې د غزنویانو له عصره دا رسم و چې شاعر به کوښښ کاوه د خپل مړه ممدوح صفات او ښېګڼې په داسې ډول وښیي چې د هغه مقام د خلکو په نظر کې ډېر لوړ ثابت شي او دده د مرګ د ویر اسباب او علل هم وښیي. لکه استاد (ابوالحسن علي بن جولوغ سیستاني) چې د (سلطان محمود) به مرثیه کې یې د غزني د ښار حسرتناک منظر او د خلکو ویر او ناورین څرګند کړی:

شهر غزنین نه همانست که من دیدم پار
چه فتاده است که امسال دګرګون شده کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسعد سوري په بولله (قصيده) کې هم د محمد د مرګ پر وخت د غور ويرجن او غمناک منظر په ښه ډول تصوير شوی دی:

((په دې وير د غور وګړي تور نمري شول ترپايه... اسعد خپله استادي په دې قصيده کې ښه ښکاره کړې ده، دی د غور د وير او ناورين مناظر هسې تصويروي، چې په مقابل کې د خوښۍ، مسرت او نشاط پخواني رنګين تصاوير هم ښيي، وايي: په هغو غرو کې چې به مستې زرکې په مساکتهار کاوه او د غور پېغلو نجونو به نڅاوې او اتنونه په کې کول، اوس هلته ماتم او وير پروت دی. هېڅ هغه نشاط او خوښې نشته.

د فرخي او اسعد سوري د شاعرانه تخيل او تصوير ترمنځ دومره فرق دی، چې فرخي د غزني د ښاريانو غمګين منظر ښودلی دی، د حاجيانو، عاملانو، درباريانو او لښکرو د وير حالت يې تصوير کړی دی، چې يوه نارې غلبلې وهلې، نورو دوکانونه تړلي وو او له يوه خولۍ ورکه وه او د بل پګړۍ، په غاړه کې کلاوه شوې وه او له ميرزايانو څخه مشوانۍ ورکې وې، سرونه يې په دېوالو وهل او ځينو پر سرونو لاسونه نيولي او بعضو خلکو خپل لاسونه چيچلي وو!!!

په يوه ښار کې د وير او ماتم مناظر هم دغه وي چې فرخي تصوير کړي دي، خو که دا شاعرانه تصوير او ترسيم د اسعد سوري له دې بيتونو سره مقابله کړئ، وبه وينئ چې د غزني په تصوير کې د جمال او ښکلا برخه نه شته او د غور ښکلا او ښايست د وير او غم پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت هم ترسیم شوی دی او دا د شاعر استادي، مهارت او ښکلا خوښونه ده چې په تصویر او محاکات کې یې ډېر قوت پیدا کړی دی:

ګوره ښاخي رڼې اوښې له دې غرونو
دا کړونګی ساندې لي په شور هار
نه هغه زرغا د غرونو د بیدیا ده
نه د زرکیو په مسا دي کتهار
نه غټول بیا زرغونېږي په لاښونو
نه بامي بیا مسېده کا په کهسار
نه له غرجه بیا راځي کاروان د مشکو
نه رادرومي غور ته بیا جوپې د شار
د پسرلي اوره تودې اوښې توینه
مرغلرې به نیسان نه کړي نثار

اسعد د بوللې په پای کې د خپل ویر احساسات په خورا قوت ښکاره کوي، اسمان ته وایي چې ولې لا ولاړ یې؟

ای د غور غرونو ولې نه غبار کېږئ؟ ای مځکې ولې په زلزله نه کښېوځې.

دا خطابونه په یوه داسې ډول کوي چې د محمد د مرګ د واقعې اهمیت او غمجنتوب ښه ښکاره کېږي او دا هم د شعر یو ډول کمال دی چې مخاطب ته هسې احوال تصویر کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قصيدې په پای کې اسعد د پښتنو د هغه ملي روح ترجماني کوي، چې د دوی ټول اشعار پرې ډک دي، که څه هم د محمد پر مرګ ډېر وير کوي او دا ماتم دومره دروند ګڼي چې بايد ځمکه چاودلې او اسمان نسکور شوی وای، خو چې دی د ننګ او ناموس په لاره مړ شوی دی، نو يې په نامه هم وياړي او په داسې مرګ چې د ننګ او ناموس په لار کې وي، افتخار هم کوي:

که سوري دې په تګ وير کاندي ويرمن سول

هم به وياړي ستا په نوم ستا په ټبار)) (۱۳: ۴۹۴)

دا ډول ملي روحيه د پښتو په ولسي او ليکلي ادب دواړو کې خوندي ده.

((د شيخ اسعد سوري دا قصيده ټوله (۴۴) بيته ده چې (۱۹) بيتونه يې تمهيدي دي او په دې بيتونو کې شاعر د فلک د ظلم او تېري مناظر په خورا استادۍ بيانوي. بيا وروسته فلک ته خطاب کوي. دغسې خطابي بيتونه بيا (۱۱) دي او تر دې خطابي بيتونو وروسته شاعر خپل اصلي مقصد ته راځي چې هغه د امير محمد سوري پر مړينه وير او ماتم کول دي او ددغه غم ترسيمول دي. د قصيدې وروستۍ برخه شاعر پر يوې داسې اجتماعي او اخلاقي نتيجې ودرولې چې د پښتنو له ملي عنعناتو سره سمون خوري او د پنځمې پېړۍ په پيل کې د غور د سوري افغانانو د ملي احساس ښکارندويي کوي.)) (۵۳: ۴۴-۴۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چې دمخه مو يادونه وکړه، د شيخ اسعد سوري په دې قصيده کې د دريو ژبو لغتونه کارېدلي، پښتو، دري او عربي، د دري او عربي تاثيرات دا وخت تر پخوا زيات څرګند شوي دي. په دې قصيده کې، (بهار، خونخوار، خار، افګار، بادار، هزار، دار، جهان، هديره، کهسار، نيسان، سوګوار، ديار، جاندم، غبار، سپار) او ځينې نورې دري کلمې دي، ددې ترڅنګ يو شمېر داسې کلمې هم په کې شته چې په پښتو او دري کې يوشان کارول کېږي، لکه، کاروان، مشک، جوپه، جار، بيديا، ګوزار او ځينې نورې کلمې، پر دري سربېره په دې قصيده کې پام وړ شمېر عربي کلمې هم شته، لکه (فلک، مدار، وصل، محمد او محمود، امير، انتقال، قيد، نثار، قطار، شعار، قرار، عدل، جنت، غفار) او ځينې نورې عربي کلمې دي.

په دې شعر کې ځينې نورې داسې کلمې هم کارېدلي چې اوس ډېرې نه کارېږي، په اصطلاح متروکې دي يا نيمه متروکې دي او يا هم اوس په پخوانۍ بڼه نه کارول کېږي. لکه زمولوي (مړاوي کوي)، اکوب (جلال)، تېرو (تېرى، ظلم)، سکڼي (غوځوي)، ژبلور (جنګي، سپاهي)، ځغلا (تېښته)، ترار (مضطرب)، نه به درملي (علاج به يې ونه کړي)، ټکه (صاقه)، نمنځي چار (زاهد او انصاف)، ټيکنه (عدالت)، اوځار (ظاهر او ښکاره)، باتلى (د بوتلي پخوانۍ شکل)، سه (ساه، روح)، ببړى (زولانه)، څوار (صبر)، زرغا (زرغونتيا، شينوالى)، مسا (موسکا، تر شونډو ې خندا)، لاښ (د غره کمر)، بامي (د يوه ګل نوم)، غرج (غرجستان)، جوپه (قافله)، شار (د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرجستان د مشرانو لقب)، دویم سوړار (سوری او توده دښته)، رېږدله (زلزله)، سخ (ښه حال)، سار (ساری)، تبار (ټبر، کورنۍ)، تون (ځای) او ځيني نورې کلمې دي چې اوس په ژبه او محاوره کې په دې شکل ډېرې نه کارول کېږي.

د شکل له پلوه لکه څنګه چې مو دمخه يادونه وکړه دا يوه بشپړه بولله يا قصيده ده چې د وخت په معيارونو برابرې درې برخې لري، تشبيب يا تغزل يا د پيل برخه، اصلي مطلب يا د موصوف ستاينه او دريمه برخه خپل ممدوح ته دعا ده، دا قصيده دا دريواړه برخې لري. دا قصيده ټوله (۴۴) بيتونه لري. د مقفی مسرو د څپو شمېر يې په خپل منځ کې سره برابر دی يانې هره مسره يې (۱۱) څپې او د نامقفی مسرو شمېر بيا په خپل منځ کې مسره برابر دی يانې دا چې (۱۲) څپې لري. په پښتو کې يوه قاعده داده چې په غزل او قصيده کې کله چې مقفی مسرې (۱۱) څپې ولري، شاعر يا ناظم په ځينو وختونو کې اړ وځي چې دمقفی مسرو يوه څپه زياته کړې او که زياته يې نه کړي، نو وزن نه پوره کوي، دا حالت ډېر عام نه دی، يوازې په همدې يوولس څپيزو مسرو او ځينو نورو استثنايي حالاتو کې په نورو مسرو کې هم پېښېږي. دا قصيده رديف نه لري (کوکار، بهار، تار، زار، خونخوار، جبار، ډار، ګوزار، سپار، خار، ناتار، يار، شنار، ترار، مدار، افګار، خار، هوښيار، جار، بادار، هزار، وار، ښار، تلوار، لار، څوار، ښار، شرهار، کتهار، کهسار، شار، نثار، سوګوار، ديار، قطار، سوړار، ښکار، غبار، شعار، قرار، سار، جار، ټبار او غفار) يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قافيې کلمې دي. د خپل تحليل د وروستۍ نتيجې په توګه وايو چې د محتوايي فورم له مخې دا نظم يوه مرثيه يا ويرنه ده او د شکل له مخې يوه پوره قصيده. د ويرنې په باب به پر خپل ځای رڼا واچول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شیخ تیمن کاکړ

## د (۵۵۰هـ) حدود

شيخ تيمن د (کاکړ نيکه) زوی د پښتو له پخوانيو شاعرانو څخه دی چې د پټې خزانې مولف دده احوال او اشعار د شيخ بستان بړيڅ له (بستان الاوليا) څخه رانقل کړي دي. وايي چې شيخ تيمن د کاکړو له سيمې (کاکړستان) څخه د غور خواته ولاړ او هلته مېشت شو او دده اولاده تر اوسه هم په غور کې شته او په تيمني قبيلې پورې اړه لري، په خپله تيمن زاهد او عابد سړی و، کله کله به له غوره ږوب ته تللو او د خپل پلار کاکړ ليدنه به يې کوله، په غور کې دی په (کجران) کې اوسېده، چې د غور جنوبي برخه ده او د (زميندا ور) شمال شرقي خواته پرته ده او مورخانو هم (کجوران) يا (کجران) ليکلی دی.

د بستان الاوليا په روايت چې پټې خزانې رانقل کړی دی، شيخ تيمن کاکړ د (علاوالدين خان حسين سام) معاصر و چې ددې پاچا د سلطنت وخت د (۵۵۰هـ) حدود دی او هم ددغه پاچا په عصر په کجران کې وفات شوی دی.

د پټې خزانې مولف وايي: زما پلار داودخان په بستان الاولياء کې د شيخ تيمن دغه لاندې شعر لوستلی و او ما له خپله پلاره واورېده، دا شعر په پښتو قديمو اشعارو کې ښه عشقي نښه ده، د وزن، الفاظو او کلماتو له پلوه خالص او سوچه پښتو شعر ګڼه شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګهيځ رڼا د لمر خپره سوه
زما پر کور د وير ناره سوه
د بېلتون ورځ توره تياره سوه
ړغ سو ناڅاپه چې بېلتون راغی

***

زړه مې له دې ويرنې شين دی
په ژړا ژاړم څه ناورين دی
زرغون له اوښو مې سادين دی
په نول نولېږم چې تاخون راغی

***

نه به بيا يم نه به بيا راسي
نه به تياره شپه زما رڼا سي
نه به شهۍ راته پخلا سي
بېلېږي پېر يې اوس د يون راغی

***

د ښنتن پار دی هېر مې نه کړي
آغلیه مخ چې په يانه کړي
اور بل دې پرېښوی واته کړي
پر ما د بل اور کړاوون راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیخ تیمن دا لوړ شعر چې په سوچه پښتو دی او ملي وزن لري له هغو اشعارو څخه ګڼل کېږي، چې غنایي (لیریک) او د موسیقیت خوا هم لري او له عشقي تغنی غږونو سره یې اړه ده او لکه پښتو اکثر عوامي اشعار چې په خوږه او خاص غږ غږول کېږي.

د تیمن نور حال موږ ته نه دی معلوم، فقط له دغه یوه شعره دومره ښکاري چې تیمن به یو عاشق مشربه سړی و او کله کله به یې د خپلو عاشقانه جذباتو په شور او هیجان کې خواږه شعرونه ویل، دده د شعر ژبه سپېڅلې، پاکه او سپینه ده او اشعار یې هم روان، سلیس او خواږه دي او د لرغونو شاعرانو په ډله کې د تیمن شعر خاص مقام لري.

## د شیخ تیمن د شعر شننه او ارزونه:

لکه څنګه چې زموږ ادبپوهانو یادونه کړې د شیخ تیمن دا شعر له سوچه پښتو کلمو څخه رغېدلی دی او وزن یې د ملي اوزانو مطابق ګڼلی دی. په دې شعر کې رښتیا هم ټولې نږه پښتو کلمې کارول شوي یوازې د (تاخون) کلمه کېدی شي له دري ژبې سره مشترکه وي. نورې ټولې پښتو کلمې دي، ځینې داسې پښتو کلمې په کې هم کارېدلې چې اوس نه کارول کېږي او یا هم ډېرې کمې کارول کېږي، په اصطلاح متروکې او نیمه متروکې ګڼل کېږي. لکه (سادین)، (نول)، (نولیزم)، (شهی)، (پېر)، (یانه). ددې ترڅنګ (ګهیځ، ببلتون، زرغون، یون، کړاوون) او نورې کلمې هم سوچه پښتو کلمې دي خو په اوسنۍ پښتو کې هم په ورته مانا کارول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي. د شکلي جوړښت په باب يې بايد وويل شي چې دا شعر له څلورو ټوټو څخه رغېدلی، يانې څلور بندونه لري. د سر بند درې لومړۍ مسرې يې په خپل منځ کې هم قافيه دي او څلورمه مسره يې بيا بېله قافيه او رديف لري. د نورو درې بندونو هرې درې مسرې يې بيا خپلې خپلې قافيې او رديفونه لري، خو د هر بند د وروستۍ مسرې قافيه او رديف يې د لومړي بند د وروستۍ مسرې د قافيې او رديف تابع دي. هندسي جوړښت يې په دې ډول دی:

=a________________________

=a________________________

=a________________________

=b________________________

=c________________________

=c________________________

=c________________________

=b________________________

=d________________________

=d________________________

=d________________________

=b________________________

=f________________________

(c) ketabton.com: The Digital Library

=f______________________

=f______________________

=b______________________

د هندسي جوړښت له مخې دا نظم تر یوه حده په عربي ژبه کې د یو شعري فورم (مثلث) له بڼې سره نږدې دی خو له همدې مثلث سره یې بیا توپیر په دی کې دی چې هلته د بندونو شمېر هم درې او د مسرو شمېر یې هم درې دی. د لومړي بند هره او د نورو دوو بندونو د درېیمې مسرې قافیه یې د لومړي بند قافیه تعقیبېږي.

په دې ډول نو دا شعر د مثلث او مربع دواړو فورمونو قوانین په بشپړ ډول نه راخپلوي، نو ځکه د وروستۍ نتیجې په توګه باید ورته همغه ملي سندره یا ترانه ووایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښکارندوی غوري

## د (۵۸۰هـ) حدود

د پښتو له پخوانیو قصیده ویونکو څخه یو ډېر مقتدر او د غښتلې قریحې خاوند ښکارندوی دی، چې د غور و او پلار یې (احمد) د غور د فېروز کوه کوټوال و، داسې ښکاري چې د ښکارندوی کورنۍ د خپل عصر عزتمن او معتبر خلک وو او د غور د پاچاهانو په دربار کې ورته په درنه سترګه لیدل کېدل، په خپله ښکارندوی به کله په (غور) کې ژوند کاوه او کله کله به په (غزنه) او (بست) کې هم اوسېده، د ده د ژوند شرح هم د پټې خزانې مولف له (لرغوني پښتانه) څخه رانقل کوي، چې ددغه کتاب خاوند هم هغه له (تاریخ سوري) څخه را اخیستې ده، دی وایي: ښکارندوی د خپل عصر عالم او شاعر پښتون و او د (سلطان شهاب الدین محمد سام شنسباني) په حضور کې یې ډېر عزت او اعتبار درلود او ددغه پاچا او هم یې (سلطان غیاث الدین غوري) په ستاینه کې ډېرې قصیدې ویلې وې او د غور د سلاطینو د دربار پښتون شاعر و، داسې ښکاري چې ښکارندوی به تل د غور سلاطین په پښتو قصیدو ستایل او محمد بن علي د تاریخ سوري مولف لیکلي دي چې ما په بست کې د ښکارندوی د اشعارو او بوللو غټ کتاب ولیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د پښتو پخوانی قصیده ویونکی شاعر به تل د غور له سلاطینو سره په جګړو او جنګي سفرونو کې ملګری و او هم د دېوان خاوند دی چې دده له دېوانه د تاریخ سوري لیکوال یوه پښتو قصیده نقل کړې وه او دغه بوللـه له تاریخ سوري څخه شیخ کته په خپل (الرغوني پښتانه) کې وکښله او له لرغوني پښتانه څخه محمد هوتک په (پټه خزانه) کې وساتله. دا قصیده چې اوس زمو په لاس کې ده، ښکارندوی د (محمد سام) په ستاینه کې ویلې ده او هند ته د هغه سلطان یو سفر انځوروي چې څنګه د سلطان لښکر هند ته ځي او څنګه پر اټک تېرېږي.

ښکارندوی د پخو قصیده ویونکو په ډول لومړی یو غرا، ډېر لوړ او خوندور تشبیب لري د پسرلي مناظر د غرو او رودو په زړه پورې او ښکلي تصاویر په دغه تشبیب کې انځوروي، وروسته نو د سلطان معز الدین (شهاب الدین) ستاینې ته وردانګي (ګرېز کوي) او په خورا استادۍ او اقتدار دده د لښکرو یرغلونه انځوروي. دا قصیده کټ مټ د غزني د دربار د پخو شاعرانو فارسي قصایدو ته ورته ده. دلته به لومړی د ښکارندوی قصیده راوړو او وروسته به یې شننه او ارزونه وکړو:

د پسرلي ښکلونکي بیا کړل سینګارونه
بیا یې ولونل په غرونو کې لالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مځکه شنه لاښونه شنه لمنې شنې سوې
طیلسان زمردي واغوسته غرونه
د نیسان مشاطې لاس د مچېدو دی
مرغلرو باندې وښکلل بڼونه
د غټولو جنډې خاندي و رېدي ته
زرغونو بڼو کې ناڅي زلمي جونه
لکه ناوې چې سور ټیک په تندي وکا
هسې وګاڼل غټولو سره پسولونه
مرغلرې چې اوره وخونو لیه
په ځلا یې سوه رانه خپاره دښتونه
زرغونو مځکو کې ځل کا لکه ستوریه
چې پر هسک باندې ځلېږي سپین ګلونه
سپینې واورې ویلېده کاندي بهېږي
لکه اوښې د مین پر ګرېوانونه
هر پلو رڼې والې بهاندې خاندي
له خوښیه سر وهي له سینګړونه
هر پلو د ګلو وږم دی لونلی
ته وا راغله له ختنه کاروانونه
د مسیح په پو به مړو ژوندون بیاموند
پسرلی مګر مسیح سو په پوکړونه
له مړو خاورې یې اغلی ګل راویوست
وچ بیدیا او غر یې کړله جنتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی جا جي چې رامشت کړ رامشتګرو
ګهيځ چونې چې په بڼ وکا ږغونه
په بربڼ چې ږغ د چونو نغوږېده سي
ته وا چندي سره پيودي اشلکونه
د زلما تاپی راغلی دی پر جنډيو
لکه پېغله غوټۍ کاندي مکېزونه
د پوپلو مخ سور کړی پسرلي دی
يو د بل په غاړه اچوي لاسونه
د هېندارو په څېر غرونه سپين ورنګن دي
چې پر واورو باندې ځل وکا لمرونه
په غورځنګ غورځنګ له خولې ځګونه باسي
لکه شڼ هاتي شنا کاندي سيندونه
نه به چونې په ستايه د ګلو مور سي
نه به مور سم د سلطان په صفتونه
د شنسب د کهاله ختلی لمر دی
د پسرلي په دود ودان له ده رغونه
د ښندو اورو يې درست اېواد زرغون کړ
له قصداره تر ديبله يې يونونه
په زابل چې د بري پر نيلي سپور سي
په لاهور يې د مېړانې ګزارونه
نه يې څوک مخ ته دري د ميرڅمنو
نه يې توري ته ټينګېږي کلک ډالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام د دین شهاب د نړۍ لمر دی
تورستهان يې کړ رڼا په جهادونه
هره پلا چې دی پر هند و سند يرغل کا
رڼوي تورة نړۍ په شهابونه
په پسرلي چې يې تېرون پر اټک وکا
غاړه غاړه يې تري سولله زړونه
نه به ده غوندې روڼ ستوری په هسک ځلي
که څه پورته سي له غوره ډېر مېړونه
نه به راولي جګړن د سيند په لوري
نه بره بري څوک د هند خپاره ښهرونه
نه به څوک زلمي د غور سره راغونډ کا
د داور توري به چېري کا ځلونه
يو خاوند شهاب الدين دی چې يې وکا
په هر لوري هر اپواد ته يرغلونه
په جوپو جوپو جګړن يې هند ته يون کا
چې د غور بادار همت وکا زغلونه
نن په سيند باندې تېرېږي يرغل کاندي
په پرتم يې زمري رېږدي په ځنګلونه
څپان سيند يې هم له ډاره ايلايي کا
پر اوږو وړي د غوريانو ښه ايرونه
په هر کال اټک دده ښه راغلی کاندي
غوړوي په خنډو خپل پاسته سالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتونخوا ښکلي زلمي چې زغلي هند ته
نو اغليه پېغلې کاندي اتڼونه
زرغونې ختې اغوستې وي دې غرونو
بتې بيديا هم پسوللي وي ځانونه
هر کهيځ چې لمر څرکېږي له ختيځه
څو چې يون کا د لويديځه په څنډونه
که برېځر وي که غرمه وي، که برمل وي
که لرمل که لمر لوېد که ترملونه
د شهاب جګړن به نه کښېني له زغلو
نه به پرېږدي دا زلمي خپل بهيرونه
زمري کله کاږي ځان له يرغلګريو
څو يې نه کامات متڼونه ورمېږونه
يا به جګ کا د بريو رپي په هند کې
يا به پرېږدي هم په دې چاره سرونه
يا به وران کا بودتونونه د بمبڼو
يا به سره کاندي په وينو اېوادونه
په رڼا اوسې ته تل د دين شهابه
نوم دې تل وه پر دريځ په نمزد کونه
څو رانه شي ستا په توره د هند لوريه
څو چې نست کړې له نړيه بودتونونه
ستا په زېرمه دې خاونده لوی ښتن دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـوږ خو سـتا پـه مرسـته يونـه ځـو چـې يونـه.

## شننه، ارزونه او تلنه:

پښـتو ادبپوهـانو د ښـکارندوی غـوري د قصـيدې پـه بـاب خپـل نظريـــات څرګنـــد کـــړي دي. اســـتاد پوهانـــد حبيبـــي وايـــي: ((د ښـــکارندوی دا قصـــيده د پښـــتو ادب يـــو شـــهکار دی او د شـــاعر مهـارت او اسـتادي او د قريحـې غښـتلوالی او سـپېڅلتوب ځنـې ښکاربږي. لومړی مزيت چې په دې قصيده کې ليدل کېږي د کلام سلاست، رواني او بلاغت دی، چې هېڅ غوټه او ابهام نه لري او شاعر په خورا مهارت خپل مقاصد په ساده او سپېڅلو عباراتو ادا کوي.

که څه هم ښکارندوی ښاروال او درباري سړی و، خو کلام يې د غرو د ژبې کلکوالی او استحکام لري او د پښتو ډېر نـادر لغـات او مواد په کې شته چې پخوا ژوندي وو. دا لغـات مـوږ تـه دا راښـيي، چې پښـتو خـورا پراخـه ژبـه وه او اوس يـې ډېر پخـواني کلمـات لـه رواجه لوېدلي دي، لکـه خـاتيځ، لويـديځ، لرمـل، برمـل او نـور چـې اوس يې په عوض کې موږ عربي يا دري کلمات وايـو.)) وروسـته بـه يې په تفصيل سره لغوي شننه وشي.

((ښـکارندوی چـې د قصـيدې پـه تشـبيب کـې د پسـرلي کـومې ښـکلې منظـرې تصـوير کـړې دي، د وطـن لـه ښـکليو دښـتو او غـرو څخه يې الهام اخيستی دی، دده حساسه قريحه د مناظرو په تصوير

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ډېره ګړندۍ ده، د پسرلي زرغونتوب، د ګلو غوړېده، د نسیم نڅا او ښه بوی، د غوټیو د پېغلو په شان مکېزونه، د بلبلانو خوارېږغونه، د نیسان مرغلرې پاشل، د لمر وړانګې پر غرونو سپینو واورو لوېدل او هغه لکه هېنداره ځلول، د سیندونو مستي او غورځنګ دا ټول د وطن د پسرلي طبیعي او ښکلي مناظر دي، د پښتونخوا د جمال ننبې دي چې شاعر یې په ترسیم او محاکات کې استادي او مهارت ښکاره کړی دی.

له دغې بوللې (قصیدې) څخه چې د ښکارندوی له دیوانه موږ ته پاته ده معلوموولای شو، چې دا شاعر په ادبي فنونو او د بلاغت په اساساتو کې هم پوخ و، دده اشعار له ښکلیو تشبیهاتو او استعارو ډک دی او اسلوب یې کلک او پاخه دي. خو دا خبره هم باید هېره نه کړو چې، لکه د پښتو نور اشعار د ښکارندوی قصیده هم له سره ترپایه پر طبیعت ولاړه ده او لکه د دري د ځینو شاعرانو په شان په خپل شعر کې د هیئت، نجوم، فلسفې او نورو علومو اصطلاحات نه ګډوي او په کلام کې یې هېڅ راز درونـدوالی، تکلف او بې خوندي نه شته او په دې مزیت کې دی (منوچهري) تـه ډېر ورتـه دی. چې هر کله طبیعي، حسي او د طبیعت پـه لمن کې نغښتي اشعار وایي.

په دې قصیده کې پر (سیند) باندې د غور د سلطان د لښکرو عبـور تصـویر شـوی دی او شـاعر پـه دغـه پسـرلي کـې د سـیند څپانتوب او د پېغلو اتڼونه او د دنیا ښکلا او د غرونو زرغونېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسې ډول راوړي دي، چې دا ټول د دغو زلمو په استقبال کې دي او اتڼ هم هر کال، خپل پاسته سالونه (رېګ) پر مځکه غوړوي، چې د سلطان د لښکرو زلمي پر تېر شي.

څپاند سیند هم سلطان ته اېل دی او د غوریانو کښتۍ پر اوږو وړي، که څه هم له دې یرغله، د زمریو زړونه په ځنګلو کې رپېږي، خو بیا هم د خلکو مینه له دې سلطانه سره دومره ده، چې زړونه یې د تېربدلو لپاره پلونه کړي دي. تاسې قصیده سر تر پایه وګورئ، ټول طبیعي انځور لري او له مافوق الطبیعه مبالغو او حشویاتو څخه پاکه ده او دا د یوه شاعر قدرت او مهارت ثابتوي، چې د طبیعت په لمن او دایره کې خپل مقاصد له طبیعي مبالغو پرته ادا کړي او خپل ممدوح که هم ستایي د یوه انسان په ډول یې ستایي او د هغه اصلي او حقیقي مقام ساتي.)) (۱۳: ۵۰۵- ۵۰۷)

**لغوي شننه**: لکه څنګه چې مو اشاره وکړه، په دې قصیده کې ګڼ شمېر داسې پښتو زاړه لغتونه کارېدلي چې اوس په پښتو کې نه کارېږي، یا لږ کارېږي او ځینې یې متروک ګڼل کېږي. دلته غواړو د دې ډول لغتونو مانا ته لږ تم شو.

بولله (قصیده)، ښکلونکی ( سینګاروونکی)، ولونل (وپاشل)، طیلسان( قبا)، وښکلل (ښکلی یې کړ) اوس دا فعل نه وایو، جنډۍ(ګل)، تېک( د تندي پسول)، وګانل( په ګانه یې سینګار کړل)، اوره( وربخ)، وخونولیه ( نثار یې کړ او خون یې وکړ)، ځلا( ځلېدل)، سینګړ(سنګلاخ، سیند غاړه)، لونلې(پاشلې)، پو کړونه(

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوکول) ، جاجي(فکر کوي)اوس دا فعل نه شته، رامشت ( ساز او سرود)، رامشتګر (سازنده)، چونېی(بلبل)، بربڼ، (لوړ باغ)، نغوړېده(اورېده)، چنډی( ښايي چې د شاعر مانا به لري) پيودي(نظم کوي) اشلکونه(اشعار)، زلما(اوس نه ده مستعمله- ښايي د ځوانۍ په مانا به وه له زلمي څخه)، تاپي (اوس معين وخت ته وايي) يوپل( ښايي د يو ګل نوم به و اوس دا نوم پر سړيو ايښودل کېږي) وړنګن (ښايي له وړانګې څخه جوړ شوی صفت وي)، شڼ او شنا( ښايي د مست او مستۍ په مانا و، خو اوس نه شته) چونېی( ښايي له چونېدل څخه به د بلبل په مانا و)، د يادونې وړ ده چې تر همدې لغت وروسته تشبيب تمامېږي او تخلص شروع کېږي. شنسب د غوريانو د لوی نيکه نوم و (طبقات ناصري) د پښتو شين اسپ به وي. کهول( کورنۍ)، راغه ( د غره لمن او دښته) د ښندواورو (د ښندلو وربځو)، اېواد( اوسنی هېواد دی)، قصدار( په اوسني بلوچستان کې يو ښار و چې اوس يې خضدار بولي)، ديبل( د عربو بحيرې پرغاړه يو ښار و، اوس کراچۍ ته نږدې) يون (تګ) نيلی (يو اس)، دري( درېږي) ستهان پخوانی شکل، ستهان(ستان،ځمکه، استوګنځی، په سنسکريت کې هم شته)، تبرون( تېرېدل، عبور)، ښايي له تېرېدل څخه پخوا په بله مانا و خو اوس نه شته. جګړن ( ظاهراً له جګړې څخه د جنګي په مانا و ، بري( فتح کوي، له بري څخه، خو اوس د برل مصدر نه شته) داور (اوسنی زمينداور)، ځلونه ( د ځل جمع ده، ځلېدل) زغلونو( د زغل جمع ده، تاخت و تاز)، پرتم ( دبدبه)، ای‌لايي ( له اېل څخه د اطاعت په مانا)، ايږ ( يوه دسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښتې) سال (میده شګه)، ختې ( البسه، اوس خت کمیس ته وايي) بټ، بیدیا تود بیابان)، پسولل له (پسول زېور) څخه پخوانی مصدر دی چې اوس یې فعلي مشتقات نه ویل کېږي.)، ګیهځ ( سحر)، څرکېږي( له څرک (لمرخاته) څخه خو اوس یې فعلي ډول نه دی مستعمل)، خاتیځ( پخوا د مشرق په مانا و، د ختلو ځای، خو اوس عام نه دی.) لویدیځ( پخوا د مغرب په مانا و، خو اوس عام نه دی- لوېدل ځای)، څنډه( اوس افق او کنارې ته وايي، خو څنډونه نه شته)، برېځر( ضحی) برمل (ماپښین) ، لرمل (مازیګر) ، ترمل (ماښام) ، مل (به د مهال مخفف وي چې اوس وخت ته وايي)، نو باید مل (لوړ مهال) او لرمل (کوز مهال) ترمل (تور مهال) وي. بهیر( قطار)، ځان کښل-( تېښته)، یرغلګری (متهاجم)، رپی ( ښايي د رپېدل له ریښې څخه پخوا د بیرغ په مانا و، خو اوس نه شته، د پرېږدي پرځای اوس کېږدي وايو، سر به پرې کېږدي.)

بودتون- (بتکده اوس دا کلمه نه شته، خو پخوا وه په زړه پښتو کې بود (بت) و او تون د ظرفیت ادات دي. بمبڼ ( د هندوانو پیر)، دریځ (پخوانۍ کلمه ده د امیر کروړ په شعر کې هم راغلې ده، ښايي منبر ته یې ویله د درېدلو ځای لکه خاتیځ (لویدیځ) نمزدک( ښايي پخوا یې مسجد ته ویل اوس نه شته)، په زړه پارسي کې هم مزګت مسجد و. نست( نابود)، زېرمه- حمایت.)) (۱۳: ۵۰۰-۵۰۵)

له شکلي پلوه لکه څنګه چې دمخه یادونه وشوه، دا یوه بولله یا قصیده ده چې د شیخ اسعد سوري تر قصیدې وروسته دا دویمه قصیده ګڼل کېږي، قصیده هغه ډول فورم دی چې ((د غزل په شان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر لومړی بیت یې مقفی وي، د نورو بیتونو د هر بیت دویمه مسره ی‌ې قافیه ولري او د مطلعې قافیه تعقیب کړي، قصیده په شکل او جوړښت کې له غزل سره کوم خاص توپیر نه لري، توپیر یې دادی چې د غزل د بیتونو شمېر له (۵) څخه تر (۱۵) پورې وي او د قصیدې له (۱۶) څخه تر (۲۰۰) یا هم تر دې زیاتو بیتونو پورې رسېږي. هندسي جوړښت یې په دې ډول دی، لومړی هغه قصیده چې قافیه لري، خو ردیف نه لري.

a_________________
a_________________
_________________
a_________________
_________________
a_________________

ترپایه

او هغه بڼه چې قافیه او ردیف دواړه لري.

=a_________________
=a_________________
_________________
=a_________________
_________________

(c) ketabton.com: The Digital Library

=a________________

ترپایه

د ښکارندوی غوري قصیده لومړی بنه لري، ردیف نه لري او په قافیې پایته رسېږي. (سینګارونه، لالونه، غرونه، ښونه، جونه، پسولونه، دښتونه، ګلونه، کربوانونه، سینګړونه، کاروانونه، پوکړونه، جنتونه، ږغونه، اشلکونه، مکېزونه، لاسونه، لمرونه، سیندونه، صفتونه، رغونه، یونونه، ګزارونه، ډالونه، جهادونه، شهابونه، زړونه، مېړونه، ښهرونه، ځلونه، یرغلونه، زغلونه، ځنګلونه، ایړونه، سالونه، اتڼونه، غرونه، ځانونه، څنډونه، ترملونه، بهیرونه، ورمېږونه، سرونه، ابوادونه، نمزدکونه، بودتونونه او یونه) یې د قافیې کلمې دي (ونه ونه) یې ترمنځ مشترک غږونه دي، دا قصیده د محتوایي فورم له پلوه یو مدحیه یا ستاینه ده. ستاینه مدحیه بیا هغه ډول مانیز فورم ته ویل کېږي چې په هغه کې شاعر له پیله ترپایه د خپل ممدوح ستاینه کړې وي. لکه څنګه چې د امیر محمد سوري قصیده په ویر او ماتم، شکایت او درد پیلېږي او په ویر پای ته رسېږي، نو ځکه ورته ویرنه وایي، دغسې د ښکارندوی غوري دا قصیده له سره ترپایه د سلطان معزالدین په ستاینه راڅرخي، نو ځکه ورته یوه مدحیه قصیده ویل کېږي. دې قصیدې د خپل وخت د قصایدو ټولې ځانګړنې پوره کړي او ان د خپل وخت تر نورو قصایدو لوړه او طبیعي انځورګري لري، نو ځکه یې په ټول پوره او کره بولله ګڼلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملکیار غرشین

## (۵۸۰هـ) حدود

غرشین د پښتنو یو مشهور ستانه قوم دی، چې پخوا یې یو وچ غر شین او اباد کړی و، نو ځکه دوی (غرشین) بولي، دا قوم د کندهار خواوو کې اوسي.

ملکیار له دغه قومه یو خورا ستانه او مشهور سړی دی، چې د پښتنو مورخانو دده ذکر په خپلو مشاهیرو کې راوړی دی، نعمت الله هروي لیکي، چې (ملکیار) د (شیخ ابوبکر طوسي) معاصر و او په (ډیلي) کې یې یوځای درلود چې (سلطان شهاب الدین غوري) د ملتان د یرغل پر وخت ده ته ښنلی و او دده مرقد هم هورې دی.

دا روایت چې نعمت الله کښلی دی، څو سوه کاله دمخه سلیمان ماکو هم دغسې راوړی دی او ځنې ښکاري چې د ملکیار د ژوند وخت د (سلطان معز الدین غوري) عصر و او دی په جګړو کې د سلطان ملګری هم و، ځکه چې سلطان لومړی پلا پر ملتان پر (۵۷۱هـ) حمله کړې وه، نو دده د ژوند زمانه هم په دغو وختو کې تخمینولای شو.

سلیمان ماکو دده په احوال کې هسې لیکي: ((نقل کاوه شي چې په روزګار د غازي شهاب الدین چې په ډیلي کې هغه ستر واکمن ټاټوبی وروښانده او هم هورې مړ شو. نقل کاوه شي چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوبله کې مسلمانان تر شا ولاړه او کفارو برى وکړ. ليرې نه وه چې مسلمانان شي د کفارو په کتارو پوپنا او دښنه برى وکړي، ناڅاپه شيخ ملکيار راغى او پر دښمن يې يرغل وکاوه او ډېر زښت يې ووژل، نورو مسلمانانو هم د ملکيار تر اړخ تورې وکښې او سره ومروړل (يې) دښنه، ستر ښتن دوى ته په مېړانه د شيخ ورکړه لو سوبه او برى چې پخوا هم نه و په برخه شوى د چا ، هېڅکله په هېڅ ځاى کې.)) (۳۸: ۲۴-۲۵)

د سليمان ماکو له دغه بيانه ښکاري چې ملکيار يو غښتلى او توريالى سړى هم و او د تورې او ادب له ښتننانو څخه و چې له سلطان سره يې په جهاد او جګړو کې ملګري کوله، داسې ښکاري چې ملکيار پر جنګياليتوب او توريالیتوب سربېره، ادبي ذوق هم درلود ، په خپله هم شاعر و او د نورو پښتو شاعرانو اشعار يې تل لوستل، لکه چې سليمان ماکو د شيخ اسمعيل سړبني شعرونه د ملکيار له خولې رانقل کړي دي. د زهد ، تصوف او عرفان له پلوه هم ملکيار ښه شهرت لري او مورخان دده له نامه سره (پران) هم ليکي او دده عرفاني شهرت دومره ډېر و ، چې تخميناً دوه نيم سوه کاله وروسته سلطان فېروز شاه (۷۲۵-۷۹۰هـ) ډهلي ته نږدې فېروز اباد ښار جوړ کړ، نو هلته دې پاچا د (شيخ ملکيار پران) په يادګار يو سراى هم جوړ کړ چې د هغه عصر مورخ (ضياءالدين برني) يې پر (۷۵۸هـ) کال ذکر کوي، لکه چې مورخان تصريح کوي، ملکيار په ډهلي کې اوسېده او هم هورې مړ شو او په دغه ښار کې د شيخ ابوبکر طوسي له مزاره سره يوځاى ښخ دى او د سليمان ماکو د وينا

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مخې په هغه میدان کې چې شیخ ملکیار د سلطان معزالدین له لښکرو سره یوځای جنګېده او نړېدې و چې د سلطان لښکر ماته وکړي، نو دې توریالي ادیب او عارف د ننګ او جنګ یوه سندره وویله او لښکریان یې همت، شجاعت او توریالیتوب ته تشویق کړل، څو په پای کې بریالی شول او د جنګ پر ډګر یې سوبه په برخه شوه، سلیمان ماکو لیکي: په جوبله کې ملکیار دا پارکي وویل، چې غازیان وپارېدل او په څېر د زمریو ورتوی شول:

ښېتن مو مل دی — اوس مو یرغل دی — ایواد د بل دی

غازیانو ګورئ

ښېتن مو مل دی

توري تېرې کړئ — دښن مو پرې کړئ — منګولې سرې کړئ

څه له به تښتو

ښېتن مو مل دی

که تېنګ کړو زړونه — پر بري یونه — چې زمري یونه

اسلام راخخه دی

ښېتن مو مل دی

غازیانو راسئ — تول شاوخوا سئ — د شهاب په ملا سئ

دښمن مو غوڅ کړئ

ښېتن مو مل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شننه او ارزونه:

«د ملکیار دا شعر چې د پخوانیو قومونو د حماسیاتو او رجز رنګ لري له هغو سندرو څخه دی، چې پخوانیو پښتنو به د جګړې پر میدان ویلې او مقصد یې دا و چې د زلمو احساسات تاوده کړي او پر جنګ یې ښه وپاروي. ددې شعر عروضي کیف، الفاظ او کلمات سوچه دي او لکه د نورو ګړنیو (ولسي) اشعارو په څېر یو تکرارېدونکی کسر (غبرګ) هم لري، چې د هر بند په پای کې ویل کېږي او دا د پښتو د مخصوصو اشعارو یو ښه خاصیت دی. شاعر په حقیقت کې یو مبلغ هم دی او په هرځای او هره موقع کې د خپلو ویناوو د اغېزمنتیا لپاره د بیان طرز او اسلوب داسې ټاکي چې دده وینا پر اورېدونکیو باندې ښه اغېزه وکړي او د شعر مقصد یې حاصل شي.

په دې پارکي کې هم ملکیار د غوري سلطان د جنګیالیو د پارولو لپاره دوی ته داسې خطابونه کړي دي چې باید په اورېدلو یې متاثر شوي وي او په دوی کې یو ملي او دیني هیجان پیداشوی وي، دا پارکی له نومونو پرته نور ټول سوچه پښتو دی. په دې پارکي کې (ملا) د ملګرۍ او همراهۍ په مانا هغه زړه کلمه ده چې د اسعد سوري په قصیده کې هم راغلې وه (نه به ملا کړي له بېوزلو له ترار)، له دې څخه هم ښکاري چې دا پارکی د پښتو ژبې په لرغونې دورې پورې اړه لري، په دغه وخت کې لا داسې پخواني کلمات مړه نه وو او له استعماله نه وو لوېدلي. د پښتو په پخوانیو اشعارو او لرغونې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوره کې چې ګورو د جهان پهلوان امیر کروړ سوري تر شعر وروسته دا لومړی جنګي اثر دی، خو فرق یې دومره دی چې امیر کروړ په خپل شعر کې د یوه زبردست او غښتلي قاید رنګ لري او د یوه نومیالي اتل (قهرمان) په ډول شعر وايي، خو ملکیار دلته د یو مبلغ په دود خبرې کوي او غواړي چې ملي احساسات په دیني تبلیغ وخوځوي. له خپل عرفاني مقامه هم کار واخلي او د شعر په وسیله د لښکرو روح تقویه کړي، نو ملکیار په پخوانیو شاعرانو کې هم عارف و، هم شاعر، هم جنګیالی او دا درې سره خواوې یې په شعر کې شته.)) (۱۳: ۵۱۳-۵۱۴)

لکه څنګه چې مو پورته یادونه وکړه په دې شعر کې نږه پښتو کلمې راغلي دي. یوازې (غازیانو) کې (غازي) عربي ریښه لري او (اسلام) عربي کلمه ده، نورې ټولې کلمې یې پښتو دي. دا نظم ټول درې بندونه لري، هر بند یې پنځه مسرې لري، خو پنځمه مسره یې په ټولو بندونو کې تکرار یا د کسر بڼه لري.

په زړه پورې خبره خو داده چې د ټولو مسرو د څپو شمېر یې سره هم مساوي دی، هره مسره یې (۵) (۵) څپې ده او بله خبره په کې داده چې په ټولو درې بندونو کې څلورمه مسره له قافیې څخه ازاده ده، خو له وزن څخه ازاده نه ده، همدا هره څلورمه بې قافیې مسره او پنځمه مسره د محتوايي تاکید بڼه هم لري چې اوربدونکې ته روحیه ورکوي، دا شعر د پښتو د خپلو ملي اوزانو تابع دی، ملي او حماسي محتوا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تايمني

## د (۵۸۰هـ) حدود

د تايمني په نامه موږ د پښتنو يو پخواني اديب او شاعر پېژنو خو دا نه ده ښکاره چې ددې شاعر نوم تايمني و که د تايمني قوم ته منسوب و، چې دا قبيله په غور کې اوسي.

د غوري شاهانو په عصر کې لکه نور مشهور پښتانه شعراء چې تېر شوي دي يو له هغو څخه (تايمني) دی، چې دده ځينې اشعار تراوسه هم د زمينداور په غرو او رغو کې د خلکو په ياد دي، د (سلطان غياث الدين غوري) معاصر و څرنګه دده يو شعر په زمينداور کې ميندل شوی دی، نو دا په ټينګه ويلای شو چې دی به په زمينداور کې اوسېده، او لکه څنګه چې څرګنده ده ددغه سلطان پاچاهي د (۵۸۰هـ) په حدودو کې وه، نو د تايمني ژوند به هم په دغه عصر کې و. تر دې زيات نور دده احوال نه لرو.

استاد علامه حبيبي د تايمني په باب وايي: (په (۱۳۱۰ش کال) چې زه د هلمند په کليو او لتو کې ګرځېدم، په يوه کلي کې د شپې د زلمو بنډار و او د نشاط او مسرت بزم تود و هلته به ځينو په خوارږه ږغ نارې کولې او ځينو به نځل او بعضو به بدلې او سندرې ويلې، ددې بنډار په يوه خوا کې يو سپين ږيرى ناست و که څه هم زمانې نتلی و او وښتان يې تک سپين وو، خو خوش ارواح سړی و او زړه يې ځوان و. دې سپين ږيري د زمينداور په غرو کې د زلميتوب ښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپې ورځې تېرې کړې وې او د هلمند پر غاړو يې د مينې په دنيا کې خپله ځواني خاورې کړې وه، د سترګو ديد يې لږ شوی و، خو زړه يې بينا و، غوږونه يې درانه وو، خو سد يې پرځای و، زلمو ده ته په درنه سترګه کتل او ده هم په خپلو خوږو سندرو، بزمونه تودول، د خپل زلميتوب کيسې به يې کولې او د هلمند د غاړو او داور د ودانۍ او مدنيت زړې افسانې چې ده ته له تېرو نيکونو څخه رسېدلې وې، بيانولې به يې. دې سپين ږيري په خپلو سندرو کې د تايمني په نامه دا شعر په ملي وزم او خوږه لهجه ولوست، چې د پښتو يوه زړه ادبي ټوټه ده:))(۱۳: ۵۱۵)

نن زه ږغېږم په صفت د سلطان
چې دی بادار غازي ملک د جهان
د فيروز کوه او غور رڼا له ده ده
هم د تېرو تورو برېښنا له ده ده
چې توره وکاږي چړتون کې خالي
غليم يې کله کړي په توره سيالي
غياث الدين د غور زمری عاليشان
د اسلام دين دده په توره روښان.

***

ما د ((داور)) په مځکه وليد ((ارم))
دا د جنتت په څېر و بڼ ښه خورم
د فېروزکوه په دود ودان دی نا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلی هر ګل څه ښه خندان دی نا
دلته کړونګي دي ږغونه کوي
اوبه بهېږي سرودونه کوي
هر سړی ګوري چې ولاړ وي اریان
کړي ننداري د خداوند د بستان

***

غیاث الدین د جهان لمر دی نا
عالم له ده ډېر بهره ور دی نا
هند یې روښانه په اسلام کی نا
له ځانې خوښ خیر الانام کی نا
چې یې په غور کې نیلی زین کی نا
پر کافرانو یې ناورین کی نا
تل دې بری وي د غازي پر میدان
زه تایمني ستاینه کړم د سلطان.

استاد حبیبي زیاتوي: ((د تایمني له اشعارو څخه فقط دومره مونږ ته پاتې دي او په دې کې دی زمیند اور ستایي او د دې ځای تاریخي ودانۍ او مدنیت بیانوي، دی په زمیند اور کې د ((ارم)) باغ ستاینه کوي او وایي چې د فېروز کوه په ډول ودان دی. د تاریخ له پلټنې ښکاري، چې دغه (ارم) په (داور) کې یو باغ و، د غوري عصر یو مورخ (منهاج سراج جوزجاني) هم د دې باغ ارم یاد داسې کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

((ثقات چنین روایت کرده اند: که سلطان غیاث الدین در اول جوانی معاشر عظیم بود و شکار دوست و از حضرت فیروز کوه که درالملک او بود تا بشهر زمی‌ن داور که دراالملک زمستانی بوده هیچ افری‌ده را مجال نبودی که شکار کردی...

در زمین داور باغی ساخته بود انرا باغ ارم نام نهاد و الحق درمیان دنی‌ا مثل نزاهت و طراوت ان باغ هیچ پادشاهی رانبود و طول او بقدر دو می‌دان وار زی‌ادت بود...))

منهاج سراج د غوري عصر يو مشهور سړی دی چې د غوري شاهانو په دربار کې اوسېده، د باميانو، فېروز کوه، هرات او زمين داور مدنيتونه يې په خپلو سترګو ليدلي دي.))

د تايمني پښتون شاعر دغه بدله هم ددغه مورخ د بيان ښه تاييد کوي او دا دوه معاصر اديبان د غوريانو د ثقافت استازي دي.)) (۱۳: ۵۱۵-۵۱۷)

د تايمني دغه شعر روان او ساده دی او ضمناً حماسي خوا هم لري او لکه د پښتو ولسي اشعار په وزم هم ويل کېږي، که څه هم ظاهراً د عروضي اشعارو په تقليد د قافيې تر اصولو لاندې دي، خو د پښتو د پخوانيو او اوسنيو ازادو سندرو رنګ لري او د اکثرو بيتونو په پای کې دترنم (نا) راغلی دی او دا خاصيت د ملي اشعارو دی چې په ترنم ويل کېږي.

داسې ښکاري چې تايمني په شعر کې د پخوانيو او خاصو وطني اسلوبو تابع و، خو بيا هم د ماحول اثر پرې شوی او ښايي د پارسي ادب اغېزې پرې لوېدلې وي، چې دده له دغه يوه شعره ښه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه د تایمني پورتنی شعر یا بدله تر ډېره حده د پښتو ولسي شعرونو له فورمونو سره سمون خوري او له عربي څخه راغلي فورمونو سره توپیر لري، خو دې سره سره د پښتو خپل فورمونه چې کوم څرګند فورمونه دي، د هغو ټولو یو هم پرې سل په سلو کې د تطبیق وړ نه دي. دا بدله (درې) بندونه لري چې د مسرو د شمېر او د څپو د څومره والي له امله سره یوشان دي.

مشترک وزن تعقیبوي د لومړي بند لومړی بیت یې مقفی دی او د همدې بند وروستی بیت یې بیا د لومړي بند مطلع تعقیبوي او د دویم او درېیم بند وروستي بیتونه یې د لومړي بند د مطلع قافیه تعقیبوي، ځینې بیتونه یې پر قافیې سربېره ردیفونه هم لري، خو ځینې یې پر قافیې پای ته رسي. په ټولیز ډول پرې د پښتو خپل څپیز خجیز جوړښت د تطبیق وړ دی. د محتوایي فورم له پلوه دا بدله تر ډېره حده مدحیه یا ستاینه ګڼل کېږي، چې شاعر په کې له پیله ترپایه د خپل ممدوح (غیاث الدین غوري) او د هغه د تورو ستاینه کوي. له لغوي پلوه په دې شعر کې دري او عربي کلمې شاملې دي، دري کلمې، لکه: (فیروز کوه، بادار، خالي، خورم، سرود، خداوند، بستان، جهان، بهره ور، میدان) او ځینې نورې کلمې دري دي. (صفت، سلطان، غازي، ملک، عالیشان، اسلام، دین، جنت، عالم، خیرالانام، کافر) او ځینې نورې کلمې بیا عربي دي. دغه راز مشترکې کلمې هم لري چې په پښتو او دري دواړو کې یوشان کارول کېږي لکه (سیالي، خندان، زین) او ځینې نورې. پښتو سوچه کلمې هم په کې ډېرې دي، د متروکو کلمو څخه یوه هم (چړتون) دی چې اوس په پښتو کې نه کارېږي. د تایمني له شعر څخه داسې ښکاري چې دا مهال پښتو ادب ته د دري او عربي ژبې ادبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغېزې رارسېدلي او تر نورو پخوانيو شعرونو په کې دا اغېز زيات محسوس دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قطب الدین بختیار

## (۶۰۰هـ)

قطب الدین د (احمد) زوی د (موسی) لمسی په قوم پښتون بختیار او د خپل عصر له نومیالیو عرفانو څخه و، چې تراوسه هم په هند کې لوی شهرت لري. پردیو مورخانو دا سړی نه دی پېژندلی او دده د پښتونوالې ذکر یې نه دی کړی، خو پښتنو مورخانو دی د پښتنو په عرفاني مشاهیرو کې راوړی دی. نعمت الله په (مخزن) کې دده مناقب په تفصیل سره راوړي او داسې وایي: ((حضرت خواجه قطب الدین بختیار کاکي قدس الله سره نام پدر ایشان احمد بن موسی است ساکن اوش بود که از توابع بغداد است و تولد ان برگزیده، درسنه پانصد و هفتادوپنج اتفاق افتاد، چون سال عمر ایشان به بیست و پنج رسید حضرت معین الدین سجزی بآن مکان تشریف اورد خواجه قطب الدین بختیار دست انابت بذیل هدایت ایشان در آورده مرید شد... بعد برفاقت شیخ جلال الدین متوجه هندوستان شدند، در بلده ملتان بغوث العالم شیخ بها الدین زکریا ملاقات نمودند...))

په دې ډول نعمت الله د پښتنو مورخ، قطب الدین بختیار د خپل کتاب په ډېرو ځایو کې ((قطب افغان)) بولي او دده د نورو هم قومیانو مشاهیرو نومونه هم راوړي، لکه خواجه یحیی بختیار، شیخ شهاب بختیار، شاه ابوبکر بختیار او نور... دا خو ښکاره ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بختیار د پښتنو یو خورا مشهور او ستانه قوم دی، څرنګه چې دوی تر راوروسته وختونو پورې هم د سلیمان غره په شاوخوا کې پووندګلي او سوداګري کوله ځکه نو پردي مورخان د پښتنو په دغه نه وو خبر، نو يې قطب الدين پښتون نه دی لیکلی تش له ده سره بختیار لیکي، (فرشته) تاریخ وايي، چې: دی په (اوش) کې زوکړی دی چې د ماورالنهر له ښارو څخه و. (ابو الفضل علامي) هم دی د (فرغاني) د (اوش) بولي.

(اوش) یا (اوچ) خو دوه زاړه ښارونه وو، چې د (سیحون) پر هغه بله غاړه ودان وو. (ابن خرداذبه) وايي: دا يو لوی کلی و چې له (قبا) څخه اوه فرسخه لرې و او (اوزګند) ته لس فرسخه پروت و، (یاقوت) هم دا دوه کلي بېل بېل یادوي (اوش) له (فرغاني) څخه او (اوچ) د سیحون پرغاړه ګڼي، نو که مونږ د نورو مورخانو دغه قول چې قطب الدين په (اوش) کې اوسېده، ومنو ځکه چې دده پښتونواله پښتنو مورخانو تصدیق کړې ده، نو دا ویلای شو چې دده نیکه یا پلار به هغې خواته تللی او قطب الدين به هلته زوکړی وي. دلته دا خبره هم د غور وړ ده چې زمونږ پښتون مورخ سلیمان ماکو په خپله تذکره کې ددې قطب الدين ذکر داسې کړی دی:

((نقل کاوه شي چې بختیاري ستر ستانه و، له ده څرګند شوي دي هغه کرامات چې مونږ وکښل او وویل، موسی چې ستر پلار د قطب، تللی و له بختیارانو څخه او مېشت و پر اېواد چې سیند باله سي.))(۳۸: ۳۸) دا روایت خو د قطب الدين د نیکه تګ له خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

وطنه ثابتوي، خو د ماورالنهر پرځای (سند) ښيي که موږ دقت وکړو، په سند کې هم په دغو وختو يو ښار ودان و چې (اوچ يا اوچه) بلل کېده، مورخان يې د سلطان معز الدين غوري په فتوحاتو کې له ملتان سره يوځای راوړي او دا ښکاري چې (اوچ) د سند يو مشهور ښار و، نو که د قطب الدين پلار او نيکه په دغه ښار کې اوسېدلي وي، ځکه چې د قطب او دده د پلار نور عرفاني معاصران هم په ملتان کې وو، نو به د سليمان ماکو قول سم وي. په هر صورت قطب الدين خو پښتون و، چې نيکه يې له خپله قومه بختيارانو څخه تللی دی يا د سند په (اوچ) يا د ماورالنهر په (اوش) کې اوسېده او وروسته يې لکه دمخه چې وويل شول په (هند) کې شهرت موندلی دی.

قطب الدين د (مخزن افغاني)، (آيين اکبري) او (مخبرالواصلين) په قول د لومړۍ خور پر (۱۴)مه (۶۳۳هـ) کال او (فرشته ۶۳۴هـ) د عمر پر (۵۸) کال وفات او په ډهلي کې ښخ شو، چې تراوسه يې مزار ډېر مشهور دی.)) (۱۳: ۵۲۰-۵۲۱)

## د قطب الدين اشعار:

د قطب الدين علمي او عرفاني شهرت خو له تېرو ليکنو څخه تاسې ته ښکاره شو، چې دا نوميالی بختياری پښتون په عرفاني دنيا کې څومره لوړ مقام لري او د اولياوو اکثر تذکره ليکونکي دده احوال ذکر کوي، خو دا عارف د پښتو يو خورا ښه شاعر هم دی، چې سليمان ماکو يې په خپله تذکره کې د مناقبو تر شرحې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه عشقي سندره هسې رانقل کوي، څرنګه چې سلیمان دده معاصر دی، نو یې قول د منلو وړ هم دی. ماکو وایي:

((بختیار په پښتو سندرې کړینه، اوښې تویونه، خدای ته نارې کړي غلبلې کړي، پاړکی لرینه، چې یو دادی:

ویر مې زړه سوری سوری کړ        راتــه وګـوره مــلــوکې
پــه بــېلتون کــې دې وبــاسم        له خوږمنه زړګي کوکې
راته وګوره ملوکې
راته وګوره ملوکې
د بــېلتون اورونــه بــل دي        هر ګړی مې زړګی سوځي
لـــېونـی یـمه د مـــــینې        سوځم زه لکـه پېلـوځي
راته وګوره ملوکې
راته وګوره ملوکې
غــوړولـــی دې اوربـــل دی        اور زمـا پـه زړګي بل دی
زه بختیار خاورې ایرې سوم        په اور سوی مې ګوګل دی
راته وګوره ملوکې
راته وګوره ملوکې

## شننه او ارزونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې شعرونو کې د پښتو شعر زوړ اغېز څرګند دی، يوه پردۍ کلمه پرې ګډه نه ده او د ادا ډول يې هم ساده، اما ډېر بليغ دی. د مينې واردات او د مين د زړه احساسات يې ښه په کې څرګند کړي دي دا شعر لکه اوسني پښتو ولسي شعرونه تکرارېدونکی غبرګ (کسر) هم لري.

داسې ښکاري، چې قطب افغان د مينې په دنيا کې تاوده جذبات لرل او سليمان ماکو، چې دده معاصر دی دغه عشقي احساسات په داسې ډول بيانوي:

((ژاړي، اوناري غلبلې کړي او د عشق سندرې لولي.)) له دغو عشقي نارو او سندرو څخه يوه لوړه سندره اوس موږ ته پاتې ده، چې د شاعر د زړه درد او سوزناکه جذبات ښکاره کوي.

قطب يو فارسي لوی ديوان هم لري، چې ټول عشقي غزليات دي او له هغو څخه هم دده عشقي جذبات ښکاري، خو په پارسي کې دده اشعار ډېر ښه، بليغ او روان نه دي، ځکه چې اصلي او مورنۍ ژبه يې پښتو وه، نو يې په پارسي هغسې اشعار نه دي ويلي چې د پارسي له لوړو شاعرانو سره مقابله وکړي په اکثرو پارسي اشعارو کې يې تعقيد او شعري عيبونه شته.

لکه څنګه چې يادونه وشوه، د بختيار شعر د پښتو د ولسي اشعارو وزن لري، بدلو ته ورته دی، ټول درې بنده لري، هر بند يې څلور مسرې لري او يو کسر خو له ځينو نورو کسرونو سره چې يوه مسره په کسر کې تکرارېږي، توپير لري. دلته هم په حقيقت کې يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسره د کسر په توګه راځي، خو همغه مسره بيا ځکه غبرګېږي چې وزن پوره کړي او د ويونکي خوله په وزن ډکه شي. د نورو پښتو شعري فورمونو کوم مشخص فورم پرې سل په سلو کې د تطبيق وړ نه دی. د سر بند او د دويم بند څلور څلور مسرې د جوړښت له مخې د قطعې تر قاعدې لاندې راتلای شي او وروستی بند يې د څلوريزې، خو په مجموعي ډول ټول شعر د بل کوم خاص فورم تر قاعدې لاندې نه راځي. نو ښه به وي چې د پښتو د خپلو ولسي فورمونو له جملې څخه يې وګڼو. دوه لومړني بندونه يې رديفونه نه لري او درېيم بند يې له رديف څخه هم برخمن دی، د څپو د جوړښت له مخې يې د ټولو څپو شمېر سره مساوي دی يانې دا چې هره مسره يې (۸) څپې لري او همدا ددې سبب شوي چې ټول نظم په يوه واحد وزن سره وتړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سلیمان ماکو

## (۶۱۲هـ)

د پښتو ادبیاتو د لرغوني دورې په نثري برخه کې چې د کوم لیکوال لیکنه ترلاسه شوې هغه سلیمان ماکو د بارک خان صابزي ماکو زوی دی، چې د کندهار په ارغستان کې اوسېده. د ماکو قوم تراوسه هم لږ تعداد هورې اوسي او په ابدالیو (درانو) کې شاملېږي. سلیمان ماکو له دې قومه یو پوه لیکوال راوتلی دی او د پښتونخوا په غرو کې یې سیاحتونه کړي او د خپل عصر مشهور روحاني او ادبي رجال یې لیدلي دي.

دی په خپله وایي، چې: پر (۶۱۲هـ) تللی وم او د پښتونخوا په غرو او رغو ګرځېدم او د لویانو مراقد مې لیدل او پلټل، داسې ښکاري چې سلیمان ماکو تر دغه مفید او ګټور سفر وروسته موفق شو چې د پښتنو د نومیالیو بزرګانو په احوال کې یوه (تذکرة الاولیا) ولیکي او د دوی ویناوې او اشعار په دې کتاب کې خوندي کړي، په خواشینۍ سره چې دا کتاب اوس ورک دی، یوازې لومړي اووه مخه یې زموږ لاس ته راغلي دي.

سلیمان ماکو د پښتنو پخوانی مورخ او نثر لیکونکی دی او دده د نفیس او ګټور کتاب دغه څو مخه د پښتو ژبې او رجالو د تاریخ لپاره داسې مفید ثابت شو چې د ادب او پښتنو تاریخ یې تر ابده مرهون دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلیمان ماکو تذکرة الاولیا که څه هم یوازې اوه ډک مخونه ترلاسه شوي، خو له تاریخي پلوه دا اوه مخونه هم خورا ارزښتمن دي او د پښتو ادب لپاره د طلایي اثارو مثال لري. په دې اوو مخونو کې (ببېټ نیکه، ملکیار غرشین، شیخ اسماعیل او قطب الدین بختیار) معرفي شوي او د هغو د کلام بېلګې په کې راغلي دي. د نثر برخه یې چې د شاعرانو معرفي رانغاړي، په سلیمان ماکو پورې اړه لري او د نظم برخه یې اړوندو شاعرانو پورې. په عمومي ډول د سلیمان ماکو نثر خوږ، روان، ساده او له ځانګړي اهنګه ډک دی چې په خاصو ځایونو کې یې سجع کارولې چې دده نثر ته یې زیاته ښکلا ورکړې ده. د نثر یو دوه پراګرافونه به یې د بېلګې په توګه راوړو:

((مراقد د اولیا او واصلینو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل او د دوی په خدمت کې خاکپای وم او هر کله په سلام ورته ولاړ))

((نقل هسې کاندي یارانو چې په روزګار د شیخ بېټني دده ورور چې سړبن نومېده او پر شیخ هم خورا ګران و، سړبن نه درلود زامن او هر کله به ویل خپل ورور ته...))

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي د سلیمان ماکو د نثر د ځانګړنو په باب وایي: (( تر سلیمان دمخه د پښتو نثر کومه منثوره نمونه موږ ته نه ده معلومه چې پخوا به د پښتو نثر څنګه و؟ او څه سبک او ډول یې لاره؟ خو د سلیمان د نثر پوخوالی او متانت دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته ښرګندوي، چې ددغه عصر نثرونه به دغسې پاخه وو او لکه د پارسي نثر چې هم په دغو غزنوي او غوري دورو کې متين او پوخ او خوږ و، د پښتو نثر به هم ښه او د فصاحت اصولو ته نږدې و.

د سليمان ماکو نثر که په تحليلي سترګه وليدل شي، تر دغو لاندې دريو عواملو لاندې يې نشو و نما راته ښکاره کېږي او په هغه ادبي محيط کې چې دې نثر وجود موندلی و هم دا درې عوامل موجود وو.

۱- د پښتو ژبې خپل اثر چې سليمان پښتون و او د پښتو ژبې ويونکی و؛ نو طبيعي ده چې دغه عامل به دده نثر پر ادبي بنيه او جوړښت پوره اثر درلود او ښايي چې تر ده دمخه چې کوم نثاران موجود وو، د هغو د ليکلو سبک به هم پر ده درووند اثر لاره.

۲- په پارسي ژبه کې چې کوم ادبي حرکت موجود و او د سليمان ماحول يې نيولی و، ضرور به يې دده پر نثر هم اثر کړی وي.

۳- په دغه عصر کې پارسي نثر رشد موندلی و، هم په غزني، هم په خراسان او هم په هند کې خپل عروج ته رسېدلی و. تاريخ بيهقي او زين الاخبار او د محمد عوفي لباب الالباب او جوامع الحکايات او تاريخ سيستان او بيا طبقات ناصري او نور کتابونه ددغه عصر مهم منثور اثار دي؛ ځکه چې پښتو هم ددغه ادبي چاپېريال په منځ کې ژوند کاوه، نو يې اغېزې هم طبيعي دي.

په دغه عصر کې عربي ادب او عربي ژبې هم پوره او بشپړ اثر کړی و. په خپله پارسي نثر هم په ابتداء کې تر دغه اثر لاندې نشو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونما وکړه. د (۵۰۰هـ) په حدودو کې چې کوم پارسي منثور کتابونه ولیکل شول، د عربي ژبې اغېزې په کې څرګندې دي، ځکه چې پښتانه هم له عربي ثقافت سره په دغه زمانه کې پوره ارتباط لري، پر پښتو هم د عربي اثر شوی دی.

د سلیمان ماکو په حیاتي محیط کې دغه درې سایقه موجود وو، چې هر یو پر ادبي تحول او د لیک او نثر پر ډول باندې طبعاً اثر کوي او زه هم تر دغو دریو عواملو لاندې د سلیمان نثر تحلیلوم.)) (۱۳: ۶۰۲-۶۰۴)

د سلیمان ماکو د نثر په باب به وروسته د نثر په اړونده برخه کې پوره تفصیلي بحث کېږي، خو اوس دلته په لنډیز سره وایو چې د سلیمان ماکو نثر خورا خوږ او روان نثر دی. خپل پښتو لغتونه هم لري، (دري) او (عربي) ژبو لغتونه هم په کې کاربدلي دي، ګرامري جوړښت یې د پښتو له اوسنۍ محاورې سره ډېر اړخ نه لګوي، خو کېدی شي د خپل عصر محاورې سره برابر وي، تکلف او تصنع په کې نه شته، ځینې لغتونه یې اوس مړه یا متروک ګڼل کېږي، خو اکثره یې اوس هم زموږ په ورځنۍ محاوره کې کارېږي. د سلیمان ماکو د تذکرې بشپړ متن نه دی ترلاسه شوی که ټول متن وای، نو پوره باور و چې د هغه وخت د ښنتو ادبي بهیر په تېره بیا د نثر برخه به ترې ډېره ښه څرګنده شوې وای، خو دا ځو مخونه چې ترلاسه شوي دي، له هغو څخه هم د سلیمان ماکو د نثر قوت ښکاره کېږي.

د سلیمان ماکو په تذکره کې د نظم برخه هم د زیات اهمیت وړ ده، دا برخه نوره هم سوچه او نږه پښتو ده. سلیمان ماکو په دې تذکره کې د پښتو ډېر پخواني نظمونه خوندي کړي او د زمانې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

توپانه يې ژغورلي، چې په خپل ځای کې يې په تفصيل سره د هرې برخې يادونه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شیخ متي
## (۶۳۳-۶۸۸هـ)

دا مشهور عارف او متقي شاعر له پښتنو غوریاخېلو څخه دی، چې دده لوی نیکه (خرښبون) هم د پښتو ادیب او شاعر او دمخه یې احوال او اثار تاسو ولوستل.

شیخ متي د (عباس) زوی و، چې عباس د (عمر) او عمر د (خلیل) زوی و، خلیل د (غوریا) او غوریا د (کند) او کند د (خرښبون) زوی و. دا مشهوره کورنۍ د خرښبون تر مرګ وروسته په ارغسان، پښین او پېښور کې سره خپره شوه او شیخ متي دوه نور ورونه هم درلودل چې (حسن) او (امران) نومېدل د امران مزار تراوسه د کوږک پر غره دی، چې هغه غر دده په نامه ((د خواجه امران غر)) هم بلل کېږي او یوه خور یې ((بي بي خالا)) چې قبر یې تراوسه هم په پښین کې مشهور دی او په کلات کې د ترنک پر غاړه د ((خالا کلی)) هم ددې په نامه تراوسه باله شي، چې دا به په ژوند هلته اوسېده. شیخ متي پر (۶۲۳هـ) کال زېږېدلی او د (۶۵) کالو په عمر د ترنک پر غاړه پر (۶۸۸هـ) کال وفات شوی دی، دده مزار تر اوسه د کندهار شمال شرقي خوا ته تقریباً (۵۰) میله لرې پر یوه غونډۍ واقع دی، چې (کلات) یې بولي او دی په (کلات بابا) مشهور دی، ده خپل ژوند هم د ترنک پر غاړو او د (غونډان) په غره او د (کلات) په حدودو کې تېر کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیخ متي کورنۍ په (خلیلو غوریاخېلو) کې خورا مشهوره ده، دوی د پېښور له رغو څخه بېرته د کندهار خواوو او د ترنک غاړو ته ولاړل، په علم او عرفان معروف وو او پښتنو مورخانو یې ذکر ډېر راوړی دی. نعمت الله په (مخزن) او اخوند درویزه په خپله تذکره (حیات افغاني) او نور مورخان ددې کورنۍ احوال په تفصیل ذکر کوي او ددغې عرفاني کورنۍ خلک تراوسه هم د کندهار د ((ناکودک)) په کلي کې اوسي، په دوی کې ډېر شاعران، مورخان، عارفان تېر شوي دي. تر خرښبون وروسته هم ښایي، چې دوه پېړۍ په دې معروفه کورنۍ کې ډېر مشاهیر او شعراء تېر شوي وي، چې زمانې د دوی اثار سره مروړلي او پرېولي دي، خو دوه پېړۍ وروسته د پښتو شعر یو خورا ښاغلی او عارف ادیب موږ پېژنو، چې د مغولو د تاړاک په منځ کې دنیا ته راغلی او هغه نو شیخ متي دی.

## د شیخ متي اخلاقي او عرفاني شهرت:

شیخ متی په پښتنو کې لوړ اخلاق او عرفاني شهرت لري او لکه ځینې خورا لوړ مشاهیر دی هم د ((بابا)) په لقب یادېږي او پښتانه دا لقب هر چاته نه ورکوي. یوازې هغه کسان په دې نامه بلل کېږي، چې په دوی کې د علم یا عرفان یا بل لوړ خدمت له مخې ومنل شي او ګرده خلک یې په ((بابایي)) قبول کړي. د پټې خزانې مولف

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي، چې: ((شيخ متي لوی زاهد او عابد او پر خدای مين سړی و، عالم او د دين مرشد و او روحاني ژوند يې کاوه.))

دده مشهور عارف په باب لا خلک ډېرې کيسې او روايات تراوسه هم نقل کوي، دده کرامات بيانوي، په پټه خزانه کې له ((افضل الطرايق)) څخه يو حکايت دده د ښو اخلاقو په باب رانقل شوی دی، چې دلته په لنډيز سره ورته اشاره کوو: ((يوه ورځ شيخ متی پر لار تېرېده، چې هلته ډېرې ډېرې پرتې وې او لار يې بنده کړې وه، چې دغه ځای يې وليد، نو څو شېپې متواتر راغی او له هغې لارې څخه يې ډبرې او کاڼي ايسته کړل، يوه دهقان د شپې خپله ځمکه اوبوله، ده ته يې وويل: ته د خدای دوست يې او ټول خلک ستا احترام کوي، نو دونې زحمت ولې پر ځان تېروې او دغه لار پاکوې، شيخ متي هسې ځواب ورکړ، چې يوه ګړۍ د خلکو خدمت تر هر څه ښه دی.))

## د شيخ متي اولاد او کورنۍ:

شيخ متي په خپلې کورنۍ کې علم، زهد او تقوا او ادب په ارث پرېښوول او تر ده وروسته له دغې کورنۍ څخه عارفان، شاعران او مولفان راووتل، چې په ډېر لنډيز سره يادونه وکړو:

په پښتنو کې د شيخ متي کورنۍ په (متي زي) شهرت لري او دده له زامنو څخه (حسن) او (يوسف) ډېر مشهور دي، چې د يوسف زوی (شيخ کټه) يو لوی ولي او د پښتو مولف د (۷۵۰هـ) په حدودو کې تېر شوی او د (لرغوني پښتانه) کتاب يې ليکلی دی، بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشهور عارف له دې کورنۍ څخه (شيخ قدم بن محمد زاهد بن ميرداد بن سلطان) دی، چې سلطان هم د شيخ کته له زامنو څخه و، شيخ قدم به سر هند کې وفات شوی او هورې ښخ دی، د (۹۶۲هـ) په حدودو کې ژوندی و، دده زوی (شيخ قاسم) هم مشهور ولي او مولف دی، چې پر (۹۵۶هـ) زېږېدلی او د (تذکرة الاوليا افغان) مولف دی، ددې شيخ قاسم له زامنو څخه (شيخ کبير بالا پير) هم په تقوا او عرفان مشهور و، چې دده زوی (شيخ امام الدين) پر (۱۰۲۰هـ) زوکړی او ((تاريخ افغاني)) او (اوليای افغان) دده ليکلي اثار دي، له دې علمي کورنۍ څخه اخرنی مولف او شاعر (ميا نعيم) دی، چې د (۱۲۳۰هـ) په حدودو کې يې د کندهار په ((ناکودک)) کلي کې ژوند کاوه.

## د شيخ متي اشعار او اثار:

شيخ متی د پښتو يو خورا لوی صوفي او عرفاني شاعر دی، ده په غونډان (د کندهار د کلات يو غر) کې يو کتاب کښلی و، چې نوم يې و ((د خدای مينه)) او د پټې خزانې مولف وايي چې دا کتاب په کلات کې دده پر مزار پروت و او زايرانو (کتونکو) به لوست، اکثر عرفاني اشعار او مناجاتونه وو او په داسې ډول ويل شوي وو، چې پر خلکو به يې ډېره اغېزه کړله او زړونه به يې ويلې کول، په خواشينۍ سره چې ددې صوفي او مقتدر شاعر اشعار زموږ په لاس کې نه شته، خو د پټې خزانې مولف يې دغه يو عارفانه خوږه او مهيجه منظومه له خپله پلاره اورېدلې او داسې يې رانقل کړې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر لويو غرو هم په دښتو کې
په لوی سهار، په نيمو شپو کې
په غاړه ږغ او په شبلو کې
ياد ويرژليو په شپېلو کې
ټول ستا د ياد نارې سورې دي
دا ستا د مينې نندارې دي

***

جنډی زرغون که په بيديا دی
د بريڼ خواته په خندا دی
ترنک چې خړ دی په ژړا دی
دا ټول اغېز د مينې ستا دی
ټوله ښکلا ده ستا له لاسه
ای د پاسوالو پاسه پاسه!

***

که لمر روښانه مخ يې سپين دی
بيا د سپوږمیه تندی ورين دی
که غر دې ښکلی پرتمين دی
لکه هينداره مخ د سین دی
ستا د ښکلا دا پلوشه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا یې یو سپکه ننداره ده

***

دلته لوی غرونه زرغونېږي

د ژوند ورېمې په کې چلېږي

بوراوې شاوخوا کړېږي

سترګې لیدو ته یې هېښېږي

لویه خاونده! ټوله ته یې!

تل د نړۍ په ښکلېده یې

***

خاونده! ښکلی ستا جمال دی

ښکاره یې لور په لور کمال دی

که ورځ که شپه که پېړۍ کال دی

ستا د قدرت کمکی مثال دی

ستا د لورونو یو رڼا ده

دلته چې جوړه تماشا ده

***

زړه مې دا ستا د مینې کور دی

سوی د عشق په سوځند اور دی

رپ یې و تاته ستا پر لور دی

بې له دې هېڅ دی ورک یې پلور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا جمال په ليدو ښاد دی
که نه وي دغه نور برباد دی

***

په غرو کې ستا د عشق شپېلکی دی
ددې نړۍ په عشق سمی دی
که غټې، که وړې، که پنډه نری دی
ستا د جمال ځری هر شی دی
چې پر دنيا مې سترګې پرې سوې
ستا د جمال په ننداري سوې

***

نه هسک نه مځکه وه، تورتم و
تیاره خپره وه تل عدم و
نه دا ابلیس، نه یې ادم و
ستا د جمال سوچه پرتم و
چې سو ښکاره ښکلې دنیا سوه
د پنځ پر لوري یې رڼا سوه

***

زه چې څرګند پر دې دنیا سوم
د ښکلي مخ په تماشا سوم
ستا پر جمال باندې شیدا سوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـــــه خپلــــــې ســــــتې راجـــــلا ســــوم
پـــــــه ژړا ژاړم چـــــــــې بېلتـــــــون دی
یمـــــه پرد بېســـــی بـــــل مـــــې تـــــون دی

***

وګرېـــــــــــو! ولـــــــــې «متـــــــــــــی» ژاړي
ســـــــورې یـــــــې اورئ غـــــــاړې غـــــاړې
ثـــــه غـــــواړي ثـــــه وایـــــي ثـــــه بـــاړي
خپـــــل تـــــون او کـــــور و کلـــــی غـــــواړي
چـــونې چـــې ببـــل ســـي نیمـــه خـــوا ســـي
تـــــل یـــــې د بـــــڼ پـــــه لـــــور ژړا ســـــي

## شننه او ارزونه:

پښتو ادبپوهان د شیخ متي د شعر د تصوفي، عرفاني او فلسفي اړخ ترڅنګ هغه د فکري غنا او پوخوالي له پلوه پوخ شعر بولي، وایي: «د شعر د اړخ موږ ته دا جوتوی چې په پښتو شعر او شعري کلام کې فکري غنا ان له پخوا موجوده وه. په دې شعر کې موږ داسې پوخوالی او فکري غنا لیدلای شو چې د یوې پیاوړې فرهنګي غنا نمایندګي کوي. دا خبره هم دا جوتوي چې پښتانه شاعران له تصوف او عرفان سره اشنا وو، په دې برخه کې یې زیاتې شتمنۍ درلودې، خو دا چې لا تراوسه نه دي ترلاسه شوي، یو عمده دلیل یې دا کېدی شي چې د پښتنو سی‌مه تل د لویدیځ، ختیځ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځنۍ اسیا د یرغلونو او تاړاکونو د تېرېدو لاره ده. د اوسني جنګ په څېر، په تېرو جنګونو کې زرګونه فرهنګي اثار د اسونو او کاروانونو په پښو کې لتاړ شوي او له منځه تللي دي. پر دې اساس ده چې موږ د فکري جریانونو د تحلیل له پلوه لږ مواد او اثار ولرو.)) (۳۶: ۷۸)

د شیخ متي دا لوړ شعر په پښتو اشعارو کې خورا ډېر اهمیت لري او دا یوه داسې نمونه ده چې د عرفاني او تصوفي شعر په سر او پیل کې درېږي.

((د منځنۍ اسیا په پاړسي اشعارو کې عرفاني رنګ د غزنویانو له عصره ښکاري. سنایي، شیخ فرید الدین عطار او مولینا بلخي (رومي) ددې ډلې مشران دي. د (۶۰۰هـ) په حدودو کې پارسي شعر د تصوف یوه غوره او غټه زېرمه لري.

داسې ښکاري چې شیخ متي د خپل عصر پر تصوف واقف سړی و او دده دا شعر ثابتوي چې ده په عرفان او تصوف کې پاخه افکار درلودل او د پښتو د متصوفو شاعرانو امام ګڼل کېږي، چې تر ده وروسته په دغه فکر او دغه ډول ډېر اشعار د روښانیانو، عبدالقادرخان خټک، رحمان بابا او نورو له خوا ویلی شوي دي، خو د شیخ متي اشعار په عرفاني دنیا کې یو مخصوص خوند، رنګ او قیمت لري، چې په نورو عرفاني او تصوفي اشعارو کې نه شته، ځکه چې دی مخصوصاً په خپل شعر کې جمالي افکار او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظریات څرګندوي او کایناتو ته د ښکلا او جمال پلټلو په سترګه ګوري.

شیخ متي له هغو لومړیو شاعرانو څخه دی، چې پښتو شعر ته یې یو فلسفي ښکلی رنګ ورکړی او د جمالیت ټکی یې ښه روڼ کړی دی، دده فکر تل له مادي خوا څخه معنوي او الهي افکارو ته تمایل لري، له مادي اشعارو څخه تل معنوي او مافوق الطبیعه نتایج اخلي او یوازې د مادیاتو په ستاینه کې ځان نه ډوبوي.

((له خورا پخوانی زمانې، بلکې له هغه عصره چې انسان لومړی پلا پر دې دنیا سترګې غړولې دي، نو ده ته د کایناتو د لیدنې او کتنې خوند پیدا شوی او پر دې نړۍ یې ډېر ښکلي موجودات لیدلي دي.

دې ښکلا انسان تر خپل اثر لاندې نیولی او دده د فکر او عقلانیت په سلسله کې د ښکلا خوښوونې او جمالیت جذبه پیدا شوې ده، له هغه وخته چې فلسفي میلان او د شیانو په حقایقو کې فکر کول په انسانانو کې ډېر شوي دي، نو له (افلاطون) او (ارسطو) څخه رانیولې بیا تر (کانټ) او (هوم) متاخرو فیلسوفانو پورې ټولو پر ښکلا او ښکلا پېژندنه بحثونه کړي او مخصوصاً کانټ (۱۷۰۹م) په علمي ډول دغه مباحث ترتیب کړل، دی وایي چې: جمال یو مستقیم او بې غرضانه لذت او هسې یو خوند دی، چې د بل مقصد او غرض لپاره نه دی، بلکې په خپله دی مقصد دی او فنون هم د حسن او ښکلا د اظهار وسایل دي، مثلاً د خبرو فنون او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رقص او پېښو فن او رسامي او نور هر یو ځانته د ښکلا او جمال ترجماني کوي، د کانټ په علمي تعبیر، جمال یو بې غرضانه او سیده سم خوند دی، چې انسان مستقیماً په فطري ډول رابطه ورسره لري، خو هغه وخت چې نظر پوخ شي او د انسان کاته په غور او تدقیق وشي، نو له ښکلا او جمال څخه ښکلوونکي ته میل کوي او په مادي ښکلا کې یو ابدي او جاویدان نور او تلپاتې رڼا پلټي، د عرفان په دنیا کې د انسان دا لومړی قدم دی او هغه وخت چې له اثره موثر او له موجوده موجد ته لار ومومي، نو د «الله نورالسماوات والارض» پر اساس د جمال پر نندارو بوخت شي او د مینې په دریاب کې هسې لاهو شي چې بې له هغه نوره بل څه نهویني.

د شیخ شعر هم اساساً پر دغو جمالي او عرفاني افکارو بنا شوی دی، دی وایي: که لمر او سپوږمۍ روښانه دي، که پر دښتونو باندې ګلان خاندي، که په پسرلي د ځمکې مخ زرغونېږي، که په غرو کې د مینې شپېلۍ غږېږي که بوراوې پر ګلو کړېږي، دا ټول د یوه ابدي او تلپاتي جمال مظاهر دي او انسان تل ددغه جمال په مینه ژوندی پایي او هر شی د جمال یو ځری دی. انسان په خپله هم د قدرت له فیاض او ښکلي چینې راوتلی دی، نو په دې دنیا کې هم پر ښکلا مین دی او تل میل لري، چې بېرته خپل پربښي وطن او ښکلې مرجع ته ولاړ شي، نو شیخ متي هم کټ مټ دغه فکر تصویروي او د نورو روحاني او عرفاني شخصیتونو غوندې خپلې روحاني سرچینې ته لېوالتیا او میلان پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیخ متي له دغه یوه شعره دده لوړ عرفاني او فکري او فلسفي مقام ښکاري، دی هم لکه د نورو پخو عارفانو په شان هغسې فکر کوي او په جمالي فکر کې د کایناتو له مناظرو او ښکلو مزایاوو څخه عرفاني او روحاني نتایج اخلي او د جمال منبع فیاض ته رجوع کول غواړي، هغه چې انساني روح له هغې منبع فیض مومي چې ((و نفخت فیه من روحي)) علاوه پر دغو عرفاني لوړو افکارو چې شیخ متي په خپل شعر کې څرګند کړي دي، دده د افادې طرز او ژبه خورا خوږه ده، په روانو، سلیسو او خوږو اشعارو کې یې لوړ او مغلق فلسفي مطالب هسې ځای کړي دي، چې دده د ساده او خواږه شعر په ترڅ کې هسې ښکاري، لکه خورا معمولي او سهل مطالب.

دا چې شیخ متي د جمالیت مقاصد په خوږه او جمیله ژبه ویلي دي، د ژبې او وینا ښکلا ده، په شعر کې یې د غږ ښکلا یانې موسیقیت هم پټ دی او دده شعر اساساً د پښتنو د بدلو پر وزن په خواږه غږ ویل کېږي، نو ده ګنې د ښکلا ډېر فنون په دغه شعر کې سره یوځای کړي دي، اصل شعر پر جمالي فکر او نظریاتو باندې بنا دی، ژبه یې هم ښکلې او جمیله ده او د شعر وینه او تغني هم په غږیزه ښکلا او موسیقي پورې اړه لري.)) (۱۳: ۵۴۰-۵۴۳)

د ژبني جوړښت له مخې دا شعر هم په هغو شعرونو کې راځي چې نږه پښتو لغتونه په کې راغلي دي. لکه: (غاړه ( په پښتو کې مجازاً د نل نغمه ده)، ویرژلی ( غمجن)، جنډی یا زونډی ( پخوانیو ګل ته ویل)، خو اوس هم د ګل په مانا دی او ځینې پښتانه یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامه په ډول (جنډيي خان، جنډو خان يا ژوندی خان) وايي، بربڼ (لوړ باغ) اوس دا کلمه ژوندۍ نه ده. اغېزه( اغېز، اثر)، پاسوال (ساتونکی، حافظ) دا کلمه پخوا ويله کېده ښايي پاچا هم پاسوال بلل کېده. پرتمين ( د پرتم خاوند)؛ اوس هم پرتمين کارول کېږي ،پرتم د شکوه او جلال په مانا. سين ( د سيند مخفف دی) د دربار په مانا. ښکلا ( د ښکلي له ريښې څخه د جمال په مانا)، کړېدل ( چاپېر ګرځېدل، طواف)، هېبښ ( حيران)، لورنه ( مهرباني)، سوځند ( سوزان)، رپ(تپش،رپېدل)، پلور (قيمت)، سمی او سما ( د سم له ريښې څخه پخوا ويل کېده ( صلاح او سموالی)، ځری ( قاصد)، هسک (اسمان)، پرتم (دبدبه)، پنځ (پنځېدل) پخوا د خلقت او پيدا ښت په مانا و، نو پنځ بايد مخلوقات او جهان وي. ستېه(ببخ)، تون(ځای)، سورې(نارې)، غاړې( غاړې) ، باړل (اوس نه شته ښايي پخوا د نفع غوښتلو په مانا و)، چونۍ( بلبل).

يو څو دري لغتونه او يا هم پښتو او دري مشترک لغتونه په کې هم شته، لکه (بيديا، برباد، سهار، خاوند، تماشا، سوچه) دري کلمې دي. او ځينې عربي کلمې لکه (جمال، کمال، مثال، قدرت، عشق، عدم، ابليس، ادم) او ځيې نورې هم په کې شته.

د شکلي جوړښت له مخې هم لکه پورته چې يادونه وشوه پر دې شعر له عربي ژبې څخه د راغلو شعري فورمونو قواعد نه تطبيقېږي، دا نظم ټول لس بندونه لري چې هر بند يې شپږ مسرې لري. د ځينو بندونو مسرې يې د قافيو ترڅنګ رديفونه هم لري، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې بيا له رديفونو څخه ازادې دي. د هر بند په پای کې يو ځانګړی کسر لوېږي، چې يو بيت لري. او مسرې يې په خپل منځ کې ګډه قافيه لري، ځينې کسرونه يې د قافيې ترڅنګ ګډ رديف هم لري، د بندونو څلور مسرې يې د څلوريزې بڼه لري، خو کسرونه چې ورسره زيات شي، دا شکل بدلوي، د ټولو مسرو د څپو شمېر يې سره مساوي دی، هره مسره يې (۹) څپې لري، البته يوه نيمه مسره کې د کلمې د اوسني تلفظ او بڼې له مخې بېوزني احساسېږي. څرنګه چې دا شعر نسل په نسل تر موږه رارسېدلی، نو کېدی شي د ځينو کلمو د اوسنۍ او پخوانۍ بڼې تلفظ کې بدلون راغلی وي. له محتوايي پلوه لکه څنګه چې دمخه وويل شول، دا يو عرفاني او تصوفي شعر دی چې په پښتو کې تقريباً د خپل ډول ستر عرفاني شعر ګڼل کېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بابا هوتک

## (۶۶۱-۷۴۰-هـ)

بابا هوتک هم د ترنک د ناوې له مشهورو پښتنو څخه دی، چې هم د عرفان او هم د مشرتوب صفات لري او پر دغو ښېګڼو سربېره د پښتو ژبې یو ډېر نامي شاعر هم دی، د مورخانو په قول دی د (بارو) زوی او د (تولر) لمسی و او تولر هم د بابا غلجي له کورنۍ څخه، چې دا کورنۍ هم په پښتنو کې مشهوره ده او د بېټ نیکه له معروف خاندانه راوتلې ده، چې ډېر ادیبان او مشران په کې تېر شوي او د (۶۰۰هـ) په حدودو کې د ترنک د غاړو د پښتنو مشرتوب په دغې کورنۍ پورې اړه درلوده. بابا هوتک له دغې کورنۍ څخه یو نومیالی مشر و، چې پر (۶۶۱هـ) په اتغر کې زېږېدلی او دا ځای اوس هم په دغه نامه مشهور او د کلات جنوب شرقي خواته د هوتکو او توخو مسکن دی، څرنګه چې د بېټ نیکه د کورنۍ، صلاح او تقوا مشهوره وه، نو هوتک هم عمر په عبادت او صلاح تېراوه، په پښتنو کې دده کرامات مشهور وو او د سردارۍ او بادارۍ مقام یې هم درلود. بابا هوتک د مغولو په دوره کې لومړی پښتون شاعر دی چې د خپل وطن دفاع یې کړې او د مغولو پر وړاندې په جګړو کې یې لاس درلود، دده د رشد او زلمیتوب عصر د (۷۰۰هـ) حدود دي چې دغه وختونه د مغولو د واک د خپرېدا او د دوی د سلطنت د ارتقاء دوره ده، دا هغه وخت دی چې د غوریانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

عظمت کښته شوی او د فیروز کره د لوړتیا زمانه تېره شوې ده، په هرات کې (آل کرت) او په سیستان او خراسان کې نور محلي امراء له مغولو سره اوبه غلبېلوي او شپه او ورځ ورسره تېروي، پښتانه اکثر یا د مغولو له تاړاکه غرو ته ختلي دي، یا د ارغنداو او ترنک په ورشوګانو کې ژوند کوي، له دوی سره جنګونه کوي. خپله خپلواکي او ازادي ساتي، چې د ازادۍ دا جګړې د پټې خزانې مولف هسې بیانوي:

((نقل دی، چې په هغه وخت کې به هر ځل مغولو د ارغنداو پر غاړو لوټ کاوه، اتغر او اولان او کلات به یې تالا کول. بابا هوتک خپل قومونه راټول کړل او د سره غر سره یې پر مغولو شخړه بوتله، په دې جګړه کې مغول تالا شول او پښتنو ګڼ ندیو ډېر ووژل، ماته خپل پلار داودخان داسې نقل وکا، چې سور غر په دغه ورځ د مغولو په وینو داسې لژند شو، چې پلوشو د لمر به بربښانده کا...))
(۵۱: ۸)

((بابا هوتک له مغولو سره ډېر جنګونه کړي دي، تل یې د ارغنداو پر غاړو د دوی د تالاو دفاع کوله او پښتانه چې په (اتغر) او (مرغه) کې پراته وو، دده تر مشرتابه لاندې د وطن په دفاعي جګړو کې شامل وو، دا زړور مشر او سپین ږیری د عمر پر نهه اویایم کال پر (۷۴۰هـ) کال وفات شوی دی.

د پښتو شاعرۍ په تاریخ کې بابا هوتک لومړی شاعر دی، چې د مغولوالې پر خلاف یې شعر ویلی دی او دی د هغو ټولو شاعرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېشوا ګڼل کېږي، چې په وروستیو دورو کې د مغولو مخې ته درېدلي او په قلم یا توره یې په وطني دفاع کې برخه اخیستې ده.

د بابا هوتک یو تود حماسي شعر چې په ملي وزن غړول کېږي، د پټې خزانې مولف د خپل پلار له خولې په هسې ډول رانقلوي:

((د مغولو په یوه شخړه کې پښتانه لږ او بې قوته وو، چې د سرو مغولو پېښه راغله: د بابا هوتک یو څو خپلوان ومړل، ده په لوړ ږغ دا حماسي سندره وویله او خپل زلمي یې په جګړه کې تاوده کړل، څو دوی په دښمنانو باندې برې وموند)) (۱۳: ۴۵-۴۶)، هغه سندره داده.

پـــــر ســـــور غربـــــل راتــــــه نــــــن اور دی
وګړیــــــه جـــــوړ راتــــــه پېغــــــور دی
پـــــر کلــــي کـــــور بانـــــدې مغـــــل راغـــــی
هـــــم پـــــه غزنـــــي هـــــم پـــــه کابـــــل راغـــــی

***

غښـــــتلیو ننـــــګ کـــــړئ دا مـــــو وار دی
مغـــــل راغلـــــی پـــــه تلـــــوار دی
پـــــه پښـــــتنخا کـــــې یـــــې ناتـــــار دی
پـــــر کلــــي کـــــور بانـــــدې مغـــــل راغـــــی

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

آ دمرغې غښتليو راسئ
پر ننګ ولاړ د پښتنخا سئ
تورې تېرې غشي تر ملا سئ
پر کلي کور باندې مغل راغی

***

زلمو په غشيو کړئ وارونه
د تېرو تورو ګوزارونه
ور وړاندې کړئ خپل ټټرونه
پر کلي کور باندې مغل راغی

***

زما د زلمو وينې بهېږي
ځمکې او غرونه په سره کېږي
ميرڅى ځغلي او ترهېږي
پر کلي کور باندې مغل راغی

***

پښتنو هلئ په غره جنګ دی
سور غر په وينو د دوی رنګ دی
مهال د تورې دی د ننګ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـــــر کلــــي کـــور بانـــــدې مغـــــل راغـــــی

***

زلمـــــو پـــــر ننـــگ ځانونـــــه مـــــړه کـــړئ
دښـــــن پـــــه غشـــــيو مـــــو پيبـــــه کـــړئ
د پښـــــــتنخا ځمکــــــې ســــــاته کـــــړئ
پـــــر کلــــي کـــور بانـــــدې مغـــــل راغـــــی.

## شننه او ارزونه:

ددې نظم ژبه خوږه او له تکلفه تشه ده، خو لکه د ځينو نورو پخوانيو شاعرانو په شان مړه او نادر لغات نه لري، وزن يې هم د ملي بدلو دی، مکرر کسر لري، خو د قافيې او نيم عروضي وزن التزام يې کړی دی، د شاعر فکر هم ډېر مستقيم او د حماسي دورې استازی دی. د هغې زمانې د پښتنو وطني احساس او د مينې د ساتنې تاوده احساسات ځنې ښکاري، چې دغه افکار هم د مغولي دورې د پښتو شعر شمزۍ ده او تر (۱۰۰۰هـ) پورې په پښتو شعر کې په ښه ډول خوندي شوي دي. د لغوي جوړښت له پلوه لکه څنګه پورته يادونه وشوه، دا نظم لکه د ځينو نورو پخوانيو نظمونو په شان داسې کلمې نه لري چې اوس دې متروکې وي، يا دې په ژبه کې نه کارول کېږي او يا دې هم داسې کلمې وي چې مانا يې څه ناڅه بدله شوې وي، ټولې کلمې چې په دې شعر يا نظم کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاربدلي، اوس هم په همغه پخوانۍ بڼه ژوندي او کاربدونکي دي. ټولې پښتو کلمې يې کارولي، د نورو ژبو کلمې په کې نه شته، خو دا ټولې کلمې اوس هم په همغه پخوانۍ بڼه کارول کېږي، يوازې (ميرڅی) هغه کلمه ده چې اوس په ژبه کې ډېره نه کارول کېږي او تر بابا هوتک وړاندې امير کروړ هم په خپل شعر کې کارولې ده.

د شکلي جوړښت له مخې دا نظم هم په هغو نظمونو کې راځي چې د بلې ژبې شعري يا نظمي قواعد پرې د تطبيق وړ نه دي، د خپلې ژبې پښتو ملي اوزانو سره سمون خوري، په اصطلاح د ولسي بدلو رنګ لري، ټول نظم (اوه بندونه لري)، هر بند يې څلور مسرې لري، د هر بند درې مسرې په خپل منځ کې قافيه لري او ځينې يې رديفونه هم لري، خو د هر بند څلورمه مسره يې په ټولو بندونو کې چې د کسر په توګه راځي، هغه يو شان ده. (پر کلي کور باندې مغل راغی)، همدا کسر چې تکراري او ټينګاري بڼه لري، د شعر مانا ته قوت ورکوي، وزن او مانا دواړه بشپړوي او د حماسي شعر وروستی قوت او هدف پوره کوي. له کسر پرته د ټولو بندونو هره مسره (۹) سپلابه لري، خو د کسر مسره يې لس څپې لري. له کسر پرته د مسرو د څپو شمېر ددې سبب شوی چې نظم مشترک وزن پيدا کړي او د کسر مسره بيا ددې سبب شوې چې هم اهنګ او وزن راتاو کړي، په اصطلاح ويې تړي او هم پر هدف ټينګار وکړي. له محتوايي پلوه لکه چې دمخه اشاره وشوه دا يو حماسي شعر دی چې پر ملي احساساتو ولاړ دی او د همدې شعر په برکت يوه لويه سوبه د پښتنو په برخه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شیخ ملکیار هوتک

## د (۷۴۹هـ) حدود

شیخ ملکیار د بابا هوتک مشر زوی و او له خپله پلاره یې ادب، توره او مشرتوب په ارث وړی و، دی هم لکه خپل پلار د پښتو شاعر او هم د خپل قوم مشر و، د پلار تر مرګ وروسته یې د مشرتابه پګړۍ پر سر کړې وه.

دده د زیږېدو کال (۷۱۵هـ) دی د پلار د وفات پر وخت د (۲۵) کالو زلمی و، دی جسماً هم قوي او غښتلی پهلوان و له لسو سړو سره به یې یوازې مقابله کوله، د بابا هوتک تر وفات وروسته د ملي دفاع وظیفه هم دده پر غاړه لوېدلې وه او د مغولو د یرغلګرو لښکرو په مقابل کې د پښتنو ملي مشر ګڼل کېده.

ملکیار د کلات د (سیوري) په لتو کې له خپل قوم سره اوسېده او دا هغه ځای دی چې تراوسه هم هوتک په کې اوسېږي، دده په سیوري کې خپل قوم زراعت او ودانۍ ته راوباله، کاریزونه یې وکښل، نو مغولو چې ددې ځای زراعتي عمران ولیده، پر (سیوري) یې هم یرغل وکړ او د پښتنو مېنې یې ور ورانې کړې، دلته هوتک او د دوی مشر ملکیار مجبور شول، چې (مرغې)، (رږوب) او (وازې خوا) یانې د (سیوري) شاوخوا ته سره متفرق شي، خو ملکیار چې وطنپال، توریالی او پوهاند مشر و، د مغولو مخې ته ودرېده او له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی سره یې د خپلواکۍ جهاد جاري وساته، په پای کې پر مغولو بریمن شو او سیوری یې ښېرته ونیو، دغه ځای یې بیا ودان کړ. دا کورنۍ د ترنک په ورشوګانو کې تراوسه لا هم شهرت لري، د ملکیار تره چې د بابا هوتک ورور و، (توخی) نومېږي او د (توخي) زوی ((نور بابا)) هم د ملکیار معاصر او ملګری و. دوی لکه خپل پلرونه روحاني ژوند هم درلود او تل په پښتنو کې په صلاح او تقوی مشهور وو او په پای کې تر (۱۰۰۰هـ) وروسته د توخي له کورنۍ څخه سلطان ملخی مشهور مشر راووت، چې د اورنګزېب معاصر دی، خو د بابا هوتک له پښته هغه مشهور ملي قاید او ازادیخواه پښتون پیدا شو، چې مور یې حاجي میرخان نیکه (میرویس خان) بولو او ده د (۱۱۲۰هـ) په حدودو کې د پارس د صفوي کورنۍ له اسارته خپل قوم وژغوره، په کندهار کې یې د پښتنو د استقلال بیرغ لوړ کړ او وروسته دده اولادې تر اصفهانه پاچاهي وکړه.

پټه خزانه د ملکیار په باب دا نقلونه لیکي:

((یوه ورځ ملکیار بابا د خپل تره توخي کور ته ولاړ او د خپل تره زوی ((نور بابا)) یې ولید، چې غشی تېره کا، ملکیار ځنې پوښتنه وکا، چې تربوره دا څه کړې؟ هغه ویل: د مغولو په جګړو کې ستا ملاتړ یم، ملکیار بابا دعا وکړه ورته، چې تربوره! اتل سوبمن اوسې، وایي، چې هر وخت به نور بابا په جګړه کې بری موند او ماته یې د هېچا په یاد نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هسې نقل کا، چې یوه ورځ د مغولو تاړاک پر سیوري راغی او هغه وخت د ملکیار بابا په کلا کې څوک نه وو، پرته له ښځمنیو نور بابا چې خبر سو ژر یې ځان هغه کوټ ته ورساوه او په یو تن یې مغول وشړل او ډېر یې مړه کړل، دا ټول د ملکیار بابا د دعا برکت و...)) (۵۱: ۱۶)

له دې روایاتو څخه دې کورنۍ او د ملکیار شخصیت ته د پښتنو د ذهنیت او فکر نسبت ښکاري چې خلکو په څه احترام ورته کتل او دده مقام یې څومره لوړ ګاڼه.

## د ملکیار شعرونه:

داسې ښکاري چې ملکیار د مینې ډک زړه درلود او د عشق او مینې پر لار یې قدم واهه او کله کله به یې عشقي سندرې هم ویلې. پټه خزانه دده یوه داسې عشقي سندره رانقلوي چې په پښتو اشعارو کې د وزن، بحر او مضمون له پلوه ډېر قیمت لري او خاص د یوه ساده او عشقي پښتني فکر ښکارندویي کوي، داسې سندرې د پښتو په ولسي شعر کې خورا ډېرې دي او په یوه خورا مست او طنان غږ ویلې کېږي، چې د پښتنو د مخصوصو الحانو او موسیقۍ یو خوږ ترنم او لحن دی.

ملکیار د طبیعت په سپېڅلې لمن کې دا عشقي سندره د رود پر غاړه د سپینې سپوږمۍ په ښکلې رڼا کې غږولې ده، دده خطاب څپاند رود او ډک سین ته دی چې دده او محبوبې ترمنځ حایل شوی دی د مینې اور ده ته قرار نه ورکوي او دی داسې تصور کوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اور ځکه چې ډېر تېز دی، نو د سین ځپې ، توپان او د سېل زيږې اوبه به وچې کړي.

د سین پرغاړه ناست دی، نه شي تېرېدلای، نو د محبوبې کلي ته د سپوږمۍ په ذريعه خپل احترام وړاندې کوي او په پای کې دې ځپانده سېل ته د مينې به قوت خطاب کوي او ترې اوړي.

د ملکيار دا د عشق شپه او د مينې ويناوې د پټې خزانې خاوند داسې نقل کوي:

((هسې نقل کا ، چې په سنه (۷۴۹هـ) کې په پسرلي ترنک ډېر ډک شو ، په سختو نېزو او په يوه مياشت يې چړ ونه موند او خورا ډک غاړې غاړې بهېده، ملکيار بابا چې د ترنک څنډو ته راغی هسې سندرې يې ويلې.)) (۵۱: ۱۴)

ترنک بهېږي | ترنک بهېږي | غاړې تر غاړې
زما زړګی خو
خپل لالی غواړي
که روده روده | د ترنک روده | خاوند دی وچ کا
چې زړګی مومي
زما خپله سوده
که نبز دی نبز دی | نبز د ببلتون دی | زړه نبزه وړی
په وير ژړلی
په غم زبون دی
که اور دی اور دی | په زړه يې اور دی | دا اور به وچ کا
د وير نبزونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل ډېر په زور دی

نـمنځه يــوســه    سپيني سپوږميـه    ورتــه ووايـــه

چې ترنک ټال کړم

ستا له خولګيـــه

که خړو خړو    اوبـــو سوان کړئ    ببل

ملکيار دی

پــاتـــې له يار دی

سوب يـــې جانان دی.

## شننه او ارزونه:

له لغوي پلوه دا شعر لـه نږه پښـتو کلمو څخه رغېدلی، د بلې ژبې کلمه په کې نـه شـته، ځينې کلمې يې داسې دي چې اوس يې ځينو ته مانا ډېره څرګنده نه برېښي، نېز (سېلاب) چړ (د اوبو هغه وروستۍ برخه چې اوبه په کې په تېزۍ سره راځي)، سوده (ډاډ او اطمينان)، نېزه وړی، د سېلاب خس و خاشاک)، سوان، (سهولت او رعايت)، سوب (حاضر) چې اوس پـه ژبـه کې ډېـر زيـات نـه کـارول کېږي، په تېره بيا سوده او سوان.

لـه شـکلي پلوه هم دا يـوه ځـانګړې ولسـي بدلـه ده چې خپلـه د پښـتو شعر وزن او اهنګ لري او د پښتو د خپلو قواعدو تابع ده.

ټول شپږ بندونه لري، هر بند يې پنځه مسرې، د سر د لومړی بند دريمه او پنځمه مسـره يـې مشـترک اهنـګ لـري، د سـر لـومړۍ دوه مسرې يې خپلمنځي قافيه لـري. پـه حقيقت کـې يـوه مسـره دوه ځلـه تکرارېږي. د دويم او دريم بند لـومړۍ دويمـه او پنځمـه مسـرې بيـا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل منځ کې هم قافيه دي، پنځم او شپږم بند بيا له نورو سره يو څه جزيي توپير لري، لنډه دا چې دا داسې يوه ولسي بدله ده چې د پښتو له ځانګړې موسيقۍ سره اړخ لګوي او د نورو مقيدو قافيوالو وزنونو کوم خاص فورم پرې د تطبيق وړ نه دی. له محتوايي پلوه يوه عشقي بدله ده چې د طبيعي مينې اظهار په کې له ورايه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اکبر زمینداوري

## د (۷۸۰هـ) حدود

لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي وایي: ((اکبر زمینداوری د پښتنو له نوم ورکو شاعرانو څخه دی، چې دده اثار هم ورک دي او یوازې یو څو پانې یې په زمینداور کې ما میندلې وې چې دا نوم ورکی شاعر د هغو پاڼو په مرسته وپېژندل شو.)) (۱۳: ۵۵۲)

لکه تاسې چې تر دې وړاندې په بېلابېلو برخو کې ولوستل، (داور) زمونږ د وطن یو معروف ولایت او ډېر عمر د اسلام له پیل څخه بیا د مغولو تر تاړاکه د مدنیت او ثقافت مرکز و مشهور ښارونه یې لرل او (اکبر) هم په دغه ځای کې زېږېدلی و.

دا شاعر هم د مغولو د دورې په پیل کې ژوندی و او د هغو شاعرانو له مخکښانو څخه دی چې دوی په خپلو اشعارو کې د مغولو له تاړاکه شکوې کړې دي، یا یې د هغو مظالم لیدلي دي. دی په یو بیت کې هسې وایي.

د مغلو تمر هسې په اور وسوم

چې به هېر په دې ماتم زمینداور کړم

له دې بیته ښکاري چې دی د (ګوډ تیمور) معاصر دی، ځکه چې (تمر) د تیمور پخوانی املا ده او دې پاچا له (۷۷۱- ۸۰۷هـ) پورې سلطنت کړی دی، نو د اکبر د ژوندانه عصر هم په دغو کلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۷۸۰هـ) حدودو کې تاکلای شو، ځکه چې امیر تیمور په (۸۰۰هـ) د افغانستان نور ځایونه ونیول او له کابله یې د هند خواته حرکت وکړ.

## د اکبر شعرونه:

د اکبر ډېر لږ اشعار د زمانې له انقلابه خوندي پاتې دي، یوازې له څو زړو پاڼو څخه موږ باور کولای شو، چې دی د دېوان خاوند و او په شعر کې یې غزل او مثنوي موږ ته پاتې دي. اکبر که څه هم په عروضي ډول لکه پارسي غزلیات ویلي دي، خو په ملي وزن هم دده د شعر یو څو نمونې شته او دده دغه مخصوص ډول پښتو اشعار او نور عروضي غزلیات دواړه سلیس او خواږه دي. په دې مثنوي کې اکبر د مینې د دنیا ډېر نازک حالونه او احساسات تصویر کړي دي:

### مثنوي

زه عاشـــــق یــــــم یـــــار هـــــم نیـــــز
نــــور څــــــه نــــــه لـــــرو تمیــــــز
یـــــو پــــــر بلــــــه عاشــــــقان یــــــو
پـــــه خپــــل عشــــق کــــې صـــــادقان یـــو
یـــــو پـــــر بـــــل پســــې رنځــــور یــــــو
چـــــې نــــږدې نـــــه یــــو مهجـــــور یــــو
عشـــــق کـــــه ښـــــه دی کـــــه بـــــلا دی
پیــــــــدا کړی زمـــــــــوږ مــــــــولا دی
کـــــه ږغ نـــــه کـــــا عاشـــــقان څــــوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

مره سي دوی پر دا جهان څوک
خو به دواړه شهیدان وي
که رښتیني مسلمان وي
زه که مخ په اوښو سور کړم
زړه کباب صورت تنور کړم
لایق دا چې زه وکړم
څه تهمت به پر یار نه کړم
ولې هرځای زه بېلتون کړم
بیا د سرو اوښو، رژون کړم
هم اشنا خوار کړم هم ځان
بیا تهمت کړم پر دوران
که نژدې که پر هېواد یم
زه دده په خیال و یاد یم
چې غه ښه دیدن یې یاد کړم
په تش خیال یې خاطر ښاد کړم
زه چې ژاړم مراد مې دادی
چې اشنا له ما جلا دی
که موږ بیا سره خوشحال سو
چې محکوم زموږ وصال سو
زه د یار سم، یار مې خپل سي
زه بلبل سم، یار مې ګل سي
په سپین مخ باندې تپېږم
چې دی خاندي ترې جاربږم
د لیدو شربت یې نوش کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غم د هجر فراموش کړم
سره کښېنو په خندا سو
په دا تېر احوال ګویا سو
چې تېر سوي په هجران دي
خوشال شوي غمازان دي
له غه پسه به صحبت کړو
زده زړونه به راحت کړو
چې غماز پاخي له میانه
همنشین شم له جانانه
چې غماز له میانه دور سي
نور که شپه وي هم به نور سي
ولې یار زما خواهان دی
بیا په عشق کې پهلوان دی
ډېر نفرت کا له غمازه
رب دې دی کا سرفرازه
زه هر څو چې باندې چور یم
خو دده په پند مامور یم
که زلمی دی خو عاقل دی
بیا د عشق په کار کامل دی
تر ما زیات د عشق په کار دی
هم معشوق هم مینه دار دی
خو په خپله ترې جلا شوم
مدام سر په واویلا شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شننه او ارزونه:

په دې مثنوي کې اکبر د عشق او مينې هغه نازک او خوندور حالونه تصوير کړي دي، چې عاشق او معشوق دواړه يو له بله سره غواړي، يوه د انجذاب او ايتلاف قوه په ټولو کايناتو کې ساري ده، چې عارفان هغه عشق بولي او نور پوهان يې د جاذبې په نامه يادوي.

د کايناتو په اتومي ذراتو کې، چې دا عالم ځنې جوړېږي، يوه قوه پرته ده چې تل دوی سره نښلوي، دغه قوه په انساني افرادو او بيا په اجتماعاتو کې هم تاثير لري، عارفان له دغه تجانس او مجاذبې څخه چې ((عشق)) يې بولي، دا نتيجه اخلي چې بدن او مواد خو په مادي دنيا کې يو له بله علاقه سره لري او يو بل غواړي، خو د انسان ((روح)) تر مادي لوړې ېوې بلې مرجع ته ميل کوي، ولې چې دا ((روح)) په ابتداء کې هم له هغې خوا راغلی دی.

اکبر په خپله مثنوي کې دا خبره چې عشق په حقيقت کې معشوقه او جذب يوه مجاذبه ده، په ښه ډول ادا کړې ده او د روم له مولانا سره همغاړې شوی دی، چې وايي:

زه چې ژاړم مراد مې دادی
چې اشنا له ما جلا دی

ځکه چې مولانا هم هره ژړا او ناره په ((ازجدائی ها شکایت میکند)) تعبير کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اکبر زمینداوري دا شعر لکه څنګه چې یادونه وشوه په مثنوي فورم کې ویل شوی دی. دا په واقعیت کې په پښتو کې لومړنۍ مثنوي وه چې تر دې دمه لاسته راغلې ده. البته تر دې وړاندې هم داسې نظمونه شته چې مثنوي فورم ته نږدې دي، لکه د بېټ نیکه مناجات خو پوره او کره مثنوي همدا ده چې زمینداوري ویلې ده. په دې مثنوي کې له لغوي پلوه د دري او عربي ژبو دواړو خپل خپل تاثیرات شته دي. په دې مثنوي کې (نیز، جهان، دوران، دیدن، مراد، نوش، فراموش، ګویا، غماز، میان، خواهان، سرفراز، چور، دوران، مامور، همېش) او ځینې نورې دري کلمې دي. (په خپله مثنوي، عاشق، تمیز، عشق، صادق، مهجور، شهید، محکوم، وصال، هجر، نفرت، عاقل، کامل، معشوق) او ځینې نورې بیا عربي کلمې دي.

پښتو، دري او عربي د درې واړو ژبو کلمې چې په دې مثنوي کې کارېدلې دي، داسې کلمې په کې نه شته چې اوس دې په عادي محاوره کې له دورانه غورځېدلې او یا دې متروکې شوې وي، بلکې ټولې هغه کلمې چې په دې نظم کې کارېدلې هغه اوس هم په ورځنۍ ژبه کې کارېږي.

د مثنوي فورم چې هر بیت یې خپلمنځي قافیه لري، ردیف په کې اختیاري دی او د بیتونو وروستی برید یې هم قید نه دی، دا ټول قوانین پر دې نظم د تطبیق وړ دي. له محتوايي پلوه دا د مینې او عشق یوه مثنوي ده چې مرکزي او یا هم ټوله محتوا یې همدا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

میني او محبت خبرې دي، نور ټولنیز، سیاسي، مذهبي او نور مسایل په کې نه دي داخل شوي. یانې دا چې په لنډیز سره ورته یوه عشقي مثنوي ویلای شو.

د اکبر له حیات او احواله موږ نه یو خبر، خو یوازې له یو څو شعرونو څخه دده د فکر ډول معلومېږي او ښکاري چې د خپل عصر یو ادب پوه سړی و او هغه ادبي تمایلات او ذوقونه چې دده په عصر کې وو، ده ته ښکاره شوي وو او همدارنګه په دغو ادبي جریاناتو کې یې مخصوصاً د پښتنو شاعرانو روحي میلان او ذوق هم ساتلی و، چې دده له دغې خورا مستې پښتو بدلې څخه ښکاري:

زه چې په مینه معشوقو د بنګړو شرنګ لره ځم
زه د هجران د بېلتانه د تورو جنګ لره ځم
زه اپوته یم په هجران سره قرار نه لرم
هجر مې اوږد شو د وصال د امید کار نه لرم
بېلتون په خوله راکړې څپېړې زه لا عار نه لرم
و ام د معشوق پر سینه پروت زه تور لونګ لره ځم

***

ځیني یې ولې څوک عاشق څو رنګ په تورې کاندي
پر خوار مین د شها هومره هورې ژورې کاندي
بې نیازه نکا چې پلو له مخه لیرې کاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې راوپاڅي په اخلاص چې خپل څو رنګ لره ځم

***

اول خـو تـه تجلـی، پـه عشـق بانـدې اقـراره شـولې
اور دې راپـورې کـی نـور کښېنسـتې قـراره شـولې
هـېڅ ګفتګـوی لـه عشـقه نـه کـوې بېـزاره شـولې
یـو وار خـو وایـه قـرار چـې د یـار څنـګ لـره ځـم

د اکبـر زمینـداوري پـه دې بدلـه کـې هـم داسـې لغتونـه نـه دي کاربـدلي چـې هغـه دې اوس متـروک شـوي وي. يـوازې اپوتـه (پرېشان) او څو رنګ ( زخمي) په اوسنۍ محاوره کې کارېږي.

د عربي او دري ژبو کلمې پـه کـې هم کاربـدلي (معشـوق، هجـر، قـرار، وصـال، اخـلاص، عـار، عاشق، قـرار) او ځینـې نـورې عربـي کلمې دي. (امید ، بی نیاز، ګفتګوی، بېزار) یې دري کلمې دي.

دا بدله هم په هغو فورمونو کې نه ده وی‌ل شوې چې ډېر زیـات معمول دي. د پښـتو ولسـي ادب لـه نـورو بـدلو سره ورتـه ده. البتـه بدلې هم داسې نه دي لکه د غزل او مثنوي او يا نور فورمونه چې تر ډېره حده ثابت شکلونه لري.

دا بدلـه درې بنـده لـري، د سـر بنـد يـې شـپږ مسـرې او دوه نـور بندونه يې هر يو څلور څلـور مسـرې لـري. د سـر لـومړی بيت يـې پـه خپل منځ کې ګډه قافيه لري چې په حقيقت کې مطلع ګڼل کېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې مسرې نورې يې په خپل منځ کې ګډه قافيه لري او وروستی يا شپږمه مسره يې بيا د مطلعې قافيه تعقيبوي. په نورو دوو بندونو کې بيا د هر بند درې مسرې په خپل منځ کې ګډه قافيه جوړوي او د څلورمې مسرې قافيه يې بيا د مطلع د قافيې تابع ده. هر بند يې په خپل منځ کې ځانګړي ردیفونه هم لري.

ددې بدلې د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي دی، يانې دا چې هره مسره يې (۱۵) (۱۵) څپې ده. همدا څپيز خجيز جوړښت د مشترک وزن او اهنګ د ټينګښت سبب شوی دی. له محتوايي پلوه د زميندا وري دا بدله هم د هغه د مثنوي په شان عشقي محتوا راټولوي او انځوروي.

اوس راځو د اکبر زميندواري دوو غزلونو ته!

د خپـــل ځـــان لـــه حيرانـــۍ څـــه ويـــل کـــړم
د عشـــق ويـــر بـــه تـــل پـــه خپلـــه پټـــول کـــړم
مـــا مـــدام لکـــه بـــورا پـــر ګلـــو ګښـــت کـــړ
اوس بـــه څـــم پـــه ســـر تـــور ســـر فـــراق د ګـــل کـــړم
د غمـــاز لړمـــون بـــه زه پـــه لمبـــه کښـــېږدم
ځينـــې هېـــر بـــه د يـــار بـــزم ګـــل او مـــل کـــړم
زمـــا د يـــار د مينـــې اور پـــه زړه کـــې بـــل دی
زه بـــه ســـر او مـــال ښـــندم ديـــد بـــه حاصـــل کـــړم
د ببلتـــون لـــه ويـــره ژاړم اوښـــکې وينـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه «اکبر» پر خپل اشنا د سر ښندل کړم.

***

چې مدام زه ستا و مخ وته نظر ورم
د بېلتون له بيرې زړه زېر و زبر ورم
که په ما دې حکم وشي چې خادم شه
دغه ستا د نغري سور انګار پر سر ورم
چې جمال په مهر او مينه راښکاره کې
شين توتي شم په هوا د مينې پر ورم
چې ګفتار دې په ښه مينه راته وسي
نو بداى سم کوتې کوتې دُر ګوهر ورم
که مې وژنې که مې پېرې رضا ستا ده
ستا و غشي ته مدام موخه ځيګر ورم
چې جمال دې په هجران کې را په ياد شي
هغه دم په تصور شمس وقمر ورم
ستا د تورو ځنو خيال هسې طويل دی
تل په زړه کې دغه فکر زه «اکبر» ورم

د اکبر زمينداوري دا دواړه غزلې د فورم او محتوا دواړو له پلوه د غزل په تول پوره دي. په لرغونې دوره کې موږ ځينې داسې بېلګې لرو چې يا د شکل له پلوه غزل ته ورته وې او يا هم د محتوا له پلوه خو داسې بېلګې نه وې چې د شکل او محتوا دواړو له پلوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې د غـزل پـه تـول پـوره او کـره وخېـږي. د اکبـر دا دواړه غزلـې دا ځانګړنې لري.

د غزل شکلي تعریف دا دی چې مطلع او مقطع ولري، یانې د سر بیت یې په خپل منځ کې ګډه قافیه ولري او د نورو بیتونو د هر بیت دویمه مسره یې په قافیه کې د مطلع قافیه تعیب کړي، ردیف په کې اختیاري دی، خو که مطلع کې یوځل راوړل شو ، نو پـه نـورو مقفی مسرو کـې یـې راوړل حتمي کېـږي. دا دواړه غزلـې ردیفونـه لـري، د غزل د بیتونو شمېر له (۵) څخـه تـر (۱۵) پـوري اټـکل کېـږي، د اکبـر زمینداوري لومړی غزل (پنځه) بیته او دویم یې (اوه) بیتونه لري. پـه لومړي غزل کـې (ویـل، پټول، ګـل، مـل، حاصـل او ښـندل) د قـافیې کلمې دي، (کړم کـړم) یـې ردیـف دی او پـه دویـم غـزل کـې بیـا (نظـر، زبر، سر، بر، پر، ګوهر، ځیګـر، قمبر او اکبـر) د قـافیې کلمـې دي، (وړم وړم) یې ردیف دی.

د لومړي غزل د مسـرو د څپـو شمېر یـې (۱۲) (۱۲) دی او د دویـم غزل د مسرو شمېر هم (۱۲) (۱۲) څپې دي، له لغوي پلوه پـه لـومړي غزل کـې (مدام، بـورا ، غمـاز، مـل، دیـد) دري کلمې دي او (عشـق، فراق، بزم، حاصل) عربي کلمې.

پـه دویـم غـزل، کـې (مـدام، زبـر و زبـر، مهـر، پـر، ګفتـار، دُر او ګوهر)) دري کلمې او ( تصور، شمس، قمر، خیال، طویل، فکر او په خپله اکبر) عربي کلمې دي، څرنګه چې ددې شعرونو فورم هم د غزل

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی او محتوا یې هم تغزلي او غنايي مسايل دي، نو ځکه د یته د غزل د معمول تعريف له مخې پوره غزلې ویلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سلطان بهلول لودي

## (واکمني ۸۵۵هـ، ۸۹۴هـ وفات)

ددې کتاب په يوه برخه کې مو د لوديانو د کورنۍ په باب لنډه رڼا واچوله، چې دې کورنۍ تر غزنوي سلطنت دمخه په ملتان کې پښتو ژبه او پښتني ثقافت خپور کړی و، که څه هم هغه کورنۍ د سلطان محمود په لاس له منځه لاړه او د (۴۰۱هـ) په شاوخوا کې يې واکمني ختمه شوه، خو د لودي قوم بقايا په هند کې وه او له دوی څخه ډېر حربي مشاهير راووتل او پر (۸۵۵هـ) کال بيا له دې لوديانو پښتنو څخه ابوالمظفر بهلول شاه د پښتنو د سلطنت اساس کېښود او هغه رڼايې بيا خپره کړه چې څلور نيمې پېړۍ دمخه د لوديانو د واکمنۍ په رنګېدو سره پټه شوې وه.

د هندوستان په پاچاهانو کې يو معروف سړی (خضر خان) د ملک الشرق ملک سليمان زوی دی، چې پر (۸۱۷هـ) کال د ډهلي پر پاچاهي کښېناست او دده له کورنۍ څخه څو تنو تر (۸۴۷هـ) پورې پاچاهي وکړله، چې دوی (خضر خانيه پاچاهان) بولي، د خضر خان زوی (معزالدين مبارکشاه) پر (۸۷۴هـ) کال پر تخت کېناست، څرنګه چې دا کورنۍ له پښتنو پاچاهانو سره محشوره او هم د پښتنو د مځکې خلک وو، نو د دوی په سلطنت کې پښتنو او په تېره بيا لوديانو ډېر اعتبار درلود او ملک سلطانشاه لودي د مبارکشاه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمانه کې د سرهند امیر و او ددغه پاچا له خوا پر (۸۳۱هـ) د ((اسلام خان)) په نامه هم مخاطب او سرلوړی شوی و او له مشهورو خلکو څخه ګڼل کېده. د سلطانشاه (اسلام خان) ورور ملک کالا (کالو) نومېده، چې دی هم لکه خپل ورور د عصر له مشهورو سپه سالارانو څخه و، په مبارکشاهي عصر کې یې په اکثرو جګړو کې برخه لرله او یو مشهور سړی و. دده زوی ملک بهلول هم له خپل پلار او اکا سره وروزل شو، څرنګه چې سلطانشاه لودي ډېر پلوی امیر او په هند کې د غټ ځواک خاوند و، نو ده خپل وراره ملک بهلول ښه وروزه او تر خپل مرګ وروسته یې په هند کې پرېښود.

ملک بهلول زړور، مدبر او پوه پښتون و، د اکا تر مرګ وروسته یې استقلال وموند او د هند پښتانه یې سره راغونډ کړل، دوی ته یې د لودیانو تېر شوی شوکت ور په یاد کړ او ویې غوښتل چې بیا د لودي سلطنت مشال روښ کړي، لومړی ده د پښتنو په ملګرۍ سرهند او ټول پنجاب ونیول، وروسته یې ډهلی هم فتح کړ او د (۸۵۵هـ) پر ربیع الاول یا محرم کې د هند پر پاچاهۍ کېناست او پښتانه سرداران لکه قطب خان لودي، دریا خان لودي او نور یې د ځان ملګري کړل او د هند هرې خواته یې ښکاره فتوحات وکړل، دی د سلطنت پر وخت (ابوالمظفر بهلول شاه) بلل کېده، تر (۳۸) کالو سلطنت وروسته په ډهلي کې (قصبه جلالي) ته نږدې پر (۸۹۴هـ) وفات شو او تر ده وروسته یې زوی (سلطان سکندر) پرځای کېناست او دې کورنۍ تر (۹۳۲هـ) پورې په هند کې پاچاهي کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سلطان بهلول لودي شعر:

سلطان بهلول لودي، لکه د توري او تدبير خاوند چې و، دغسې يې ادبي ذوق هم درلود او کله کله به يې شعر هم وايه، دده په دربار کې به په پښتو خبرې او مشاعرې کېدې او دا لودي سلطان لکه خپل اسلاف (د ملتان لوديان) د پښتو ژبې شاعر هم و او دده ی‌و شعر د پټې خزانې مولف ضبط کړی او دده احوال يې هم داسې کښلي دي.

((په مخزن افغاني کې نعمت الله هسې کښلي دي چې ملک بهلول د ملک کالا زوی و، په هندوستان يې د سلطنتت لوا هسکه کړه او دغه ملک له لودي طايفې څخه و له ډېرې زمانې دې لودي ټبر سلطنت کا په هند کې، ملک بهلول په سرهند د اسلامخان تر وفات راهيسې استقلال ومونـد او تر جنګونو په وروسته يې پر دهلي خطبه او سکه ووهله، پاني پت، لاهور، هانسي او حصار او تاګور يې د ملتان تر څنډو پورې ونيول او د هندوانو د راجګانو سره يې سخت جنګونه وکړل او اته دېرش کاله يې پر هندوستان سلطنت وکا او ډېر عادل او عالم پادشاه و په (۸۹۴هـ) کال وفات شو، لکه چې وايي:

به هشت صد و نود چهار رفت از عالم

خديو ملک ستان و جهانکشا بهلول

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلطان بهلول علیه الرحمه وفات په تبه د جلالي په قصبه کې و...)) (۵۱: ۷۶)

تر دې وروسته د پټې خزانې مولف د محمد رسول کلاتوال د بیاض په حواله لیکي چې خلیل خان د سلطان بهلول د دربار شاعر یوه پښتو رباعي د سلطان په ستاینه کې ویلې وه، چې دغه رباعي به وروسته د خلیل خان په احوال کې راوړل شي، وایي چې سلطان هغه رباعي واورېدله، په ځواب کې یې دا رباعي سم له لاسه وویله:

ملک به زرغون کړم په ورکړه راسه
ګوره اورېځې د داد، له پاسه
خول مې د عدل په درو روڼ دی
جهان به زېب مومي زما له لاسه

تاسې چې وروسته د خلیل خان رباعي هم ولولئ، د سلطان بهلول د ارتجالي شعر کمال به درته معلوم شي، علاوه پر ادبي ښېګڼو له دې یوې رباعي څخه موږ ددغه پښتانه سلطان فکر هم څرګندولای شو، چې ده د مملکت د ودانۍ او عمران فکر درلود او په انصاف او عدالت یې حکمراني کوله.

سلطان بهلول د پښتنو د لودي ټبر د شوکت او لوړتیا داستان دویمه پلا تازه کړ او هم دی د پښتو ژبې مربي، شاعر او ادیب و،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو په خواشينۍ سره چې نور اثار يې ورک دي او يوازې يوه رباعي يې د يوې يتيمې مرغلرې په ډول په پټه خزانه کې مومو.

## شننه او ارزونه:

که څه هم له سلطان بهلول لودي څخه يوازې همدا يوه څلوريزه تر موږه رسېدلې، خو له دې يوې څلوريزې څخه هم د هغه د شاعرۍ شعري قوت او کمال ښکاري. يو څوک چې تر دې وړاندې شعري تجربه، قريحه او پانګه ونه لري او پر شعري مهارتونو واکمن نه وي، هغه هېڅکله سم له لاسه داسې حلوريزه نه شي ويلای چې هم د ې له حال سره مناسبه وي، هم دې د شاعرۍ ماضي انځور کړي او هم دې شعري ښکلا ولري.

له لغوي پلوه دې څلوريزې کې، (دُر او جهان) دري او (زيب، عدل او ملک) عربي کلمې دي، نور شعر له پښتو کلمو څخه رغېدلی، ځينې نړه پښتو کلمې چې اوس نه کارول کېږي هم په دې شعر کې خوندي دي، لکه ((راسه، خول)) اوس نه کارول کېږي. په نورو ګڼو رواياتو کې هم د بهلول لودي د پښتو پالنې او عدالت کيسې راغلي دي. د سلطان بهلول لودي په باب په (تاريخ داودي) کې راغلي: ((گويند روزی که بر تخت نشست در ان هفته برای نماز حاضر شد. ملا قادن که يکی از اکابر ان شهر بود، برای خطبه خواندن بر منبر بر امد، خطبه به اتمام رسانيد وقت فرود امدن گفت: سبحان الله عجب قومی پيدا شدند نمی دانم پيرو دجال در ايشان باشد زبان ايشان اينست که مادر را مور می گويند و برادر

(c) ketabton.com: The Digital Library

را ورور می گویند ودیه را شور می گویند و سیاه را تور می گویند و دیگر را نور می گویند. در این گفتن سلطان بهلول رومال را بر لب گرفته تبسم کنان گفت: ملا قادن بس کن که ما هم بنده گان خدایم.)) (۱۳۴: ۶۰- ۱۳۵) یانې په ډېر سړیتوب او اوسېله یې پوه کړ. نو په پښتو شعر ویل له پښتو سره د هغه د مینې ثرګندونه کوي. د فورم له مخې دا نظم یوه څلوریزه یا رباعي ده، چې د هغې ټول ارکان یې پوره کړي، رباعي همغه ډول فورم دی چې څلور مسرې ولري، د سر دواړه مسرې یې قافیه لري او د څلورمې مسرې قافیه یې هم د مطلعې قافیه تعقیبوي، د مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي وي، قافیه په کې حتمي او ردیف په کې اختیاري دی. په دې رباعي کې (راسه، پاسه، لاسه) د قافیې کلمې او (سه سه) یې مشترک غږونه دي، ردیف نه لري، هره مسره یې لس لس څپې ده. د رباعي محتوا د سلطان تېر عدالت او د راتلونکي لپاره نېک عزم ښکارندویې کوي او د یوه هوډمن واکمن نېک تکل ثرګندوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خلیل خان نیازی

## د (۸۹۰هـ) حدود

نیازي د پښتنو یوه قبیله ده چې د لودیانو یوه پښه شمېرل کېږي، دوی له لودیانو سره یوځای په هند کې خپاره شوي دي. په افغانستان کې هم په بېلابېلو سیمو لکه کندهار، غزني، کابل، لغمان پروان، کندوز او نورو سیمو کې اوسېږي. له دوی څخه هم په هند کې مشهور جنګیالي او مشران راوتلي دي، د لودیانو او سوریانو په دوره کې یې ډېر مشاهیر درلودل، مثلاً (هیبت خان نیازی) د شېرشاه سوري په وخت کې د ((اعظم همایون)) په خطاب د لاهور حکمران و، نیازیان د لودیانو او سوریانو غښتلي ملګري وو او تراوسه یې هم بقایا په هند کې شته. له دې قبیلې څخه یو تن هم معتمد او ادیب و او پټې خزانې دده یو مدحیه رباعي راوړې ده، پټه خزانه وایي:

((محمد رسول کلاتوال په خپل بیاض کې هسې کښلي دي، چې: په هندوستان د برسات په موسم خلیل خان نیازي هسې رباعي انشا کړه او د سلطان بهلول پادشاه په مخه کې یې وویله)) (۵۱: ۷۸)، دا رباعي په دې ډول ده:

خړې وربځې ژاړي له پاسه

کوږله ږغ کا، بېلتون له لاسه

یه هغه لوني ګوهر په خول ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مرحبا که ستا ، زموږ مواسه

د خلیل خان ددې رباعي په ځواب کې پښتون شهنشاه هغه رباعي ویلې ده، چې دمخه دده په احوال کې راغله. په خواشینۍ سره چې د خلیل خان نور اثار زموږ لاس ته نه دي راغلي او داسې ښکاري، چې د سلطان بهلول د دربار پښتون شاعر او د هغه ښه معتمد شخص و.

## شننه او ارزونه:

په لوړه رباعي کې خلیل خان په ډېر ښه صورت د خپل ممدوح ستاینه د رجوع په صنعت کې کړې ده، لومړی د وربځې ژړا او د کوېلې د بېلتانه غږ بېانوي، بیا په دویم بیت کې رجوع کوي او د لومړي بیت مطالب نقض کوي، د ستاینې لپاره په بل رنګ هغه مقصد وایي. دده دا رباعي ددې سبب شوه چې سلطان بهلول لودي یې سم له لاسه ځواب ووایي، دا په واقعیت کې یو ډول مشاعره هم ده. په دې ځلوریزه کې له (مرحبا) او (کویله) پرته نورې ټولې کلمې پښتو دي (مرحبا) عربي کلمه ده. (کویله) بیا په هند کې یو ډول خوش اوازه مرغۍ ده. (لوني) د پاشلو او ښورولو مانا ورکوي، (خول) تاج ته وایي او (مواس) ساتندوی ته. د محتوایي فورم له مخې دا په مدحیه یا ستاینزو شعرونو کې راځي چې شاعر په کې د خپل ممدوح توصیف کوي. د فورم له پلوه لکه څنګه چې یادونه وشوه دا یوه ځلوریزه یا رباعي ده. (پاسه، لاسه، مواسه) یې د قافیې کلمې دي او ردیف نه لري. د مسرو د ځینو شمېر یې سره مساوي دی، یانې دا چې هره مسره یې (۱۰) څپې لري. که څه هم د سر لومړۍ مسره یې د اوسني تلفظ له مخې (۹) څپې ښکاري. خو کېدی شي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت په تېرېدو سره کوم لفظي بدلون په کې راغلی وي او یا هم د هغه وخت ځپیز تلفظ په بل ډول وي. پر دې ځلوریزې یا رباعي د رباعي فورم ټول شرایط د تطبیق وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرغون خان نورزی

## د (۸۹۰هـ) حدود

نورزي د پښتنو يوه لويه طايفه ده، چې په فراه، هلمند، هرات، ارزګان او د هېواد په نورو سيمو کې اوسي او زرغون خان په دوی کې يو لوی جنګيالی او اديب سړی تېر شوی دی، د پټې خزانې مولف د دوست محمد کاکړ د (غرغښت نامې) په حواله ليکي، چې زرغون خان اصلاً د نوزاد (زميندا‌ور) و او د قوم مشرتوب يې کاوه، په دغو وختو کې چې د ماورالنهر شيباني خان پر هرات او سيستان يرغل وکړ، نو زرغون خان د وطن له مدافعينو څخه ګڼل کېده او له يرغلګرو سره يې سختې جګړې کړې وې. زرغون خان پر (۸۹۱هـ) هرات، خراسان او عراق (پارس) ته سفر وکړ او چې شيباني خان پر سيستان راغی، نو زرغون خان له خپل قومه سره له وطنه دفاع کوله او خپله ازادي يې ساتله.

داسې معلومېږي، چې زرغون خان يو ملي قايد، د وطن ازاديخواه مدافع او جنګيالی سړی و، علاوه پر دغه د قلم او علم خاوند هم و، لکه د ازادۍ د جګړو پر ډګر چې په مېړانه درېده، دغسې هم د علم او ادب په ميدان کې پوخ شهسوار و، لکه پټه خزانه چې د دوست محمد کاکړ له روايته ليکي: زرغون خان خورا ډېر عمر ژوندی و او د نهايت ضعف او سپين ږيرتوب پر وخت په (۹۲۱هـ) د کندهار په دهراوت کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زرغون خان دېوان او شعرونه:

زرغون خان د پښتو ژبې ښه شاعر او د دېوان خاوند دی، چې دده دیوان په کجران کې پر (۹۱۲هـ) له (ملا ایوب تیمني) سره و او پر دغه کال چې دوست محمد کاکړ هرات ته ته، هلته یې دا دېوان کتلی و، چې (۳۰۰) پاڼې یې درلودې او دغه سړي په خپل کتاب (غرغښت نامه) کې له هغه دېوانه دا دوه یځ (مثنوي) نقل کړی دی چې د پټې خزانې مولف هم له هغه کتابه را اخیستی دی.

## ساقینامه

ســـاقــــي پـاڅــــه پیالـــه راکـــړه
مـــرور یـــار مـــې پخـــلا کـــړه
اوبـــه تـــوېې پـــه لـــمبو کـــړه
اور مـــې مـــړ پـــه دې اوبـــو کـــړه
پــسرلـــی ســـو غـونـــچه ګـــل کـــا
زلفـــې تـــاوې د ســـنبل کـــا
بـــلبلان شـــور و فـــغان کـــا
کړېـــدن پـــه ګلســـتان کـــا
زاهـــد وځـــي صـومعـــې څخـــه
شـــراب پیـــري میخـــانې څخـــه
هـــر ســـړی پـــه میـــو مســـت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې بهار کې ګلپرست دی
په راغو کې سرې لمبې دي
د غټولو نندارې دي
جهان ټول سور او زرغون سو
وچ راغه ښکلی ګلګون سو
سړي ټول شور و شعب کا
یارانې کاندي طلب کا
بهار وخت د یارانې دی
ښه موسم د پیمانې دی
نو ساقي پاڅه بهار دی
نن ژوندون سبا رفتار دی
دنیا پاته موږ به ځونه
تورو خاورو کې به یونه
پیمانه ډکه له می کړه
بزم تود په پیاپی کړه
چې یو دم سمه ازاد
ناښاد زړه مې سینه ښاد
ساقي پاڅه وقت د ګل دی
په جوشش کې خم د مل دی
وقت د میو د وېشو دی
د پیالو د ډکېدو دی
هغه څوک اوس د پېغور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## چې یې جام تش و نسکور دی

مستان ګرځي په باغو کې
مستي کاندي په راغو کې
لاس په لاس دي یاراني کا
یو په بل ناز و نخرې کا
مجنون وصل له لیلا دی
د جمال په تماشا دی
نه غمجن سته، نه بېلتون سته
نه مهجور، نه ځیګرخون سته
تر تا وګرزمه راسه
ساقي یو ګړی پخلا سه
ما ته جام د رب ولور را
چې یو تش سي ډک یې نور را
اور مې بل د زړه په کور کړه
له هر چا هر څه یې تور کړه
چې بل څه نه وي الفت وي
ټول له مهر و محبت وي
ټول اخلاص وي او صفا وي
تیاره ورکه سي رڼا وي
له زړه کم غش او دغل سي
جهان ټول له ګل او مُل سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساقي ستا مهر مطلوب دی
نو بهار ځکه مرغوب دی

که ستا لور پېرزو نه وي
نو بهار به په څه ښه وي؟
خوند به نه کار رنګ د ګلو
بې مستيو، بې له مُلو
نه به بزم په شور تود سي
نه نغمې نه به سرود سي
نو ساقي پاڅه بهار دی
بزم تاله اميدوار دی
ياران ناست سترګې څلور دي
ستا د جام په اميد نور دي
ته هم راسه عنايت کړه
بزم تود د محبت کړه
له سرو ملو څخه ډک جام کړه
د يارانو يې انعام کړه
چې سوړ بزم په مې تود سي
د رندانو غوړو سرود سي
د جهان وير و غم هېر کا
يو دم ښه په عشرت تېر کا
چې په مخ کې مو بېلتون دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شننه او ارزونه:

د زرغون خان د ساقينامې دغه مثنوي، د نهمې هجري پېړۍ له هغو اثارو څخه ده، چې له پارسي سره په ښه ډول د پښتو ژبې اختلاط ښکاره کوي. په دغه پېړۍ کې هغه پښتانه چې په سمو او ښارو کې يې ژوند کاوه، په پوره ډول د پارسي ادب تر اثر لاندې راغلي دي، لکه دا مثنوي چې ګڼ شمېر پارسي او عربي کلمې لري، دغسې هم تخيل او د شاعر د ادا طرز او د کلام نوعيت هم تر يوه حده پارسي ته ورته دی او په دغو وختو کې چې کوم ادبي جريان په منځنۍ اسيا او خراسان کې و، دا ساقينامه يې ښه استازولي کولای شي، د پارسي ژبې په پخوانيو شاعرانو کې مخصوصاً له غزنوي دورې څخه يانې د (۴۰۰ه) له حدودو، بزمي اشعار او خمريات ډېر شوي دي، اکثر شاعران لکه عنصري، منوچهري، عسجدي او نور د خپلو قصايدو تشبيب او نسيب په بزمي او خمري مضامينو سره کوي، وروسته (سنايي) او نور متصوف شاعران د عرفان په کتورېو کې د وحدت شراب څښي او دا نشه او کيف په عرفاني ډول په خپلو اشعارو کې نغاړي.

دا عرفاني کيف په ډېرو بزمو کې د ميو او رنګينو جامونو په نشه هم اوړي او دغسې خمري اشعار په مثنوي کې په ښه ډول ځای مومي (نظامي ګنجوي) ډېرې ساقينامې لري، (عمر خيام) په خپلو رباعياتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د خمري اشعارو یوه ډېره ښه نمونه دنیا ته پرېږدي، په پای کې په مثنوي سبک کې (ساقي نامه) ویل یو بېل فن ګرځي، په پارسي ادب کې یو مخصوص رنګ مومي او شاعران یې تقلید کوي.

عبدالنبي فخر الزماني چې د پارسي ژبې ساقي نامې یې سره یوه ځای کړې دي (۱۰۲۸هـ) یو غونډ کتاب یې د (میخانې) په نامه ځنې ترتیب کړی دی او د نظامي، عراقي، خسرو دهلوي. خواجو، حافظ، جامي او نورو پارسي شاعرانو ساقي نامې سره یوځای کوي، چې ځینې له دغو ساقي نامو بېل بېل کتابونه ګڼل کېږي او د ظهوري تهراني (۱۰۲۵هـ. مړ) ساقي نامه تقریباً زر بیته ده.

په دغو ساقینامو کې د شعراوو لار دا وه چې دوی به له ساقي څخه د سرو میو آرزو کوله، د ساقي، جام، صراحي او میو صفات به یې بیانول، د دنیا بې وفایي او په خوښۍ سره یو څو ورځې ژوندون تېرول او بزم په میو تودول، د ساقینامې عمومي مضمون و. شاعر به په سپک مثنوي فورم کې دا مطالب لیکل او اثرناک الفاظ او کلمات به یې په کې استعمالول.

لنډه یې دا چې عجمو شاعرانو د عربو د خمریه اشعارو تقلید وکړ او ورو ورو د (ساقي نامې) ویلو سبک په پارسي ادب کې پیدا شو، د نورو اسیایي ژبو شاعرانو یې هم تعقیب وکړ، خو په ساقینامو کې د شاعر مهارت او استادي دا وه چې د مستۍ احوال تصویر کړي او د مستانو په شان خبرې وکړي، د استادانو ساقینامې ټولې له مستۍ، وجد او ذوقه ډکې دي او هغه شاعران چې په ساقینامه کې مستي نه کوي او د عاقلانو په څېر ګډه وي، د دوی ساقینامې د ادب له پلوه ښې نه ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پارسي ساقينامو کې که څه هم د (ظهوري) ساقينامه خورا مفصله او هم خوږه ده، د مستۍ او ميخورۍ مختلف مناظر ښيي، خو کلام يې د مستانو په څېر نه دی. د مستانو خبرو ته نه دی ورته او د يوه نارمل سړي وينا ده، نو ځکه دده ساقينامه هم عمومي مقبوليت نه لري او دده زر بيته د خواجه حافظ تر (۶۰) بيتو نه درنېږي.

زرغون خان هم په دې پښتو ساقينامه کې د استادانو پر لار تللی او مستانه وينا يې کړې ده، دده شعر روان او خبرې يې هم د مستانو په څېر دي، ځکه نو ده ته يو کامياب او پوخ ساقينامه ويونکی وايو او دا ساقي نامه هم د پښتو له پخو اشعارو څخه ګڼو، ځکه چې ده په خپل شعر کې د احساساتو څپې، ښکلا غوښتنه او هم د عباراتو رواني، رشاقت او خوږ سلاست سره يوځای کړي دي او په دې ټولو شيانو کې کامياب دی. لکه څنګه چې مو دمخه يادونه وکړه، په دې مثنوي کې د دري او عربي ژبې خپل خپل اغېز پروت دی، (فغان، ګلستان، ميخانه، مې، بهار، ګلپرست، جهان، ګلګون، بهار، موسم، پيمانه، رفتار، پيايی، نابينا، جوش، تماشا، ځيګرخون، مهر، مرغوب، پيرزو، سرود، اميدوار، اميد، رند) او ځينې نورې دري کلمې او همدا راز يو شمېر يې پښتو او دري ګډې کلمې دي، پر دري سربېره عربي کلمې هم په کې زياتې دي، لکه (ساقي، زلف، زاهد، صومعه، شراب، شعب، طلب، بزم، وقت، ناز، مجنون، ليلا، وصل، جمال، مهجور، الفت، محبت، اخلاص، صفا، مطلوب، عنايت، انعام، عشرت) او ځينې نورې عربي کلمې دي. د دومره ګڼو دري او عربي کلمو له شتوالي څخه دا ښکاري چې دامهال پر پښتو ادب ددې ژبو خپل خپل اغېز پروت و. متروکې کلمې په کې نه شته، يوازې د (رېل) کلمه چې (د مهربانۍ او رواداري) مانا ورکوي، اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کارول کېږي. د فورم له مخې دا د مثنوي ټول شرایط پوره کوي، هم یې د کمیت او هم یې د محتوا د کیفیت له پلوه د مثنوي د فورم ټول شرایط پوره کړي دي. د مسرو د څپو شمېر یې سره مساوي دی، هره مسره یې (۸) څپې لري، ځینې بیتونه یې د نورو مثنویانو په شان ردیفونه لري او ځینې نور یې پر قافیه پای ته رسي. د محتوا له مخې لکه څنګه په پیل کې ورته اشاره وشوه دا یوه ساقینامه ده، په دې مانا چې محتوا یې پر خمریه مسایلو، ګل او مل راڅرخي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زرغونه کاکړ

## د (۹۰۰هـ) حدود

د پښتو شعر په تاریخ کې دا لومړۍ ښځه ده چې موږ یې پېژنو او د شاعرانو په ډله کې په لومړي کتار کې درېږي. که څه مېرمنو په پښتو ولسي ادبیاتو کې زیاته ونډه لرلې ده، خو په لیکلي ادب کې یې ډېرې بېلګې تر دې دمه نه دي ترلاسه شوي. یو شمېر ادبپوهان په دې نظر دي چې ((د فولکلوري ادب په تخلیق کې د پښتنو مېرمنو برخه تر نارینه وو څخه زیاته ده، خو څرنګه چې د دوی تخلیق کارو نومونه معلوم نه دي، نو له دې کبله د ادب دا دومره پراخه میدان د څېړونکو د مطالعې او تحقیق په دوران کې د کومې خاصې پښتنې ادیبې، شاعرې یا څېړونکې نوم ته نه شي منسوبېدی.)) (۲۹: ۲۲) دوی لنډۍ، د مینړو سندرې، د واده سندرې، ساندې، نیمکۍ، کاکړۍ، بابولالې، فالونه، چیغان، د اتڼ نارې تر ډېره حده د مېرمنو د فکر، درد، سوز، انګېزو او فکر محصول ګڼي.

په پښتو ادب کې زرغونه کاکړه لومړنۍ پښتنه مېرمن ده چې په پښتو لیکلي ادب کې یې د کلام بېلګه تر موږه رارسېدلې ده.

دا شاعره مېرمن د کندهار د پنجوایي وه، د پلار نوم یې (ملا دین محمد کاکړ) و او دې د خپل عصر مروج علوم زده کړل، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصاحت احکام يې ولوستل او د فصحاوو اشعار او اثار يې وويل.
زرغونه د سعدالله خان نورزي په نکاح کې وه، د علم او هنر او تورې خاوندان زامن يې درلودل، دې مېرمنې د خپل عصر په شاعرانو کې شهرت درلود او ددې اشعار به يې لوستل. زرغونې پر (۹۰۳هـ) د شيخ مصلح الدين سعدي پارسي بوستان په پښتو شعر ترجمه کړ. دا مېرمن علاوه پر شعر او ادب د ښه خط خاونده هم وه او د خط ډېر اقسام يې ليکلای شول، داسې خوش خطه وه چې کاتبانو به يې له خطه زده کړه کوله او لکه د پټې خزانې مولف چې ليکلي دي: دې په خپل ښه خط خپل پښتو کړی بوستان کښلی و چې مرغلرو يې خط ته عاجزي کوله.

د زرغونې کاکړ شعرونه: د پټې خزانې په روايت زرغونې غزليات او د اشعارو نور اقسام هم درلودل، چې په فصحاوو کې مشهوره وه، خو په خواشينۍ سره چې له هغو څخه اوس کومه نمونه نه لرو، يوازې د هغې پښتو بوستانه ی‌و حکايت د پټې خزانې مولف رانقل کړی، چې د زرغونې د کلام سلاست او متانت ځنې ښکاري.

که مونږ په پښتو ادب کې د اخلاقي شاعرانو لپاره يوه مخصوصه ډله ومنو نو زرغونه به له خپل بوستانه سره د هغو په سر کې ولاړه وي، ځکه چې تر دې دمخه يو اخلاقي شاعر چې مستقل اثر ولري، مونږ ته نه دی معلوم او زرغونه د شيخ سعدي د بوستان په منظومه ژباړه د اخلاقي شاعرانو له ډلې څخه بللای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه حکایت چې زرغونې ژباړلی او د زرغونې له بوستانه پاتې دی، دادی:

اوربېدلې مې قیصه ده    چې له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار    بایزید چې و رویدار
له حمامه راوتلی    په کوڅه کې تېربېدلی
ایرې خاورې چا له بامه    راچپه کړلې ناپامه
مخ او سر یې سو ککړ    په ایرو په خاورو خړ
بایزید په شکر کښنو سو    د خپل مخ په پاکېدو سو
چې زه وړیم د بل اور    چې په اور کې سم نسکور
له ایرو به څه بد وړمه    یا به لړ شکوه کومه
هو پوهانو ځان ایرې کړ    له لویني یې ځان پرې کړ
څوک چې ځان ته ګوري تل    خدای ته نه سي کړای کتل
لویي تل په ګفتار نه ده    لو خبره په کار نه ده
تواضع به دې سر لوړ کا    تکبر به دې تل خوړ کا.

## شننه او ارزونه:

د زرغونې کاکړ ددې حکایت له مخې لازمه ده چې د پښتو ادب په لرغونې دوره کې د پښتو حکایتي اثارو ته هم لږ تم شو.

د زرغونې کاکړ له دې حکایت سره په پښتو کې د حکایتي اثارو لړۍ هم پیلېږي، له اصطلاحي پلوه ځینې په دې نظر دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکایت د لنډې کیسې داسې یو ډول دی چې په هغه کې اخلاقي درسونه یا مسایل نغښتي وي، دا درسونه یا مسایل د حکایت په وروستۍ برخه کې لوستونکو ته په ډاګه کېږي. د حکایت کرکترونه یا شخصیتونه سړي، ځاروي یا بې روحه شیان وي، کله چې حیوانات د حکایت د شخصیت په توګه څرګندېږي، نو د انسان په شان خبرې کوي او له خپل ځانه انساني احساسات څرګندوي، حکایتونه معمولاً په داسې ډول لیکل کېږي چې لوستونکی په اسانۍ سره پر هغو پوهېدلای شي. هغه ادبیات چې په حکایاتو کې کارېږي، هغو ته تعلیمي ادبیات هم وایي.

د زرغونې کاکړ حکایت هم داستاني بڼه لري او د حکایت له تعریف سره سم پوره حکایت ګڼل کېږي. حکایتونه په پښتو ادبیاتو کې معمولاً په منظوم ډول افاده کېږي، خو دا په دې مانا نه ده چې نثري حکایتونه نه شته، په کلیو او بانډو کې له پخوا زمانو څخه ګڼ ني حکایتونه، کیسې یا داستانونه وو چې خوله په خوله له یوه پښته بل ته لېږدېدلي دي.

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې لږ تر لږه موږ دوه داسې اثار لرو چې داستاني بڼه لري او د حکایتي یا کیسه ییز بیان لرونکي دي، په دې کې یو په خپله د زرغونې کاکړ حکایت دی او بل د دوست محمد کاکړ (غرښتنامه) ده چې هغه هم په مثنوي فورم کې ویل شوې او حکایتي بڼه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لغوي پلوه د زرغونې کاکړې دا نظم له پښتو ، دري او عربي کلمو څخه رغېدلی دی. دري کلمې په کې کمې (رویدار ، گفتار) دي او کومه بله مشترکه کلمه که لري (قوم، له ((با)) پرته یزید ، شکر ، شکوه ، تواضع او تکبر) بیا عربي کلمې دي، نور ټول نظم له پښتو کلمو څخه جوړ شوی. ژبه یې روانه، خوږه او پسته ده، همغه کلمې چې په دې نظم کې کارېدلي اوس هم په ژبه کې کارېږي، متروکې کلمې په کې نه شته. د فورم له مخې دا یوه مثنوي ده چې هر بیت یې ځانګړې قافیه لري، ځینې بیتونه یې ردیفونه هم لري. ټوله مثنوي (۱۲) بیته ده. د مسرو د قافیو شمېر یې سره مساوي، هره مسره یې (۸) (۸) څپې لري. یو روان، سلیس او خوږ شعر دی چې په مانا او تلفظ دواړو کې یې څوک له ستړیا او خنډ سره نه مخامخېږي او په اسانۍ سره ترې خوند او لذت اخیستلای شي. که د زرغونې کاکړې دېته ورته د کلام نورې بېلګې ترلاسه شوې وای، نو د پښتو ادب لمن به پرې ډېره ښکلې شوې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رابعه

## د (۹۲۰هـ) حدود

تر زرغونې کاکړ وروسته بله شاعره مېرمن رابعه ده، چې دا هم په هغه عصر په کندهار کې اوسېدله. ددې شاعرې نور احوال موږ ته نه دي ښکاره، د پټې خزانې مولف يې په لنډ ډول هسې معرفي کوي، ((حال ددې شاعرې ماته نه دی معلوم سوی، خو لږ څه چې ښکاره ده، هغه هسې ده چې دا شاعره د قندهار وه او په دوران د محمد بابر پادشاه يې ژوند کاوه.)) (۵۱: ۱۹۴)

پټه خزانه رابعه د ډېرو اشعارو خاونده ګڼي، يو دېوان يې هم درلود، خو په خواشينۍ سره چې ددې له اشعارو څخه بله نمونه نه ده ليدل شوې، يوازې د هغه کتاب مولف د خپل ملګري (محمد طاهر جمريانې) له خولې دغه رباعي رانقلوي:

ادم يــې مځکې وته راستون کـــا

پــه اور د غم يې سوی لړمون کـــا

دوزخ يې روغ کا، پرمخ د مځکې

نـــوم يې د هغه دلته بېلتون کـــا

## شننه او ارزونه:

له دغې يوې رباعي څخه چې د رابعې له کلامه موږ ته پاتې ده، دومره معلومولای شو چې رابعه د پښتو د لومړنۍ ادبي دورې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستۍ برخې ښه شاعره ده او په کلام کې یې جزالت او سلاست دواړه لیدل کېږي او ښايي چې اشعار به یې هم عشقي وو او دېوان به یې د پښتو له ښو اثارو څخه و.

د رابعې دا څلوریزه له لغوي پلوه له سوچه پښتو کلمو جوړه ده، یوازې (ادم) او (دوزخ) یې عربي کلمې دي، د هجران د سوز او درد تصویر په کې انځوروي، لکه څنګه چې یادونه وشوه دا نظم د فورم له مخې یوه رباعي یا څلوریزه ده. (راستون، لړمون او بېلتون) یې د قافیې کلمې دي، (کا ، کا) یې ردیف دی، د جوړښت له مخې د څلوریزې یا رباعي ټول خصوصیات پوره کوي، هره مسره یې (لس) (لس) څپې لري.

(زرغونه کاکړ) او (رابعه) د پښتو ادب په لرغوني دوره کې هغه ښځمنې شاعرانې دي چې تر موږه یې د کلام بېلګې رارسېدلې دي، تر دې وروسته بیا مېرمن نېکبخته ده چې پر خپل ځای به پرې بحث وشي، تر دې درېو شاعرانو زیاتې د نورو ښځینه شاعرانو څرک نه لګي، خو دا په دې مانا نه ده چې په لرغوني دوره کې دې نورې ښځینه شاعرانې هېڅ نه وي، لکه څنګه چې د بېلابېلو عواملو له امله په لرغوني دوره کې موږ خپله زیاته ادبي پانګه له لاسه ورکړې، نو ددې اټکل هم کېدی شي چې په دې دوره کې به د نورو ادبي اثارو په شان د ښځمنو شاعرانو ادبي پانګه هم له لاسه وتلې وي. خو د زرغونې کاکړې او همدارنګه د رابعې او مېرمن نېکبختې له دې شعري بېلګو څخه دا جوتېږي چې پښتنو مېرمنو هم پښتو ادب ته ډېر څه ورکړي، خو د زمانې ناخوالو د هغو یوه زیاته برخه له موږه مروړلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوست محمد کاکړ

## د (۹۲۰هـ) حدود

دوست محمد د (بابړ خان کاکړ) زوی دی، چې د کاکړستان په ژوب کې اوسېده، دده پلار هم عالم او شاعر سړی و، چې یو کتاب یې د ((تذکره غرغښت)) په نامه نظم کړی و، دوست محمد علم او ادب له پلاره په ارث وړي وو او د کاکړو د علمي او ادبي (عشیرې) یو پخوانی ادیب دی.

دی پر (۹۱۳هـ) له ژوبه هرات ته ولاړ او هلته یې د (کاکړ بابا) زیارت وکړ، پر (۹۲۹هـ) یې خپل یو کتاب ((غرغښت نامه)) نظم کړ او د غرغښت نیکه احوال یې په کې په مثنوي ولیکه.

لکه پټه خزانه چې لیکي: د دوست محمد کاکړ (غرغښت نامه) هغه حکایات وو چې بابړخان د ((تذکره غرغښت)) په نامه نظم کړي وو، څرنګه چې هغه کتاب ورک شوی و، نو دوست محمد د ((غرغښت نامې)) په نوي نامه بیا وپېودله. دا کتاب په لږ وخت کې د پښتنو په ادبي محافلو کې مشهور شو، څرنګه چې اخلاقي منظومې یې لرلې، نو یو درسي او تدریسي کتاب ګڼل کېده او پښتنو هلکانو به درس کې لوست. په کندهار کې د پټې خزانې د مولف کورنۍ چې یو باذوقه ادبي کهول و، دوی هم ددې کتاب نسخې د کوږک غره په (توبه) کې میندلې وې او په کورنیو مکتبو کې یې د درسي کتاب په توګه هلکانو ته لوست، داسې ښکاري چې (غرغښت نامې) د غرغښت نیکه له احواله زیات ځینې نور مضامین هم درلودل، لکه څرنګه چې د زرغون خان ساقینامه چې دمخه یې یادونه وشوه، هم د پټې خزانې مولف له ((غرغښت نامې)) څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

را نقل کړې ده او هم دا لاندې حکايت په کاکړ پورې چې د غرغښت له اولادې څخه دی، اړه لري، څرنګه چې اوس د دغه کتاب نسخه نه شته، نو تر دې زيات نور څه نه شو پرې ويلای.

((غرغښت نامه)) د پښتو ژبې په اخلاقي شاعرۍ کې د زرغونې تر بوستان راوروسته ډېر پخوانی کتاب دی، له دغه يوه حکايته چې پټې خزانې ځنې رانقل کړی دی، معلومېږي، چې لنډه مثنوي وه او ژبه يې هم سليسه او روانه وه:

## حکايت له غرغښت نامې څخه

له نيکانو روايت دی ... هسې توګه حکايت دی
نورمحمد کاکړ راوي دی ... چې يې فيض تل جاري دی
د نيکونو له خولې وايي ... چې منښت يې راته ښايي
چې کاکړ نيکه زاهد و ... لوی څښتن له تل عابد و
تل تر تل يې عبادت کا ... پر دې ليار يې رياضت کا
شپې يې روڼې په لمانځووې ... په ژړا و په نارو وې
نه يې خوب نه يې خوراک و ... عبادت يې ژوندو ژواک و
چې به کېناست په لمانځنه ... يابه کېوت په ستاينه
ورځ يې ټوله په قعده وه ... شپه يې هم يوه سجده وه
تل يې سير د لاهوت کا ... په يوه ګوله يې قوت کا
غرق به تل په ذکرالله و ... هر سبا او هر بېګاه و
يوه شپه يې عبادت کا ... پر ګناه يې ندامت کا
سترګې پټې سوې له خوبه ... په شپو شپو يې و ويښتوبه
هسې خوب يې وليد ګرانه ... چې غرغښت ښيي پنهانه
وايي ای کاکړه زويه ... له تا خوښ يمه نېکخويه
ستا قدم زما پر لار دی ... ماسوا کې دې قرار دی
شپه و ورځ دې ده لمانځنه ... د څښتن عبادت کړنه.
ولې پاته له تا نور دي ... شپې او ورځې دې په کور دي
څه جهاد کړه پر تا فرض دی ... دا هم ستا د غاړې قرض دی
يوه ورځ جهاد افضل ... تر کلو کلو لمانځل
څوک چې تل لمنځ و روژه کا ... په جهاد به يې پوره کا
لومړی شرط د دين همدا دی ... بيا خدمت د خلق الله دی
له تا پاته دواړه دي نه ... ځان خبر کړه ښه له دينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــــوره واخلــــه مجاهـــــد شـــــه / د لـوی خدای د دیـن قاصـد شـه
د خـدای نـور پـر جهـان خپـور کـړه / دا خـدمت یـې پـه ځـان پـور کـړه
چـــې دې بشــــپړ عبـــادت ســــي / ځان دې خلاص له معصیت سي
چـې لــه خوبــه ویښ کــاکړ ســو / د غـــزا پـــر خـــوا نـــومړ ســـو
زغـــره خـــول یـــې اراســـته کــړل / د غـــزا غشـــې تېـــره کـــړل
هـرات خـوا تـه پـه تلـو تلـو سـو / د سـلطان غیـاث لـه ملـو سـو
وې کـــــړه هـــــورې جهادونـــــه / د سـلطان مـل سـو پـه ملونـه
څـــو هـــورې تـــر دنیـــا تېـــر ســـو / د غازیـانو پـه تـول شـمېر سـو
چــې یـــې هلتـــه هـــم وفـــات ســـو / ښـخ پـه خـاورو د هـرات سـو
مېــــړه هســــې ژونـــدون کانـــدې / مـرې د خـدای پـه رضـا بانـدې

## شننه او ارزونه:

دا یو ټوټه چې له غرغښت نامې څخه زموږ په لاس کې ده، د پښتو د اخلاقي شعر غوره نمونه ګڼل کېږي. د منځنۍ اسیا په شاعرۍ کې اخلاقي برخه له پخوا څخه ګډه ده، هر شاعر که څه هم اساساً بزمي یا رزمي وي، په شعر کې اخلاقي پانګه لري، د پارسي شاعرانو په لومړنیو اشعارو کې هم اخلاقي ټوټې شته.

له اکثرو پخوانو شاعرانو لکه ابو سلیک (د ۲۷۰هـ حدود) شهید بلخي (د ۳۰۰هـ حدود) رود کې (د ۳۰۰هـ حدود) او نورو څخه اخلاقي ټوټې او اشعار رانقل شوي دي، د فردوسي شهنامه هم غوره اخلاقي پانګه لري، اما په مستقل ډول د پارسي پخوانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعر چې اخلاقي مستقل کتاب يې نظم کړ، ابو محمد بديع بلخي دی، چې د سلطان محمود معاصر دی، د (۴۰۰هـ حدود) دې سړي د (نوشېروان پندنامه) په پارسي نظم کړه او تر ده وروسته سنايي غزنوي، نظام ګنجوی، ناصر خسرو، علوي او نور ډېر شاعران راغلل او په خپلو اشعارو کې يې اخلاقي برخه ډېره کړه، د سنايي غزنوي (حديقة الحقيقه) د اخلاقو او تصوف پوخ او بې مثاله اثر دی، د ناصرو خسرو (روشنايی نامه) او (سعادت نامه) هم په فلسفي اخلاقي رنګ کې د پارسي ژبې ډېر ښه اثار دي، خو د شيراز شيخ سعدي په خپلو دوو کتابو (ګلستان او بوستان) دا بڼ هسې ښکلی او تازه کړ، چې د اخلاقي شاعرۍ دوه شهکاره ګڼل کېږي.

په پښتو شعر کې هم يو اخلاقي مستقل کتاب ښايي چې دغه ((غرغښت نامه)) وي او ددې کتاب له وجوده موږ څرک ايستلای شو، چې د پښتو اخلاقي شاعرۍ هم په پخوانۍ دوره کې رواج درلود او له دې پلوه هم دا ژبه بې پانګې نه ده، څرنګه چې عموماً د پارسي ژبې اخلاقي اشعار د مثنوي په ډول دي، نو ((د غرغښت نامې)) مولف هم خپل کتاب په مثنوي کې پيودلی دی او وروسته چې په پښتو کې هم ځينې مستقل اخلاقي کتابونه نظم شوي دي، په مثنوي فورم کې دي. ددې کار يو علت شايد دا وي چې د مثنوي فورم په اسانۍ سره د زياتو مطالبو او پيغامونو د ځايونې ظرفيت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دغې یوې بېلګې څخه چې له ((غرغښت نامې)) څخه پاتې ده، داسې ښکاري، چې د کتاب ژبه ډېره روانه وه او مقاصد یې هم لنډ لنډ ادا شوي دي، حشو او زواید نه لري، له ابهامه خالي شعر دی او دا هم ښکاره کوي، چې په دغو وختو کې ډېر پارسي او عربي کلمات په پښتو ادب کې داخل شوي او د تابعیت حق یې پوره موندلی و.

د زرغون خان ساقي نامه خو تاسې ولوستله، هغه د هلمند او ارغنداو د غاړو او ورشوګانو ژبه وه، څرنګه چې له پارسي ژبې سره نږدې او ګاونډۍ وه، باید هم د پارسي اثر پر لوېدلی وای، خو ((غرغښت نامه)) په ژوب او د سلیمان د غره په لمنو کې نظم شوې ده، خو سره له دې هم د هغې ساقینامې له ژبې سره څه ښکاره فرق نه لري او له دې څخه نتیجه اخلو چې په دغو وختو کې د پښتنو اختلاط ډېر شوی او ژبې یو متحد او مثبت ادبي معیار موندلی دی.

البته ددې خبرې یادول هم ضروري دي، که څه هم دا مهال د پارسي ادب لمن ډېره پراخه شوې وه او پر پښتو ادب یې له ژبنې او محتوایي پلوه اغېز درلود، خو په (غرښت نامه) کې د پارسي ژبې ژبنی اغېز ډېر نه ښکاري، یوازې درې څلور پارسي کلمې په دې مثنوي کې تر سترګو کېږي، لکه (جهان، اراسته، پنهان) او ځینې نورې سره مشترکې کلمې، خو د عربي ژبې د کلمو کمی په کې نه شته. څرنګه چې دا شعر اساساً دیني محتوا لري، نو د دیني محتوا د بیان لپاره عربي کلمو ته زیاته اړتیا ده، نو ددغسې اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره ليکوال، ناظم يا شاعر شعر اړ دی چې د خپل پيغام د بيان لپاره له همدې کلمو څخه ګټه پورته کړي، په دې نظم کې (روايت، حکايت، نورمحمد، راوي، فيض، زاهد، عابد، عبادت، رياضت، قعده، سجده، لاهوت، قوت، غرق، ذکرالله، سلامت، جهاد، فرض، قرض، افضل، شرط، دين، خدمت، خلق الله، مجاهد، نور، خدمت، معصيت، غزا، سلطان، غياث، وفات، رضا) او ځينې عربي کلمې دي، يانې د ټول نظم نږدې پنځه لس سلنه.

پر دې نظم د مثنوي فورم پوره د تطبيق وړ دی، ټوله مثنوي (۳۳) بيتونه لري، ځينې بيتونه يې د نورو مثنوياتو په شان قافيه او رديف دواړه لري او ځينې يې په قافيې پايته رسي. د مسرو د څپو شمېر يې سره مساوي دی؛ هره مسره يې (۸) څپې لري. مشترک وزن تعقيبوي، روان، ساده او عامه فهمه نظم دی، محتوا يې ديني اخلاقي مسايل دي چې له سره تر پايه همدا يوه موضوع رانغاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شیخ عیسی مشواڼی

## ( ۹۴۷هـ) حدود

مشواڼي د پښتنو يو قوم دی چې د کاکړو يوه پښـه ګڼله کېږي، ی‌وه برخه يې په کونړ، د کابل په کوهدامن او نورو سيمو کې اوسي، نور شاوخوا سوداګري کوي او له پخوا څخه د هند په لتو کې هم خپاره شوي دي.

شیخ عیسی هم له دې قومه د پښتو ادب د لرغونې دورې د وروستي پړاو شاعر دی، چې د شېرشاه سوري پښتانه شهنشاه معاصر و، نعمت الله هروي په (مخزن افغاني) کې دده د ژوندانه بیان لیکي، چې د هند په (دامله) کې اوسېده او هلته يې مځکې او پټي درلودل، شېرشاه ته چا وويل چې شيخ عيسی شراب خوري، خو د شېرشاه سړی چې ورغی په صراحي کې شيدې وې.

د شيخ عيسی احوال د پټې خزانې مولف هم کټ مټ له (مخزن افغاني) څخه نقل کوي او وايي چې دی لوی ولي و او د خدای په توحيد کې يې په پښتو، پارسي او هندي شعرونه ويل.

دده نور احوال موږ ته نه دي معلوم، خو چې شېرشاه سوري پر (۹۴۷ هـ) د هند پر تخت کېنستلی دی، نو موږ د شيخ عيسی د ژوندانه وخت تر (۹۰۰ هـ) وروسته ټاکلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شیخ عیسی شعرونه:

مخزن افغاني د شیخ عیسی پښتو، پارسي او هندي یو یو شعر رانقلوي، خو په خواشینۍ سره دغه اشعار کابتانو مسخ کړي دي. په ښه ډول نه ویل کېږي، د پټې خزانې مولف هم له مخزنه دده یو پښتو شعر دا سې رانقل کړی دی:

په خپله کار کړې، خپله انکار کړې
کله بادار یې کله مې خوار کړې
ته خو قادر یې! په صفتونو
کله مې نور کړې کله مې نار کړې
«عیسی» حیران دی په دې شیونو
کله مې یار کړې کله اغیار کړې.

## شننه او ارزونه:

له دغو بیتونو څخه ښکاره ده، چې شیخ عیسی له پخو متصوفینو څخه و او په هغه شان وینا لري، لکه د هرات خواجه انصاري او نور عارفان چې له خدایه سره راز او نیاز کوي.

د نعمت الله له لیکنې څخه معلومېږي چې شیخ عیسی یوه «رساله» درلوده چې د دریو ژبو اشعار یې په کې لیکلي وو، چې له هغو څخه یې یو پښتو لوړ شعر، یو پارسي بیت او څو هندي اشعار دي په مخزن کې نقل کوي او په دې ډول شیخ عیسی له هغو پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه دی چې خپله ژبه یې په هند کې هم ساتلې وه او په دغه دور کې د یو ګډ افغاني او هندي ثقافت ممثل و. داسې ښکاري چې د شیخ عیسی پورتنی شعر هم پوره نه دی رانقل شوی، کېدی شي د اوږده شعر یو بند یې رانقل شوی وي، ځکه له دې شعره داسې ښکاري چې نورې برخې به یې هم وي. شعر له مانا ډک ښکاري، نو د مانا د پوره بیان لپاره د نظم امتداد ته اړتیا احساسېږي. که څه هم د نظم په وروستۍ برخه کې (عیسی) خپل نوم هم راوړی او دا کار معمولاً د شعر په وروستي بند یا بیت کې ترسره کېږي، خو په ټولیز ډول چې موږ دې درې بیتیز شعر ته ګورو او د هغه مانا ته، نو داسې ورځخه ښکاري چې مانا ټوله نه ده خلاصه شوې او کېدی شي نورې برخې یې وي چې نقلوونکي نه وي رانقل کړې. په دې شعر کې له لغوي پلوه (بادار) د پارسي ژبې کلمه ده. (انکار، قادر، صفت، نور، نار او اغیار) عربي کلمې دي، څرنګه چې دا نظم شپږ مسرې لري د کوم کوټلي او خاص فورم بڼه نه راخپلوي، د غزله فورم ته هم په بشپړ ډول ځکه نه ورداخلېږي چې د بیتونو شمېر یې د هغه تر معمول تعریفه کم دی. د سر لومړی بیت یې مقفی دی، د دوو نورو بیتونو قافیه یې هم د سر بیت قافیه تعقیبوي. (انکار، خوار، نار او اغیار) یې د قافیې کلمې دي، (کړې کړې) یې ردیف دی. که چېرې د بیتونو شمېر یې په همدې ډول غځېدلای وای او همدا وزن و اهنګ یې تعقیب کړی وای، نو کېدی شي د ماتې غزلې بڼه یې خپله کړې وای. ماته غزل دېته وایي چې یوه مسره یې په واقعیت کې په منځه ملا کې نیمه وي، یانې دا چې د مسرې ټولې څپې یې د اهنګ له

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوه پر دوو برخو وېشل کېږي. نیمې یوې او نیمې بلې خواته پاتې کېږي، تر نیمایي پورې وزن یا اهنګ ځي بیا خنډ یا ځنډ واقع کېږي او بیا نیمایي اهنګ د مساوي څپو په شمېر سره جوړېږي، نو دېته ماته غزل وایي. دلته هم وګورئ همدا حالت دی (په خپله کار کړې) تر دې ځایه (۵) څپې یو اهنګ دی بیا لږ وقفه (خپله انکار کړې) د هغه په تعقیب بل اهنګ دی چې دا هم پنځه څپې دي، نورې (۵) مسرې هم همدا حالت لري. (کله بادار یې)، (کله مې خوار کړې)، (ته خو قادر یې)، (په صفتونو) (کله مې نور کړې)، (کله مې نار کړې)، (عیسی حیران دی)، (په دې شیونو)، (کله مې یار کړې) او (کله اغیار کړې). ټول یو شان قاعده تعقیبوي، یانې دا چې هره مسره یې پر ملا ماته ده، نو ځکه ورته ماته غزل وایي. که دې نظم ترپایه د غزل بیتونه پوره کړي وای، نو د ماتې غزلې تر قاعدې لاندې راتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شیخ بستان بړېڅ

## د (۹۶۰هـ) حدود

شیخ بستان د پښتنو له ادبي او روحاني نومیالیو څخه دی او پلا ربې د کندهار په (ښوراوک) کې اوسېده، چې نوم یې (محمد اکرام) او روحاني سړی و، دی قوماً بړېڅ و، له ښوراوکه ولاړ د هلمند پر غاړه یې درویشانه ژوند کاوه او پر عبادت به بوخت و. بستان له خپله پلاره فیض ومونند او د ځوانۍ په عمر کې هند ته ولاړ او په سیر او سیاحت مشغول شو.

دې افاقي سیر زموږ شاعر پوخ کړ او د فطرت پر مطالعه بوخت شو. شیخ بستان د پښتو ژبې شاعر، لیکوال او مولف دی، چې مورخان یې ښه پېژني او دده روحاني شهرت هم تر ادبي خوا لږ نه و، نعمت الله مورخ لیکي:

((په ځوانۍ کې له روهه هندوستان ته راغی، په سمانه کې مېشت شو او د تجارت په لباس کې یې ځان پټاوه، تل به یې حزین صورت ویل او خلک به یې په دردناک حالت ژړول.))

د مخزن له دې بیانه زموږ د شاعر اخلاقي هویت ښه ښکاري او دا څرګندوي چې شیخ بستان سیاح او ګرځند سړی و او د عمر تر پایه هم پر سیاحت بوخت و، نعمت الله د عمر په اخر کې د بستان ملګری و او له ده څخه یې خوارق لیدلي وو، دی وایي چې د دریاب په سفر کې د بستان مل وم، چې د ګجرات احمداباد ته راغلو، شیخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته وويل چې زما عمر تمام دی او هم دلې د جمعې پر ورځ چې د ربيع الثاني (۱۱)مه وه، پر (۱۰۰۲هـ) کال د اسهال په مرض د ماسپښين تر لمانځه وروسته مړ شو او هم هورې ښخ شوی.

## تاليف او شعرونه:

شيخ بستان که څه هم پر کور ناست سړی نه و او عمر يې په سير او سياحت تېراوه، خو بيا هم کوم وخت چې د جهان له مطالعې فارغ شوی دی، نو يې قلم را اخيستی او په پښتو يې ښه اثار ليکلي دي.

ترمرګ څلور کاله دمخه دی پر (۹۹۸هـ) کال خپل وطن ته راغی او د خپلو مطالعاتو نتايج يې په يوه کتاب کې راټول کړل چې نوم يې((بستان الاولياء)) و.

د پټې خزانې له بيانه ښکاره ده، چې دا کتاب هم د روحاني خلکو تاريخ و او هم د پښتنو رجالو او مشاهيرو اشعار او احوال په کې وو، لکه چې محمد هوتک د خپل پلار په روايت چې دغه کتاب يې د ښوراوک د حسن خان په کور کې ليدلی و، د شيخ تیمن اشعار او احوال له ((بستان الاولياء)) څخه رانقل کړي دي. له دې څخه نو دا خبره ښه کاري چې بستان الاولياء د پښتو شاعرانو احوال او اشعار هم درلودل او علاوه پر دې شيخ خپل اشعار هم په کې راوړي وو او په دې مقصد د پټې خزانې مولف هم تصريح کوي، نو بستان د خپل عصر شاعر، مولف او مورخ سړی و چې په پښتو يې اشعار ويل او روحاني ژوند يې کاوه د عشق او مينې په اور سوی و. محمد هوتک د خپل پلار له خولې د شيخ بستان يوه بدله

(c) ketabton.com: The Digital Library

رانقلوي، چې د ولسي شعر په وزن ده او له دې څخه ښکاري چې د بستان په شعر کې (لکه نعمت الله چې هم لیکلي دي) د تغنی او ترنم خوا غالبه وه.

د مینې اور دې زما زړګی وریت په انګار کئ نا ښې تار و نار کئ نا
خود به ویلېږم چې مې زړه پر تا مفتون کئ نا ځان مې زبون کئ نا
اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یو وار نظر که پرما راسه ګذر که پرما

وکه نظر زما پر حال چې پروت رنځور یمه تل په ویر ناسور یمه تل
له زړه مې څاڅي وینې سور په وینو خپل یمه تل په اور جلبل یمه تل
اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یو وار نظر که پر ما راسه ګذر که پر ما

له درده، سوزه تل ناري او غلبلې وهمه کړېږې سوري همه
یو آن مې چېري نه ارام نه تیکاونه وینم نه راحت کړنه وینم
اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یو وار نظر که پر ما راسه ګذر که پر ما

د خوږو زړو له حاله ته یې ای باداره اګاه یې د بېوزلو همراه
د خپل عزت په روی ((بستان)) ته کړه د مهر ښندل کړې له ګناه ګواښل
اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یو وار نظر که پر ما راسه ګذر که پر ما

## شننه او ارزونه:

دا بدله د پښتو د ملي شعر یو خاص وزم راښیي، چې تکراریدونکی کسر هم لري او په ملي وزمو کې د تغنی او ترنم یو خاص مزیت څرګندوي، داسې اشعار د غږ یا وزن د پوره کولو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسیقیت لپاره کله کله د کلماتو په پای کې ځینې اهنګین لغتونه لري چې هم د شعر ځپیز جوړښت بشپړوي او هم د ترنم لپاره غږ ته دوام ورکوي، چې په پښتو عروضو کې دغه کیفیت د ېر لیدل کېږي. ددې بدلې په لومړي بند کې د بیت اخر ته د مانا د تکمیل لپاره فقط (کئ) کافي وو، خو د ترنم لپاره (نا) ورسره نښتی دی. دا وروستی برخه د ګرامر له مخې بالکل زایده ده، خو د وزن او موسیقیت له پلوه ضروري ګڼل کېږي.

که څه هم دا بدله د پښتو پر سوچه وزن و اهنګ سوره ده، له پارسي او عربي وزنونو څخه لرې ده، خو له لغوي او ژبني پلوه ددې ژبو له کلمو څخه لرې نه ده پاتې شوې، (مفتون، زبون، ګذر، بادار، اګاه، همراه) دري کلمې او (نظر، حال، راحت، عزت) او ځینې نورې عربي کلمې دي.

دا بدله څلور بندونه لري، هر بند یې له دریو لویو او دریو وړو مسرو څخه جوړ دی لویې مسرې په خپل منځ کې د سېلابونو د شمېر له مخې سره مساوي دي، یانې هره مسره یې (۱۵) څپې لري او په وړو مسرو کې (ځان مې زبون کئ نا) څخه پرته چې (۶) څپې لري، نورې ټولې مسرې (۷) څپې لري. د لنډو او اوږدو مسرو د څپیز جوړښت دغه سمون د نظم وزن او اهنګ سره پوره کړی او د یوې خوږې او پوره موسیقي والې بدلې رنګ او خوند یې ورته په برخه کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# علي سرور لودي

## د (۹۶۰هـ) حدود

علي سرور په قوم (شاهوخېل) لودي و، چې د هندوستان له هغو لودي ادیبانو او عارفانو څخه ګڼل کېږي، چې دمخه مو ذکر کړل. دده احوال او خوارق مخزن افغاني بیانوي او د پټې خزانې مولف یې هم د ((تحفة صالح)) کتاب په حواله احوال راوړی او داسې ښکاري، چې دی متقي، پارسا او متصوف سړی و، د خپل عصر رهبر بلل کېده او په ملتان کې به یې ژوند کاوه.

علي سرور د ارشاد او تدریس حلقه درلوده او ډېر خلک یې مریدان وو دده عمر په وعظ او ارشاد کې تېر شوی دی او د لسمې پېړۍ په پای کې ژوندی و.

نعمت الله مورخ وایي چې علي سرور د ملتان د کهرور (کرور) په کلي کې اوسېده، مستجاب الدعوات و او د ېرش کاله اوږد، ونه غځېد او نه ښویېده، یوه ورځ یوه نایي سر ورخرایه، ویې ویل، چې (شیخ نجم الدین کبری) به په یوه کتنه خلک د کشف خاوندان کول، علي سرور ورته وویل چې دا خو اسانه کار دی، نو چې نایي له خپله کاره فارغ شو، بل حال پرې راغی، د کشف درجې ته ورسېده او په عبادت او ریاضت مشغول شو، له دې کیسې څخه د علي سرور د ژوند ډول او د خلکو نظر چې ده ته یې درلود، ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاري او د «تحفة صالح» له روايته څرګندېږي، چې دی د خلکو مرجع و او عرفاني او علمي مشکلات به يې دده په فکر حلول.

## د علي سرور لودي وينا او شعرونه:

پټې خزانې د «تحفه صالح» په حواله د علي سرور لودي يو تقرير هسې رانقل کړی دی: «يوه ورځ سوال څنې وشو چې:

«پس ترا هر لحظه مرګی رجعتی است

مصطفی فرمود دنيا ساعتی است»

څه مقصد لري؟ زموږ مرګ و رجعت کله دايم او مستمر دی؟ او که دا مرګ و رجعت دايم او مستمر وي، نو به حيات بعدالممات متعدد شي او د تناسخيانو عقيده به شي. هغه عارف رباني هسې جواب ورکا، چې ذات ماسوا دی له بدنه، ذات دايماً ثابت او بدن متحلل دی، هسې چې وايي: «انت ان لا ببدنک فان بدنک فی التحلل و لیس عندک منه خبر، فانت وراء هذه الاشياء» دغه مرګ و رجعت بدني دی، نه ذاتي او هرکله چې تحلل وموند سابقه ذراتو نو يې پرځای درېږي لاحقه ذرات او همدغه تجدد دی، چې د دنيا دتحقق نشتتوالی ثابتوي او هغه چې مصطفی عليه السلام وويل: «الدنيا ساعة» رښتيا کوي»

په دې تقرير کې د علي سرور د تصوف پاخه افکار ښکاري، د تصوف او فلسفې يوه پخوانۍ عقيده دا وه چې د اجسامو اتومي ذرات مسلسلاً فنا کېږي او پر ځای يې نوي نوي درېږي، څرنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د فاني او نورو ذراتو دغه تسلسل تل جاري دی او نوي اجزاء د پخوانيو ذراتو ځای ډکوي، نو ځوک د جسم په فنا نه پوهېږي. صوفيان وايي چې مادي دنيا د الهي اسماوو مظهر ده او موجودات د خدای تعالی د کمالاتو د تجلی مظاهر دي، ځکه چې په تجلی کې تکرار نه شته او پر يوه شي مکرراً يو راز تجلی نه کېږي (کل يوم هو فی شان) نو جلالي اسماء تل له موجوداتو څخه ((وجود)) قلع کوي او جمالي اسماء يې تر خپلو تاثيراتو لاندې راولي او بېرته ((وجود)) ورکوي او دغه مسله ((د مثالونو تجدد)) بلل کېږي.

شيخ ابو طالب مکي وايي: ((لاتجلی فی صورت واحدة لشخص واحد مرتان ولا فی صورة واحد للاثنین))، صوفيان له دې پرله پسې فنا څخه دا نتيجه اخلي، چې دغه فنا په حقيقت کې د ((اثبات)) او ((وجود)) بنسټ ده، ځکه هر کله چې لومړی صورت فنا کېږي، نو دويم صورت يې په مترقي ډول پرځای درېږي او که دغه فنا نه وای، نو به ((وجود)) هم نه و تکميل شوی، نو ګويا ((عدم او فنا)) د ((ارتقاء او تکامل)) وسيله ده. له علي سروره چې د کوم پارسي بيت پوښتنه شوې وه، هغه د مولانای بلخي (رومي) له مثنوي څخه دی.

د علي سرور په تقرير کې هم تاسې ددې عرفاني خبرې شرح وينئ او دده عرفاني مقام او علمي منزلت ځنې ښکاري، ده د خبرې د څرګندولو لپاره د حضرت شيخ الاشراق شهاب الدين سهروردي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۵۸۷هـ مقتول) له اقوالو څخه ځینې عربي جملات رانقل کړي دي، چې هغه هم د غه مسله بیانوي.

اوس چې د علي سرور د عرفاني تقریر وضاحت د نورو عارفانو د بیان په ترڅ کې وشو، نو به دده یو غزل رانقل کړو، چې د پټې خزانې مولف هم له ((تحفة صالح)) څخه اقتباس کړی دی او ښه عرفاني رنګ لري.

## غــزل

محبـت پیالـه مـې نـوش کـړه پـه مجـاز کـې
د حــق نــور ویــنم پــه ســترګو د ایــاز کــې
درســت وطــن راتــه دریــاب ســو بــې دیدنــه
دیـد مـې نـه شي مګـر خدای مـې سبب سـاز کي
کـه زه مـړ شـم هـم لـه ګـوره کـړم سـر پورتـه
ناګهانـــــه چـــــې دلبـــــر راتـــــه اواز کـــــي
کـه مـې سـر غـوڅ د رقیـب پـه تېـره تېـغ سـي
هـم بـه ځـم کـه دلبـر غوښـت پـه مهـرو نـاز کـي
زه ویـــار مـــداماً ناســـت وو یـــو لـــه بلـــه
پـــر غمـــاز دې بـــاري کـــاښې د غـــم ســـاز کـــي
ګـــران بېلتـــون بـــه د هغـــو مینـــو وینـــه
چـې تـل ناسـت وي پـه خلـوت کـې سـره راز کـي
ای (ســـروره) غمـــازان ســـوه بـــې حســـابه
پـاک الله دې صـورت تـش بـې مغـزه پیـاز کـې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شننه او ارزونه:

د سرور لودي دا غزل له محتوايي پلوه پر ديني اساساتو راڅرخي، خداى پېژندنه، د طبيعت د اسرارو کشف، عرفان او تصوف ددې غزل منځپانګه ده. شاعر په ژور ډول د مانا تل ته ورکښته شوى، څرنګه چې دى خپله په عرفاني ژوند کې د خداى پېژندنې بېلابېلو لارو ته رسېدلى، نو غزل يې هم له همدغو معنوي لارو ډک دى، له لغوي پلوه په کې دري او عربي دواړه کلمې موجودې دي، تصوفي اصطلاحات هم په کې څرګند دي. (نوش، ديدن، ديد، مګر، ساز، ناګهانه، دلبر، مهر) دري کلمې دي. (محبت، مجاز، حق، نور، وطن، سبب، مداماً، خلوت، حساب، الله، صورت) او ځينې نورې عربي کلمې دي.

دا غزل ټول (۷) بيتونه لري، (مجاز، اياز، ساز، اواز، ناز، راز او پياز) يې د قافيې کلمې دي (کې – کې) يې رديف دى. خو په دې غزل کې د رديف له معمول تعريف سره سم چې: رديف همغه يوه يا څو مورفيمونه يا کلمې دي چې تر قافيې وروسته په يوه شکل او يوه مانا تکرار راځي، دلته هسې نه ده. دلته په لومړي بيت کې (کې) د مکاني اوستر بل مانا ښندي، لکه په کور (کې) خو په نورو بيتونو کې بيا د (کې) پرځاى (کي) چې د (کړي) فعل عاميانه تلفظ دى، هغه راځي، نو ځکه دلته د (کې) او (کي) په مانا کې توپير ليدل کېږي. دلته نو سړى ويلاى شي چې په رديف کې عيب ليدل کېږي، يا لږ تر لږه د رديف له معمول تعريفه وځي. له همدغه جزيي توپير پرته نور د غزل فورم ټول معيارونه پرې پلي کېږي. د مسرو د څپو شمېر يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم سره مساوي دی، هره مسره یې (۱۲) (۱۲) څپې لري. په عرفاني او تصوفي برخه کې دا غزل خپل ځانګړی مقام لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مېرمن نېکبخته

## د (۹۶۰هـ) حدود

د پښتو لـه شاعرو مېرمنو څخه ده، ددې کـورنۍ د پېښـور پـه (اشنغر) کې اوسېده او پلار نیکه یې روحاني خلک وو او د (ممن زیو) مرشدان ګڼل کېدل، ددې پلار (شیخ الله داد مموزی) د خپل عصر عالم او عابد سړی و او لکه (شیخ امام الدین) چې په خپل کتاب ((اولیای افغان)) کې کښلي دي، نېکبخته هم عارفه او زاهده مېرمن وه، دیني علوم یې لوستلي او عمر یې په ریاضت او عبادت تېراوه، دې کورنۍ د خپل وخت له یوې بلې عرفاني او ادبي کورنۍ سره چې د پېښور په لتو کې مشهوره ده، خپلي وکړه، دا کورنۍ د مرحوم شیخ متي اولاد او تسلسل وو، نېکبخته پر (۹۵۱هـ) د شیخ متي یوه لمسي ته په نکاح ورکړه شوه، چې (شیخ قدم) نومېده او د (محمد زاهد متي زي) زوی و، نېکبختې پر (۹۵۶هـ) (میا قاسم افغان) وزېږاوه، چې د پښتنو له عرفاني او علمي رجالو څخه دی.

پټه خزانه د ((اولیاء افغان)) به حواله لیکي، چې نېکبختې پر (۹۶۹هـ) یو کتاب د ((ارشاد الفقراء)) په نامه وکښل، چې د پښتو اخلاقي او تلقیني اشعار په کې وو او د فقیر مشربو خلکو لپاره نصایح او وعظونه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چې مو ږ وينو په پښتو ادب کې تر (۱۰۰۰هـ) وروسته يوه ډله ناظمان او ليکوال شته چې د دوی د منظوماتو مضامين فقط وعظونه او ديني نصايح دي.

ډېر کتابونه په دې ډول نظم شوي دي، چې ددغو ديني منظوماتو ډېره پخوانۍ نمونه موږ د نېکبختې په منظوماتو کې مومو.

دغه ډله نظم کوونکي عموماً واعظان، ملايان او ديني مرشدان وو، چې د عباداتو او اخلاقو په خصوص کې به يې لنډې لنډې منظومې جوړولې او د نېکبختې منظومات هم داسې دي، چې د نمونې په ډول يې دلته رانقلوو، دا نمونه د پټې خزانې مولف له ((ارشاد الفقراء)) څخه را اخيستې ده:

## نصيحت

د خداى حق ته غاړه کېږده
نوري نوري وينا پرېږده
دنيا پاته له هر چا ده
په اخلاص کې ځنې بلېږده
څو قوت لري په ځان کې
سر د يار په رضا کېږده
ځان له بده خويه ژغوره
زړه په ذکر د يار بلېږده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کل دنیا به دې دښنه شي
اوس له بېرې ځنې رېږده
ټوله غواړې حسابونه
که دې اوښې، که دې مېږده
دنیا ترک وهه که پوه یې
د بقا پر لوري پښې ږده

## شننه او ارزونه:

مېرمن نېکبخته د دین او اخلاقو په وړانګو منوره او نېکبخته مېرمن وه، لکه څنګه چې یادونه وشوه، ددې شعر له اخلاقو او نصیحتونو څخه ډک و، تراوسه پورې موږ د زرغونې، رابعې او نېکبختې درېواړو د کلام یوه یوه بېلګه یاده کړه، د زرغونې او نېکبختې کلام پر اخلاقي، روحاني او عرفاني مسایلو راڅرخي او د رابعې تر یوه حده د عشق او بېلتون سوز بیانوي. مېرمن نېکبخته په دې کلام کې له لغوي پلوه له عربي ژبې څخه ګټه اخلې، د دري ژبې کومه کلمه په کې نه شته او که وي هم نو هغه به مشترکه ګڼل کېږي. (حق، اخلاص، قوت، رضا، ذکر، کل، حساب او بقا) عربي کلمې دي. (زړه په ذکر د یار بېلږده) مسره (بلېږده)بیا (د پېچلو یا په یو شي کې د تاوول)و مانا ورکوي چې اوس په پښتو کې نه کارول کېږي، د نظم نورې ټولې کلمې یې پښتو دي، د فورم له مخې دا یو غزل ګڼل کېږي، (پرېږده، بلېږده، کېښږده، رېږده، مېږده، پښې ږده)

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د قافيې کلمې دي، رديف نه لري. يوازې (که دې اوښې که دې مېږده) په مسره کې د قافيې عيب ليدل کېږي، ځکه په ټولو قافيوالو کلمو کې (ږده، ږده) مشترک ټکي دي، خو دلته (مېږ) يو مستقله کلمه ده د مېږې، لنډيز دی، ياني (ې) توری ترې غورځېدلی او (ده) يو مرستندوی فعل دی، دلته دا دواړه سره يوځای شوي دي. ياني (ږ) له يوه ځای او (ده) له بل ځايه را اخيستل شوي دي. خو په مجموعي ډول دا نظم په اخلاقي ګاڼه پسولل شوی او هم د وزن له پلوه رواني لري. د ټولو مسرو د څپو شمېر يې سره مساوي دي، هره مسره يې (۸) څپې لري. ټول نظم له (۷) بيتونو جوړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شیخ محمد صالح الکوزی

## د (۱۰۰۰هـ) حدود

شیخ محمد صالح په قوم (الکوزی) او د کندهار په (جلدک) کې اوسېده. دغه ځای د کندهار شمال شرق ته تقریباً (۳۰) میله لرې د کابل پر لار واقع دی او تراوسه هم هلته د الکوزو ټبر اوسي.

شیخ صالح موږ د پټې خزانې په مرسته پېژنو او دغه کتاب دده د اشعارو بېلګه هم موږ ته رارسولې ده، داسې وایي چې شیخ یو عالم او عابد سړی و او په علم او تقوا یې په خلکو کې شهرت درلود، وختونه یې په تدریس او د خلکو په ارشاد تېرول. منزوي او په ګوښه کې ناست سړی و، علمي او روحاني استغنا دی له دنیوي جولانه منع کاوه او همېشه د خپلو شاګردانو او مخلصانو د مجلس ځراغ و، د تدریس حلقه یې د شاهانو تر دربار او عزت خوښه وه، نو ځکه تل د تدریس او ارشاد په حلقه کې له دنیوي مزخرفاتو څخه فارغ او مستغني و.

داسې معلومېږي چې شیخ صالح تر (۱۰۰۰هـ) دمخه زېږېدلی و او پر هغه وخت دده د علمي شهرت، تقوا او فضیلت غږ لوړ و، چې نه یوازې پر کندهار، بلکې پر ټولې پښتونخوا د دوو لویو امپراطوریو یانې د هندي تیموریانو او صفویانو جګړې په پرله پسې ډول جاري وې او پښتنو ارام نه درلود، د شیخ صالح په وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د کندهار صوبدار (والي) (شاه بیګ خان کابلی) و، چې پر (۱۰۰۳هـ) کال یې د (جلال الدین اکبر) پاچا په امر کندهار ونیو او تر (۱۰۱۴هـ) پورې هم په کندهار کې واکمن و.

پټه خزانه د شاه بیګ او شیخ صالح داستان داسې رانقلوي:

((نقل دی چې شاه بیګ خان د کندهار صوبدار، شیخ محمد صالح وغوښت، چې کابل ته ولاړ شي او هلته خلکو ته فیض ورکړي او په تدریس د علومو طالبانو ته هدایت وکا، شیخ محمد صالح ورته وکښل، چې: ((ما له طمع د عزت نه شته او په دنیا پسې تګ نه غواړم، زما داسې مقصد دی چې دنیا ماته راشي نه چې زه ولاړ شم دنیا پسې، که زما عزت غواړې، ما پرېږده او په دنیا پسې مې مه مسافر کوه...)) چې دغه خط ورسېد شاه بیګ خان وویل: ((ما هم ستا عزت مقصود و، نه بې عزتي...)) (۵۱: ۱۰۰)

له دې روایته موږ د شیخ صالح د ژوندانه طرز او دده د تفکر صبغه معلومولای شو، چې د نفس پاکوالی، پوهه، تقوا، استغنا ټول ورسره وو او دغه صفات او مزایا ده په دغه غزل کې سره یوځای کړي دي، چې شاه بیګ صوبدار ته یې لېږلې و:

د لیلـــــی د مینــــې فـــــیض هـــــر ســــــبا وړم
بېهـــــوده منـــــت بـــــه ولــــې د بــــل چـــا وړم
چـــې اشـــنای د شـــپې ناځاپــــه پـــه لاس کښېـــوت
روښـــان زړه پـــه ګوګـــل پـــټ لمـــر پـــه ســما وړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــر دنیــا کــه تجــارت څــوک د دنیــا کــي
زه د زړه پــه بــازار بــار د عشــق ســودا وړم
کــه پــر تخــت مــې د ســلیمان ســپور کــړې ســړیه
عاقبــت خــاورو تــه ښــه عمــل پیشــوا وړم
بــې لــه عشــقه خوشــحالي پــر مــا حرامــه
زه صــالح کــه پــه خولــه خــوښ پــه زړه ژړا وړم.

## د شیخ صالح ویناوې او شعرونه:

داسې ښکاري چې شیخ صالح د شاګردانو او مخلصانو یوه لویه حلقه درلوده او دده اشعار، اقوال او احوال به هغو لیکل، د پټې خزانې مولف پر یوه کتاب حواله ورکوي، چې ((تحفه صالح)) یې نوم و او دا کتاب د شیخ یوه شاګرد (ملا الله یار) دده په نامه کښلی و او په دې کتاب کې د شیخ صالح احوال، اشعار او اقوال راټول شوي وو، یوه مجموعه وه، چې محمد هوتک له هغو اشعارو څخه لوړ غزل او هم دا لاندې پښتو غزل رانقل کړی دی:

چــې پــه زړه یــې غشــی څــرخ ســي د چشــمانو
روغ بــه نــه ســي پــه دارو د طبیبــانو
چــې نــور تــن لــه رنځــه خــلاص پــه زړه رنځــور وي
دا د زړه دارو جــوړ نــه کــړه حکیمــانو
مګــر الله چــې حبیــب دی هــم طبیــب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــار ســـازي کـــا د خوارانـــو رنځورانـــو
هـــېڅ اثـــر رابانـــدې نـــه کانـــدي عالمـــه!
ښـــه ويـــل دُر و ګـــوهر د ناصـــحانو
نصـــيحت زړه غـــوا ړي، زړه نســـته ګوګـــل کـــې
زړه مـــې وړی پـــه منګولـــو خوبرويـــانو
کـــه ((صـــالح)) غونـــدې د زړه پـــه وينـــو پـــايئ
نـــور دولـــت پـــر دنيـــا نســـته طالبـــانو

## شننه او ارزونه:

د شيخ صالح لـه دغـو دوو غزلـو څخـه ښکاري چې دی د پښـتو ژبې داسې يو شاعر دی، چې شعرونه يې د هنري ښکلا لـه مخې د منځنۍ کچې شعرونه ګڼل کېدی شي. کلام يې ساده او روان دی او د کندهار د پښـتو محـاورې يـوه نمونـه ده. سره لـه دې چې د کـلام اساس يې تصوف، عرفان او د خدای مينه ده، خو دی دا مفکوره پـه غنايي او تغزلي الفاظو کې رانغاړي او ظاهراً خپل کلام تـه عشـقي رنګ ورکوي، لـه لغوي پلوه يـې پـه کلام کې د عربي ژبې لغتونـه ځرګنـد دي، يـو څو دري لغتونـه هم لـري. پـه لـومړي شعر کې يـې (بېهوده، پيشوا) دري کلمې، (فيض، منت، سما، تجارت، عشق، عاقبت، عمل، حرام) او ځينې نورې عربي کلمې دي. د فورم له مخې يې لومړی کلام هم د غزل فورم خپلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول نظم (۵) بیتونه لري، (سبا ، چا ، سما ، سودا ، پیشوا او ژړا) یې د قافیې کلمې دي (وړم وړم) یې ردیف دی، د نظم هره مسره یې (۱۲) څپې لري.

په دویم غزل کې هم دري او عربي لغتونه شته، (چشمان، کارسازی، دُر ګوهر، خوبرویان،) یې دري کلمې دي، (طبیب، حکیم، الله، حبیب، اثر، عالم، ناصح، نصیحت، صالح، دولت، طالب) دا ټولې عربي کلمې دي، پر دې نظم هم د غزل فورم د تطبیق وړ دی، دا نظم ټول شپږ بیتونه لري، (چشمانو ، طبیبانو ، حکیمانو ، رنځورانو ، ناصحانو ، خوبرویانو ، طالبانو) یې د قافیې کلمې دي (انو ، انو) یې مشترک غږونه دي. هره مسره یې (دولس) څپې لري او ټول یو مشترک وزن تعقیبوي، یوازې د درېیم بیت لومړۍ مسره او د پنځم بیت لومړۍ مسره د (خج) له مخې څه ستونزه لري چې که د شاعر له مقصود تلفظ سره سم وویل شي، نو هغه وزني ستونزه هم له منځه ځي، د ساري په توګه که د (الله) او (نصیحت) په کلمو کې خج د شاعر له مقصود تلفظ سره سم ادا شي، نو وزني ستونزه له منځه ځي.

**یادونه:** له شیخ صالح څخه نیولې بیا تر (دوست محمد کاکړ) پورې کوم وروستي شاعران چې موږ په لرغوني دوره کې شامل کړل، علت یې دا و چې دوی د لرغوني دورې یو تسلسل دی، له شکلي او محتوایي پلوه د دوی اشعار د لرغوني دورې له نورو شاعرانو سره کوم غوځ توپیر نه لري. ځینو درنو لوستونکو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

قدرمنو محصلینو ته به پوښتنه پیدا شي چې موږ خو د لرغونې دورې په پېژندنه کې وویل چې دا دوره له (۱۳۹هـ) څخه نیولې بیا تر روښان یا روښانیانو (۹۳۰هـ) پورې رسېږي، دلته خو ځینې داسې شاعران هم وپېژندل شول چې تر (۹۳۰) وروسته یې ژوند یقیني دی.
په دې باب باید وویل شي دا خبره سمه ده چې د پښتو ادبیاتو دویمه دوره له روښان یا روښانیانو څخه پیلېږي. خو ادبي دورې داسې نه دي، لکه سیاسي دورې چې په غوڅ ډول له یوې نېټې څخه پیلېږي، ادبي دورې یوه په بله کې تداخل پیدا کوي. بله خبره دا ده چې (۹۳۰هـ) کال داسې نه دی چې پر همدې نېټه هر څه پیل شول، تردې وروسته د روښان د ژوند لومړي کلونه پیلېږي او څو لسیزې وروسته هغه مذهبي، سیاسي او فرهنګي مبارزه کوي، بیا اثار لیکي، بیا یې د کورنۍ غړي او نور پلویان دده لاره تعقیبوي بیا اثار پنځوي او تداوم یې ان د یوولسمې پېړۍ وروستیو ته رسېږي. کله چې ددې اثارو شکل او محتوا وکتل شي، نو له تېرې دورې سره اوچت توپیر په کې لیدل کېږي، ان له دغو څو تنو شاعرانو (دوست محمد کاکړ، شیخ عیسی مشواڼي، شیخ بستان بړېڅ، علي سرور لودي، مېرمن نېکبخته، شیخ محمد صالح) سره یې په شعرونو کې اوچت توپیر دی او کوم شاعران چې موږ یاد کړل د دوی شعرونو د لرغونې دورې له نورو شعرونو سره خپل تسلسل او ارتباط ساتلی، نو ځکه خو موږ د تاریخي او محتوايي تسلسل له مخې په لرغونې دوره کې شامل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د درېيم څپرکي لنډيز

په درېيم څپرکي کې مو د پښتو ادبياتو د لرغوني دورې ټولې څېرې وپېژندلې، امير کروړ جهان پهلوان او دده وياړنه، زه يم زمرى په دې نړۍ له ما اتل نسته، د هغه ددې وياړنې شننه، د هاشم ابن زيد سرواني د منظومې ژباړې، (ژبه هم ښه وينا کاندي چې يې وينه) ارزونه او خپله دده پېژندنه، د شيخ رضی لودي او نصر لودي پېژندنه او ددوی ترمنځ د منظوم کلام تبادله (د الحاد په لور دې ترپلل) او (د الحاد په تور تورن شوم) پرتلنه او شننه، بېټ نيکه او د هغه مناجاب (لويه خدايه لويه خدايه)، د شيخ اسمعيل پېژندنه او د هغه پاړکي او نارې (تېښته وکړه له ابليسه) او (که يون دی يون دی)، خرښبون او د هغه نارې (بېلتانه ناره مې وشوه په کور باندې)، شيخ اسعد سوري (د فلک له چارو څه وکړم کوکار)، شيخ تيمن کاکړ پېژندنه او د هغه شعر (ګهيځ رڼا د لمر خپره شوه)، د ښکارندوی غوري پېژندنه او د هغه (قصيده) (د سپرلي ښکلونکي بيا کړه سينګارونه- بيا يې ولونل په غرونو کې لالونه) د ملکيار غرشين پېژندنه او د کلام (څښتن مو مل دی، اوس مو يرغل دی) شننه، د تايمني پېژندنه او د کلام (نن زه غرېږم په صفت د سلطان) ارزونه، قطب الدين بختيار او د هغه د کلام (د بېلتون اورونه بل دي) پېژندنه او د نثر شننه، د سليمان ماکو پېژندنه، د شيخ متي ژوند او د کلام (پر لويو غرو هم په دښتو کې) شننه، د بابا هوتک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي مبارزه او د کلام (پر سور غر بل راته نن اور دی) پېژندنه، د شیخ ملکیار هوتک پېژندنه، مبارزه او د کلام (ترنک بهېږي- ترنک بهېږي) ارزونه، د اکبر زمینداوري د ژوند پېژندنه او د هغه د مثنوي (زه عاشق یم یار هم نیز) د هغه بدله (زه چې په مینه معشوقو د بنګړو شرنګ لره ځم) او غزلونه یې (د خپل ځان له حیرانۍ څه ویل کړم) او (چې مدام زه ستا و مخ وته نظر وړم)، د سلطان بهلول لودي او خلیل خان نیازي پېژندنه او د هغو د ځلوریزو (ملک به زرغون کړم په ورکړه لاسه) او (خړې وریځې ژاړي له پاسه) د زرغون خان نورزي پېژندګلوي او د هغه د ساقینامې (ساقي پاځه پیاله راکړه) ارزونه او شننه، د زرغونې کاکړ ژوند او د هغې د منظوم حکایت (اوربدلې مې قیصه ده) شننه، د دوست محمد کاکړ ژوند او د هغه د غربتنامې (له نېکانو روایت دی) ارزونه، د شیخ عیسی مشواڼي پېژندګلوي او د هغه شعر (په خپله کار کړې- خپله انکار کړې) شننه، د شیخ بستان بړېڅ پېژندګلوي او د کلام (د مینې اور دې زما زړګی وریت په انکار کئ نا) شننه او ارزونه، د علي سرور لودي ژوند پېژندنه او د غزل (محبت پیاله مې نوش کړه په مجاز کې) شننه، د مېرمن نېکبختې پېژندګلوي او د هغې د یوې ناصحانه شعر (د خدای حق ته غاړه کېږده) تحلیل او د شیخ محمد صالح الکوزي پېژندګلوي او د هغه غزلونه (د لیلی د مینې فیض هر سبا وړم) او (چې په زړه یې غشی څرخ شي د چشمانو) شننه او ارزونه راغلي دي. په واقعیت کې په لرغونې دوره کې چې څومره شاعران تېر شوي د هغو ټولو پېژندنه او د کلام شننه په دې څپرکي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلي، خو البته د کلام بېلابېل لیدلوري یې په نورو څېړکو کې هم څېړل شوي خو دا د لرغونې دورې په باب اساسي څپرکی دی.

دلته غواړو د همدغه څپرکي په رڼا کې چې د لرغونې دورې زیاته برخه رانغاړي، د لرغوني ادبي بهیر ځانګړنو ته هم لنډه کتنه وکړو، البته عمومي ارزونه به وروسته هم راشي، خو دلته غواړو په یاده دوره کې د پښتو ادبي بهیر په تېره بیا د شعري بهیر یو عمومي جاج واخلو.

لکه څنګه چې دمخه مو څو ځایه یادونه کړې، د پښتو ژبې لومړی ادبي اثر او شعر د هجرت د دویمې پېړۍ په لومړیو کلونو پورې اړه لري او ددې ژبې خورا پخوانی شاعر چې تراوسه موږ ته معلوم دی د سوریانو د کورنۍ پهلوان امیر کروړ د امیر پولاد زوی دی، چې پر (۱۵۴هـ) کال په فوشنج کې مړ شوی دی او بل هم د لویکانو یو بیت دی، تر دې وروسته نو د پښتو شعر نښې ډېرې دي او ډېر شاعران دي چې د سلیمان په غره او د پښتونخوا په نورو ځایو کې اوسېدل او ځینې په ملتان او هند کې وو. د پښتو ادب لرغونې دوره بېلابېلو ادبپوهانو ارزولې ده. استاد حبیبي چې د پښتو ادبیاتو لوی استاد دی، دا دوره ډېره ښه ارزولې ده. هغه وايي: «دې شاعرانو ته له عمومي کتنې څخه موږ دا نتیجه اخلو چې پښتو د اسلام په لومړیو کلونو کې تر (۶۰۰هـ) پورې په ټوله پښتونخوا کې له بادغیس او هراته رانیولې په غور، زابل او د هلمند او ارغنداو په ورشوګانو او د سلیمان غره په لمنو، پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ننګرهار کې تر ملتانه ویل کېده او ددې ژبې ویونکي په دغو ورشوګانو کې له بادغیسه تر اباسینه پورې خپاره وو، مهم مرکزونه یې غور او د سلیمان غره لمنې وې، په دې لومړۍ دوره کې چې موږ یې د پخوانیو او قدماوو دوره بولو او تر (۴۰۰هـ) پورې رارسېږي، په پښتو ډول ډول اشعار ویل شوي دي، چې د مضمون له پلوه حماسي او عشقي اثار په کې ډېر دي او د ستاینې، مدحې او ویرنې او رثایه، پند او نصیحت او اخلاقي تلقیناتو ځینې شعري ټوټې هم شته.

دا اشعار چې د (۵۰۰هـ) کلونو د بېلابېلو ادبي تمایلاتو او جذباتو ښکارندویي کوي اکثر د پښتو ژبې د مخصوصو عروضو او اوزانو په ډول چې سندرې او پارکي یې بولي، ویل شوي دي، خو تر (۴۰۰هـ) راوروسته ځینې داسې اشعار هم شته چې د عربي او پارسي عروضو او قافیو ته نږدې دي، لکه ځینې قصاید چې د غور په دربار کې ویل شوي دي او په پښتو یې (بولله-جمع: بوللې) بولي.

په لرغونې دوره کې د شعر ژبه عموماً خالصه پښتو وه او اکثر زاړه اشعار د نورو ژبو کلمات هېڅ نه لري او که په ځینو کې څه پردي کلمات وي، هغه هم ډېر لږ دي. هغه اشعار چې په غرو او رغو کې ویل شوي دي، د نورو ژبو له اثره خالي دي، خو ځینې اشعار چې تر (۴۰۰هـ) راوروسته په ښارو، مدني ځایونو او دربارونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل شوي دي، لږ لږ د نورو ژبو د کلماتو ګډون په کې ښکاري او دا د محیط هغه کلک اثر دی، چې تل پر ادب باندې لوېږي.

د لومړۍ دورې ټول منقول اشعار عموماً د پښتنو د روحیاتو او د دوی د محـیط د اثـر، د غـرو او رغـو د منـاظرو او د دوی د اجتماعي شعور او ملي جذباتو ښکارندویي کوي، هغه اخلاق، افکار، احساسات او مناظر تصویروي، چې د پښتنو په محیط کې موجود وو.

په دغو اشعارو کې د پښتو ډېر داسې کلمات او لغات هم شته چې اوس ژوندي نه دي او په اوسنۍ پښتو کې نه استعمالېږي، دا لغات نومونه او صفات هم دي او ځینې مصادر یا افعال هم شته چې اوس یې څوک نه وایي.

د لرغونې دورې اشعار اکثر د پښتو ژبې د فصاحت او سلاست له پلوه خورا سلیس او روان دي، تعقیدات نه لري. ابهام او تکلف نه په کې لیدل کېږي، پېچلي او نغښتلي عبارات نه لري، د اداء طرز او اسلوب یې ډېر ساده، روان او د سهلو وړ دی.

د پخوانیو د شعر یوه مهمه ښېګڼه داده چې د شعر مضمون یې سره نښتی او پیوندلی او مسلسل دی، تر دې دورې وروسته چې نور شاعران په پردو اشعارو روږدي شول، دغه خاصیت یې بایلود. د پارسي شعر د خراسان پر سبک چې د سامانیانو، غزنویانو او سلجوقیانو په دوره کې کوم شعرونه ویل شوي دي. هم دغه ښېګڼه لري، خو وروسته دغه د شعر د مضمون تسلسل له منځه ووت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پخوانیو شاعرانو په تصویر او تخیل کې عموماً د محیط اثر دومره ټینګ دی، چې اکثر تشبیهات او استعارې یې طبیعي او محیطي دي، د بڼ تازګي او د اوبو شورهار د پسرلي ښکلا او د غرو او رغو ښکلې ننداري د پېغلو اتڼونه د زرکو کټهار او نور داسې محیطي الهامات دي چې د پخوانیو د شعر د شمزۍ کړۍ دي او هر شاعر یې هم په ستاینه، هم په رثایه، هم په عشقي جذباتو او سندرو او هم په تبلیغ کې تصویروي. تر (۶۰۰) هجري کلونو وروسته پښتو ادب د مغلو د تاړاک له امله د مقاومت رنګ اخلي، څلور پېړۍ پښتانه له مغلو سره پر جګړه بوخت دي او په مجموعي ډول ادبیات له همدې حالت اغېزمن کېږي.

د هجرت د شپږمې پېړۍ له پیله بیا تر پایه پورې په پښتونخوا کې دوه لویې سلطنتي کورنۍ وې چې په لومړیو کې د غزنوي شاهانو لویې کورنۍ سلطنت کاوه، دوی په پښتنو ګډ شوي وو او د شرقي پښتونخوا پښتانه یې ملګري وو، بیا نو د غوریانو د کورنۍ شاهان غالب شول او پر تخارستان، بامیانو، خراسان، زابل، غور، هرات او شرقي پښتونخوا د دوی لاس بر و، دوی په هند کې هم ډېر فتوحات وکړل او د غور شاهنشاهي یې له خراسان او امو څخه د ګنګا تر غاړو پورې ورسوله. غوریانو پښتو ادب ته توجه کوله او د دوی په دربار او مملکت کې مشهور شاعران تېر شوي، خو د شپږمې پېړۍ په وروستیو کې دغه کورنۍ ضعیفه شوه او تر (۶۰۰هـ) وروسته د مغولو د تاړاک لومړۍ څپې پر بلخ، غور او خراسان راغلې. د (۶۱۸هـ) حدود وو چې له مغولو څخه د چنګېز

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان وحشي لښکرې تر امو راواوښتلې، په دغو وختو کې د پښتونخوا شمالي خواوې لکه تخارستان، بلخ، باميان، غرستان (غرجستان) خورا معمور وو، مشهور ښارونه يې لرل. بادغيس، مرو، هرات، غور داسې ښکلي او ودان ښارونه درلودل چې په هغو وختو کې د منځنۍ اسيا د تهذيب او علم مرکزونه وو، خلک په ډېره هوسايۍ په کې اوسېدل، علماء، شعراء، اديبان او پوهنوال ډېر وو، خو د چنګېز خان وحشي لښکر او دده د زامنو خونړۍ قوه پر دې ودانو ښارونو او ښکليو مدنيتونو هسې راتوی شول چې له لويو ښارو څخه يې يوه ودانۍ روغه پرې نښوده او ښکلي ښارونه يې وران کړل، کتابتونونه يې وسول، ځمکې يې په وينو ولړلې او اکثر خلک يې ووژل، پاتې يې غرونو ته وختل.

پښتانه په دغو وختو کې ډېر د شرقي پښتونخوا په غرو کې وو، د سليمان د غره په شاوخوا او د کابل په جنوبي خوا څه ناڅه له تاړاکه خوندي وو او خپل استقلال يې ساتلی و، خو د پښتونخوا سيمې مغولو نيولې وې، په دغو وختو کې پښتنو اديبان لرل او خپله ژبه يې روزله، لکه د مغولو لوټ چې پر پارسي ادب اغېزه وکړه او د ادبياتو افکار او د بيان طرز يې ورواړاوه، دغسې دې خونړۍ واقعې پر پښتو ادب هم خپله اغېزه وکړه. د مغولو سلطه او اقتدار څلور پنځه پېړۍ اوږد شو، د چنګېزخان د کورنۍ خونړي تاړاکونه لا نه وو ساړه شوي، چې له دې کورنۍ يو بل سفاک سړی د (٧٧١هـ) په حدودو کې راووت، دا (ګوډ تيمور) و، چې ده هم پر دې ځمکه خپل تاړاکونه شروع کړل او په کلو کلو يې دا خواوې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وربړېدولـي دا اورلا نـه و مـړ شـوی او هـرې خواتـه يـې دودونـه ښکارېدل، چې بيا يو بل خونکار او د ډېر کلک زړه خاوند هم له دغـه ټبره راووت او د (۹۱۰هـ) پـه حدودو کـې بيـا پښتـونخوا سـره ونښتـېځله او د وينـې تويولـو او تـاړاک سلسـله يـې هسـې جـاري وساتله، دا سړی (بابر) و چې له پښتنو سره يې ځانګړې دښمني وه او د دوی سرونه يې وربېل.

په دې ډول له هغه وخته چې د پښتنو غوريانو د عظمت جنډې تر (۶۰۰هـ) وروسته کښته شوه، بيا نو دې قوم د مغولو له لاسه ښه ورځ ونه ليده او ځلور پېړۍ يې په دغه اړو دوړ کې سره تېرې کړې، ويې وژل، ووژل شول، وجنګېدل، جنګونه ورسره وشول، کله به يې د چنګېز د لښکرو په وينو خپل غرونه لړل، کله بـه تيمـور د دوی پـر کورونو په زابل او ننګرهار کې غدۍ اچولې، کله به بـابر او اکبر او نورو پـه دوی پسې تورې راکښلې وې. پـه دې خونړيو او خطرنـاک حالت کې هم پښتنو خپـل ځانونـه ساتلي وو، دوی د خپلو زلمو پـه وينو خپله ځمکه او خپل غرونه خوندي کول، څو پېړۍ زلمو غشـي او تـورې لـه لاسـه ونـه غورځول، دوی پـر خپـل استقلال مـين وو او دغه مرغلره يې ساتله، څو يې وس و، پـر دې غـرو بـه د دوی د زلمـو ټټرونه سپر وو او تل به د خپل وطن لپاره په وينو کې رغښتل، پـه دې ملي مبارزه کې لکه د زلمو تورې چې ځلېدې، د اديبانو ژبې هم هغسې چلېدې، دوی خپل قوم ويښاوه او د وطـن دفـاع او اسـتقلال ساتلو ته يې ولاړ وو، دوی خپله خپلواکي په توره او قلم ساتله، ډېر شاعران او اديبان وو، چې ددې ملي جهاد پـر ميدان ولاړ وو او تـل

(c) ketabton.com: The Digital Library

به يې زلمو ته په خپلو اشعارو د وطن ساتنې تبليغ کاوه او توري به يې وهلې، نو د مغولو دورې لکه نور ضعيف اقوام دوی مړه نه کړل، بلکې ژوندي يې کړل، دوی يې زمول نه کړل، بلکې ملي روحيه يې په کې پياوړې کړه، چې دا روح د دوی په ادب کې ښه ځلېږي او د مغولو دوره په يوه ادبي دفاعي تبليغ امتياز مومي.)) (۵۲۷:۱۳-۵۳۲)

سرمحقق زلمی هېوادمل چې د پښتو ادبياتو تاريخ لرغونې او منځنۍ دورې تاريخ يې ليکلی د لرغونې ادبي دورې د عمومي ارزونې په ترڅ کې وايي چې په دې دوره کې اثار له کمي پلوه زيات نه دي،ددې علت دادی چې د اثارو زماني ناخوالو له منځه وړي دي، د سليمان ماکو له تذکرة الاوليا پرته چې څو پاڼې يې موږ ته رارسېدلي، نور ټول اثار په متفرق ډول ترلاسه شوي دي. که څه هم ددې اثارو کميت کم خو کيفيت يې زيات دی. ددې اثارو په کمي او کيفي لحاظ انکشاف کړی، د شکل او مضمون دواړو له پلوه يې وده کړې ده. بېلابېل معنوي فورمونه رامنځته شوي لکه وياړنه، ويرنه، ساقينامه، ستاينه او حکايتي اثار، د نورو ژبو له ادبياتو سره هم په دې دوره کې اړيکي پيداشوي، د غزل، مثنوي، رباعي او قصيدې فورمونه راخپل شوي، د نورو ژبني تاثيرات هم پرې ليدل کېږي. او همدارنګه ځينې نورې ځانګړنې چې په بېلابېلو برخو کې ورته اشاره شوې او نور بحث به هم پرې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درېیم څپرکي پوښتنې

- پښتو لرغونی ادب ولې د امیر کروړ له شعره پیلېږي؟
- امیر کروړ شعر ویاړنه ده که حماسه؟
- ابوهاشم ابن زید سرواني د چا شعر له کومې ژبې وژباړه؟
- د شیخ رضی لودي او نصر لودي د پاړکو د لیکلو او تبادلې علتونه څه وو؟
- د بېټ نیکه مناجات کومې ځانګړنې لري؟
- ولې شیخ اسمعیل او خرښبون یو بل ته پاړکي وویل؟
- د شیخ اسعد سوري د قصیدې د لیکلو عامل کوم و؟ له محتوایي پلوه دا قصیده په کوم فورم کې راځي ویې ارزوئ؟
- شیخ تیمن کاکړ په لنډ ډول راوپېژنئ او د کلام ځانګړنې یې په ګوته کړئ!
- د ښکارندوی غوري قصیده له هنري پلوه وارزئ او دا هم څرګنده کړئ چې کوم محتوایي فورم لري؟
- ملکیار غرشین ته ولې غرشین وایي، د هغه د کلام اغېز او ارزښت په ګوته کړئ!
- د تایمني شعر لومړی ځل چا، چېرته او څنګه ترلاسه کړ، ددې شعر محتوا وشنئ!
- قطب الدین بختیار راوپېژنئ او کلام یې وارزوئ!
- سلیمان ماکو څوک و؟ او په تذکرة الاولیا کې کوم شاعران معرفي شوي دي؟
- د شیخ متي د شعر اخلاقي او عرفاني ارزښت په ګوته کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- بابا هوتک پښتو ته څه کړي؟ او د کلام ارزښت يې څرګند کړئ.
- شيخ ملکيار هوتک د چا لاره تعقيب کړه؟ کلام يې وارزوئ!
- اکبر زمينداوري پښتو ته کوم نظمي فورمونه ډالۍ کړل؟ دده د کلام ځانګړنې په ګوته کړئ!
- سلطان بهلول لودي او خليل خان نيازی په کوم فورم کې يو بل سره شعري مکالمه او تبادله وکړه؟ توضيح يې کړئ!
- سوري کورنۍ پښتني فرهنګ ته څه ډالۍ کړي دي؟
- د زرغون خان ساقينامه په کوم فور کې ده واضح يې کړئ!
- زرغونې کاکړ خپل منظوم حکايت له کومې ژبې او د چا له اثر څخه ژباړلی او هم ددې د کلام ارزښت توضيح کړئ!
- رابعه او بي بي نېکبخته معرفي کړئ او د کلام ارزښت يې په ګوته کړئ!
- دوست محمد کاکړ خپله غرښتنامه په کوم فورم کې نظم کړې او کومه محتوا يې په کې ځای کړې ده؟
- شيخ عيسی مشواڼي په کومو ژبو شعرونه ويلي، په پښتو کې يې د بېلګې ارزښت توضيح کړئ!
- شيخ بستان بړېڅ راوپېژنئ او دا هم واضح کړئ چې په کوم فورم کې يې شعر ويلی دی؟
- علي سرور لودي څه ډول شخصيت و، د کلام ارزښت يې په ګوته کړئ!
- شيخ صالح په لنډيز سره راوپېژنئ او د کلا م ارزښت يې په ګوته کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## له نورو ژبو سره د پښتو ژبې اړیکي

د نړۍ د بېلابېلو ولسونو او خلکو ترمنځ د ګاونډیتوب او نورو ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي روابطو ټینګښت پر فرهنګ هم خپل مستقیم اغېز لري. څومره چې فرهنګونه او ژبې سره نږدې کېږي همغومره یې بیا دا اغېزې پسې زیاتېږي. ژبني اړیکي د ادبي اړیکو د ټینګښت سبب ګرځي، څرنګه چې ادبیات یو ژبنی هنر ګڼل کېږي، نو کله چې یو شاعر د بلې ژبې له ادبیاتو څخه الهام اخلي نو ژبني تاثیرات هم ژبې ته را انتقالېږي، په تېره بیا هغه ژبې چې د ریښې له پلوه سره نږدې وي، لکه پښتو او دري او یا هم عربي چې له پښتو سره په یوه واحد لیکدود لیکل کېږي. که څه هم عربي د سامي ژبو په کورنۍ پورې اړه لري، خو څرنګه چې د دین او مذهب ژبه ده او همدارنګه له پښتو، دري او ځینو نورو ختیزو ژبو سره ګډ لیکدود لري، نو ځکه یې پر ختیزو ژبو په لومړي ګام کې تر زیاتې کچې پر دري او بیا پر پښتو ژبه خپل خپل تاثیرات لري. نه یوازې ګڼ شمېر دیني ترمینالوژي، مفاهیم او پیغامونه له عربي څخه دري او پښتو ته راغلي، بلکې یو زیات شمېر ادبي صنایع او نظمي فورمونه هم پښتو او دري ژبو له عربي څخه راخپل کړي، د دري ژبې خوان وزنونه هم د عربي عروضو له قاعدې سره برابر شول، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ژبې د خپل جوړښت له مخې خپل ځانګړې نظمي یا وزني جوړښت وساته، له عربي څخه یې یوازې ځینې ادبي کلمې، اصطلاحات او فورمونه راخپل کړل، تر پښتو پر دري ژبې د عربي تاثیرات زیات دي، ځینې کلمې چې له دري څخه پښتو ته راغلي هغه هم په واقعیت کې لومړی له عربي څخه دري او بیا پښتو ته راغلي، دلته غواړو پر پښتو ژبې د همدې عربي او دري ژبو اغېز او له پښتو سره د هغو اړیکي وڅېړو.

عربي ته مو ځکه لومړیتوب ورکړ چې ددې ژبې اغېزې زیاتې محسوسې دي، په تېره بیا د نظمي فورمونو په راخپلولو کې، په حقیقت کې که وواېو بښتو ژبې له دري څخه هېڅ نظمي فورم نه دی را اخیستی مبالغه به نه وي. دا کوم فورمونه چې په دري ژبه کې کاربږي، دا هم په حقیقت کې له عربي څخه دري ته ورغلي، او پښتو بیا یا مستقیماً له عربي څخه او یا هم د دري ژبې له لارې راخپل کړي دي. نو ښه به وي چې لومړی د عربي ژبې اغېزې او اړیکي وڅېړو.

که چېرې موږ د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې د نورو ژبو له ادبیاتو سره د پښتو ژبې او ادبیاتو د ارتباط د ځرک ایستلو کوښښ وکړو، نو دا ځرک په دربیمه هجري پېړۍ کې ایستلی شو. دلته غواړو همدغو ژبنیو او ادبي اغېزو ته اشاره وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له عربي ژبې سره اړیکي

طبیعي خبره ده چې افغانستان ته د اسلام له راتګ او خورېدو سره سم عربي ژبه هم زموږ په هېواد کې دود او په خپرېدو شوه. څرنګه چې پاک قران په عربي ژبه او د اسلام ارکان او احکام پر عربي ژبه وو، نو پر ټولو ختیزو ژبو په تېر بیا پر دري او پښتو دواړو ژبو د عربي ژبې او ادب اغېز ورځ تر بلې څرګندېده، دا خبره هم د یادولو وړ ده چې ادبي تاثیرات تر مذهبي تاثیراتو لږ وروسته څرګندېږي، نو په دې خاطر لومړی یوه ژبه پر ژبې او بیا یې ادبیات پر ادبیاتو خپل خپل اغېز ښندي، څرنګه چې په پښتو ژبه د هغه وخت زیات او څرګند مذهبي متون زموږ په لاس کې نه شته، نو ځکه خو په غوڅ ډول څه نه شو ویلای چې پر پښتو ژبه به د عربي ژبې او مذهبي ترمینالوژۍ تاثیرات څومره وو. خو اټکل کولای شو، کله چې خلکو د اسلام دین منلی نو دیني یا مذهبي ترمینالوژي هم ژبې ته راغلې، خو دا چې په پښتو ژبه لیکلی متون په لاس کې نه شته، نو ځکه یې دقیق وخت نه شو په ګوته کولای، خو کوم څه چې زموږ په لاس کې دي همدا لرغوني منظوم متون دي چې له دې څخه پر پښتو باندې د نورو ژبو د تاثیراتو څرک لګېږي.

«د لرغوني پښتانه په استناد د ابومحمد هاشم علمي او ادبي ژوندون راښکاره کوي او داسې ورڅخه څرګندېږي چې د (۳۰۰هـ) تر حدودو پورې د عربو مدنیت، د عربي ژبې سلطه او د عربي ادابو او علومو اثر د پښتونخوا په اکثرو برخو کې خپور شوی و او ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکې غربي خوا ډېره تر دې اثر لاندې وه. که څه هم په دغه عصر کې د غربي پښتونخوا خلکو د آل طاهر (۲۰۵-۲۵۹هـ) تر بیرغ لاندې استقلال وموند او څه نا څه د پارسي ژبې ادب هم په دغو زمانو کې ژوندی شو، خو عربي علمي، ادبي او درباري ژبه وه او پوهانو خپل اثار په دغه ژبه لیکل. په خراسان کې د عربي ژبې ډېر لیکوال او پوهان وو چې دوی د عربو د مدنیت او ادب په خپرولو کې ښه خدمتونه وکړل. مثلاً (صالح بن عبدالرحمن سیستاني) د (حجاج بن یوسف) په امر له (۸۱-۸۷هـ) دواوین او دفاتر له پارسي څخه عربي ته نقل کړل او ډېر علما پر عربي علومو بوخت شول، لکه ابو خالد وردان کابلي موسوم په (کنکر) چې د (علي بن حسین) (۴۶-۷۴هـ) له ملګرو څخه و او د حجاج له ظلمه مکې ته وتښتېده، یا (بشار بن برد) د عباسي دربار رونډ شاعر چې اصلاً د تخارستان و او پر (۱۶۷هـ) وژل شوی دی. یا (ابو عمرو شمر بن حمدویة الهروي) چې د عربي اخبار او اشعارو پوهاند و، د عربي ژبې د لغت کتاب یې هم کښلی او پر (۲۵۵هـ) مړ شو. یا (ابو حاتم سهل بن محمد سجستاني) چې د عربو په لغت، شعر او نحو کې عالم و او (۳۲) کتابونه یې لیکلي دي چې له هغو څخه کتاب المعمرین (د لندن چاپ، ۱۸۹۹م) او کتاب النخله (د ایټالیا د پالرمو چاپ، ۱۸۳۷م) مشهور دي او دا عالم هم پر (۲۵۵هـ) مړ دی، (احمد بن ابو طاهر طیفور خراساني) (۲۸۰هـ. مړ) چې (۵۰) کتابونه یې لیکلي او تاریخ بغداد (د لایزیک چاپ، ۱۹۰۸م) یې مشهور دي، ابو زید بلخي (۳۲۲هـ. مړ) د صور الاقالیم او نورو ډېرو کتابونو خاوند، (ابو داود سجستانی) د

(c) ketabton.com: The Digital Library

(معروف سنن) خاوند (۲۷۵هـ مړ) او نور ډېر پوهان او عالمان له پښتونخوا څخه وپاڅېدل، چې د عربي علومو او ادابو ستوري دي.

له دې متونو څخه څرګندېږي، چې د درېیمې هجري پېړۍ په ترڅ کې د بست د سروان د سیمې یو افغان چې (ابو محمد هاشم ابن الزید السرواني) نومېده، عراق ته ولاړ او هلته یې ددې ځای له علماوو سره ناسته ولاړه درلوده او له (ابن خلاد) چې په (ابي العینا) مشهور و، هغه سره یې په بغداد کې ډېر عمرونه تېر کړل او له هغه څخه یې عربي بلاغت او اشعار ولوستل.

دا لومړنی نظم دی چې له عربي ژبې څخه پښتو ته ژباړل شوی دی. په دې کې (درهم، خلق او قتالونه) هغه عربي کلمې دي چې پښتو ته داخلې شوې دي. دغه راز د شیخ رضی لودي او نصر لودي په دواړو شعرونو کې د عربي ژبې کلمې کارول شوي دي، (الحاد، ملحد، اسلام، سنتي) کلمې عربي دي، په خپله (شیخ رضی) لودي، (نصر) لودي او (حمید) لودي د دریواړو نومونه عربي دي، بیا وروسته ورپسې د شیخ اسعد سوري قصیده ده چې هم یې فورم له عربي ژبې راغلی او هم د عربي ژبې د یو شمېر کلمو څرک په کې څرګند دی، لکه: (فلک، مدار، وصل، محمد او محمود، امیر، انتقال، قید، نثار، قطار، شعار، قرار، عدل، جنت، غفار) او نورې عربي کلمې دي چې په دې قصیده کې راغلي دي. په خپله د (شیخ اسعد) نوم هم عربي دی، له دې څخه معلومېږي چې عربي ژبه دا وخت دومره عامه شوه چې پښتنو کې مطرحو کسانو لکه په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد سوري، شیخ اسعد سوري او نورو عربي نومونه ایښي وو. د (امیر) کلمه هم دا وخت عامه شوې ده. (کروړ) یې ځکه (امیر) باله چې د (امارت) شرعي اصطلاح عامه شوې وه.

ورپسې د ښکارندوی غوري قصیده ده، چې په هغه کې هم (لعلونه، طلسیان، سلطان، صفت، اسلام، دین، شهاب، جهاد) او ځینې نورې عربي کلمې دي چې ځینو سره یې پښتو روستاړي هم یوځای شوي دي.

تر دې وروسته چې نور کوم شاعران راغلي، وار په وار یې په خپل کلام کې د عربي ژبې کلمې کارولي دي او دا لړۍ همداسې دوام کوي.

د ملکیار ، تایمني، شیخ تیمن، قطب الدین بختیار، بهلول لودي، خلیل خان نیازي، زرغون نورزي، زرغونې کاکړ، رابعې، بي بي نېکبختې، شیخ عیسی مشواني، شیخ صالح او نورو ټولو شاعرانو په شعرونو او د ماکو د نثر په بېلګو کې عربي کلمې شته چې د هغوی د کلام د شننې په ترځ کې ورته اشاره شوې ده. د عربي ژبې د لغتونو د کارونې او تاثیر ترڅنګ په لرغونې دوره کې قصیده، مثنوي، غزل او څلوریزه هغه څرګند نظمي فورمونه دي چې له عربي څخه پښتو ته راغلي دي، د قصیدو په برخه کې د شیخ اسعد سوري او د ښکارندوی غوري قصیدې مو د بېلګو په توګه یادې کړې. په مثنوي فورم کې د اکبر زمینداوري، زرغونې کاکړ، زرغون خان نورزي او دوست محمد کاکړ بېلګې یادولای شو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل فورم کې بیا د اکبر زمینداوري، بي بي نېکبختې او شیخ محمد صالح الکوزي د کلام بېلګې د یادونې وړ دي او هم د علي سرور لودي کلام. د څلوریزو په برخه کې سلطان بهلول لودي او خلیل خان نیازي څلوریزې یادولای شو، د قطعې فورم بیا د یادو نورو فورمونو په شان ډېر څرګند نه دی، خو البته قطعې ته ورته نظمونه ویل شوي دي، یا لږ تر لږه یو نظم د څو قطعو د مجموعې بڼه لري. په محتوایي برخه کې هم حماسي ادبیات په دې دوره کې تر سترګو کېږي، ویاړنه یا فخریه، ویرنه یا مرثیه اشعار چې په عربو کې باب وو، پښتو کې یې هم څرکونه او بېلګې لیدل کېږي. د ټولیزې پایلې په توګه باید ووایو چې په پښتو لرغوني ادبي دوره کې په (نظم) او (نثر) دواړو کې د دري او عربي کلمو په ګډون نږدې شپږ زره او سل (۶۱۰۰) کلمې کارېدلي چې له هغې څخه یې تقریباً یو سل او څلور اتیا (۱۸۴) عربي کلمې دي چې د ټولو کارېدلو کلمو نږدې درې اعشاریه درې (۳،۳) سلنه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له دري ژبې سره اړیکي

د عربي ژبې ترڅنګ پښتو له دري ژبې سره هم د يوې ګاونډۍ او خور ژبې په توګه خپل خپل اړیکي ساتلي دي. دري ژبې تـه ځکـه د پښـتو (خـور) ژبـه وايـي چې دوا ړه ژبې د هنـدو اروپـايي كـورنۍ، اريايي څانګې غړي دي، پښتو بې‌ا په ختيزو ژبو كې او دري بيا په لويديزې ډلګۍ كې راځي. په پښـتو لرغونـو ادبيـاتو كې هـم د دري ژبې كلمې كارېدلي دي. د عربي ژبې معكوس پښتو ته له دري ژپـې څخه كوم شعري فورم نه دی را انتقال شوی، خو دا خبـره لـه حقيقت څخه لرې نه ده چې ووايـو د عربـي ادب تـاثيرات لـومړی دري تـه او بې‌ا همدا سې پښتو ته رالېږد بدلي دي. دري تر عربي ژبې وروستـه د دينـي او دربـاري ژبـې پـه توګـه پـه سيمه كې خپـل خپـل تـاثيرات درلودل. له ( دوه بيتي) پرته چې د دري ژبې خپـل فـورم ګڼـل كېـږي، نور نو دري ټول هغه نظمي كالبونه كاروي چې په عربي ژبه كې دود دي. لكـه مثنـوي، ربـاعي، قطعـه، غـزل، قصـيده، مثلـث، مربـع، مخمس، ان تر معشر پورې ټول هغه فورمونه چې پـه عربـي ژبـه كې دود وو او نورو ختيزو ژبـو تـه لېږدلـې دي، دري يـې هـم كـاروي. د يادونې وړ ده چې قافيوال نظمونه لكه مخكې چې مو يادونه وكړه د عربي ترڅنګ په ختيزو ژبو او د نړۍ په نـورو ژبـو كـې هـم بـاب وو، يانې په دې مانا چې لـه عربـي ژبـې څخـه تقليـد نـه دی شـوی، البتـه شعري يا نظمي فورمونه له شكلي پلوه نورو ژبو تـه راغلـي، څرنګـه چې قافيه په دې ژبو كې بـاب وه، نـو ځكـه يـې د فـورم پـه راخپلولـو كې كومه ستونزه نه وه، رديف چې پـه عربـي ژبـه كې تـر قافيـه والـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظمونو وروسته باب نه وو، خو په پښتو، دري او ځينو نورو ختيزو ژبو کې دود و، هغه هم ورسره مل شو.

د ابوهاشم سرواني په ژباړه کې (خاوند) د پښتو او دري ژبې مشترکه کلمه ده. د شيخ اسعد سوري په قصيده کې بيا (بهار، خونخوار، خار، بادار، هزار، دار، کهسار) او ځينې نور دري کلمې دي.

د ښکارندوی غوري په قصيده کې (کاروان، مګر، بيديا، مکېز، ګزار، خاوند، بادار) دري کلمې دي، د سليمان ماکو په تذکره اوليا کې (سپاس، خاکپای، بزرګ، روزګار، مهربان، درخواست) او ځينې نورې دري کلمې دي. او همداسې د دري ژبې اغېز يې د پښتو ادب به ليکلو متونو کې محسوسې دي. دا اغېزې له لرغونې دورې پيلېږي، منځنۍ دورې ته راځي، بيا معاصرې دورې او ان تر ننه دوام مومي. پر يادو شاعرانو سربېره نورو شاعرانو هم په خپلو نظمونو کې دري کلمې کارولي دي.

ملکيار غرشين، شيخ تيمن، تايمني، قطب الدين بختيار، سليمان ماکو، شيخ متي، بابا هوتک، ملکيار هوتک، اکبر زميند اوري، خليل خان نيازي، زرغونې کاکړ، رابعې، نېکبختې، دوست محمد کاکړ، شيخ عيسی مشواڼي، شيخ بوستان بړېڅ او شيخ صالح ټولو په خپل کلام کې دري کلمې کارولي چې د هر شاعر د شعر په لغوي شننه کې ورته اشاره شوې او دلته يې د تکرار د مخنيوي په خاطر له بيا يادونې څخه تېرېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سربېره پر دې په لرغوني ادبي دوره کې ډېرې داسې کلمې شته چې د پښتو او دري ژبو ترمنځ مشترکې دي او یا هم ګډه ریښه لري.

له دې څخه ښکاري چې پښتو او دري ژبې په ماضي کې له یوې بلې ګډې ژبې یا ژبو سره ګډه ریښه لري. هغه ژبې چې ګډه ریښه سره لري، ګاونډۍ وي، خویندې وي، ګډ لیکدود ولري، هغه ژبې پر یوه بلې خپل څو اړخیز اغېز ښندي، نو له دري ژبې سره د پښتو اړیکي طبیعي حالت لري. څرنګه چې دري ژبه د علم، دفتر او دربار ژبه وه، نو دغه سیاسي، علمي او دفتر قوت هم ددې سبب کېده چې دري نه یوازې پر پښتو بلکې د سیمې پر نورو ژبو هم خپل خپل تاثیرات پرېږدي، خصوصاً پر لیکني ادب، البته پر ولسي ادب بیا دا تاثیرات ډېر محسوس نه دي، هلته پښتو ژبه ډېره سوچه او شعر هم ډېر سوچه پاتې شوی دی.

په مجموعي ډول لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه په لرغوني دوره کې په نظم او نثر کې ټولې نږدې شپږ زره او سل (۶۱۰۰) کلمې کارېدلي چې له هغې جملې یې نږدې یو سل او څوارلس (۱۱۴) دري کلمې چې د ټولو کارېدلو کلمو نږدې یو اعشاریه څلور اتیا (۱،۸۴) سلنه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ځلورم څپرکي لنډیز

له نورو ژبو څخه د پښتو ژبې د اړیکو د څېړلو په ترڅ کې دا په ډاګه شوه چې پښتو ژبه په لرغونې دوره کې له عربي او دري ژبو دواړو سره ژبنۍ، فرهنګي او ادبي اړیکي لري. دا مهال پر پښتو ادب د عربي ژبې تاثیرات ورو ورو زیاتېږي، د پښتو منظوم او منثور کلام په دواړو برخو کې د عربي ژبې اغېز لیدل کېږي. ژبنۍ اغېزې چې د لغتونو په بڼه څرګندېږي، زیاتې ښکاره دي، خو ګرامري تاثیرات یې لا محسوس نه دي، د لغوي تاثیراتو ترڅنګ له عربي ژبې څخه شعري فورمونه یا د نظم چوکاټونه هم پښتو ته داخل شوي دي او پښتنو شاعرانو په همدې فورمونو کې هم ګڼ شمېر شعرونه لیکلي دي. لکه قصیده، رباعي، غزل، مثنوي او ځینې نور فورمونه هم په څنګزنې ډول په لرغونې دوره کې پښتو ادبیاتو ته داخل شوي دي.

د عربي ترڅنګ د دري ژبې ژبنۍ اغېزې هم په پښتو منثور او هم منظوم کلام کې څرګندېږي، خو دا تاثیرات یوازې د لغتونو په بڼه جوتېږي، خو کوم ځانګړی نظمي فورم له دري څخه پښتو ته نه دی راغلی. د لرغونې دورې په لومړي پړاو کې د عربي او دري په ګډون د نورو ژبو تاثیرات پر پښتو ادب نه ښکاري، پښتو شعرونه پخوانیو اریایي سرودونو ته ډېر نږدې دي. خو د لرغونې دورې په دویم او نورو پړاوونو کې بیا د عربي او دري ژبو تاثیرات څرګندېږي، خو له دې دوو ژبو پرته بیا د نورو ژبو تاثیرات نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګندېږي. څکه چې دا مهال د نورو ژبو اغېزې په سیمه کې محسوسې نه وې. د عربي تاثیرات څکه زیات وو چې عربي د دین، مذهب، دفتر، دربار، سیاست، علم او ادب ژبه وه او تر شا یې غټ سیاسي، اقتصادي، مذهبي او علمي قوت پروت و. تر عربي وروسته دري هم ورته ځانګړنې لرلې او په دویم ردیف کې راځي، نو څکه یې پر سیمه خپل خپل تاثیرات درلودل. پر پښتو ژبه د عربي ژبې تاثیرات هم د شعري فورمونو او هم په ژبنۍ برخه کې له لغوي پلوه محسوس وو و او د دري ژبې اغېزې بیا تر یوه حده د شعري محتوا او همدارنګه د لغتونو په برخه کې محسوسې دي. د یوې شمېرنې له مخې د عربي ژبې د لغتونو کمیت په سلو کې نږدې (۳،۳) او د دري ژبې د ویپونو کمیت په سلو کې نږدې (۸۴، ۱) ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ځلورم څپرکي پوښتنې

- پر پښتو لرغونو ادبیاتو د کومو ژبو تاثیرات څرګند پرې؟
- په لرغونو دوره کې د دري او عربي کلمو مجموعي شمېر څو سلنې ته رسېږي؟
- په لرغونې دوره کې له کومې ژبې پښتو ته شعري فورمونه داخل شوي دي؟
- د دري ژبې تاثیرات د لرغونې دورې له کوم پړاوه پیلېږي؟
- پښتو او دري د ژبې د کورنۍ له پلوه څه اړیکي سره لري؟
- عربي ژبه د ژبو په کومې کورنۍ پورې اړه لري؟
- کومې ژبې په اسانۍ سره یوه پر بلې خپل تاثیرات پرېږدي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## د لرغوني دورې نظم

د ادبیاتو د اوسنیو تعبیرونو له مخې د یوې ژبې ټول لیکلي او نا لیکلي منظوم او منثور هنري اثار ادبیات ګڼل کېږي.

لکه څنګه چې دمخه مو هم یادونه وکړه او ټینګار مو وکړ چې: هر ډول لیکنې اوس څوک په ادبیاتو کې نه شمېري. یوازې هغه اثار د ادبیاتو تر عنوان لاندې د مطالعې ځای لري، چې هنري ارزښت ولري.

د ساري په ډول، مونږ هر منثور اثر چې د علومو او فنونو په بېلابېلو څانګو کې لیکل شوي وي او یا هر منظوم اثر، چې د تاریخ، جغرافیې، طب او نورو علومو او فنونو تشریح ته وقف شوی وي، په ادبیاتو کې نه راولو، بلکې هغه اثار هنري او ادبي بولو، چې له تخیله رازېږېدلي او د ژوند واقعیتونه په هنري ډول منعکس کړي؛ پر لوستونکو او اورېدونکي خپل خاص ظریفانه او ښکلی هنري اغېز ولري او د هغو هنري ذوق تسکین کړي. دغه ادبي، هنري اثر باید په داسې یو ژبني چوکاټ کې بیان شوې وي، چې هم د ټولنیز ژوند هېنداره وي، هم په لوستونکي، اورېدونکي کې یو عاطفي احساس پیدا کړي او ښکلاییز ارزښت ولري.

ادبیاتو ته یو ژبنی هنر هم وایي، هنر او علم دواړه واقعیتونه بیانوي، خو هنر واقعیتونه په نامستقیم او علم بیا پېښې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستقیم ډول بیانوي. د هنر او علم توپیر د واقعیت په نامستقیم او مستقیم بیان کې دی.

د ادبیاتو ددغه تعبیر، ساده او ابتدايي تشریح ته په پاملرنه اوس موږ ګورو چې پښتو ژبه دغسې هنري، ادبي اثار لري او که نه؟

ددې پوښتنې ځواب مثبت دی او موږ چې د خپلې ژبې (پښتو ادبي زېرمې وپلټو، نو وینو چې له پخوا زمانې نه تر ننه پورې ددې ژبې ویونکو هنري، ادبي اثار ایجاد کړي دي، چې هم یې ګړنۍ (نالیکلې) او هم یې تحریري (لیکلې) نمونې موجودې دي.

پر همدې اساس کله چې موږ پښتو ادبیات وایو، نو موږ مجبورېږو، چې دا ادبیات لومړی پر نالیکلو او لیکلو ادبیاتو ووېشو او د شکل له مخې. پر نثر او نظم خو دلته موږ په دې څېرکي کې پر نظم خبرې کوو. نظم بیا پر دوو برخو وېشو لومړی پښتو ولسي یا ګړني ادبیات چې د پښتو په خپلو ملي اوزانو یا فورمونو کې ویل شوي دي. او دویم د نظم هغه برخه یا هغه فورمونه دي چې له نورو ژبو په تېره بیا له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلي دي. دلته غواړو لومړی پښتو ولسي ادبیات یا د نظم فورمونه تشریح کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پښتو ولسي شاعرۍ فورمونه

ولسي ادبيات د پښتو ادبياتو ډېره درنه برخه جوړوي: ((دا به مبالغه نه وي او نه به کومه تېره يا زياته خبره وي، که ووايو چې د سيمې په ژبو کې پښتو د ګړنيو ادبياتو د سرشارو چينو د لرلو له امله په لومړي کتار کې ولاړه ژبه ده.

دا چې د پښتو د شفاهي ادبياتو زېرمې نسبت نورو ژبو ته زياتې دي، ددې خبرې غټ علت دا دی، چې په پښتنو کې سواد له پخوا نه تراوسه لا سم نه دی عام شوی او زموږ د خلکو يوه زياته سلنه د خپلو خاصو سياسي، ټولنيزو، اقتصادي، فرهنګي او جغرافي عواملو له امله له ليک لوستنه محرومه پاتې ده. په دغسې ټولنو کې چې سواد نه وي عام، د ليکلو ادبياتو پرځای د شفاهي ادبياتو د ټوکېدو زمينې ډېرې زياتې موجودې وي.

همدا علت دی، چې د شمالي پښتونخوا، افغانستان، جنوبي پښتونخوا، سند، پنجاب او کشمير په زياترو پښتني سيمو کې اوس هم د ګړنيو ادبياتو بېلابېلې نمونې ايجادېږي او د دغو سيمو په ښارونو کې د پښتو د ګړنيو ادبياتو د ايجاد زمينې محدودې دي او ان له منځه تللې دي. په پښتو کې د شفاهي ادبياتو دغه بېلابېل ډولونه او ددغه ډول ادبياتو زياتوالی سړی په دې باوري کوي، چې زموږ خلکو که زيات سواد نه درلود، خو هنري ذوق او احساس ورسره وو او خپل دغه ذوق او احساس يې ددغو ادبياتو په بېلابېلو کالبونو کې ځاياوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ خلکو د پېړيو په اوږدو کې خپل ارمانونه، خپلې خوښۍ، خپل غمونه، خپلې مينې او د خپل ټولنيز ژوند کړه وړه په دغو ګړنيو ادبياتو کې بيان کړي دي. دغه ادبيات لکه چې يې له نامه ښکاري، په ګړني ډول خوله په خوله انتقال شوي او د انتقال په دې بهير کې يې کليوالي موسيقي هم خپل نقش ادا کړی دی. خو د انتقال دې لړۍ تر يوه وخته دوام کړی او د رواياتو په له منځه تللو سره دغه وخت پر وخت ايجاد شوي شفاهي ادبيات هم له منځه تللي دي او لکه هغه صحرايي ګلان په خپل سر راټوکېدلي او د باغوان له پالنې پرته له منځه تللي دي.

څنګه چې په هره ټولنه کې شفاهي ادبيات سينه په سينه انتقال مومي، نو ځکه يې لرغوني شکلونه تر وروستيو پېړيو پورې نه رارسي. اوس چې مونږ د پښتو د شفاهي ادبياتو کومې ثبت شوې بېلګې لرو، له ځينو استثنايي مواردو پرته په تاريخي لحاظ ډېرې لرغونې نه دي، خو مفکوره او ليدلوری په ځينو دغه ډول سندرو کې لرغونی دی او ورسره يې د ځينو انواعو شکلي جوړښتونه هم له ډېرو لرغونو زمانو روايت کوي او له هغو اريايي سندرو سره نږدېوالی او نښتون لري، چې زرګونه کاله دمخه په دې خاوره کې ايجاد شوې، پالل شوې او روزل شوې دي. د پښتو د شفاهي سندرو يوه مهمه ځانګړنه داده چې په غاړه (لحن) ويل کېږي.

د پښتو شفاهي ادبيات بېلابېل ډولونه لري، چې دغه ډولونه ځينې سيمه ييز دي، دا په دې مانا چې په يوه خاصه جغرافيه يي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمه کې ایجاد بړي او په نورو پښتني سیمو کې چندان باب نه دي، خو ځینې ډولونه یې په ګردو هغو سیمو پورې اړه لري، چې ددغه ډول ادبیاتو، ایجاد، وده، مینه وال او روزونکي لري.

د پښتو ددغو ګړنیو ادبیاتو د بېلابېلو ډولونو د ثبت او ټولولو لپاره څه دپاسه سلو کلونو راپدېخوا کار پیل شوی او تر ټولو دمخه پښتو شفاهي ادبیاتو ته غربیان متوجه شوي دي.

انګرېزانو د هند پر نیمه وچه د خپل واک په دوران کې د شمالي او جنوبي پښتونخوا او افغانستان له سیمو د پښتو د شفاهي ادبیاتو نمونې راټولې او ثبت کړې دي، چې د لویدیځو پوهانو ددغسې کارونو په لړ کې د جیمز ډارمستټر (۱۸۴۹-۱۸۹۴م) کال کار تر ټولو ارزښتمن دی، ده د پښتو د شفاهي ادبیاتو نمونې په خپل مشهور اثر (د پښتونخوا د شعر هار و بهار) کې خوندي کړې او دا کتاب یې لومړی ځل پر (۱۸۸۸م) کال په پاریس کې چاپ او خپور کړ.

زموږ په هېواد کې هم د پښتو د شفاهي ادبیاتو د نمونو ثبت ته له شلمې پېړۍ راپدېخوا پاملرنه شوې ده.

په افغاني پوهانو کې اروابناد غلام محی الدین افغان (۱۳۰۰هـ.ش مړ) دا کار تر هرچا دمخه کړی دی او په (سراج الاخبار افغانیه) کې یې د پښتو متلونو نمونې چاپ کړې دي.

تر ده وروسته په کندهار کې د (پښتو ادبي انجمن) په جوړېدو سره او بیا په کابل کې د (پښتو ټولنې) له تاسیس سره سم زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواخوږو ادب دوستانو د پښتو د شفاهي ادبیاتو دغو مرغلرو ته ډېره توجه وکړه او د پښتو د شفاهي ادبیاتو د بېلابېلو ډولونو نمونې یې ثبت او خوندي کړې. په دې کسانو کې ارواښاد محمد ګل نوري (۱۳۵۲ل کال مړ) د لوی حق خاوند دی، ده د پښتو د شفاهي ادبیاتو د ځینو ډولونو ډېرې خوندورې او زیاتې نمونې راټولې کړې دي.

تر نوري وروسته په افغانستان کې د پښتو ژبې تکړه لیکوال او شاعر (حبیب الله رفیع)، په پښتونخوا کې (پروفیسور محمد نواز خان طایر) او په جنوبي پښتونخوا کې نومیالي لیکوال او شاعر (ولي محمد خان سیال کاکړ) نومونه د یادونې او منندې وړ دي، دوی چې د پښتو د شفاهي ادبیاتو د ټولولو او څېړنو په لاره کې کوم کارونه کړي دي، په وروستي بهیر کې یې د کیفیت او کمیت له نظره لږ ساری موندو. د پښتو شفاهي ادبیاتو او پښتني فولکلور تیوریکي او علمي مطالعې په لاره کې د (کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي)، (کاندید اکاډمیسین عطایي) او (سرمحقق دوست شینواري) کارونه او نومونه نه شو هېرولای.

زموږ دغو خواخوږو او په راوروسته کې ډېرو نورو ځوانانو د پښتو د شفاهي ادبیاتو بېلابېل ډولونه معرفي کړي او نمونې یې ورته له ولس څخه راټولې او خوندي کړي دي. اوس ددغو ښاغلو کارونو ته په پاملرنه د پښتو د شفاهي ادبیاتو ډولونه په لاندې ډول ښیو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو د ګړنیو ادبیاتو په څېړونکو کې ښاغلی حبیب الله رفیع یوازینی سړی دی، چې د پښتو منظوم شفاهي ادبیات یې د خپلو ځینو خصوصیاتو له امله پر دوو برخو وېشلي دي:

(۱) **عامې سندرې**: یانې هغه سندرې چې ویونکي یې نه دي ښکاره او په ګرد ولس پورې اړه لري، لکه: لنډۍ، سروکي، نارې، لنډکۍ، د ښادۍ بدلې او نور...

(۲) **خاصې سندرې**: په دې سندرو کې یې هغه سندرې راوړې دي، چې اکثر د نالوستو ولسي شاعرانو له خوا جوړېږي او یا جوړې شوې دي، یانې شاعران یې معلوم کسان دي، لکه: چاربیتې، بدلې، بګتۍ، لوبې، داستان، مقام، کسرونه او نور...

دا لوړ وېش تر ډېره حده پرځای دی او د پښتو د ولسي ادبیاتو په ډېرو څېړنو کې منل شوی دی. دا خاصې سندرې سره له دې چې زیاتره د نالوستو ولسي شاعرانو له خوا ویل شوې دي، د خپرېدو او انتقال جریان یې هم کټ مټ هماغسې دی، لکه د پښتو د شفاهي ادبیاتو عامې سندرې او دا خاصې سندرې هم زیاتره لیکلی ډول نه لري او سینه په سینه په شفاهي ډول انتقالېږي.

خو د خاصو سندرو په باب د یادونې وړ ټکی دادی، چې دا سندرې په ټولنه کې د مشخصو افرادو له خوا ویل شوې دي، د ځینو دغو سندرو د اشارو او قراینو له مخې یې هم د ویونکي د ژوند مهال او هم د سندرې د ویلو تقریبي زمانه ټاکل کېدی شي او پر همدې اساس موږ دغو کسانو او د دوی دا ډول ایجادیاتو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو د ادبي تاريخ په ځانګړو ادبي دورو او ادبي پړاوونو کې د مطالعې ځای ورکولای شو.

پر همدې اساس دا ډول سندرې سره له دې چې ډېره زياته برخه يې شفاهي ده او ځينې ځانګړتياوې يې هم له شفاهي عامو سندرو سره يو شی دي، خو بيا هم ګرده هغه خصوصيات چې د پښتو د ګړنيو ادبياتو عامې سندرې يې لري، پر دغو سندرو کټ مټ د تطبيق وړ نه دي.)) (۱۳: ۱-۵)

خو څرنګه چې دا سندرې يا شعرونه د پښتو په ملي اوزانو کې ويل شوي، نورو پښتو ولسي ادبياتو سره اړخ لګوي، د ځينو يې ليکلی تاريخ هم معلوم نه دی، نو ځکه يې دلته د لوستونکو د اشنايي لپاره راوړو په مجموعي ډول د ولسي يا ګړنيو ادبياتو کوم فورمونه چې دلته معرفي کېږي، دا ټول په لرغونې دورې پورې اړه نه لري، په تېره بيا هغه ولسي ادبيات چې شاعران يې معلوم دي لکه ځينې، بګتۍ، چاربيتې، سروکي او نور، خو ځينې فورمونه او په هغو کې ويل شوې محتوا پخوانۍ ريښه لري، په مجموعي ډول دا فورمونه ډېر پخواني دي، خو په هغو کې ويل شوې او افاده شوې محتوا کېدی شي ډېره پخوانۍ نه وي او د لرغونې دورې له ادبياتو سره همزولې نه وي، څرنګه چې دا فورمونه د پښتو شاعرۍ يا نظم يوه درنه جوړوي او د شکلو له مخې پخوانۍ ريښې لري، نو ښه ده چې لوستونکي او محصلين ترې يو عمومي جاج واخلي، له دې فورمونو هم ښه خبر شي او له نورو ژبو څخه له راغلو فورمونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره يې هم توپير وکړي. دادی دلته په ترتيب سره د پښتو ژبې خپل ولسي يا ملي فورمونه درپېژنو چې په نورو ژبو کې نه شته او يوازې د پښتو ژبې خپل مال ګڼل کېږي.

## ۱- لنډۍ:

لنډۍ په پښتو شاعرۍ کې تر ټولو کوچنی شعري فورم دی، خو د مانا د ځواک او لېږد له پلوه نه يوازې په پښتو شاعرۍ، بلکې په نړيواله شاعرۍ کې يې ساری ليدل شوی نه دی.

زياتره لنډۍ په هنري لحاظ ډېرې ښکلې دي، انځورونه په کې په خورا لوړه هنري بڼه اوډل شوي دي، په ساده ګۍ کې دومره ښکلې ويل شوي، چې زموږ په شفاهي سندرو کې نورې سندرې ددغو خصوصياتو له امله له لنډيو سره سيالي نه شي کولای.

د لنډيو ويونکي نه دي معلوم، لنډۍ د عام ولس مال دی، يو شپون، يو اوښبه، يو بزګر او په زياته کچه زموږ کليوالي ښځمنې ددې لنډيو په ايجاد کې برخه لري.

لنډۍ ته ټيکۍ، مصرۍ، ټپه، اواز، بدله او سندره هم وايي او دا بېلابېل نومونه د بېلابېلو ځايونو په اعتبار دي. يانې د پښتنو په يوه سيمه کې ورته لنډۍ وايي او بله کې ورته ټپه وايي او کله چې لنډۍ په سروکي او نيمکۍ کې راشي، نو په دغه صورت کې (ټيکۍ) ورته هم وايي. دلته به د لنډيو نومونو ته هم لنډه کتنه وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ - **لنډۍ**: ((د کندهار او پکتیا خلک ورته لنډۍ وایي دا په دې مانا چې لنډۍ په کندهار کې یو ډول مار دی که سړی وچیچي ورڅخه نه رغېږي، یانې په لنډیو کې دومره شعري قوت موجود دی، چې تاثیر یې له هغه مار سره چې نوم یې لنډۍ دی برابر دی، دغه راز کېدی شي لنډۍ د خپل لنډ ترکیب او جوړښت له مخې هم لنډۍ وبلل شي.

۲ - **مصرۍ یا ټپه**: د یوسفزیو ټبر او هغه پښتانه چې په پېښور کې اوسېږي هغوی یې د مصرۍ یا ټپې په نوم یادوي، چې دا هم علت لري او هغه دا سې چې مصرۍ په پښتنو کې یو ډول مشهوره توره ده چې په جګړو کې ورڅخه ډېره استفاده شوې ده، یانې زموږ لنډۍ د مصرۍ تورې غوندې اغېزه ښندلای شي.

۳ - **ټیکۍ**: د اصلي مطلب په مانا ده، یانې زموږ په هره لنډۍ کې دا توان موجود دی چې په ښه هنري شکل کې زموږ د مطلب ټکي بیان کړي، په دغه وجه د مشرقي او وردګو خلک ورته ټیکۍ وایي.

یادونه باید وشي چې مصرۍ یا ټپه او ټیکۍ معیاري نومونه نه دي ټول پښتانه هغه نه پېژني.

څرنګه چې مو پورته یادونه وکړه، دغه نومونه په یوې مشخصې سیمې پورې تړل کېږي، یوازې (لنډۍ) نوم دی چې ټول پښتانه یې پېژني.)) (۵۷: ۱۱-۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لنډیو ددغه ستر ارزښت په پام کې نیولو سره یو زیات شمېر ادبپوهانو د هغو راټولونې او شننې کار ته اوږه ورکړې ده.

په دې برخه کې تر ټولو پخوانی کار د هندوستان د یوه نواب (محمد ارتضاخان) دی. ده د (۱۲۲۵هـ ق) کال شاوخوا په خپل فرهنګ، (ارتضایي) نومي کتاب کې ځینې پښتو لنډۍ ثبت کړې دي.

(ډارمستتر) په ختیځ پوهانو کې د لنډیو د ثبت کار کړی دی او په افغانستان کې مرحوم نوري، مرحوم استاد بېنوا، اروانښاد محمد دین ژواک، په وروستیو کې ښاغلو عبدالکریم پتنګ، اروانښاد مصطفی جهاد او د پښتو ټولنې د فولکلور څانګې دغه ډول لنډۍ راټولې کړې دي، د لنډیو په ځانګړو مجموعو او یا د فولکلور د نورو مجموعو په ترڅ کې یې چاپ کړې دي.

په جنوبي پښتونخوا کې ښاغلي (ګل محمد کاکړ) د (ګل ټپې) په نامه د پښتو لنډیو څلور مجموعې چاپ کړې دي او په پېښور کې پښتو اکیډیمي د (روهي سندرې) په نامه د لنډیو دوې ښې مجموعې چاپ کړې دي. د لنډیو په برخه کې د پیاوړي شاعر سلیمان لایق او څېړونکې سلما شاهین کار هم د ځانګړې یادونې وړ دی.

دا راټولې شوې لنډۍ په ګردو پښتنو کې د ټولو لنډیو ټوله زېرمه نه ده، بلکې یوه برخه یې راټوله شوې ده او نورې ډېرې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډۍ په ولس کې شته چې تراوسه لا د کاغذ پرمخ نه دي ليکل شوې.

په لنډيو کې د پښتنو د کليوالي ژوند او د دوی د کلتور د بېلابېلو اړخونو ځانګړنو انعکاس موندلی دی او په بېلابېلو موضوعاتو پورې مربوطې لنډۍ موږ د خپلو دغو شفاهي سندرو په مجموعه کې ميندلای شو.

که څه هم د پښتو په ځينو لرغونو ديوانونو کې ځينې لنډۍ هم راغلې دي، لکه: د (حسين) په ديوان ، د (سيد غلام ننګرهاري) په ديوان او ځينې نورو ديوانونو کې، همدا راز د ځينو معاصرو ليکوالو ، لکه: (بهايي جان صاحبزاده)، مرحوم (صالح محمد هوتک)، (صاحبزاده محمد ادريس) او نورو هم د لنډيو د جوړولو خواته توجه کړې ده او ځينې لنډۍ يې ويلې يا جوړې کړې هم دي، خو دا لنډۍ د پښتو د عامو لنډيو يا هغو لنډيو په څېر چې په ولس کې ايجاد شوې دي، ښکلاييز، ادبي او هنري ارزښتونه نه لري او د لفظي جوړښت له مخې هم ليکلي ادب ته ورته دي. د پښتنو په کليوالو سيمو ، غرو ، رغو ، درو او د شپنو په کېږديو کې د پښتو لنډيو ډېره زېرمه شته. چې ځينې دغسې لنډۍ د پښتو د ولسي ادبياتو ځينو خواخوږو له ولسه راټولې کړې دي.

د لنډۍ کمال په دې کې دی، چې مجموعاً په (۲۲) څپو يا دوو مسرو کې دروند مانيز بار او ښکلا لېږدوي. په دې مانا چې د لنډۍ لومړۍ مسره ( ۹) او دويمه (۱۳) څپې لري، لنډۍ قافيه نه لري، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دویمې مسرې په پای کې یوه اهنګینه کلمه لري، چې د لنډۍ ټول اهنګ بشپړوي. هره لنډۍ باید د زور (ه) په واول یا غږن اواز پایته رسېدلې وي. که په پای کې دا زور (ه) رانه شي نو اهنګ یې نیمګړی پاتې کېږي. لنډۍ د پښتو ژبې د فونولوژیکي (غږیز) جوړښت تابع ده او د هغې پر بنسټ جوړېږي. په نورو ژبو کې د دې ډول شعر (البته په همدې وزن او اهنګ) څرک لیدل شوی نه دی او نه نورو ژبو ته د لنډۍ په ژباړه کې ددې اهنګ ساتل شوی دی.

پر ټولو لنډیو باندې یو قانون د تطبیق وړ دی، یانې دا چې د هرې لنډۍ لومړۍ مسره باید حتمي (۹) او دویمه یې (۱۳) څپې وي. د هرې لنډۍ د لومړۍ مسرې (څلورمه) او (اتمه) څپه او د دویمې مسرې (څلورمه) (اتمه) او (دولسمه) څپه، خجنه وي. لکه:

امانتي مې ګور کې کېږدئ

که یار خبر شي ما به خپل وطن ته وړینه

ددې لنډۍ څپیز- خجیز جوړښت په دې ډول دی:

U – U U U – U U U

U – U U U - U U U – U U U

له مانیز پلوه لنډۍ پر بېلابېلو ډولونو وېشل کېدی شي. د پښتني ټولنې د ژوند د ټولو ډګرونو انځورنه په کې کېدی شي او شوې هم ده، خو د شکل او جوړښت له مخې لنډۍ همدا یو ټاکلی شکل او قانون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته به یو څو لنډۍ د بېلګې په توګه وړاندې کړو:

یوه وعده راسره وکه

چې د صراط په پله به یوځای سره ځونه

✵✵✵

ستا به واده زما به مرګ وي

ستا به ډولۍ زما به کټ خاورو ته وړینه

✵✵✵

ولې دې بد راسره وکړه

زما همدغه هیله وه چې یار لرمه

څرنګه چې په لنډیو کې د وروستۍ مسرې وروستۍ کلمه اهنګینه وي او د وروستۍ څپې اهنګ یې لوړ او تر هغې دمخه څپې اهنګ یې لوېدلی شان وي ( ) نو دلته کېدی شي د لنډۍ هندسي جوړښت داسې ترسیم شي:

((څرنګه چې لنډۍ ډېر لنډ شعر دی، تاریخي قدامت او بنه معلومول یې اسانه کار نه دی، خو په مجموعي ډول لنډۍ د ګړني

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادب ډېره لرغوني برخه ده چې تاريخ يې تر زر کلونو پخوانۍ زمانې ته رسېږي.

مثلاً يوه مشهوره لنډۍ ده، چې زر کلن قدامت لري دا لنډۍ د (خالو) معشوقې ويلې ده. (خالو) د (غزنوي محمود) له پښتنو سپه سالارو څخه يو مشهور سپه سالار و، کله چې دا پوه شوه چې خالو له خپل لښکر سره له جنګه ببرته راستون شو، نو دا لنډۍ يې وويله:

چې د خالو لښکري راغلې

زه به ګومل ته د خپل يار ديدن ته ځمه

له پورتنۍ لنډۍ څخه دا ښکاري چې لنډۍ (زر کاله) دمخه يقيناً موجوده وه، ښايي تر دې لنډۍ مخکې ډېرې نورې لنډۍ هم ويل شوې وي چې ډېر تاريخي اسناد په کې خوندي وي، خو اوس يا ببخي له منځه تللي يا به يې ښه او سته اوښتې وي. له بلې خوا په لنډيو کې د پښتنو ژوند د اجتماعي او اقتصادي اړيکو څرګندونې شوې دي، په مختلفو برخو کې يې د ژوند عکاسي کړې او حتی د هېواد د تاريخ ډېرې حساسې مرحلې هم په لنډيو کې رانغښتل شوي دي، لکه:

که په ميوند کې شهيد نه شوې

خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

دغه لنډۍ چې د ميوند د تاريخي پېښې څرګندونه کوي، زموږ د خلکو د حماسو په تاريخ کې لوړ مقام لري، اوس دغه لنډۍ زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ ته ورداخله شوې او د تاریخ جز ګرځېدلې ده، نو دغسې نورې لنډۍ هم لرو چې په تاریخي لحاظ ډېر اهمیت لري، ډېرې بار ارزښته تاریخي پېښې موږ ته منعکسوي او ډېر معتبر اسناد موږ ته په لاس راکوي.)) (۵۷: ۹-۱۰)

سپوږمیه سر وهه راخېږه

یار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبینه

دا لنډۍ هم ډېر قدامت لري او ویل کېږي چې زړو اریایانو به د سپوږمۍ رڼا ته لو کاوه او دا لنډۍ هم د هغه وخت زېږنده ګڼل کېږي.

لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه لنډۍ د محتوا له پلوه تقریباً د ژوند د هرې برخې انځورګري کوي چې ددې ټولو برخو څېړل اوږد بحث غواړي.

خو د جوړښت په باب یې یو ځل بیا یادونه کوو چې (( د دویمې مسرې په وروستۍ څپه کې یې د فتحې یا زور (a) غږ راوړل حتمي او ضروري دي، له دې اهنګین غږ پرته نه لنډۍ پوره کېږي او نه یې وزن. لنډۍ مقید وزن لري او له دې ټاکلي وزن څخه وتلای نه شي. لنډۍ تر هرې دریو څپو وروسته (خج) اخلي یانې هره څلورمه څپه یې خجنه ده او دا قانون پر ټولو لنډیو یوشان د تطبیق وړ دی. ((د وینا پرمهال پر سېلابونو باندې لوېدونکي زور ته خج وایي.)) (۱۹: ۴۴) دلته به د لوستونکو د معلوماتو د لا زیاتولو لپاره څو لنډۍ د څپو او څو لنډۍ د خج له پلوه سره وشنو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د څپیز جوړښت له مخې:**

**په سترګو بیا د رنجو زور که**

**د مسافر جانان دې غږ دی چې راځینه**

اوله مسره:

په_ستر_ګو_بیا_د_رن_جو_زور_که

دویمه مسره:

د_م_سا_فر_جا_نان_دې_غږ_دی_چې_را_ځي_نه

پورته لنډۍ کې مو ولیدل چې لومړۍ مسره یې نهه څپې او دویمه مسره یې دیارلس څپې لري.

**که د یار غږ راباندې وشي**

**مال به خیرات کړم سر به زړی ورکومه**

اوله مسره:

که_د_یار_غږ_را_بان_دې_و_شي.

دویمه مسره:

مال_به_خی_رات_کړم_سر_به_زړ_ری_ور_که_و_مه.

همدغه ډول که هره لنډۍ وګورو او پر څپو یې ووېشو لومړۍ مسره یې نهه او دویمه مسره یې دیارلس څپې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز په پښتو لنډيو کې لکه د مخه چې مو يادونه وکړه د خج موضوع داسې ده، لومړی مسره يې چې نهه څپې لري پر (څلورمه) او (اتمه) څپه يې خج راوړل کېږي. او په دويمه مسره کې چې ديارلس څپې لري پر (څلورمه)، (اتمه) او (دولسمه) څپه خج راوړل کېږي.

د بېلګې په توګه لاندې لنډۍ ګورو.

**که پسې مرم مرګ مې پرځای دی**

U / UUU / UUU

**زما پر سر يې جېل خانې منلې دينه**

U / UUU / UUU / UUU

**راځه راځه ديدن مې وکه**

U / UUU / UUU

**د سرتختې راباندې ږدي پناه يې کړمه**

U / UUU / UUU / UUU

**ستا له ياری به توبه نه کړم**

U / UUU / UUU

**که جلادان مې سر له تورو سره وړينه)** (۵۷: ۱۳-۱۴)

U / UUU / UUU / UUU

## ۲- سروکی (نيمکی):

(c) ketabton.com: The Digital Library

سروکی د پښتو ولسي سندرو یو ځانګړی ډول دی، چې بېلابېل فورمونه یا شکلونه لري. ځینې پښتانه سروکی (نیمکۍ) بولي او د پکتیا په منګلو کې یې د (پام) په نوم یادېږي.

سروکی د پښتو ولسي سندرو د نورو اصنافو په څېر د پښتون قام د زیاترو کړو وړو انځورنه کوي او د خلکو د ملي، اجتماعي او روحي ځانګړنو عکاسي په کې شوې ده.

سروکی معمولاً د لنډیو په واسطه بشپړېږي، دا سې چې لومړی سروکی ویل کېږي، بیا ټیکۍ (لنډۍ) ور اچول کېږي. له سروکو سره ټولې لنډۍ ویل کېږي، خو هغه لنډۍ چې د سروکي له موضوع سره ارتباط ولري، خوندورې وي. لنډۍ وار په وار بدلېږي، خو سروکی د هرې لنډۍ په پای کې مکرر راځي. لکه:

خانه راځه دلبره

ډ کې لارۍ د جنکو لندن ته ځینه

د جنکو قدر یې کم که

امان الله ته دې خدای لونې ورکوینه

خانه راځه دلبره

ډ کې لارۍ د جنکو لندن ته ځینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سروکی کله یو بیتیز وي، یانې دوه مسرې لري، چې لومړی مسره یې اوږده او دویمه یې لنډه وي او کله یې دویمه مسره اوږده او لومړی یې لنډه وي، کله درې مسریز، څلور مسریز او پینځه مسریز هم وي، چې دلته به د هر یوه بېلګه راوړو:

دوه مسریز سروکی چې لنډی هم ورسره مله ده:

الا یو غږ وشو

راغلې مه وای د جبو په میدانونه

د لمندار کمیس مېرمنې

الا یو غږ وشو

اور له لمنې باروې ستي دې کړمه

الا یو غږ وشو.

درې مسریزه سروکی:

پسې ورجګ کړه سره لاسونه

لنډ کړه د ټیکی مزي دې

خال به دې وران شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثلور مسریزه سروکی:

توري سترګې خماري

درته کړم ناله زاري

د زړه زخم مې کاري

شوم رسوا ستا په یاري

پینځه مسریز سروکی:

بي بي شېرینې

زېړې ګلې

راباندې واچوه

یوه لونګۍ

جوړه لاسونه

سرمحقق زلمی هېوادمل لیکي: ((سروکی بېلابېل فورمونه لري چې ځینې یې ډېر زاړه دي او د اوستایي ګاتونو له (هوخشتاتره) او (اهونار) سره په تول او وزن کې برابر خېږي)) (۱۷: ۵۹-۶۱)

دویمه او درېیمه بېلګې یې دادي:

شین کمیس راوړی کمر بند مې دی تر ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library

و غازي امان الله

✵✵✵

مین چې شو مه په ګل ببو

ستي یې کړمه په سرو لمبو (۳۰: ۱۰)

## د درې مسریز سروکي شکلونه:

یو ډول یې هغه دي، چې د سر لومړۍ مسره یې تر دویمې اوږده وي او دویمه یې تر درېیمې. بل ډول یې دادی، چې د سر لومړۍ او درېیمه مسره یې د څپو د شمېر له مخې برابرې وي او هم قافیه وي، خو دویمه مسره یې قافیه نه لري او هم لنډه وي.

دویمه بېلګه یې داده:

پورې د جانان کډې بارېږي

زم ورسره ځمه

کله مې مین زړګی صبرېږي. (۳۰: ۸-۹)

## څلور مسریيز سروکی:

هغه ډول چې ټولې مسرې یې قافیې ولري او د څپو شمېر یې سره مساوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله بېلګه يې داده، چې څلور واړه مسرې يې ټولې قافيه والې نه وي او هم يې د څپو شمېر سره برابر نه وي، لکه دا سروکی:

ګودر غاړه اجاره

ما بې وروره مه کې

ورورې ما سره جوړه

شرنګ دې د بنګړو (۳۰: ۵)

سربېره پر دې د سروکو نور ډېر ډولونه هم شته لکه هغه سروکي چې د ښځې او نارينه ترمنځ د سوال او ځواب په توګه ويل کېږي لکه:

ښځه: جانانه راشه ديدن وکړه

خفه زړګی مې ښه کړه

سبا بېلتون دی

نارينه: ګلې سبا ته به درځمه

تا نه خفه کومه

ښکلی ژوندون دی

بله بېلګه:

ښځه: خان دلاور خانه، توره دې لونګۍ شمله دې لا مزه کوينه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نارینه: ګلې بې بې ګلې، تورې سترګې سره لاسونه لا مزه کوینه.

دغه راز یو شمېر نور سروکي هم شته، چې په بېلابېلو سیمو پورې اړه نیسي، په لنډ ډول هغه د سر محقق زلمي هېوادمل په وینا: ((د سروکو د فورمونو شمېر خورا زیات دی.))

## ۳- د اتڼ نارې:

د اتڼ نارې، لکه له نامه څخه یې چې معلومېږي، یوازې په اتڼ کې ویل کېږي، پر ناستې نه ویل کېږي، که څوک یې ووایي هم خوند نه کوي. ښځې هم په ښادیو کې اتڼ کوي او نارینه هم. د نارینه وو. د اتڼ نارې ښځې هم په خپل اتڼ کې وایي، خو ښځې ځانته بېلې مخصوصې نارې هم لري، چې نارینه هغه په خپل اتڼ کې نه وایي. د نارینه وو د اتڼ نارې پر ډول ډول او بېل بېل وزن د اتڼ چیانو له حرکاتو سره سمې ویل کېږي، لکه ورو اتڼ، یو بغله اتڼ، دوه بغله اتڼ، درست اتڼ، د ایشلي اتڼ، د ناستې اتڼ د پروتې اتڼ، د پروتې دوه بغله اتڼ، چپه و راسته اتڼ، غلی اتڼ او... (۴۴: هـ)

ددې هر ډول اتڼ له حرکاتو سره سم ناره له خپل وزن څخه اړوي او په نوي وزن یې وایي.

د اتڼ نارې معمولاً درې او څلور مسرې لري، خو هم په درې مسریزه او هم په څلور مسریزه ناره کې د مسرو د څپو شمېر سره مساوي نه وي. په درې مسریزه ناره کې لومړۍ او درېیمه مسره سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم قافيه يا هم اهنګه وي، وروستۍ يا دريېمه مسره معمولاً لويه وي او دويمه مسره يې تر ټولو کوچنۍ وي.

چتې چې په پښو دې کړې چوتې
ځوانان دې لېوني کړه
زاړه خواران دې وايستل له ګتې

په پورتني ناره کې (چوتې، ګتې) د قافيې کلمې دي. لومړۍ مسره (۱۰)، دويمه مسره (۷) او درېيمه (۱۱) څپې ده.

واوړئ د هوا مرغانو واوړئ
مساپر مې دورې تللي
مرغانو په وزرو کې يې راوړئ

په دې ناره کې لومړۍ مسره (۱۰)، دويمه (۸) او درېيمه (۱۱) څپې ده (واوړئ او راوړئ) يې د قافيې کلمې دي.

ددرې مسريزو نارو بل ډول دادی، چې د قافيې ترڅنګ رديف هم لري لکه:

کميس مې تر لمنې ګلاګل دی
د خيال کميس مې دادی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## چې اورونه لګوي هغه لا بل دی

په دې ناره کې (ګل او بل) د قافیې کلمې دي. (دی، دی) یې ردیف دی. لومړۍ مسره (۱۱)، دویمه (۷) اودرېیمه (۱۲) څپې ده.

کله کله په درې مسریزه ناره کې داسې هم پېښېږي، چې لومړۍ او وروستۍ مسره د څپو شمېر له مخې سره مساوي وي. لکه په دې ناره کې:

هلکه چې سپین موټی دې چاړه ده

ما به خولګۍ درکړه

هلکه خو ریباره دې میره ده

ددې نارې لومړۍ مسره (۱۱) دویمه (۶) او درېیمه هم (۱۱) څپې ده.

د اتڼ نارو بل شکل دادی، چې څلور مسرې ولري، ددې هرې مسرې د څپو شمېر له بلې سره مساوي نه وي. لومړۍ او درېیمه مسره یې نسبتاً کوچنۍ او دویمه او څلورمه یې تر هغو دوو نورو لوېې وي. معمولاً لومړۍ، دویمه او څلورمه مسره یې سره هم قافیه وي. لکه:

دله دله دله

کوتره یم راغلې له کابله

یا به کابل خپل کم

یا به راوړم د کابل ژېړه بلبله

لومړۍ مسره (۲) دویمه مسره (۱۱) دریيمه (۲) او څلورمه (۱۲) څپې ده. (دله ، کابله او بلبله) د قافیې کلمې دي. بله بېلګه:

خانه زموږ خانه

دا ستا خاني دې خدای نه کي بېرانه

ملکونه دې رعیت کړه

د دښمن کلا دې وکښه د میدانه.

په دې ناره کې لومړۍ مسره (۲)، دویمه (۱۱)، دریيمه (۷) او څلورمه (۱۲) څپې ده. (خانه، بېرانه او میدانه) یې د قافیې کلمې دي.

دویمه بڼه:

د څلور مسریزو نارو بل ډول دادی، چې د قافیې ترڅنګ ردیف هم لري. لکه:

څه کم د چا څه کم

پر خپل غولي ولاړه یم کاته کم

یار که مې نادان دی

د بل پر ښایستو به یې ور نه کم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورتنۍ ناره کې لومړۍ مسره (۲)، دویمه (۱۰)، درییمه (۲) او څلورمه یې (۱۱) څپې ده. (څه، کاته، ورنه) یې د قافیې کلمې دي. (کم، کم) یې ردیف دی.

ولاړه (دوه څپې)

د څلور مسریزې نارې بله بېلګه داده:

پوړنی مې ابي دی

له خیاله مې غبرګ کړی پر تندي دی

مابه اتڼ وکړای

دا ستا د بابا کلی رخشندي دی (۴۴: بېلابېل)

په پورتنۍ ناره کې لومړۍ مسره (۷)، دویمه (۱۱)، دریيمه (۲) او څلورمه (۱۱) څپې ده. (ابي، تندي او رخشندي) د قافیې کلمې دي. (دی، دی) ردیف دی.

پر پورتنیو یادو شکلونو سربېره د اتڼ په ځینو نارو کې د قافیې او څپو د شمېر په حساب لږ شان بدلون ښکاري، خو دېر عام نه دی. د اتڼ د نارو اساسي ډولونه همدا وو، چې پورته یې یادونه وشوه.

## ۴- کاکړۍ غاړې (کاکړۍ):

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاکړۍ غاړې چې کاکړۍ لنډۍ يې هم بولي، د پښتو ولسي ادبياتو يو خوږ ډول دی، چې راز راز موضوعات (رزم او بزم د پښتو ټولنيز، اقتصادي شرايط، کلتوري، ديني او عقيده يي مسايل، ساده ولسي افکار، ټوکې او ټکالې او د پښتني کلتور بېلابېل اړخونه، خويونه او رواجونه) په خپله لنډه تنګه غېږ کې رانغاړي.

کاکړۍ لنډۍ که څه هم له نامه څخه يې له کاکړو سره تړلې معلومېږي، خو د ټولو پښتنو اصيل مال دی او په پښتنو کې داسې کام نه شته چې ددې لنډيو په جوړولو کې يې لږه يا ډېره ونډه نه وي اخيستې. دغه ډول له نورو ټپو څخه يو جلا او بېل شی دی، چې لومړی وار کاکړو ښلولي دي او تر (۱۳۷۵ل) کال پورې به زيات و کم پنځوس زره کاکړي لنډۍ جوړې شوې وي.

کاکړي لنډۍ له دوو مسرو څخه جوړې وي، چې کله کله يې د دوارو برخو سېلابونه سره برابر او کله کله توپير سره لري او د دوارو برخو وروستي توري يې سره يو رنګ وي. هغه کاکړۍ غاړې چې هره مسره يې اته اته سېلابه وي:

ښايستې که ستا رضا ده

ستا د قام بدي پر ماده

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه غاړې چې یوه مسره یې اته او بله نهه سپلابه وي:

شین خالی نجونې لابنې دي

پـه لاره ځي لـه خندا شنـې دي

هغه غاړې چې یوه مسره یې اوه سپلابه او بله یې اته سپلابه وي:

تر لاس نه تړو ګړی

مورې ملنګان یو شین خالی

اوه سپلابه غاړې:

د بوټو تنې تړم

د شاکار مېلې ته ځم (۱۷: ۵۵-۵۶)

## ۵- ببولاله:

ببولاله د پښتو ادب هغـه مخصـوص شـعري فـورم یـا سـندره ده، چې د واده پر لومړۍ ورځ، کله چې د ناوې سر وغوړوي او د واده پر مخصـوص تخـت یـې کېنـوي، د ورا او د نـاوې تـر خـوا ښـځې ګـډې وډې شاوخوا سره کېني او ناوې په منځ کې ناسته وي، نـو دا ښـځې دغه سندرې په ګډه وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کله د ببولالې له اصلي متن سره یوه بله مسره هم یوځای کوي او بیا یې په ترنم کې وایي، دا مسرې ببلابېلې دي، چې د خپلې مانا له مخې ببولاله هم د هغې په نامه یادېږي. لکه (دوه دوه تاره اخلي) (خور ښادي) او (ښه رورا)، ببلګې یې دادي:

دوه دوه تـــــــــــــاره اخلــــــــــــــي
ګیســـــــو ورو ورویـــــــــــې بېلویـــــــه
نـــــــــاوکۍ مـــــــــوده ناندانــــــــــه
تـــــر غرمـــــــې مـــــې یـــــې څنډویـــــه

✵✵✵

خـــــــور ښـــــادي دې مـــــه ســـــه پاتــــه
خـــــــور ښـــــادي دې مـــــه ســـــه پاتــــه
خـــــــــــور ښـــــــــادي مــــــــــو ده
د کمپلـــــــــــې ژۍ یـــــــــــې تـــــــــــورې
د کمپلـــــــــــې ژۍ یـــــــــــې تـــــــــــورې
خـــــــــــور ښـــــــــادي مــــــــــو ده
لالـــــــــۍ پــــــــر ننـــــــګ مــــــین دی
خېښـــــــــې نــــــه باســـــــې ســـــــرتورې
خـــــــــــور ښـــــــــادي مــــــــــو ده

✵✵✵

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښــــــه رورا ښـــــادي دې وســــــه
شـــــاه ســــــلامتي دې وســــــه
شـــــين بادرنـــــګ او بـــــورا وړی
شـــــين بادرنـــــګ اوبـــــو راوړی
چـــا پـــه خـــوب نـــه دی ليـــدلی(۴۴:ک)

ببولالې عموماً درې مسرې لري. د مسرو د څپو شمېر يې سره مساوي وي، د پښتو اکثره ببولالې د څپو د شمېر له مخې (اته) څپې وي او دا قانون تقريباً پر ټولو ببولالو تطبيقېږي. کېدی شي د لنډيو په شان د ببولالو وزن هم ځانګړی وي، خو پر لنډيو بيا پر مطلق ډول يو قانون تطبيقېږي، خو په ببولالو کې يو څه شکلي بدلون شته.

په ببولالو کې قافيه شته. د ببولالو لومړۍ او درېيمه مسره په خپل منځ کې هم قافيه وي، خو دويمه يې له قافيې ازاده وي.

دغه راز ځينې ببولالې تر قافيې وروسته رديف هم لري.

په ځينو استثنايي حالاتو کې کېدی شي دويمه مسره هم قافيه اختيار کړي او هم کېدی شي د څپو په شمېر کې کومه څپه زياته او يا کمه شي، خو د ببولالو عمومي شکل او جوړښت همدا دی، چې درې مسرې لري، هره مسره يې اته څپې لري، لومړۍ او درېيمه مسره يې هم قافيه وي، که د څپو په شمېر کې زياتی او کمښت راشي، نو له ورايه يې په وزن کې کمی احساسېږي. د ترنم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسيقۍ پر وخت د ببولالو له مسرو سره (ها ببولاله لا له واى) يو ځاى کېږي او د شعر کمپوز برابرېږي؛ لکه:

اوښ ولاړ زنګـــون ترلـــــى (هــــا) ببولالــــه
اوښ ولاړ (واى، واى) زنګــــون ترلــــــى (واى)
تـر هغـو بـه يې خلاص نـه کـم (واى) ببولالـه، لالـه
خـو زمـا جـان (واى واى) نـه دى راغلـى (واى)(۴۴:ح)

دلته به د ببولالو څو بېلګې وړاندې کړو:

پر کور سور زومبک ځړېږي
هغه لور دې سترګې وخوري
چې د پـلار پـه کـور نازېږي

دمسرو شمېر يې (۳)، د څپو شمېر يې (۸)، (ځړېږي) او (نـازېږي) يې د قافيې کلمې دي.

د همدې ډول بله بېلګه:

پر کور دوه زرغونه شاله
زمـا جـان ورتــه ولاړ دى
لاس يې نه ورځي د خياله

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ببولالې بل شکل دا دی، چې تر هماهنګو اهنګينو کلمو يا قافيې وروسته بله کلمه يا رديف هم ولري. دا يې بېلګې دي:

تر بالښت لاندې انار دی

دا سې زوم مو دروستلی

چې نامتو د کندهار دی

بله بېلګه:

ناوکی ګوتې د سرو دي

تر دسمال يې را ايستلي

چې سکه لېورونه څو دي(۴۴: بېلابېل)

په لومړۍ ببولاله کې (انار، کندهار) او په دويمه کې (سرو او څو) د قافيې کلمې دي. په لومړۍ کې (دی، دی) او په دويمه کې (دي، دي) رديفونه دي.

## ۲- چاربيته:

چاربيته د پښتو ملي شعري فورمونو هغه ډول دی، چې هر بند يې تر څلور مسرو څخه کم نه وي. زياتره چاربيتې په ملي موسيقۍ کې ځانته په زړه پورې اهنګونه او خوږې نغمې لري او د دې لپاره چاربيتې بلل کېږي، چې بندونه يې يا تر څلور بيتو او يا تر څلورو مسرو څخه بېخي کم نه دي. په چاربيته کې همېشه يوه اوږده

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضوع چې اکثراً عشقي او حماسي وي (لکه د قصيدې او مثنوي په شان) افاده کېږي.

چاربيته د فورم له مخې په عمومي ډول پر دوو لويو برخو وېشل کېږي:

۱- ساده چاربيته.

۲- زنځيري چاربيته:

دغه دوه ډوله چاربيتې بيا په خپل وار سره د مسرو د شمېر برابروالي اوږدوالي او لنډوالي له مخې پر ډېرو نورو ډولو وېشل کېږي؛ لکه: د څلورو، پينځو، شپږو، اتو، نهو او لسو مساوي لنډو يا اوږدو مسرو زنځيري چاربيته.

له مانيز پلوه چاربيته پر عشقي، تاريخي، رزمي او نورو برخو وېشل کېږي. د ساده چاربيتې يوه بېلګه، دا چاربيته د نوبنار د محمد دين ده.

مطلع: ځوک به پيدا نه شي د فرهاد او شيرينۍ په شان
يو ځای به ځوک نه شي د ادم او درخانۍ په شان

بند:

يو ځای به ځوک نه شي لکه و عاشق فرهاد
تل به يې کولو په اشنا پسې فرياد

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه يې کړه خواري ځکه حاصل يې شه مراد
کړې به يې خبرې د طوطا د ښارونۍ په شان

بند: کړې به يې خبرې د مجنون دا مشغولا وه نه
بل به يې څه نه وو خو په خوله به يې ليلا وه نه
وچ شه لکه دړه د خاوند په دې رضا وه نه
بيا به ګرځېده په دې پسې د لېونۍ په شان

بند: راغی قطب خان چې راروان له رانيزو نه شو
سر په ټيک ويده و ځکه پاتې له مزو نه شو
پروت و لکه مړی سرو کار يې له نيازو نه شو
غوڅ يې په ځيګر که لکه تورې ايرانۍ په شان

بند: غوڅ يې په ځيګر که چې رانجا عاشق په هير شو
تل يې سر تندی واهه همېش د ځان په وير شو
مړ ملا بهادر نيمبو لا ځکه دستګير شو
هلته ظلم نه شته دی شاګرده د خانۍ په شان(۲۶: ۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ډول ساده چاربیته کې له ځینې استثنایي حالت پرته، د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. د هر بند وروستۍ مسره په قافیه کې د مطلعې له مسرو سره یو شان وي.

د پښتو ولسي شاعرۍ په باب ډېر ځله دا څرګندونه کېږي، چې په دې فورمونو کې ویل شوي شعرونه اکثره د نالوستو شاعرانو زېږنده دي. دا خبره مطلقه نه ده، په همدې فورمونو کې د هېواد یو شمېر نومیالیو لوستو شاعرانو هم شاعري کړې ده، له هغې جملې نه د همدې چاربیتې په فورم کې په ساده چاربیته کې له پورتني ډول پرته نور ډولونه هم راتلای شي. دلته به د ساده چاربیتې د یو بل ډول دوه بېلګې راوړو. لومړۍ بېلګه یې د جرار صیب ده:

د سترګو مخ مې وسو یاره ستا د مخ په نور — تك تور لکه ماغوت
تاو کړی په ماغوت کې خپل اشنا ته ورم ضرور — د سرو اوښکو یاقوت

که وایم ستا په مخ مې دا جوړه کسي وریته دي — تاثیر به د لمبې وي
وېښته د مخ له تاوه تار په تار سره پراته دي — دا تاو به د شغلې وي
حبشو ته حیران یم په فرنګ یې ورخاته دي — دا زور به د حملې وي
سپین مخ دې معرکه شو امتحان به کړي ضرور — معلوم به شي مزبوت(۱۷: ۵۹-۶۲)

په دې ډول فورم کې د سر لومړۍ او درېیمه مسره د څپو د شمېر له مخې په خپل منځ کې سره برابرې دي او یو شان قافیه تعقیبوي. دویمه او څلورمه مسره بیا په خپل منځ کې د یو شان

(c) ketabton.com: The Digital Library

قافيې لرونکې او د ځپو د شمېر له مخې سره برابرې وي، د هر بند لويې مسرې په خپل منځ کې دځپو د شمېر له مخې سره برابرې او په خپل منځ کې يو شان قافيه تعقيبوي او وړې مسرې يې په خپل منځ کې، خو د هر بند د پای لويې او وړې مسرې بيا د مطلعې د لويې او وړې مسرې د قافيې او شکلي جوړښت تابع دي. په ټوليز ډول ټولې لويې مسرې له لويو او وړې مسرې له وړو سره د ځپو د شمېر له مخې برابرې وي.

دې ته د ورته چاربيتې يوه بله بېلګه هم راوړو. دا د ملا مقصود چاربيته ده:

مطلع:

شين خال دې په شمال ايښی د وروځو په پيوند
ځـلبړې زرافـــشان

اوربــل دې الــول لــکه بـخمــل دې بـند پــه بند
راپورته کړه چشمان

بند:

شين خال دې په مشال ايښی د وروځو په مابين — لـه ورايـه تـجلی کا
نـری، پـوزه الـف خـوارږه دې دواړه شـفتـين — زړګی مې واويـلا کا
زنخ لرې ګبين خوله دې شيرين سـره دې عـنين — ځوك څه لره ګيلې کا

***

جـمال درکـړی رب، لـــرې نـسب داسې څرګند — رايـــت دې کـــه خـــاقان
جـمال راکـــړی رب لـرم نـسب د پـاچايانـو — روغ ځـــان ســـاته کمبختــه
عـــاجـز غريب سړی يې يـاري مـه کړه د خـوبانـو — چـــې رانـــه شـــې بـــې وختـــه
تـه خپل مساوي ګـــوره ستا دی ځوی د نادارانو — لـــرمه طبـــعه ســـخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زنځيري چاربيته:** زنځيري چاربيتې تـه اتـه مسـريزه چاربيتـه هم وايي، په دې باب يو ليکوال وايي:

هغه چاربيتې چې اته مسرې لري هغې ته عـوامي چاربيتـه ويلـی شو ، ځکه چې د عـامو شاعرانو په اصطلاح کې چاربيته وايي همدې ته چې څلور بيته او اتـه مسـرې وي، پـه دې ډول چـاربيتو کـې د سر دواړه مسرې په خپل منځ کې هم قافيه نه وي، بلکې اوله يې پـه يـوه قافيه وي او دويمه يې په بله. او بيا د هر بند پـه پـای کـې چـې کـوم بيت راځي د هغه بيت د دواړو مسرو قافيه د مطلعې د دواړو مسرو له قافيې سره يوشان وي. عبدالحکيم اثـر هـم همـدا راز د ۸ مسـرو چاربيته پر درې ډولونو باندې وېشي:

۱- يـو قسـم هغـه ده، چـې د هـر بنـد اول درې بيتونـه يـانې شـپږ مسرې يې په خپل کور کې سره په يوه قافيـه وي او وروسـتی بيت د چاربيتې له مطلعې سره موافق وي. ددې بېلګه داده:

مطلع:

شـــاګرده اول نـــص د الهـــی پروردګـــار دی
اسـتاده بـل حـديث د محمـد نبـي حضـرت دی

بند:

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاګرده په جهان کې جبرائیل نومی ملک دی
استاده خاص مقام د ده اووم اسمان فلک دی
شاګرده ټول وجود یې د زنځیر حدیده کلک دی
استاده سر تر پایه په وزرو باندې چک دی
شاګرده د رحمت په رب کې ډوب لکه سمک دی
استاده ما په دې خبره هم ویستلی شک دی
بې حده ښایسته د نور په شان شعله انګار دی
د باد په شان ته ګرځي په هوا باندې اوچت دی

بند:

شاګرده زه یې نوم ویلی نه شم ویرول کا
استاده هغه دادی چې د روحو قبضول کا
شاګرده قبضول د ګنهګارو په زلزل کا
استاده بختورو ته په پوزه بو د ګل کا
شاګرده غټ عذاب دی چې زورونه په ګوګل کا
استاده په سختۍ د بدو روحو وښکل کا
کمبختو ګنهګارو ته په دغه شان قهار دی
چې سم یې په شرف یې مقرر ورله جنت دی

بند:

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاګرده زه ډوب شوی د غمونو په دریاب یم
استاده زه د غره لاندې حصار په پېچ و تاب یم
شاګرده په تهمت باندې تک تور لکه غراب یم
استاده لاس مې مروړم په ارمان لکه ذباب یم
شاګرده زه غریب بنده د پاک غني وهاب یم
استاده شکر وایم چې مسلمو کې حساب یم
مرګی مې رانېژدې شو نن سبا له مې رفتار دی
((میاګل)) د ګټکي ژاړي چې په مخ کې مې قیامت دی(۵۶: ۸۲)

په پورتني فورم کې د ټولو مسرو د څپو شمېر سره مساوي دی. د سر لومړی بیت یا مطلع په خپل منځ کې د قافیې اختلاف لري. دواړو مسرو کې قافیه حتمي او ردیف اختیاري دی. د هر بند شپږ مسرې په خپل منځ کې یوه قافیه تعقیبوي؛ اومه او اتمه مسره یې په قافیه کې د مطلعې د لومړۍ او دویمې مسرې تابع ده.

## ۲- د اته مسریزې چاربیتې دویم ډول:

په دې ډول چاربیته کې د سر یو بیت، چې د مطلعې په توګه راځي. لومړۍ مسره یې ځانته قافیه لري، د دویمې مسرې په منځ کې یې یوه قافیه راځي، چې د لومړۍ مسرې له قافیې سره سمون خوري، خو د دویمې مسرې وروستۍ قافیه ځانته جلا او د لومړۍ مسرې له قافیې سره سمون نه لري. د هر بند لومړۍ، دریمه، پینځمه مسره، په خپل منځ کې هم قافیه وي او هم د دویمې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلورمې او شپږمې مسرې په منځ کې راغلې قافيې هم د نوموړو مسرو د قافيو بڼه تعقيبوي، خو د دويمې، ځلورمې او شپږمې مسرې په پای کې نورې قافيې راځي، چې دا بيا د نوموړو مسرو خپلمنځي قافيې ګڼل کېږي، د بند اوم او اتم بيت د مطلعې د شکلي سکښت تابع وي.

لکه په دې لاندې مثال کې:

د ښايست اواز دې لاړو په عالم کې لور په لور
زه دې سوی يم په اور، تيک دې کوز کړه له جبينه
د ښايست اواز دې لاړو په کابل په هندوستان
ځکه ناست يمه حيران، رارسېږي يا نصيبه
عاشقي ده ډېره ګرانه ځي د اوښکو مې باران
پرې مې لوند شولو ګرېوان، پوه نه شوم له ترتيبه
په هر چا باندې تېرېږي د فاني دور دوران
ځوک راځي ځوک تېرې روان، کاندي ياروته قريبه
باري خپل دی که پردی دی راکوي راته پېغور
سترګې نه شمه نيولی ګوره ډوب يم ستا په مينه.

✵✵✵

باري خپل دي که پردي دي راکوي راته تهمت
کتی نه شمه اوچت په ياری کې د بې ننګه
چېرې تا کتلی نه دي لکه سپي ته چې کړې ست
تاو چې راغی په صورت، ته له مانه کوې ځنګه
جاروتی نه شمه ببرته رب دې نه کا ځوک عادت
د سرو شونډو په شربت، کيف يې زيات وينم له بنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په رنځې زنې د پاسه دې خالونه درې ځلور
ما پرې تل کړې دی زور، خوند يې زيات دی له ګبينه

❋❋❋

د نرۍ زنې له پاسه دې خالونه دي قطار
توري زلفې دې تار، تار دي پرتې لکه وربځې
په سينه کې دې پخ شوي دي د مينې دوه انار
ورته پروت يمه بيمار، دارو مې د مرض يې
رب دې نه کا څوک په رنځ کې ستا د مينې ګرفتار
نن دې ځان کړلو سينګار، بېګاه مې په اور سوزې
کله زېر شي کله بم شي سره ګنګري دې کوي شور
قدم اخلي په ټکور، ښاپېرۍ راغلې له چينه. (۲۶: ۱۸-۱۹)

د پورتنۍ چاربيتې د لومړي بند د وروستۍ مسرې په منځ کې (سترګې نه شمه نيولی ګوره ډوب يم ستا په مينه) کې (سترګې نه شم نيولی) برخه کې قافيه خطا شوې، خو په نورو بندونو کې پورتنی شکل په پوره ډول تعقيب شوی دی. د يادونې وړ ده، چې په پورتني ډول چاربيته کې د مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي.

۳- د اته مسريزې زنځيري چاربيتې بل ډول دادی، چې ټوله مقفی وي او هر بيت او هره مسره يې په خپل منځ کې قافيې لري. يوه بېلګه يې داده:

د ليلا په لبو سور پېزوان لکه ښامار
تربنه ځي شغلې د اور          نتکۍ نه يې بار بار

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوځـــي مــا سپخــین ژوندی زمــا صورت که

زما زړه یې کړ غمګین سرداره څـه حـکمت کـه

ګونګري یې کوي شورچـــې دا شـــي پـــه رفتار

❋❋❋

رفــتار مــې کوي خوندورځـــمـــه مــازیـــګر

وربل مې بند پــه بــند د سـپین تندي په سر

خراب بـه دې کړم ژوند کاتـه کـرم پـــه هـــنر

شین خـال مې ادم خورذقـن مــې مــزه دار (۲۶: ۲۱-۲۲)

په دې ډول چاربیته کې له ځینو مسرو پرته د نورو اکثرو مسرو د څپو شمېر سره مساوي وي. په مطلع کې د لومړي او دويم بيت د لومړيو مسرو قافيې سره يوشان وي او د دويمو مسرو قافيې په خپل منځ کې يو شان وي. د هر بند د درېو بيتونو د درېو لومړيو مسرو قافيه يو شان او درېو نورو مسرو قافيه بل شان وي، خو د څلورم بيت رغښت او بڼه د مطلع د بيت تابع وي.

د ډېرې قافيه لرونکې زنځيري چاربيتې يوه بېلګه داده:

مطلع:

کلـه بـه راوړې دواړه بـس دې دې رنګـین شـیرین

ســــپین دې جبــــین زریــــن مــــخ دې ځلېــــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بند:

کلـه بـه راکـړې دواړه لـب شـات او ملهـم صـنم
مـه کـړه سـتم هـر دم پـه غضـب ښـورې
سـرې دې منګـولې همـېش وړې زړونـه قلـم قلـم
اخلـې قـدم پـه چـم سـترګې دې تـورې
په در دې پروت یم همېش غـواړم ستاکرم محکم
لـرې کـړه غـم الـم کـه رب تـه ګـورې
نـن دې پـه غـاړه بانـدې زانګـي لـونګين رنګـين
سـپين دې جبـين زريـن مـخ دې ځلېـږي.(۱۷: ۸۳)

پـه دې ډول چـاربيتې کـې د سـر لـومړی بيـت يـا مطلـع پـه لـومړۍ مسـره کـې يـو شـان دوه قـافيې موجـودې وي. د دويمـې مسرې تـر نيمـايي پـورې بيـا يـو شـان دوه قـافيې چـې د لـومړۍ مسرې له قافيې سره يوشان وي، راځي او د مسرې په پـای کـې اهنګينه کلمه راځي چې له دې قافيو سره په جوړښت کې توپير لري.

د هـر بنـد لـومړۍ مسـره ځانتـه يـو شـان دوه قافيـه لـري او د دويمې مسرې په پای کې يوه ځانګړې قافيه؛ دريمـه مسـره لـه لومړۍ مسرې سره په قافيه کې يـو شـان وي څلورمـه د دويمـې په شان وي، پينځمه د لـومړۍ او شـپږمه د دويمـې پـه شـان وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هم د ثلورمې او شپږمې مسرې په منځ کې راغلې قافيې د بند د لومړۍ مسرې د قافيې تابع وي، اوومه مسره د لومړي بيت يا مطلع د لومړۍ مسرې په شان وي او اتمې مسرې د منځ قافيې د مطلعې د لومړۍ مسرې د قافيو تابع وي او پاتې برخه يې د مطلعې د دويمې مسرې پاتې برخه وي؛ د مطلعې د دويمې مسرې تکرار وي. په دې چاربيته کې د سر بيت لومړۍ مسره ۱۴ او دويمه ۱۱ څپې ده. د بند لومړۍ، دريمه، پينځمه او اومه مسره هم ۱۴ څپې او دويمه، ثلورمه، شپږمه او اتمه مسره ۱۱ څپې لري.

## ۷- مقام:

ځيني پښتانه يې رباعي هم بولي، پښتانه ولسي مجلسيان يې د مجلسونو په پيل کې وايي، مقامونه نسبتاً ورو، اوږده او په داسې تال او اهنګ ويل کېږي، چې ټول مجلس چوپ شي او پوره غوږ يې نيولی وي، کله چې مقام خلاص شي نو سندرغاړی سم لاسي لوبه، چاربيته او يا بګتۍ يا غزله پيلوي، چې اوربدونکي سم له لاسه له هغه ارام او غلي حالت نه راوينس او په شور او زوږ يې راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مقامونو مضمون معمولاً ټولنيز او اخلاقي وي او د پند او عبرت ښه مطالب لري، عشقي مقامونه هم شته، مقامونه لکه د دېواني غزلو داسې جوړښت لري، د لومړي بيت دواړه مسرې يې په يوه قافيه وي او د نورو بيتونو لومړۍ مسرې يې له قافيې نه ازادې او دويمې مسرې يې له لومړي بيت سره قافيه تړي. له درېو څخه نيولې تر پينځو او شپږو بيتونو پورې وي. د مقام هره مسره دولس يا يوولس څپې وي له دېواني غزلو سره يې توپير دادی:

يو خو يې ژبه ډېره ساده، عام فهمه او ولسي وي او بل د ولسي سندرو د قافيه تړنې پر اساس د سره ورته غږونه قافيه کول په کې عادي خبره ده، ځکه دغه سندرې په شفاهي بڼه منځته راغلې، نه په ليکنۍ بڼه. بل دا چې ويونکی يې ولسي شاعر وي، د سېلابونو شمېر يې يوولس يا دولس وي. دا چې د ولسي سندرو دغه فورم ولې مقام بولي بايد ووېل شي چې د مقام نوم ورسره په څو سببه وړ دی:

۱- دا چې د مقام لغوي مانا (ځای) دی او دغه سندرې د پښتو په ادبي مجلسونو کې تر چاربيتو، غزلو، بګتيو او بدلو څخه مخکې ويل کېږي، په دې حساب نو مقام د مجلس پيل او د نورو ولسي نظمونو لپاره انتظام برابروي او خلک دې ته متوجه کوي چې خپل ځايونه ونيسي او په کراری سره مجلس واوري.

۲- دا چې په مقام کې پندونه او نصيحتونه بيانېږي، نو کېدی شي چې سړی د مقام پر موضوعاتو عمل وکړي او يو لوړ اخلاقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقام ونیسي، له دې کبله چې دا وروستۍ خبره سمه او مانا لرونکې ده او نوم له نومول شوي سره برابر دی، دا سندرې په دې نامه یادې شوې دي، که چېرې دا سندرې مقام وبولو، نو یوه بله ګټه به مو هم کړې وي او هغه دا چې د دېواني سندرو له رباعي سره به مو د مغالطې مخنیوی کړی وي. دلته به د ولسي شاعر ګلستان یو مقام چې په دغه مقام کې د (بحث) د کلمې عامیانه تلفظ (باس) له لباس او خلاص سره قافیه شوی دی. دا مقام ټول پنځه بیته دی چې څلور بیتونه یې دلته د بېلګې په توګه راوړو:

د کم اصلو له یارۍ نه واخله لاس
مه غولېږه د هغو په تش لباس
د کم اصلو یارانه د خره سورلي ده
عاقبت به دې په کنده کړي راخلاص
له کم اصلو نه وفا کله مونده شي
دا متل دی په هر ځای کې عام و خاص

چې له لرې نه یې ګورې ورنه تښته
ګلستانه ورسره مه کوه باس(۱۷: ۸۹-۹۱)

یادښت: سره له دې چې زموږ یو زیات شمېر ادبپوهانو او لیکوالو ((مقام)) یو ځانګړی جلا ادبي فورم بللی، خو زه چې دې فورم ته ګورم، له غزل سره یې په هندسي جوړښت کې کوم خاص توپیر نه شته، نو ځکه ویلای شو، چې ((مقام)) یوه محتوا ده نه جلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړی فورم. تر هغه پورې چې زموږ ادبپوهان په مطلق ډول (مقام) یوه محتوايي مسئله وګڼي نه شکلي، تر هغه پورې زه په دوديز ډول (مقام) د همدې فورمونو په چوکاټ کې محاسبه کوم، خو بيا هم زما نظر او وړانديز دادی، چې مقام فورم نه دی، محتوا ده.

## ۸- بدله:

د پښتو په ځينو سيمو کې په عام ډول ټولې ولسي سندرې لکه: لنډۍ، سروکي، د واده سندرې، چاربيتې، نيمکۍ او نورې بدلې بولي، خو دلته زموږ مطلب د ولسي خاصو سندرو له هغه ځانګړي فورم څخه دی، چې پښتانه مجلسيان يې ملي غزلې يا ولسي غزلې بولي.

دغه سندرې هم لکه د ولسي سندرو د نورو فورمونو په څېر د عربي عروضو او بحرونو په شعري چوکاټ کې نه ايساريږي او د اريايي ژبو د شعرونو په شان د سېلابونو او څپو پر بنسټ ويل کېږي.

بدلې عموماً شفاهي دي او مجلسيان يې خوله پر خوله يو بل ته سپاري خو د بدلو ليکلې او پخوانۍ بېلګې هم لرو؛ تر اوسه زموږ په ليکلو اسنادو کې د شيخ بستان بړيڅ بدله له لومړنيو لاسته راغلو بدلو څخه ده، چې د لسمې پېړۍ په وروستۍ لسيزه کې تر زرم کال وړاندې ويل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلې له شکلي پلوه په لومړي سر کې پر ساده او سپرو بدلو وېشل کېږي او بيا يې هر ډول په خپل کور کې د مسرو د شمېر او مسرو د اوږدوالي لنډوالي او برابروالي پر اساس پر ډېرو نورو برخو وېشل کېږي. د بدلو هر بند اکثراً تر دوو مسرو زيات وي، چې کله يې هر بند درې مسرې، کله ځلور مسرې او کله لا زياتې مسرې هم لري، چې د (خلکو سندرې) مولف په شکلي لحاظ بدلې پر پينځلسو ډولو وېشلي او که پلټنه وشي ښايي تر دې هم زيات ډولونه ولري.

ولسي بدلې لومړی يو کسر (مطلع) لري او ورپسې يې بندونه وي، کسر يې له يوې اوږدې او يوې لنډې مسرې څخه جوړ وي، چې بيا د قافيه يې ترون له مخې له هر بند سره قسماً يا ټول تکرارېږي. د ساده بدلې په بېلګه کې د شيخ بستان بړېڅ (۱۰۰۲هـ کال مړ) د بدلې سر او يو بند راوړو:

مطلع:

اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ما

راسه ګذر که پر ما

بند:

د خوږو زړونو له حاله ته يې ای باداره اګاه

يې د بېوزلو همراه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل عزت په روی(بستان) ته کړه مهر ښندل

کړي له ګناه ګوابښل

اوښکي مې ځاځي پر ګرېوان يو وار نظر که پر ما

راسه ګذر که پر ما

په دې ډول بدله کې يو ځل د سر لومړی بيت چې يوه مسره يې اوږده او بله يې لنډه، ياني تقريباً د هغې تر نيمايي وي. د بند هره اوږده مسره يې تقريباً د لومړي بيت له اوږدې مسرې او لنډه يې له لنډې سره برابره وي. د بند هر بيت په خپل منځ کې هم قافيه وي او د بند په پای کې د بدلې لومړی بيت بيا تکرارېږي.

سپره بدله، د بدلې بل ډول دی، دې کې ګڼ شمېر قافيې موجودې وي، دې ډول بدله کې هم د مسرو اوږدوالی او لنډوالی موجود وي، خو د سر د لومړي بيت د مسرو له اوږدوالي او لنډوالي سره يې د بندونو د مسرو اوږدوالی او لنډوالی برابر وي. دلته د ښاغلي جرار د سپري بدلې کسر او يو بند وړاندې کېږي:

مطلع:

دا دی جنګېږي د ګوګل دپاسه هار که مار

چې لري زار په خوار کوي تاثير

بند:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ما شوې تېرې ستا په مينه کې خوارۍ زارۍ
لاس د يارۍ جارۍ راکړه محکم
پرسان مې وکړه ساه مې راغله تر مرۍ پرۍ
زلفې چورۍ نرۍ رقم رقم
ورکړه چې بايلو زړه صنم ستا په رخسار انار
سينه ګلزار ((جرار)) مه کړه تاخير.

## ۹- لوبه:

لوبې هم د ولسي خاصو سندرو يو ځانګړی او جلا شعري ډول دی، چې له بګتيو څخه هم چابکې ويل کېږي. لوبې تر ډېره حده د لنډيو په خم کې رنګ شوي، کله کله يې بندونه لنډيو ته ورته جوړښت خپلوي او کله بيا په وزن او رواني جوړښت کې لنډيو ته ورته بندونه لري.

ځينې کسان لوبې له بګتيو سره ورته بولي، په داسې حال کې چې لوبې د يوه ځانګړي شعري فورم په توګه له بګتيو سره يو د ويلو پر وخت توپير لري او بل دا چې د لوبو دکسر مسرې اکثره وخت سره په يوه قافيه وي او بګتۍ بيا په مجموعي ډول دا شان نه دي. لوبې له نيمکۍ سره هم جوت توپير لري، ځکه په نيمکۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډۍ کټ مټ راوړل کېږي او په لوبه کې په خپله لنډۍ نه راځي او بل دا چې لوبه د ولسي سندرو له عمومي برخې سره چې ویونکي یې معلوم وي، اړه لري. دلته به د لوبې یوه بېلګه راوړو چې ولسي شاعر محمد نور ویلې ده:

لوبه:

غمونه لرې کړه له ما عاجز غمګینه

راتاو شه لونګیه

ودې ویشتم روغه دې نه کړم

نوره یاري درسره نه کړم

بل دې په سرو شونډو نتکۍ زانګي مینه

راتاو شه لونګینه

✵✵✵

پاس په بامو ګرځې کوترې

زما د خوږ زړګي دلبرې

چې شال پر سر کړې ښنګه ښه ښکارې سنګینه

راتاو شه لونګیه

✵✵✵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محمد نور فقیره بخته

ځنګه راپرېوتې له تخته

بخت مې کوږ شو اس مې لاړ سره له زینه

راتاو شه لونګینه (۱۷: ۱۰۱-۱۰۶)

په دې ډول لوبه کې د سر لومړۍ مسره اوږده او دویمه لنډه وي. بیا د هر بند دوه لومړۍ مسرې په خپل منځ کې هم قافیه وي او هم یې څپې سره برابرې وي. د بند درېیمه مسره د لوبې د سر بیت (کسر) سره په قافیه او د څپو په شمېر کې یو شان وي او ورپسې د سر بیت دویمه مسره د تکرار په ډول راځي.

## ۱۰- داستان:

داستانونه د ولسي ځانګړو سندرو د یوه ځانګړي فورم په توګه د شکل او مضمون دواړو له پلوه ځانته خاص سکښت او بېل جوړښت لري او د ولسي ادب هر څېړونکی پر دې پوهېږي، چې زموږ ولسي ادبیات د مضمون له پلوه، زموږ د ولس د قامي ژوند هنداره او د شکل له پلوه هم زموږ د ژبې خاص ملي اهنګونه دي، چې زوړ اریایي اساس لري او پښتنانه مجلسیان یې په ځانګړي وزن او خاصه لهجه وایي. داستانونه هم د ولسي خاصو سندور د نورو فورمونو په څېر اوږده ماضي لري او د لومړي ځل ویلو ځای او نېټه یې معلومه نه ده، یوازې د داستانو هغه بېلګې چې د پټې خزانې په واسطه لاسته راغلي، څلور سوه کلن عمر لري؛ په پټه خزانه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دحافظ عبدالطيف اخکزي د (سوی او اوښ) فولکوریک کومیډي او انتباهي داستان راغلی، چې دلته يې يو کسر او يو بند وړاندې کېږي:

غوږ ونیسئ یارانو د اوښ او سوی قصه سوه
خورا ډېره خوږه سوه

یو سوی د اوښ اشنا سو
بې حده یې همرا سو

یاري به يې کوله یو له بله يې یارانه سوه
خورا ډېره خوږه سوه

داستان د ډېرو اوږدو مضامینو د بیان لپاره پوره زغم لري. مطالب يې عموماً فولکوري، دیني، رزمي او تاریخي وي، لکه په اخلاقي برخه کې د ولسي شاعر غلام شاه د حاتم طايي د سخاوت روایتي داستان.

په وړاندې زمانه کې یو فقیر و مستانه
غوښته يې شهزادګۍ پاچا ته ودرېده

په عشقي برخه کې د سیف الملوک او بدرۍ جمالې داستان:

روان شو شهزاده سیف الملوک باغ ارم ته
سفر د جدایۍ دی رخصت غواړي له پدره

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دیني برخه کې د حضرت ابراهیم خلیل الله د صداقت، حق او رښتیا ویلو روایتي فولکوري داستان

د نمرود په زمانه کې

راغلی په کیسه کې

پیدا شو ابراهیم خلیل الله دوست د اکبر و

بېشکه پیغمبر و

داستان ویونکی د داستان ویلو پر وخت د تفریح او جلب لپاره لنډۍ هم وایي، چې د داستان خوند نور هم زیاتوي. ځینې پوهان او ادیبان د ولسي خاصو سندرو دغه فورم عربي مثنوي او قصیدو سره یوشان بولي او وایي چې ولسي داستانونه د عربي مثنوي او قصیدې په پیروۍ ویل شوي دي. باید ووایو چې دلته داسې ډېر دلایل شته، چې د هغو له مخې موږ ولسي داستانونه له کتابي مثنوي سره یو ډول نه بولو او لومړی اریایي فورم او دویم تقلیدي شکل ګڼو، لومړی دا چې د ولسي داستان د زنځیر د سرکړۍ له لرغونو اریایي سرودونو سره نښلي او د عربي مثنوي او قصیدو په پیروۍ نه دي ویل شوي. د ولسي داستانونو ویونکي معمولاً ولسي او نالوستي شاعران دي. دغه ولسي سندرې ټولې قافیه یي ازادۍ لري او هغه شرطونه چې په مثنوي او قصیدو کې شته، ولسي داستانونه یې پر منلو مکلف نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ولسي مثنوي ډوله داستانونو په خبر نورې سندرې هم په پښتو ادب کې لرو، چې مثنوي ته ورته دي، لکه د بېت نیکه مناجات، د شکلي جوړښت له مخې دغه مناجات هم د مثنوي په ډول دي، خو د تذکرة الاولیا مولف یې سندره بولي. دغه ډول د کاکړیو فورمي جوړښت هم د مثنوي په ډول دی، مګر هېڅ‌ چا له مثنوي سره یو شی نه دی بللی او نه یې مثنوي ته غاړې ویلې دي. دا هم د ولسي داستان یو څو بیتونه:

خـــان بابـــا د چکـــدرې چـــې پـــه ســـفر لاړ
لــــه دنیـــا نـــه د حـــق لـــور تـــه برابـــر لاړ
ظریف خان لعل بېګ ترې پاتې ماشومان شول
مـــورېې مخکـــې مـــړه وه دواړه یتیمـــان شـــول
چـــې یـــې لـــور بـــي بـــي کـــو پـــاتې شـــوه یتیمـــه
یرېـــده بـــه لـــه دښـــمن ظـــالم غلیمـــه

دا هم د یوه بل داستان یوه برخه:

نـــن مـــې ولیـــد عجیبـــه ښـــکلی داســـتان
طلســـمات بـــه درتـــه واړه کـــړم بیـــان
د یمـــن یـــو شـــهزاده و زمـــا یـــاره
یوه ورځ ښکار ته وواته له ښاره (۱۷: ۹۶-۹۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ډول داستان په پښتو کې په څو ډوله دی. مثلاً د حافظ عبداللطیف خان اڅکزي د (سوی او اوښ) فولکوریک کومیډي او انتباهي داستان داسې دی، د کسر لومړی مسره اوږده او دویمه یې لنډه، خو دواړه په خپل منځ کې هم قافیه وي. ورپسې بند راځي. د بند د سر لومړی دوه مسرې په خپل منځ کې هم قافیه او لنډې دي. دریمه مسره یې د کسر له لومړی مسرې سره په اوږدوالي او قافیه کې یو شان وي. د بند څلورمه مسره هماغه د کسر د دویمې مسرې تکرار دی.

د حضرت ابراهیم خلیل الله د صداقت داستان په دې فورم کې دی، چې لومړی دوه لنډې هم قافیه مسرې چې تقریباً په څپو کې برابرې دي، ورپسې یوه اوږده مسره چې د هغو دواړو مسرو د څپو له مجموعي شمېر سره یې څپې برابرې دي او ځانته بېله قافیه لري، ورپسې یوه لنډه مسره راځي، چې په قافیه کې له دریمې او په څپو کې له دویمې مسرې سره برابره وي.

بل ډول داستان چې زیات عمومیت لري، دا دی، چې هر بیت یې ځانته قافیه لري، خو د ټولو بیتونو دمسرو دڅپو شمېر یې سره برابر وي.

یادښت: د داستان په باب به دا خبره معقوله وي، چې ووایو داستان داسې یوه محتوا ده، چې په بېلابېلو شعري فورمونو، لکه غزل، قصیده، مثنوي او د پښتو نظم په نورو ولسي فورمونو کې ځایېدلای او دا فورمونه ورته کارېدلای شي، خو ددې ترڅنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې ځانګړې فورمونه هم شته، چې د پښتو له نورو ولسي شعري فورمونو سره ورتوالی لري، خو د داستان لپاره کارول کېږي، خو بیاهم دې ډول ولسي فورمونو سره توپیر په کې لیدل کېږي، که دې ډول فورم یا فورمونو ته چې له نورو فورمونو سره څرګند توپیر ولري، د داستان فورم نوم ورکړل شي، له معقولیت څخه به لرې نه وي، خو په مجموعي ډول داستان تر زیاته حده کیسه ییز بیان دی چې په بېلا بېلو فورمونو کې وړاندې کېدلای شي.

## ۱۱- بګتۍ:

په پښتو ولسي شعرونو کې دغه فورم ځانته د خوند او رنګ بېل بازار لري، بګتۍ پښتانه مجلسیان او سازیان له مقام، چاربیتو او بدلو څخه کله وروسته او کله هم په منځ او پای کې په یوه ګرم تال او وزن، خو په ورو او نرم اواز (اهنګ) د مجلس د رنګ د بدلولو او د اورېدونکو د خوښۍ او خوشالۍ زیاتولو لپاره وایي. د بګتیو د اورېدلو پر وخت په مجلس کې ټول حاضر کسان په ولولو راځي، اتومات ټول ښورېږي او له مجلس نه خوند اخلي.

بګتۍ هم د بدلو او چاربیتو په څېر کسر لري، خو کسر یې معمولاً یو بیت (دوه مسرې) وي. بندونه یې هم ډېرې مسرې نه لري او په عمومي توګه د څلورو مسرو په شاوخوا کې وي. د بندونو شمېر یې هم محدود وي، خو بیا هم د بګتیو د بېلا بېلو بېلګو خپلمنځي توپیرونه ډېر دي. په بګتیو کې هم هر ډول عشقي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخي او افسانوي کیسې په لنډ ډول بیانېږي، دا یې هم یوه بېلګه ده:

وزیرســـــــتان بانـــــــدې جنګونــــــه
انګرېـزان وایـي چـې سبا بـه جنـګ لـه ځونـه
انګرېــز ویلــي چــې خاونــده څــه اســرار دی
پــه سترګو نــه وینم غازیـان، پـه مـا ډزهـار دی
نصـیب مـې نـه شته، برې، بنـد مـې شـو توپونـه

فقیــــر ویلـــــي دا ســـــتا لاس دې را دراز وي
کــه د بغـداد مېرنـــی ځـوان زمـــا همـــراز وي
پـــه شـــان د ختـــو بـــه دې بنـــد کړمـــه بمونـــه

وزیرســـتان بانـــدې خـــو نـــن ســـبا جګـــړې دي
غازیـــانو لاس کـــې پـــولادي تـــورې تېـــرې دي
ما شېر افضل یې په شعرو کړل صفتونه. (۱۷: ۹۸-۹۹)

دا ډول بګتۍ د سر بیت د څپو د شمېر له مخې له لنډیو سره یو شان وي. یانې دا چې د لنډۍ لومړۍ مسره هم نهه او دویمه دیارلس څپې ده، خو په وزن کې هغه وزن نه لري چې لنډۍ یې لري خصوصاً لومړۍ مسره د بندونو دوه مسرې یې په خپل منځ کې هم قافیه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریېمه یې د کسر یا د سر بیت له قافیه سره یو شان وي. د بګټۍ سر بیت له لومړۍ مسرې پرته نورې ټولې مسرې د څپو په شمېر کې سره مساوي وي.

پر پورتنیو یادو، څرګندو او مطرحو فورمونو سربېره په پښتو ولسي ادبیاتو کې د نظم یو شمېر نور داسې فورمونه هم شته، چې په هغو کې د ولس ځینو ستونزو، ربړو، دودونو، تاریخي روایاتو، نیمګړتیاوو، دردونو، ناخوالو او د چاپېریال پېښو انعکاس موندلی دی. دا فورمونه په دې ډول دي:

منظوم فالونه، د بې بې دستې سندرې، لنډکۍ، سولې، برغازي، سلسلې، انګۍ یا چغیان، د میندو سندرې، د ماشومانو سندرې، د وړو مشاعرې، کیسې، د ځوانانو سندرې، محلي پارچې یا ولسي ننداري، ساندې، نکلونه، د ښادۍ سندرې، تاریخي نارې، سنځر خېلې نارې، د مروتو کسرونه، سوزخواني او ځینې نور. څرنګه چې د نظم دا پورتني فورمونه د پښتو نظم د ځینو نورو ولسي فورمونو لکه لنډۍ، سروکي، کاکړي غاړې، د اتڼ نارې، ببولالې، چاربیتې، بدلې، لوبې، بګټۍ او نورو په شان ډېر دود او اغېز نه لري، نو دلته یې یوازې د هره یوه د بېلګې په راوړلو سره بسنه کوو.

منظوم متلونه:

چې ډول دې وي په څنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لــه وهـــلو يـــې څه ننګ

❋❋❋

امير چې ظلــم كـار وي

اور بل پر تهول ديار وي

فالونه:

د جــنت پــه مــنارې

سور چرګ وهي نارې

شېر د خداى تــبرېږي

خلكو كاندئ نندارې

د بي بي دستې سندرې:

د دوهـــۍ ملنګـــې ســـر دې ولـــې تـــور دی

ســـر مـــې داســـې تـــور دی پـــر مـــوږ هـــم

ښــــه لـــوی ديـــن د محمدرســـول الله دی

لا الـــــــه الله محمــــــــــد رســــــــول الله

برايــــــــي د شـــــــېرعلي د لـــــــور واده و

ملكـــی پـــه ورا رالـــی لـــه ښـــه زړګـــي يـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ســــــــترګو کســـــــــي ســـــــره وو
ښــــه لــــوی دیــــن د محمدرســـول الله دی
لا الـــــــــــه الله محمدرســـــــــــول الله

لنډکۍ:

تــه چــې جــواري کــړې مــا بــه بایــه کــړې مینــه
مـــه راپســـې ژاړه ووړکیـــه نـــه مـــې درکوینـــه
جــګ کــړه مړوندونــه جلــۍ غبــږې لــه درځمــه

شولې:

شولې ټکومه ټکوم تا به واده کمه
په خدای مې دې قسم وي وپلاني ته به دې ورکمه
شولې ټکومه ټکوم زه پلانی نه کوم
په خدای مې دې قسم وي پلانی زوړ دی که یې وه کمه
شولې ټکومه ټکوم تا به وده کړمه
په خدای مې دې قسم وي و پلاني ته به دې ورکمه
شولې ټکومه ټکوم زه پلانی نه کوم
په خدای مې دې قسم وي پر ما لوی دی که یې وکمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

برغازي:

بــــــازار میــــــان دی خــــــولګۍ راوړه
چــــــرګ اذان دی خــــــولګۍ راوړه
لــــــوړ ســــــهار دی خــــــولګۍ راوړه
زمــــــا تلــــــوار دی خــــــولګۍ راوړه

✵✵✵

راځــــــه وړې راځــــــه چــــــې ځــــــو
د ګــــــل ګېــــــډۍ راځــــــه چــــــې ځــــــو
نــــــن ســــــبا راځــــــه چــــــې ځــــــو

✵✵✵

الکــــــانو کــــــور مــــــه چېــــــړې دی
د لال ټکــــــر مــــــه چېــــــړې دی
دمســــــتۍ غــــــولی مــــــه چېــــــړې دی

سلسلې:

راوتلــــــی پــــــر ســــــحر یــــــم
زه د ښــــــو نجونــــــو اجــــــل یــــــم
پــــــه شــــــان د ســــــپینکي مــــــار یــــــم
د هــــــر چــــــا تــــــر اوده تــــــر یــــــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګۍ یا چغیان:

زه په خپل کور کې وم په راحت
بابک خرڅه کړم په ډېر دولت
په پردي کور کې مې نشته عزت
خود به ژړا کړم په هر ساعت

✵✵✵

شینکۍ کوتره وم ښوربدمه
نه چا نیومه نه چا کتمه
په هر یو ټکي به پربوتمه
نن ناولده یې کېنستمه

د ورومشاعرې:

ددې ځای اور سیچو
چرګه راغله بې بچو.

ددې ځای او ددې ډنډه
تیر پروت دی شل برغنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تـــــــــه وايـــــــــــه غـــــــــنم
# خبـــــــــــــــرې دې مـــــــــــــنم.

کیسۍ:

په یورپ ځي اسمان ته

چار چاپېره ټول جهان ته (د سترګو لید)

دپاسه راغی سور بلوڅ

اغوستي يې دي پنځه پنځوس (پیاز)

د ځوانانو سندرې:

ابکه له کمه رالې

له بلخ و بخارا

په شا دې څه شی دي

وربځ او باران

ماینې دې څو دي

ویل یې اووه

نومونه یې څه دي

ویل یوه چیختـه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بخته ده

یو ترګوګ لاندې ورسته ده

یوه اسمان ته غړېده

پچکولمه یې وشلېده یوه سپینه زلیخا ده.

## محلي پارچې یا ولسي ننداري:

### ۱- تمثیلي پارچې:

وئ وئ مرم ابۍ

بچی کوم ځای دې خوږېږي

بچی کوم ځای دې خوږېږي

ابۍ ګېډه مې خوږېږي

ابۍ ګېډه مې خوږېږي

ګولۍ به درته راوړم

نه خورمه ګولۍ

دا ګولۍ له زارو ډکې دي

نه خورمه ګولۍ

دا ګولۍ له زارو ډکې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابیٰ ګېډه مې خوږېږي

بچی کوم طبیب دې خوښ دی

بچی کوم طبیب دی خوښ دی

دا (پلانکی) خان طبیب مې خوښ دی پرې رغېږمه

نه خورمه ګولۍ دا ګولۍ...

۲- کميډي پارچې:

ما بورې نانګه خوړل

زامن مې بلا وخوړل

هی هی اجي ډومبک

ما بورې ګذر راوړی

دوی د خاورو ډک خوړلی

هی هی اجي ډومبک

۳- عادي پارچې:

د یوې تاریخي پېښې په باب:

نـــواب مـــړ کـــړ پـــه ځنګلـــه کـــې نوابـــه ګـــل

وینـــې یـــې راغلـــې پـــه راده کـــې نوابـــه ګـــل

د نـــــواب ســـــترګې غتـــــې نوابـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه هـر میـدان یـې اړوي لکـه سـکروټـې نوابـه ګـل
نـــواب دې پـــټ مـــې تېرویـــه نوابـــه
دلته مې خور ده او ورور مـه راخبروئ نوابه ګل.

ساندې:

په لنډیو کې ساندې:

(پلانکی) د خاورو لایق نه دی

دا (پلانکی) دې ورته جوړه کړي بالکۍ په سینګارونه

که نور دې هر څه میراتېږي

میرات دې مه شه دا د غاړې تاویزونه

بې وروره خور په کوڅه راغله

ناره یې وکړه شپه به چا کره کومه

د نکلونو نارې (غږونه):

لکه د ادم او درخو په نکل کې چې د درخو رویباره (استازې) ادم خان ته د درخو احوال وروړي، نو ادم پر خپلې ښځې توتیا داسې غږ کوي:

(نکلچي وايي) ادم وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما توتیا عزت یې وکړه

دغه استازی د درخو راغلی تاته

کله چې درخانۍ د خپلې ملګرې بسوګۍ واده ته ځي، نو مور یې منع کوي او داسې غږ کوي:

ته چې دې واده ته ځې سلا مې نه ده

اوس وتنه د همداسې نجونو نه ده

درخو وایي:

تر قیامته به کوې تورې ماتورې

ځان به جوړ کړم دواړه سترګې به کړم تورې

د بسو واده ته ځم ادکۍ مورې.

د ښادۍ سندرې:

د کونج مېرمنې پاڅه که دې زړه شي

هومره خو پانه څې چې پلانکی خان دې لونګۍ په لاس درته رانه شي

✵✵✵

زموږه ناوې تیله داره ده نه ژاړي

چې د (مېږه نوم یې اخلې) لغتې وخوري دا به ښه ژاړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخي نارې:

د هوتکو د دورې:

څوک خبر وو چې تقدیر به کوي داسې

شاه حسین به نادر نیسي

بیا به یې نورې د ایران ته بندي باسي

د احمدشاه بابا د وخت:

که زمری دی شاه ولي د جنګ زمری دی

له سنګرو یې ایستلی مېړنی دی.

سنځر خېلې نارې:

سعدالله ول په پښې کې مې اځغی دی

اځغی مه راځخه کاږه

تر ما لاندې د اودولو اوسلی دی

شاه نادر ویل زما له دا غونډیه ډار سي

دوست محمد پروزلی

دوست محمد پرېکړې راولیاړ سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مروتو کسرونه:

پروفیسور محمد نواز طایر د مروتو د کسرونو په باب وایي: ((د پښتو ادبیاتو تاریخ قدیمي هم دی او وسیع هم. ددې ژبې ابتدایي شاعري چې اوس په خپل هغه روایتي رنګ کې موجوده نه ده، خو د ویدونو او اوستا په ګاتو او اشلوکونو کې محفوظه ده، دا د لنډې بحر شاعري ده، ولې اوس یې په پښتو کې د اوو سېلابو د مثنوي په صورت کې رواج موجود دی.

ددغې ژبې ددغه قدیم شعر یو قسم د (لرلیکل یا غنایي) شاعرۍ دی چې دا صنف په یوناني ادب کې د (هومر) په (اوډیسې) نومې عالمګیره منظومه کې لیدل کېږي او دغه لریکل شاعري چې په پښتونخوا کې د مروتو د کسرونو په رنګ کې دوام لري، لا اوس هم ژوندۍ او مقبوله ده.)) (۲۹: ۱۱-۱۲)

د سر (مطلع) یو دوه بېلګې:

ډېرې اند ېښنې مې په زړګي شوې راچاپېرې
ښکلې محبوبه پېزوان په شونډو رپېده

د مروتو یو کسر:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په تا باندې بڼیا هغه به وشي

چې په تا باندې بڼیا نوره به نه شي

سلطان خېل موسیان ګنجیو لشکري شي

الهي په تا باندې راولې خواري

خواري په تا باندې راولې آه سخته

سوز خواني:

د نورالله شاعر یوه سوز خواني:

یارانو ټول په وسلې وو یو لاسونه

نن بهار دی کربلا

شامیان نږدې شو ورته وتړو صفونه

تور غبار دی کربلا

ورځ د لسم دی د علي د زویو ننګ دی

بېدار شو وخت د جنګ دی

عباسه وروره مخکې واخله نشانونه

نن ګلزار دی کربلا. (۱۷: بېلابېل)

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر پورتنیو بېلګو سربېره په بېلابېلو سیمو کې د پښتو ولسي ادبیاتو نورې بېلګې هم شته چې ډېره محلي بڼه لري او دلته یې له څېړنې تېرېږو.

## د پښتو د ولسي ادبیاتو ارزونه او شننه:

د پښتو ولسي ادبیاتو د فورمونو تر پېژندنې وروسته به ګرانو لوستونکو او خوږو محصلینو ته څرګنده شوې وي، چې پښتو ژبه د شفاهي ادبیاتو یوه بډایه زېرمه لري، د پښتو د شفاهي ادبیاتو خزانه بېلابېل ډولونه لري، دا ډولونه دومره ډېر او رنګارنګ دي، چې د سیمې په نورو ژبو کې کېدی شي شفاهي ادبیات دغسې ډېر ډولونه ونه لري.

د پښتو د شفاهي ادبیاتو خزانه لکه چې تاسې ته معلومه شوه، ځینو ښاغلو پښتو څېړونکو او فولکلور ټولوونکو راټوله کړې ده، خو ددې شفاهي ادبیاتو یوه عمده زېرمه لا په ولس کې خوره ده او د ټولولو انتظار باسي.

دا خبره باید هېره نه کړو چې د پښتو شفاهي ادبیات په ګردو هغو پښتني سیمو کې پیدا کېږي، چې هلته لا د ښاري ژوند مناسبات نه دي باب شوي او خلک د خپل کلیوالي ژوند د شرایطو تابع دي.

ددې خبرې مانا داده چې شفاهي ادبیات په هغو سیمو او خلکو کې د رامنځته کېدو او ایجاد زمینې لري، چې سواد په کې عام نه وي، کله چې په یوه ټولنه کې سواد څه عمومیت پیدا کړي، نو هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا د شفاهي ادبیاتو د پیدا ښت زمینې محدودېږي او ځای یې لیکلي ادبیات نیسي.

«د پښتو د شفاهي ادبیاتو کومه ذخیره چې تراوسه راټوله شوې ده، د هغې له مطالعې څخه سړي ته ددې ډول ادبیاتو ځینې ارزښتونه ځرګندېږي، چې دا ارزښتونه په لاندې ډول ښیو:

۱) د پښتو شفاهي ادبیات سره له دې چې د خپلو شکلي جوړښتونو له پلوه رنګارنګ دي، دغه ډول د پښتنو د اجتماعي، ملي، سیاسي او فرهنګي ژوندانه ټولو خواوو، ددې ادبیاتو په بېلابېلو ډولونو کې انعکاس موندلی دی او ددغو ادبیاتو له څېړنو څخه موږ د پښتنو د فرهنګ په څېړنه کې ډېره دقیقه استفاده کولای شو.

۲) هغه څه چې د پښتنو د ژوند د بېلابېلو خواوو په باب په دې ادبیاتو کې بیان شوي دي، ډېر طبیعي رنګ لري له هر ډول لاسوهنو او تصنعي خبرو څخه پاک دي.

د اجتماعي څېړنو د بېلابېلو برخو څېړونکي کولای شي، ددې ادبیاتو په ځینو ډولونو کې له ځینو بیان شویو خبرو څخه د اصلي او اساسي موادو په توګه استفاده وکړي.

پښتو شفاهي ادبیات د خپلو اجتماعي ارزښتونو ترڅنګه په هنري لحاظ هم د بحث وړ ادبیات دي. ددې ادبیاتو په ځینو ډولونو کې ښکلا او تصویرونه په ډېر لوړ هنري انداز سره غاړه غړې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴) پښتو شفاهي ادبيات د پښتنو د عام ولس او د دوی د کليوالو خلکو د هنري ذوق او فکري ودې د ځرګندولو په بهير کې خپل نقش لري.

ددې ادبياتو مطالعه دا راښيي، چې که زموږ عام ولس له ښاري او متمدن ژوند څخه لرې په غرو، درو، بيدياوو، دښتو او کېږديو کې هم ژوند کړی دی، د هنري ذوق ترڅنګه يې د اجتماعي او محيطي مسايلو په باب خاص فکر هم درلود. د دوی دغه ډول فکري او هنري ځانګړنې (خصوصيات) موږ ددغو ادبياتو په بېلابېلو ډولونو کې ليدلای شو.

لنډه دا چې پښتو ژبه د خپلو ليکلو ادبياتو ترڅنګه د شفاهي ادبياتو داسې قيمتي ذخيرې هم لري، چې موږ يې د پښتو د ادبي تاريخ په مطالعاتو کې له پامه نه شو غورځولای.)) (۵۳: ۲۰-۲۲)

دلته ددې بحث په پای کې يو ځل بيا يادونه کوو چې د پښتو ولسي ادبياتو دا برخه مو ځکه پورته تشريح کړه چې قدرمن لوستونکي او خوارېه محصلين د خپلو ولسي ادبياتو له زېرمې لا پسې ښه خبر شي. سره له دې چې ددې ادبياتو يو زيات شمېر بېلګې په لرغونې دورې پورې اړه نه لري، خو شکلونه يې له ډېرې پخوا زمانې څخه رامنځته شوي او ځينې بېلګې يې هم د لرغونې ادبي دورې زمانې محدودې ته وردا خلېږي.

د خپلې ولسي ادبي پانګې او د هغې د جوړښتونو تر پېژندنې وروسته اوس بېرته خپلې موضوع دويمې برخې ته راځو او هغه دا چې په لرغونې ادبي دوره کې له نورو ژبو څخه کوم ادبي فورمونه پښتو ته راغلي او يا پښتو هغه خپل کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له نورو ژبو څخه د نظم راغلي فورمونه

د پښتو اثارو کوم اسناد چې تر موږه رسېدلي دي، ددغو اسنادو له مخې د پښتو تر ټولو پخوانی لیکل شوی او ثبت شوی ادبي اثر د دویمې هجري پېړۍ دی.

له دویمې هجري پېړۍ نه تراوسه پورې په زرګونو شاعران، ناظمان او لیکوال په دې ژبه کې تېر شوي دي، چې په پښتو ژبه یې کتابونه لیکلي او د اشعارو دیوانونه یې ترتیب کړي دي او له نورو ژبو څخه یې اشعار او اثار په پښتو ترجمه کړي دي، چې دغه ګرده اثار اوس زموږ لیکلي فرهنګي زېرمه جوړوي، خو په خواشینۍ سره باید ووایو چې ددې لیکلو اثارو یوه ډېره درنه برخه د زمانې ناخوالو زموږ له لاسه تروړلې ده. په مجموعي ډول دې ته ځکه ټوله فرهنګي زېرمه وایو چې ددې نږدې لسو پېړیو په بهیر کې ټول لیکل شوي اثار ادبي، هنري ارزښت نه لري او موږ له خپل تعبیر سره سم دلته یوازې د هنري، ادبي ارزښت لرونکي اثار په ادبیاتو کې راولو او په دغه کتاب کې بحث باندې کوو.

د پښتو د لیکلو اثارو کومه زېرمه چې اوس معلومه ده، په هغو کې منظوم او منثور اثار شامل دي، چې په منثورو کې له مسجع او قافیه والو نثرونو نه نیولې د نن ورځې تر روانو، ساده او د هنر او ښکلا په ګاڼه سمبال نثرونه هم شامل دي.

او په منظومو کې موږ په عام ډول څلور ډوله شعري ژانرونه وینو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱) **د پښتو لرغوني سندرې:** ((دا ډول سندرې د خپلو شکلي جوړښتونو له مخې نه د شرقي شاعرۍ له دېواني شعري ډولونو سره کټ مټ یو شی دي او نه یې ټولې ځانګړتیاوې د پښتو له ولسي سندرو سره یوشانوالی لري. نو همدا علت دی، چې زموږ ځینو منلو ادبپوهانو، لکه ښاغلي حبیب الله رفیع دا ډول سندرې د پښتو هغه لرغونې سندرې بللې دي، چې د زاړه اریایي دوران د شعري اشکالو او اوسنیو ولسي ادبیاتو ترمنځ د اتصال د کړۍ حیثیت لرلای شي.)) چې موږ ورته د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې د شاعرانو د کلام د شننې او ارزونې په برخه کې اشاره وکړه.

(۲) **د شرقي شاعرۍ شعري ډولونه:** ((د پښتو په لیکلي زېرمه کې یوه غټه برخه د هغو شعري ډولونو ده چې د شرق د نورو ژبو، لکه: پارسي، عربي، اردو، ترکي او نورو په شاعرۍ کې هم موندل کېږي. پښتو هم دغه شعري ډولونه له خپلو نورو ګاونډیو ژبو څخه اخیستي دي، چې په دغو شعري ډولونو کې موږ قصیده، غزل، رباعي، قطعه، مثنوي، مربع، مخمس، مسدس، مسبع، مثمن، معشر، ترجیع بند، ترکیب بند او نور شعري انواع یادولای شو.))

(۳) **د پښتو د ولسي ادبیاتو شعري ډولونه:** ((د پښتو په لیکل شوې او ثبت شوې زېرمه کې ځینې داسې شعري انواع هم شته، چې دا ډول شعرونه د خپل شکلي جوړښت له مخې د نورو ژبو په شاعرۍ کې نه شي موندل کېدی او که په ځینو هندي ژبو، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هندکو او اردو کې ومیندل شي، نو هغو هم له پښتو ادب څخه اخیستې دي او د پښتو ادبیاتو په تقلید او یا د پښتنو له خوا د دغو ژبو په شاعرۍ کې د پښتو د ولسي ادبیاتو ځینې ډولونه باب شوي دي.

دا ډول ولسي شعرونه زیاتره ګړنۍ بڼه لري، خو د خپلو شفاهي اشکالو ترڅنګه دا ډول ادبیات ځینې پخواني لیکل شوي اسناد هم لري او زموږ ډېرو لوستو شاعرانو هم د شرقي شاعرۍ د نورو اصنافو ترڅنګه د خپلې شاعرۍ په دغو ملی چوکاټونو کې هم شاعري کړې ده.))

چې په همدې څېرکي کې مو (د پښتو ولسي شاعرۍ یا نظم فورمونه) په عنوان کې په تفصیل سره معرفي کړل.

(۴) **نوي ادبي ډولونه:** ((د شلمې پېړۍ په جریان کې د شرقي شاعرۍ او د پښتو د ولسي شاعرۍ د شعري ډولونو ترڅنګه پښتو ادب ځینې نوي ادبي ډولونه هم راخپل کړل، لکه: ازاد شعر او سپین شعر پر ازاد او سپین شعر سربېره دغه مهال په پښتو ادبیاتو کې د لنډې کیسې، ناول او ډرامې لیکل هم پیل شوي دي او دغو دریو ادبي ډولونو هم زموږ په معاصرو ادبیاتو کې وده موندلې ده.)) (۵۳: ۲۲-۲۳) ددې ترڅنګ (هایکو)، (ټپیزې) او ځینې نور شعري فورمونه هم دود شوي خو څرنګه چې موږ په دې اثر کې یوازې پښتو لرغونې ادبیات څېړو، نو په کار ده چې یوازې هغو شعري فورمونو ته نغوته وکړو چې په همدې لرغونې دوره کې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو ژبو څخه پښتو ته راغلي او پښتو کې باب شوي دي. البته لکه څنګه چې مو یادونه وکړه ګڼ شمېر داسې نور نظمي فورمونه هم شته چې تر لرغونې ادبي دورې وروسته پښتو کې باب شوي، خو نه غواړو پر هغو دلته بحث وکړو، یوازې هغو فورمونو ته نغوته کوو چې په لرغونې دوره کې پښتنو شاعرانو کارولي دي.

## ۱ - قصیده:

((قصیدې ته په پښتو کې (بولله) وایي. خپله قصیده عربي کلمه ده. په لغت کې (قصد کړای شوي) ته وایي. دا نوم د قصد له مصدره جوړ شوی، چې معنا یې استقامت، اتصال، سموالی، برابري او سوچه توب و. په عربي اصطلاح کې هغه شعر و چې د بیتونو شمېر به یې تر ۱۲ یا ۱۷ کم نه و.)) (۵۹: ۴۵-۴۶)

دا هغه شعري فورم دی، چې د غزل په شان د سر لومړی بیت یې مقفی وي. د نورو بیتونو د هر بیت دویمه مسره یې قافیه ولري او د مطلعې قافیه تعقیب کړي. قصیده په شکل او جوړښت کې له غزل سره چندان توپیر نه لري، توپیر یې دادی، چې د غزل د بیتونو شمېر له (۵) څخه تر (۱۵) پورې وي او د قصیدې بیا له (۱۲) څخه تر (دوو سوو) یا تر دې هم زیاتو بیتونو پورې دی. پخوانۍ قصیدې له مانیز پلوه هره یوه اکثره پر درېو برخو وېشل شوې دي:

د قصیدې لومړۍ برخې ته تغزل یا تشبیب وایي چې په هغې کې شاعر تر اصلي موضوع دمخه د طبیعت ستاینه کوي. د قصیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويمه برخه د هغې اصلي موضوع ده. دا برخه له تغزل یا تشبیب وروسته پیلېږي او په دې کې شاعر د خپل ممدوح ستاینه کوي. د قصیدې درېیمه برخه دعائیه بولي چې په هغې کې شاعر د خپل ممدوح لپاره د خدای(ج) له دربار نه د ښېګنې او هوساینې غوښتنه کوي.

په اوسنیو قصیدو کې پورتني نورمونه چندان په پام کې نه نیول کېږي. د غزل او ځینو نورو شعري فورمونو په شان، په قصیده کې هم ردیف اختیاري دی، خو که مطلع کې راوړل شو، نو په نورو دویمو مسرو کې یې راوړل حتمي کېږي. قصیدې دوه شکلونه لري، یو هغه ډول دی، چې ردیف نه لري او بل هغه ډول دی، چې ردیف ولري. د پښتو لومړۍ معلومه لاسته راغلې قصیده په هغه شکل کې راځي چې ردیف نه لري.

په پښتو کې ښکاره، څرګنده، پوره او کره لاسته راغلې قصیده د شیخ اسعد سوري ده چې موږ مخکې پرې تفصیلي خبرې کړې دي. ددې قصیدې مطلع ده:

د فلک له چارو څه وکړم کوکار

زمولوي هر ګل چې خاندې په بهار

تر شیخ اسعد وړاندې موږ په پښتو کې د پوره قصیدې بېلګې نه لرو، خو د شیخ اسعد سوري قصیدې له کره والي څخه موږ ته دا څرک لګي چې پښتو قصیدو تر دې پخوا د تمرین، تجربې او زېرمې یو پوخ بهیر تېر کړی چې دا قصیده دې پړاو ته رسېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا قصیده له هنري، شکلي او محتوایي پلوه په تول پوره او کره قصیده ده. تر شیخ اسعد سوري وروسته د ښکارندوی غوري قصیده هم له هنري، شکلي او محتوایي پلوه، عربي او پارسي قصایدو سره پوره سیالي کولای شي او د طبیعت د انځورنې لپاره ډېرې ښې تابلوګانې لري.

د پسرلي ښکلو نکي بیا کړه سینګارونه
بــیا یــې ولــونـل په غرونو کې لالونه

ځرنګه چې ادب تاریخ پر لاسته راغلو اثارو بحث کوي ځکه نو موږ ویلای شو چې د پښتو قصیدو د معلوم تاریخ پیل له شیخ اسعده پیلېږي، ښکارندوی قصیده لاپسې قصیده وپالله، خو بیا د لرغونې دورې تر پایه پورې موږ د نورو داسې قصایدو څرک نه لرو چې پر هغو بحث وکړو او یا یې له دې قصایدو سره پرتله کړو.

## ۲- غزل:

په پښتو شاعرۍ کې غزل یو له هغو شعري چوکاټونو څخه دی، چې ډېر عام مقبولیت لري. د پښتو اکثرو شاعرانو د غزل په فورم کې زیات قلم چلولی دی. په همدې وجه خو غزل په پښتو کې د ځینو نورو شعري فورمونو په انډول زیات ظرافت او لطافت ته رسېدلی دی. د غزل ښکلا او ظرافت په دې نور هم زیات شول، چې دې فورم ته د پښتني چاپېریال زیاتې انځورنې وردننه شوې، ځوانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو شاعرانو ته هم غزل داسې یو فورم دی، چې د دوی قلم په کې ښه ازمېښت کولای شي. اکثره ځوان شاعران په همدې فورم کې خپل وزن ښه پوخ کړي، پر قافیې، ردیف، څپو او د نظم پر ځینو نورو توکو ځان واکمن کړي، نو بیا نورو شعري فورمونو ته مخه کړي. پخوا به د غزل په فورم کې هغه مسایل راتلل، چې په تولیز ډول یې غنایي او عشقي مسایل په خپله غېږه کې رانغاړل، وروسته بیا د غزل ځولۍ د ژوند له نورو رنګارنګ ګلونو ډکه شوه او اوس غزل تر دې بریده رسېدلی، چې په یوه مسره کې یې ناخوالې او په بله کې یې د ژوند د خوږو رنګارنګي بیانېدی شي.

د غزل د دومره عام مقبولیت او زیات استعمال یوه وجه شاید همدا وي، چې د یو مانیز پیوستون او تسلسل ترڅنګ د غزل هر بیت په اصطلاح ځانته پاچا دی او په ځانګړي او خپلواک ډول ډېر دروند مانیز بار پورته کولای شي.

غزل لکه چې له نامه څخه یې ښکاري عربي کلمه ده او له همدې ژبې څخه دا فورم پښتو ته راغلی دی. له مانیز پلوه نورو هغو شعرونو ته، چې غزلیز، عشقي یا غنایي مانیز بار لېږدوي، هم غزل ویل کېدی شي، خو د فورم له پلوه بیا غزل ځانګړې بڼه او شکل لري.

غزل معمولاً هغه شعري چوکاټ ته وایي، چې مطلع ولري، یانې د سربیت یې اکثراً مقفی وي او د بل هر بیت دویمه مسره یې قافیه ولري او د مطلعې قافیه تعقیب کړي، د بیتونو شمېر یې له (۵-۱۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیتونو پورې وي. د څپو شمېر يې معمولاً سره برابر وي. په ځينو خاصو غزلو کې کېدی شي د غزل هغه مسرې چې قافيه نه لري، يوه څپه تر قافيه والو مسرو څخه زياتې شي. په پښتو کې له (۷) څپيز څخه نيولې بيا تر (۱۵) څپيزو پورې غزلونه شته. قافيه په غزل کې اساسي توک دی، خو رديف اختياري دی.

هر کله که په مطلع کې تر قافيې څخه وروسته رديف راوړل شو، د همغه رديف راوړل په ټولو قافيه لرونکو مسرو کې حتمي ګڼل کېږي. په پښتو شاعرۍ کې د غزل فورم دا لاندې بڼې لري:

۱- بې رديفه غزل:

هغه غزل دی، چې رديف ونه لري او پر قافيه پای ته رسېدلی وي.

۲- رديف لرونکی غزل: د غزل د فورم هغه بڼه ده، چې د قافيې ترڅنګ رديف هم ولري. رديف هغه يوه يا څو کلمې دي چې تر قافيې وروسته په يوه شکل او تر ډېره زياته حده په يوه مانا تکرار راځي.

۳- دوه قافيز غزل: دا هغه ډول غزل دی، چې دوه بېلابېلې قافيې ولري. مانا دا چې د دوو مسرو د پای تر قافيې څخه دمخه او يا د مسرو په منځ کې بله قافيه موجوده وي. په مطلع کې دوه بېلابېلې قافيې موجودې وي. د نورو مسرو قافيې د مطلعې خپله خپله قافيه تعقيبوي، که چېرې تر هرې قافيې وروسته رديفونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلي وي، نو تر هرې تعقيبوونکي قافيې څخه وروسته د هغې خپل رديف هم په همغه بڼه تکرارېږي.

د دوه قافيه ييزو غزلو بل ډول دادی، چې لومړۍ قافيه د مطلعې د مسرو په منځ کې راځي، ورپسې بيا رديف راځي، ورپسې بيا بله قافيه او بيا ورپسې رديف. د مطلعې هره قافيه ځانته ځانته رديفونه او ځانته ځانته قافيې لري، يانې دا چې د وروسته مسرو قافيې، په مطلع کې راغلې قافيې تعقيبوي.

**۴- ماته غزل:** (ماته غزل) ورته ځکه وايي چې په منځه ملا کې يې د هرې مسرې په منځ کې د اهنګ يوه وقفه راځي. په همدې منځ کې د څپو د شمېر له مخې هر مسره پر دوو مساوي برخو وېشل کېږي، لکه په لرغونې دوره کې د شيخ عيسى مشواني شعر چې د ماتې غزل بڼه لري او که چېرې د بيتونو شمېر يې پوره وای نو د پوره ماتې غزلې اطلاق پرې کېدی شي.

په خپله کار کړې په خپل انکار کړې

کله بادار يم کله مې خوار کړې

دلته (په خپله کار کړې) د لومړۍ مسرې لومړۍ برخه چې پنځه څپې لري (په خپل انکار کړې) د لومړۍ مسرې دويمه برخه ده چې دا هم پنځه څپې لري او په دويمه مسره کې بيا (کله باداريم) د دويمې مسرې لومړۍ برخه او (کله مې خوار کړې) ددې مسرې دويمه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده چې دواړه سره مساوي دي (پنځه) پنځه) شپې لري همدا انډول، تعادل او توازن هره مسره ماتوي، نو ځکه ورته ماته غزل وايي.

کله کله د اهنګ دا وقفه تر قافيې وروسته راځي او کله د رديف يوه برخه هم ورسره نيسي او بيا تر هغه وروسته وقفه او بيا نور رديف راځي.

**۵- بې مطلعې غزل:** هغه غزل دی، چې يوازې مطلع نه لري، ياني د سر لومړی بيت يې مقفي نه وي. د لومړي بيت دويمه مسره يې قافيه لري او د نورو بيتونو د دويمو مسرو قافيه يې د لومړي بيت د دويمې مسرې قافيه تعقيبوي. که چېرې د لومړي بيت د دويمې مسرې تر قافيې وروسته رديف راغلی وي، نو د نورو قافيه والو مسرو رديفونه هم همدا بڼه لري.

په پښتو کې لومړۍ معلومه او لاسته راغلې منظومه ژباړه هم د بې مطلعې غزل له فورم سره سمون خوري. د پټې خزانې په حواله ابو محمد هاشم ابن زيدالسرواني په (۲۲۳-۲۹۷هـ) کې د يو عراقي شاعر محمد ابن خلاد يو شعر په پښتو ژباړلی دی. چې موږ مخکې پرې پر خپل ځای تفصيلي بحث وکړ.

دغه راز لرغوني شاعرۍ کې د شيخ رضی لودي او نصر لودي ترمنځ شوی شعري سوال او ځواب هم له همدې فورم سره ورته والی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو کې د فورم له پلوه بې مطلعو غزلونه په لرغوني دوره کې شته، خو ادبپوهانو هغه بشپړ غزلونه نه دي ګڼلي، ځينو ته يې پارکي او ځينو نورو ته يې نور خطابونه کړي دي، د شيخ رضی لودي او نصر لودي پارکي هم د مطلعې له نشتوالي پرته نور د غزل فورم ته ورته دي. پوهانو چې دا پارکي بللي او غزلې يې نه دي بللي يو علت يې شايد دا وي چې دلته د نظم ټول بيتونه يو بل سره تړلي او يوه مسلسله مانا تعقيبوي، د غزل يوه ځانګړنه بيا دا هم ده چې هر بيت يې خپلواکه ځانګړې مانا هم لري، که بل بيت يې ورسره مل هم نه شي، نو پوره مانا ورکوي. د شيخ رضی او نصر لودي نظمونه بيا په مجموعي ډول يو لوی پيغام يو بل ته لېږدي، د سوال او ځواب په بڼه افاده شوې يو بل سره مانيز تړاو لري، په خپل منځ کې يې هم بيتونه له مانيز پلوه يو بل سره تړلي ښکاري.

خو په پښتو کې بشپړ غزلونه چې هم د شکل، هم د مانا او هم د محتوا له پلوه ورته پوره غزل ويلی شو، هغه د اکبر زميندا وري غزلونه دي. د اکبر زميندا ور د يوه غزل لومړی بيت دا دی:

د خپل ځان له حيرانۍ څه ويل وکړم

د عشق وير به تل په خپله پټول کړم

په دې غزل کې (ويل) او (پټول) د قافيې کلمې دي، (کړم، کړم) يې رديف دی، محتوا يې عشقي يا غنايي ده. هره مسره يې (۱۲) څپې لري. دويم غزل يې:

د اکبر د دويمې غزلې مطلع داده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مدام زه ستا و مخ و ته نظر ورم

د بېلتون له بېرې زړه زبر و زبر ورم

په دې غزل کې (نظر او زبر) د قافيې کلمې دي، (ورم، ورم) يې رديف دی، رديفواله غزله ورته ويلای شو. هره مسره يې (۱۲) څپې ده. دا غزل هم مغني محتوا لري.

تر اکبر زميندا وري وروسته (علي سرور لودي)، (مېرمن نېکبختې او شيخ صالح) د غزل په فورم کې شعرونه ويلي دي. خو په لرغونې دوره کې تر ټولو بشپړ او پوره غزلونه هغه لومړني غزلونه دي چې اکبر زميندا وري ويلي دي. نو ځکه خو زميندا وري ته د پښتو غزل موسس هم ويل کېږي.

## ۳- مثنوي:

دوه يزه (مثنوي) هغه ډول شعري فورم دی، چې هر بيت يې په خپل منځ کې ګډه قافيه لري (مقفی وي)، د بيتونو شمېر يې ثابت نه دی. په ټولو قافيه والو شعري چوکاټونو کې مثنوي تر ټولو خلاص او لوی شعري فورم دی. شاعر کولای شي په دې شعري فورم کې خپل مقصد تر وروستي بريده بيان کړي، ځکه نو اکثره شاعران د لويو موضوعګانو د بيان په غرض دا فورم انتخابوي، لکه ابوالقاسم فردوسي چې د شاهنامې د ليکلو لپاره دا فورم وټاکه. په مثنوي کې که شاعر په يوه قافيه کې له ستونزې سره مخ شي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلې ته تللای شي. په مثنوي کې هر بیت ځانته قافیه لري، کېدی شي ځینې بیتونه یې ردیفونه ولري او ځینې یې ونه لري، خو د ټولو بیتونو وزن مشترک وي او د څپو شمېر یې سره مساوي وي. مانا دا چې مثنوي مقفی، مشترک الوزنه او د مساوي څپو لرونکی فورم دی.

لکه دمخه چې مو یادونه وکړه په مثنوي کې کېدی شي ځینې بیتونه ردیف لرونکي وي او ځینې په قافیه ختم شوي وي.

په پښتو کې لومړنی سړی چې موږ ته تر دې دمه معلوم دی او بشپړه مثنوي یې لیکلې، هغه اکبر زمینداوري دی. البته تر اکبر زمینداوري مخکې هم د مثنوي فورم ته ورته نظمونه لیکل شوي، خو په بشپړه مثنوي کې ځکه نه حسابېږي چې وروستۍ برخې یې کسرونه لري او یا د بېلابېلو بندونو بڼه لري. لکه د بېټ نیکه مناجات چې د هر بند له کسر پرته برخه یې د مثنوي فورم بڼه لري. خو بشپړه مثنوي چې تر دې دمه څرګنده ده همدا د اکبر زمینداوري مثنوي چې د سر درې بیتونه یې دادي:

زه عـــاشق یم یار هم نیز　　نـــور څـــه نـــه لـــــرم تـــمیـــــز

یو تــــر بله عــــاشقان یـــو　　په خپل عشق کې صادقان یو

یو په بل پسې رنځور یو　　چـــې نـــږدې نـــه یو مهجور یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اکبر زمینداوري دا مثنوي ټول (۲۸) بیتونه لري. د زرغون خان نورزي ساقینامه هم په مثنوي فورم کې ویل شوې ده. د سر درې بیتونه یې دادي:

ساقي پاخه پیاله راکړه　　　　مرور یار مې پخلا کړه
اوبه تویېږي په لمبو کړه　　　　اور مې مړ په دې اوبو کړه
پسرلی سو غونچه ګل کا　　　　زلفې تاوې د سنبل کا

تر زرغون خان نورزي وروسته، زرغوني کاکړ هم د سعدي بوستان یو حکایت په مثنوي فورم کې نظم کړی دی. د سر څو بیتونه یې دادي:

اورېدلې مې قیصه ده　　　　چې له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار　　　　بایزید چې و رویدار
له حمامه راوتلی　　　　په کوڅه کې تېرېدلی....

دغه راز د دوست محمد کاکړ غربنت نامه هم په مثنوي فورم کې ویل شوې ده.

د غرغښتنامې د سر څو بیتونه په دې ډول دي:

له نېکانو روایت دی　　　　هسې توګه حکایت دی
نورمحمد کاکړ راوي دی　　　　چې یې فیض تل جاري دی
د نیکونو له خولې وایي　　　　چې منښت یې راته ښایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴- رباعي:

رباعي يا څلوريزه هغه ډول شعر دی چې له عربي ژبې څخه دري او پښتو ته راغلی دی. دا فورم څلور مسرې لري چې د څپو د شمېر له مخې سره مساوي وي. له ځينو استثنايي حالاتو پرته چې په هغه کې کېدی شي د درېيمې مسرې يوه څپه يې د قافيه والو مسرو تر څپو زياته وي. نور نو اکثره د څپو د شمېر له مخې سره مساوي وي. د رباعي لومړی بيت مقفی وي، درېيمه مسره يې قافيه نه لري او د څلورمې مسرې قافيه يې د مطلعې قافيه تعقيبوي. د غزل په شان په څلوريزه کې هم رديف اختياري وي، خو کله چې د رباعي په مطلع کې راشي، په څلورمه مسره کې به ضرور بيا همغه رديف تکرارېږي. په پښتو کې د بېلابېلو څپو په شمېر رباعي ويل شوي دي، خو لس څپيزې څلوريزې په کې زياتې دي، رباعي اکثره په تول تللې دي، هغه رباعي چې لس څپيزې دي، هره مسره يې د اهنګ له مخې تقريباً پر دوو برخو وېشل کېږي، پنځه څپې يې يوه خوا او پنځه يې بله خوا په تول تللې وي.))(۵۹: ۳۸-۳۹)

په پښتو لرغوني ادب کې د څلوريزې په فورم او تول شعرونه ويل شوي دي او ځينو شاعرانو بيا څلوريزې د يوه نسبتاً اوږده شعر د برخو يا بندونو په توګه کارولي دي لکه د شيخ اسمعيل او خرښبون نارې چې له څو څلوريزو رغېدلې دي، خو دا هره څلوريزه بيا د محتوا له مخې او هم د اهنګيز ارتباط له مخې له خپلو نورو اړوندو څلوريزو سره تړلې او تړولې په ګډه يوه مانا او محتوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

بشپړوي. په لرغوني دوره کې په تول پوره او کره څلوريزه همغه د خليل خا نيازي او سلطان بهلول لودي دوه څلوريزې دي چې د پښتو له نورو څلوريزو سره بشپړ سمون لري، هره مسره يې لس لس څپې ده او همدا لس څپيز جوړښت د پښتو پر اکثرو څلوريزو د تطبيق وړ دی، تر هغه وروسته خوشال خان د رباعياتو په ګډون اکثره څلوريزې په همدې لس څپيز خجيز جوړښت کې ويل شوي دي.

پر قصيدې، غزل، مثنوي او رباعي سربېره ځينو ادبپوهانو په پښتو لرغونې دوره کې د پاړکي (قطعې) او (مربع) فورمونو يادونه هم کړې، خو که د لرغونې دورې نظم ته ډېر ځير شو، قطعې او مربع ته ورته نظمونه ويل شوي خو داسې نه دي چې موږ سل په سلو کې ددې فورمونو اطلاق پرې وکړو. يا دې هم د قصيدې، غزل، مثنوي او رباعي په شان وي چې د هر يو فورم لپاره پوره او کره بېلګې په کې پيدا کړو، نو ځکه دلته له قطعې، مربع او د نورو هغو عربي نظمي فورمونو له تشريح او توضيح څخه تېرېږو چې د پښتو شاعرۍ په نورو دورو کې باب دي، خو په لرغوني دوره کې يې پوره بېلګې نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پنځم څپرکي لنډیز

پښتو ژبه دوه ډوله شعري یا نظمي فورمونه لري، لومړی یې خپل فورونه ددي او بل هغه شعري فورمونه دي چې له نورو ژبو او په تېره بیا له عربي څخه پښتو ته راغلي او دلته په پښتو کې باب شوي دي.

د پښتو خپل فورمونه بیا پر دوو ډولونو وېشل کېږي؛ لومړی عامې سندرې دي چې ویونکي یې معلوم نه دي او په ګرد ولس پورې اړه لري، لکه لنډۍ، سروکي، نارې، لنډکۍ، د ښادۍ بدلې او نورې. دویم خاصې سندرې دي چې په دې سندرو کې هغه سندرې شاملېږي چې د نالوستو ولسي شاعرانو له خوا جوړې شوې دي، یانې شاعران یې معلوم کسان دي، لکه چاربیتې، بدلې، بګتۍ، لوبې، داستان، مقام، کسرونه او نور، موږ په دې څپرکي کې پر دې دواړو ډولونو تفصیلي بحث کړی او د بحث په نتیجه کې دا راته څرګنده شوه چې دا د پښتو ادبیاتو یوه درنه او غوښنه برخه ده، ددې پانګې یوه درنه برخه راټوله شوې، خو لاهم زیاته برخه یې په ولس کې خوره وره پرته ده او د راټولولو اړتیا یې احساسېږي، ددې ډول ادبي فورمونو د محتوا یوه برخه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرغونې ادبي دورې پورې اړه پیدا کوي، خو یوه زیاته برخه یې تر لرغونې ادبي دورې وروسته رامنځته شوې ده، خو شکلونه یا فورمونه یې پخواني دي او لرغونې دورې او په همغه زماني بهیرو پورې اړه لري. دا ډول شعرونه او سندرې زموږ د ټولنیز، سیاسي او کلتوري چاپېریال زېږنده ده او د همغه چاپېریالونو انځورنه کوي. دویم ډول شعري فورمونه بیا هغه دي چې له عربي ژبې څخه پښتو ته راغلي دي او پښتنو شاعرانو هغه کارولي او پښتو کې یې دود کړي دي.

لکه قصیده چې په لرغونې دوره کې شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري له دې فورم څخه ګټه پورته کړې او په ښه ډول یې کارولی دی. غزل چې اکبر زمینداوري، علي سرور لودي، مېرمن نېکبختې او شیخ صالح محمد الکوزي کارولی دی، درېیم د مثنوي فورم دی چې اکبر زمینداوري، زرغون خان نورزي، زرغونې کاکړې او دوست محمد کاکړ کارولی دی. څلورم فورم د (رباعي) دی چې له عربي څخه پښتو ته راغلی، ښې بېلګې یې د خلیل خان نیازي او سلطان بهلول لودي په څلوریزې کې راڅرګندېږي. پر یادو فورمونو سربېره قطعې او مربع ته ورته فورمونه هم په پښتو لرغونې ادبي دوره کې کارېدلي، خو د یادو فورمونو داسې بشپړې بېلګې نه دي ترلاسه شوي چې په بشپړ ډول دې پرې یاد فورمونه تطبیق شي. په مجموعي ډول پښتو لرغوني ادبي دوره د نظمي یا شعري فورمونو له پلوه خورا بډایه ده، خو د خپلو ملي فورمونو تله یې ډېره درنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړۍ کټګورۍ فورمونو کې، لنډۍ، سروکي، نیمکۍ، بګتۍ... او نور شامل دي. په دویمه کټګورۍ کې، قصیده، غزل، رباعي، مثنوي، مربع، مخمس، مسدس، سبع، مستن، معشر، ترجیح بند، ترکیب بند او نور شعري انواع شامل دي چې په لرغوني دوره کې یوازې د قصیدې، غزل، رباعي او مثنوي بېلګې لرو او نورو بېلګو په نورو دورو کې شته.

د فورمونو له پلوه پښتو ادبیات هم په لرغوني دوره کې او هم په وروستیو نورو دورو کې خورا بډایه ده او له دې پلوه د سیمې هېڅ بله ژبه ورسره سیالي نه شي کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پنځم څپرکي پوښتنې

- په لرغونې دوره کې د نظم ډولونه په تولیز ډول پر څو برخو وېشلای شو؟
- د پښتو خپل نظمي فورمونه کوم دي؟ نومونه یې واخلئ!
- په لرغونې دوره کې له عربي ژبې څخه کوم شعري یا نظمي فورمونه په پښتو کې باب شوي دي.
- پښتو ژبه د شعري فورمونو له پلوه په لرغونې دوره کې څه ډول ارزوئ؟
- د لنډۍ فورم تشریح کړئ؟
- پښتو ولسي ادبیات د فورم له پلوه پر څو برخو وېشلای شو؟
- سروکی څه ډول شعري فورم دی؟ تشریح یې کړئ!
- کاکړۍ غاړې او د اتڼ نارې تشریح کړئ!
- چاربیته څه ډول فورم دی؟ څو ډولونه لري؟
- لوبه څه ډول فورم دی؟ تشریح یې کړئ!
- بګټۍ راوپېژنئ!
- د پښتو ولسي ادبیاتو ارزښتونه تشریح کړئ!
- له کومو ژبو څخه پښتو ته کوم ادبي فورمونه راغلي دي؟
- پښتو لرغونو ادبي دوره کې چا د رباعي فورم کارولی دی.
- د پښتو غزل موسس څوك دی او کله یې په پښتو کې غزل ولیکه او بیا کومو شاعرانو ورپسې د غزل فورم تتعقیب کړ؟
- چا لومړی ځل د مثنوي فورم وکاراوه او کومو شاعرانو بیا ورپسې مثنویانې ولیکلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپېرم خپرکی

# د لرغونې دورې نثر

د اریایي ژبو او اقوامو پخواني کتابونه او ادبي اثار ټول منظوم دي، (ویدا)، (اوستا) او (سنسکریت) زاړه کتابونه لکه (مهابهارته) (رامایین) او نور ټول یو راز ازاد نظم دی، چې ښایي د تغني او ترنم په ډول به غږول کېدل، دا خبره چې نظم تر نثر په ادبي اثارو کې دمخه دی، یوازې په اریایي ژبو پورې هم اړه نه لري، په اکثرو ژبو کې دغسې وي، که څه هم اساساً ژبه منثورې خبرې دي، خو داسې منثورې خبرې د خلکو په یاد نه پاتېږي او یوازې په لیک او تحریر سره خوندي کېږي، خو خلک منظومې ویناوې په یادوي او پښت پر پښت یې انسان خپلو نویو نسلونو ته سپاري، له هم دغه جهته تر هغه وخته چې لیک او تحریر په یوه قوم کې ډېرېږي، نو د دوی ادبي اثار هغه منظومې ټوټې دي، چې د خلکو په یاد وي او له یوې سینې بلې ته ورنقلېږي، څو په پای کې د لیک په ډول خوندي شي او کتابونه ځنې جوړ شي، د همدغو لاملونو له کبله د اکثرو اقوامو پخواني اثار او ادبي نښې منظومې دي او نثر تش د کتابو په ذریعه له لیکنیو وختونو څخه ساتل شوی دی، د پښتو د پخواني ادب اثار هم دغسې دي او خورا زړې سندرې او ادبي ټوټې چې زموږ لاس ته راغلې دي، منظومې دي او د منثورو اثارو ببلګه یې ډېره لږه پاتې ده او لکه څنګه چې تر (۶۰۰هـ) پورې موږ منظوم اثار لرو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغسې منثور اثار نه دي رامعلوم او که څه وو هغه هم زمانې له منځه وړي او ورک شوي دي. په (۶۱۲هـ) کې بیا موږ د یوه داسې منثور اثر بېلګه لرو چې د شاعرانو او لویانو ژوند لیک او د کلام بېلګې په کې خوندي دي. دا د سلیمان ماکو تذکرة الاولیا ده چې هغه هم یوازې څو مخونه یې ترلاسه شوي دي.

که څه هم محمد هوتک په پټه خزانه کې لیکلي دي، چې ابومحمد هاشم ابن الزید السرواني (د سالو وږمه) په پښتو ژبه لیکلې وه، چې هغه هم تر دې دمه نه دی ترلاسه شوې. دلته غواړو د پښتو نثر د پیلامې او په دې دوره کې د پښتو پر لاسته راغلو بېلګو لږ په تفصیل سره رڼا واچوو.

((که چېرې موږ د پښتو لاس ته راغلي لرغوني اثار، چې د پښتو د ادبي تاریخ په لومړۍ دورې پورې اړه لري، له نظره تېر کړو، نو دا اثار که له یوې خوا د کمیت په لحاظ لږ دي، نو له بلې خوا د نورو دورو په پرتله متفرق هم دي او په دې دورې پورې مربوط منظم اثار زیاتره تر موږ نه دي رارسېدلي او یا دا چې نه دي کشف شوي.

د پښتو د ادبي تاریخ د لومړۍ دورې په لاس ته راغلو اثارو کې د نثر برخه تر نظم هغې خواره هم ده او د قدامت له پلوه وروستۍ هم. دا په دې مانا چې زموږ د معلوم نظم تاریخ تر نثر هغه پخوانی دی. دا جریان په ځینو شرقي ژبو کې د نظم او نثر د پیدا ایښت له روایاتو سره سمون لري. د زیاترو شرقي ژبو د ادبیاتو تاریخونه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ وګورو، هلته نظم تر نثر لرغونوالی لري. د مثال په ډول دري، اردو، هندکو او بلوچي ژبو کې هم د لاس ته راغلي نظم بېلګې تر نثر هغې پخوانۍ دي.

موږ چې د خپل ادبي تاریخ په لومړۍ دوره کې د نثر جاج اخلو، نو راته ښکاري چې:

۱- ددې دورې مربوطو منثورو اثارو کې د ډېرو یوازې نومونه تر موږه رارسېدلي دي. دا نومونه او ددغو اثارو وجود د نورو خارجي منابعو په مرسته ثابتېږي، خپله اثار یا تراوسه نه دي موندل شوي او یا دا چې د زمانې توندو سیلیو ورسره وړي دي.

۲- هغه اثار چې بېلګې یې تر موږه رسېدلي دي او بشپړ اثار اوس نه شته.

پر دې دوره د بحث په ترخ کې موږ اړ یو چې د هغو اثارو یادونه هم وکړو چې وجود یې د نورو اثارو په مرسته ثابت دی او پر هغو اثارو به هم بحث وکړو چې یوه برخه یې موږ ته رارسېدلې ده. دلته غواړو د تاریخي تسلسل له مخې ددې اثارو یادونه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سالو وږمه:

((د هغو اثارو له جملې څخه چې نومونه يې د نورو اثارو له مخې موږ ته رارسېدلي، يو اثر هم د ((سالو وږمه)) نومېږي چې د پټې خزانې مولف محمد هوتک (۱۰۸۳هـ ق زوکړی) يې له وجوده موږ داسې خبروي:

((نقل کا: چې ابو محمد په پښتو يو کتاب کښلی و چې په هغه کې يې د عربي د اشعارو فصاحت او بلاغت بيان کړی و او نوم يې و د سالو وږمه))

دا کتاب ابو محمد هاشم ابن الزيد السرواني (۲۲۳- ۲۹۷هـ ق) ليکلی و. دا صراحت شته چې کتاب په پښتو و. دا چې کتاب منثور و، په پټه خزانه کې يې ښکاره څه نه دي ويلي، اما د: ((په پښتو يو کتاب کښلی و)) له جملې څخه سړی اټکل کولای شي چې دا کتاب به پښتو نثر و.

که دا کتاب وای، نو بيا بايده وو چې موږ د پښتو نثر پيل له همدې کتابه کړی وای. ارواښاد پوهاند دوکتور زهير چې خپل اثر ته ((د پښتو نثر زرکلن تاريخ)) نوم ورکړی و، هغه د پښتو نثر پيل له همدې کتابه کړی دی.

خو موږ دلته د ((سالو وږمه)) کتاب په باب د پټې خزانې له لوړې اقتباسي ټوټې څخه زيات څه نه لرو، نه پرې اضافي هوايي بحث

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول په کار دي او نه د پښتو نثر تاریخ له دې روایته پیلوو، ځکه دا یادونه د بحث او ګروېږنې لپاره څه نه لري.))( ۵۴: ۱۵۴)

## تذکرة الاولیاء:

لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه د پښتو نثر د پیل په باب بېلابېل نظرونه شته، خو ډېری ادبپوهان په دې نظر دي چې پښتو نثر د هغه د ښکاره، څرګند او لاسته راغلی نثر له بېلګو څخه پیلېږي، دا نثر د سلیمان ماکو (تذکرة الاولیا) دی. پښتو ادبپوه سرمحقق زلمی هېوادمل چې د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغوني او منځنۍ دورې)، (د پښتو نثر اته سوه کاله) کتابونه او نور ګڼ شمېر ادبي اختصاصي اثار لیکلی، هم په دې نظر دي چې د پښتو نثر تاریخ د سلیمان ماکو له (تذکرة الاولیا) څخه پیلېږي، هغه وایي:

((زه د پښتو نثر تاریخ د پښتو له معلوم نثره پیلوم. د پښتو تر ټولو پخوانی منثور اثر د سلیمان ماکو سابزي د پښتو ((تذکرة الاولیا)) دی، چې له بده مرغه د کتاب ټول متن تراوسه نه دی ترلاسه شوی، تش څلور پاڼې یې زموږ په واک کې دي.

د پښتو ((تذکرة الاولیاء)) دا څو پاڼې لوی استاد اروابناد پوهاند عبدالحی حبیبي په غالب ګومان د روانې هجري شمسي پېړۍ د دویمې لسیزې په جریان کې موندلې دي. کله چې زموږ مرحوم استاد ((تاریخچه شعر پښتو)) لیکه، دا پاڼې یې نه وې موندلې، ځکه په تاریخچه کې یې ددې پاڼو د محتویاتو یادونه نه ده کړې. استاد له (۱۳۱۰ل) کال راپدېخوا د پښتو د زړو اثارو د لټون په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلسله کې کليو پر کليو ګرځېده او د همدې پلټنو په لړ کې يې دا پاڼې هم د هلمند د (ادم خان) کلي په جومات کې د يو زاړه چاپي کتاب په منځ کې موندلې وې او څو کاله دوی سره نالوستې پرتې وې. خو کله چې يې د کابل کالنۍ د (۱۳۱۹ل) کال د ګڼې لپاره ((تاريخچه سبکهای اشعار پښتو)) نومې رساله ليکله، نو ددې پاڼو په لوست بريالی شوی و او ددې پاڼو محتويات يې په دې رساله کې شامل کړل، د اصلي نسخې پاڼې يې هلته زنګوګراف هم کړې. تر دې رسالې يو کال وروسته ((پښتانه شعراء)) لومړی ټوک چاپ شو. په دې کتاب کې هم په ((تذکرة الاولياء)) کې د راغليو شاعرانو احوال راغلل او د پښتو ((تذکرة الاولياء)) اصلي پاڼې عکسي هم په کې چاپ شوې. پر دغو دوو چاپونو سربېره تذکرة الاوليا د مستقلې رسالې په بڼه پر (۱۳۶۱ل/ ۱۹۸۲م) کال د افغانستان د علومو اکاډيمۍ له خوا چاپ شوې ده. پر دې چاپ د استاد حبيبي يو نوی يادښت هم چاپ شوی دی. په دې چاپ کې د ((تذکرة الاولياء)) پاڼې هم زنګوګراف شوي دي.)) (۵۴: ۱۵۵)

سرمحقق زلمی هېوادمل ليکي: ((د تذکرة الاوليا په مستقل چاپ کې چې کله وار د اصلي پاڼو عکسي چاپ ته راورسېد، نو دا موجودې خطي پاڼې ما له مرحوم استاد څخه واخيستې او مطبعې ته مې د چاپ لپاره يوړې، چې په مطبعه کې مو عکسونه ځنې واخيستل، نو مې پاڼې بېرته استاد ته وسپارلې. کله چې ما پاڼې بېرته استاد ته سپارلې، نو مې دغه وخت ددې پاڼو په باب ځينې پوښتنې هم له مرحوم استاده وکړې، چې دغه پوښتنې او ځوابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دغو خطي پاڼو معرفي زما په هغه مفصله مقاله کې راغلې دي، چې مې د امیر کروړ سوري د دولس سوه پنځوسم تلین د نړیوال سیمینار په ویاړ پر همدې تذکره کښلې ده.

د یادونې وړ ده، چې د تذکرة الاولیاء دا مستقله بڼه پر (۱۳۷۹ل کال دویم ځل د علامه حبیبي د څېړنو مرکز له خوا په پېښور کې چاپ شوې ده. له دې چاپ سره د تذکرې د موجود متن، مقدمې او تعلیقاتو انګرېزي ترجمه هم مله ده او مترجم یې ښاغلی خوشال حبیبي دی.

د ((تذکرة الاولیاء)) د خطي پاڼو قطع (12x18) سانتي متره او د هر مخ کرښې یې مختلفې دي. له (۱۵) نه تر (۹) پورې کرښې د تذکرې په بېلابېلو مخونو کې کښل شوې دي. څنګه چې نسخه بشپړه نه ده، نو ځکه یې د کښنې تاریخ نه معلومېږي. کاغذ یې سالم او د شکل له مخې زوړ نه ښکاري، خو هغه کسان چې په نسخه پېژندنه کې ماهر دي، هغوی وایي چې د کاغذ ظاهري شکل غولوونکی وي. د شکل له مخې ډېر سالم کاغذونه زاړه وي، مګر بالمقابل د شکل له مخې زاړه کاغذونه زاړه نه وي.

کله چې ما دا نسخه وکتله، نو کاغذ یې زما سترګې هم وغولولې، له مرحوم استاد نه مې ددې نسخې د کاغذ په باب وپوښتل، هغوی وویل چې دا کاغذ غالباً خوقندي دی، چې په کندهار کې یې کوکانی باله او ددې نسخې قدامت سړی دوه سوه پنځوس کاله دمخه تخمین کولی شي. د کاغذ سیاهي او د نسخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژندنې د ځانګړنو له املـه استاد دا نظریه قایمه کړې وه.)) (۵۴: ۱۵۷)

سرمحقق زلمی هېوادمل وایي: (( د خطي پاڼو د محتویاتو په باب باید ووایو چې په دې پاڼو کې یوه سریزه او د څلورو پښتنو ویناوالو مشایخو یا د مولف (ماکو) په اند ولیانو لږ احوال او د ویناوو نمونې راوړل شوې دي. ددې تذکرې سریزه د مولف په باب لږ معلومات لوستونکي ته وړاندې کوي او د کتاب د لیکلو هدف هم راښکاره کوي.

ددې کتاب د لیکوال په باب زموږ په ادبي پلټنو کې تر دغو اساسي څو خبرو چې ده په سریزه کې کړي دي، بالا نور څه نه دي راغلي او نه مو دده په باب نور څه په واک کې دي.)) خو مخکې تر دې چې د تذکرة الاولیا د ارزښتونو ماهیت او اهمیت په باب څه ووایو، غواړو د تذکرة الاولیا ځانګړتیا، لرغونتیا او لغوي شننې ته لږ نور هم تم شو.

((تذکرة الاولیا موږ په لومړي ګام کې پر دوو برخو وېشلای شو:

الف – د سلیمان ماکو خپله لیکنه چې په نثر ده او د شاعرانو ژوند لیک په کې راغلی دی.

ب – په تذکره کې د شاعرانو راغلی کلام چې په نظم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الف – د سلیمان ماکو نثر:** په عمومي ډول د سلیمان ماکو نثر خوږ، روان، ساده او له ځانګړي اهنګه ډک دی. په خاصو ځایونو کې یې سجع کارولې چې نثر ته یې زیاته ښکلا وربښلې ده.

دلته به د سلیمان ماکو د نثر څو جملې راوړو او بیا به وروسته دده دنثر پر ځرنګوالي بحث وکړو.

((... زه غریب خاوري سلیمان زوی د بارک خان ماکو سابزي چې په ویاله د ارغستان هوسېږم او په دې مزکو پایېږم، په سن دولس شپږ سوه دهجري تللی وم او د پښتنخا په راغو او کلیو ګرځېدم او مراقد د اولیا او واصلینو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل، او ددوی په خدمت کې خاکپای وم او هر کله په سلام ورته ولاړ...))

((... نقل هسې کاندي یارانو چې په روزګار د شیخ بیټني کې د ده ورور چې سړبن نومېد، او پرشیخ هم خورا ګران و، سړبن نه درلود زامن او هر کله به ویل خپل ورور ته...))

((... نقل کاوه سي چې په روزګار د غازي شهاب الدین چې پر کفر یرغل و، شیخ ملکیار چې غرشین ستانه و هم ملګری و دشهاب الدین چې په ډیلي کې هغه ستر واکمن ټاټوبی ور وښانده، او هم هوري مړ سو...))

(( ... نقل کاوه سي چې بختیار چې ستر ستانه و، له ده نه ځرګند سوي دي، هغه کرامات چې مو وکتل او وویل...))

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورتنیو څو جملو او د سلیمان ماکو نثر ته چې موږ په عمومي ډول نظر کوو، نو له ژبني پلوه دماکو نثر د دریو ژبو له لغتونو څخه جوړ دی. الف- پښتو، ب- عربي، ج- دري. دګرامري جوړښت لـه مخې هم د پښتو لـه اوسنۍ محاورې سره توپیر لـري- هـ- ځینې پخوانۍ متروکې کلمې هم لري چې دلته پرې رڼا اچوو:

**الف – د سلیمان دنثر پښتو لغتونه:** که په عمومي ډول د سلیمان ماکو نثر ارزول کېږي، نو دا تر یوه حده په نرږه پښتو نثرونو کې حسابېدلای شي، ځکه دپردیو ژبو تاثیرات پرې ډېر کم دي او ان که اوس هم څوک یو پښتو نثر لیکي، نو دنورو ژبو دومره کلمې به ضرور په کې کاروي، لکه خپله چې زه دا لیکنه کوم په عادي ډول رانه د نورو ژبو کلمې کارول کېږي، نو د سلیمان ماکو له نثر څخه داسې ښکاري چې هغه وخت د پردیو ژبو (عربي او دري) تاثیرات پر پښتني ادبي چاپېریال وو، خو دومره زیات نه وو چې ټول نثر متاثر کړي. دلته به دده د نثر سوچه پښتو لغتونو ته اشاره وکړم: (لوی، استازی، روښان، ویاله، هوسېږم، خاورې، راغه، کلی، پلټل، لوری، موندل، څښتن، پاڅېدل، وینا، لولي، شپه، ستانه، کول، سندرې، یرغل، غرشین، ملګری، ستر، واکمن، بری، مروړل، پاړکی، څرګند، مېشت او داسې نور...

د سلیمان ماکو په نثر کې کارول شوي اکثره پښتو لغتونه اوس هم په خپله هماغه پخوانۍ مانا او مفهوم او هماغه شکل کارول کېږي. د سلیمان ماکو د نثر له پوخوالي څخه داسې ښکاري چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو نثر به تر دې پخوا ښه اوږد مزل کړی وي، چې د سلیمان ماکو د مهال داسې پخې مرحلې ته رسېدلی دی.

## ب – د سلیمان ماکو په نثر کې عربي لغتونه:

د سلیمان ماکو په نثر کې یو شمېر عربي لغتونه هم شته، خو دا اکثره داسې لغتونه دي چې مذهبي او عقیده یي مفاهیم لېږدوي، دا ډول لغتونه اکثره اوس هم دمذهبي اصطلاحاتو په بڼه موجود دي او ترجمه یا انډولونه یې ډېر ممکن نه برېښي.

عربي ژبې د اسلام تر راتګ وروسته په افغانستان کې خپلې اغېزې وښندلې، دا اغېزې لومړی پر پارسي ژبه او وروسته پر پښتو ژبې محسوسې شوې، خو د پښتو په انډول یې پر پارسي ژبه اوس هم تاثیرات زیات دي. دلته به ځو عربي لغتونو ته اشاره وکړو:

قدوة الواصلین، مراقد، حمد، برکت، نصیب، صلی الله علیه وسلم، غریب، هجري، اولیا، آل، اما بعد، نقل، عبادت، مبارک، واقع، قبول، کفر، شیخ او ځینې نور...

## ج – د سلیمان ماکو په نثر کې دري لغتونه:

د سلیمان ماکو په نثر کې د عربي لغتونو په انډول دري لغتونه ډېر کم دي. خو د استاد علامه عبدالحی حبیبي په نظر د سلیمان ماکو پر نثر د فارسي ژبې د هغه وخت د نثر څه اغېزې شته، د سلیمان ماکو تر عصر نږدې دوه سوه کاله دمخه د غزنویانو په عصر کې فارسي نثر ډېر پرمختګ کړی و، ډېر روان ساده او عام فهمه و،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډې لنډې جملې يې لرلې او لـه ابهام او تکلف څخه خالي و. د سليمان ماکو نثر هم ساده، سليس او روان دی، جملې يې هم لنډې لنډې دي، ابهام، تصنع او تکلف نه لري. دفارسي نثر دهغه وخت دخوړ لنيو د څه ناڅه اغېزمنۍ ترڅنګ يو شمېر فارسي لغتونه هم د سليمان پـه نثر کې ليدل کېږي، لکه: سپاس، خاکپای، بزرګ، روزګار، مهربان، درخواست او ځينې نور...

**د – د سليمان ماکو دنثر ګرامري جوړښت:** سره له دې چې د ماکو په نثر کې زياتره سوچه پښتو لغات کارېدلي او ليکنی متن يې هم سرې ته ډېر خوند ورکوي، خو دې سره سره يې ليکنۍ بڼه له عامې محاورې او همدارنګه د پښتو ژبې لـه اوسني ګرامري جوړښت سره اړخ ډېر نـه لګوي. د نثر دا حالـت کېدی شي د دوو عواملو له وجې رامنځته شوی وي: کېدی شي دهغه وخت دپښتو محاورې ژبه همدا شان يادې ته ورته وه، يا هم نثر پـه دې بڼه ليکل کېده او يا هم دعربي ژبې تـاثير پـر فارسي او د فارسي هغې پـر پښتو پرېوتی وي. دماکو د نثر پـه ځينو جملو کې مبتدا او خبر، فاعل او فعل، مضاف او مضاف اليه سره وړاندې وروسته شوي دي. دا کار دپښتو له اوسني ګرامر جوړښت سره توپير لري، کېدی شي د لرغوني دورې نثر همدا بڼه درلوده. خو بياهم د سليمان ماکو نثر، د پير روښان او دهغه دپلويانو او همدارنګه د اخوند درويزه او دهغـه د پلويـانو تـر نثـر ډېـر زيـات خـوږ، سـوچه او روان دی؛ تکلف، تصنع او ابهـام پـه کې نـه شـته. دلتـه بـه دمـاکو دنثـر څـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترکیبونه راوړو او بیا به د پښتو ژبې د اوسني ګرامر جوړښت اصله بڼه هم ورسره ولیکو:

| د سلیمان ماکو نثر | اوسنی ګرامري جوړښت |
|---|---|
| **وایم حمد و سپاس د لوی خاوند** | **دلوی خاوند حمد وسپاس وایم** |
| **چې دی بادار د کونینو او رحمت د ثقلینو** | **چې د کونینو بادار او د ثقلینو رحمت دی** |
| **په ویاله د ارغستان هوسېږم** | **د ارغستان په ویاله هوسېږم** |
| **مراقد د اولیا او واصلینو مې پلټهل** | **د اولیا او واصلینو مراقد مې پلټهل** |
| **او تناکې وچاودلې د پښو** | **او د پښو تناکې مې وچاودلې** |
| **سرېن نه درلود زامن** | **سرېن زامن نه درلودل** |
| **او هر کله به ویل خپل وروز ته** | **او هر کله به یې خپل وروز ته ویل** |

او داسې نور ترکیبونه او نورې جملې. دلته موږ د سلیمان ماکو په نثر کې ګورو چې نثر له عامې محاورې څخه لرې شوی دی. په پښتو کې عامه قاعده همدا ده چې اول فاعل راځي بیا فعل، اول مبتدا وي او بیا خبر، خو د سلیمان په نثر کې دا قاعده تر ډېره حده معکوسه ده.

## هـ - د سلمیان ماکو په نثر کې پخواني لغتونه:

د سلیمان ماکو په نثر کې پر هغو سوچه پښتو کلمو سربېره چې اوس هم په پښتو کې استعمالېږي، ځینې داسې نور پښتو لغتونه هم شته چې یا اوس نه کارېږي او یا هم په لږ شان لفظي تغیر او تحول

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره کارېږي، یانې متروکې کلمې په کې شته او متحولې کلمې هم په کې شته. دلته به دې ډول کلمو ته هم اشاره وکړو:

| په تذکرة الاولیا کې کارېدلې بڼه | اوسنۍ بڼه |
|---|---|
| پښتنخا | پښتونخوا |
| مرستون (په پخوانۍ بڼه اوس متروکه ده) | مرسته غوښتونکی |
| لولولې | ویلې |
| جوبله | (جنګ) پخوانۍ بڼه یې متروکه ده. |
| پپناه | پوه پنا |
| دښنه | دښمن |
| کتارو | توري (پخوانۍ بڼه یې اوس متروکه ده) |
| ډېر زښت | ډېر زیات |
| ګڼون | شمېر |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| کول | کورنۍ |
| بمیا (بومیا) | لاربنود (بمیا کلمه هم اوس متروکه ده) |
| وګروهېد | متعقد شو (دا بڼه هم اوس متروکه ده) |

او ځیني نورې کلمې چې اوس یا متروکې دي او یا یې هم بڼه کې بدلون راغلی دی. په تذکرة الاولیا کې ددغسې مړو او پخوانیو کلمو شتوالی ددې تذکرې لرغونتیا او ځانګړتیا په ګوته کوي.

**ب – په تذکرة الاولیا کې د نظم برخه:** په تذکرة الاولیا کې د نثر په اندول د نظم برخه نوره هم نږه او سوچه پښتو ده. ددې یوه وجه دا ده چې پښتانه شاعران له خپل ولس سره ګډ اوسېدل او ولس هغه وخت معمولاً د غرو په لمنو کې اوسېده. دغرو لمنې په طبیعي ډول د پردیو ژبو له اغېزو څخه لرې او خوندي وې. عربي او فارسي ژبو اکثره د دربارونو له لارې خپل تاثیرات بښندل، نو هغه شاعران چې له درباره لرې وو، له دې تاثیراتو خوندي وو. دا چې خپله د سلیمان ماکو په نثر کې دعربي او فارسي ژبې تاثیرات شته، ددې وجه داده چې کېدی شي، سلیمان ماکو دعربي او فارسي ژبو کتابونه لوستي وي او دا تاثیر یې ترې راخپل کړی وي. په تذکرة الاولیا کې ټول (څلور) ټوټې شعرونه راغلي دي. چې لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې د بېټ نیکه مناجات دي، دویم یې د شیخ ملکیار غرشین یو پارکی دی، درېیم یې د شیخ اسماعیل یو پارکی او څلورم یې د قطب الدین بختیار یو نظم دی.

د بېټ نیکه په شعر کې یوازې د (خدایه) کلمه راغلې چې هغه هم له فارسي سره مشترکه ګڼل کېږي، نور په ټول شعر کې د بلې ژبې کلمه نه شته. دملکیار غرشین په شعر کې د (اسلام) او (غازیانو) کلمې راغلي چې ریښه یې عربي ده، نور ټول شعر کې د بلې ژبې کلمه نه شته.

د شیخ اسماعیل په شعر کې یوازې د (ابلیس) او (لعین) کلمې، چې عربي دي نور د بلې ژبې لغتونه په کې نه شته او د قطب الدین بختیار په شعر کې بیا ګرد سره د بلې ژبې کلمه نه شته، ټول سوچه پښتو لغتونه دي. له دې پورتنیو څرګندونو دا ښکاره کېږي چې په تذکرة الاولیا کې راغلي شعرونه (د قطب الدین بختیار له شعر پرته) چې له ماکو سره هم مهاله ګڼل کېږي، نور شعرونه دماکو ترمهاله پخوا ویل شوي دي. څکه نو دې ټولو شعرونو کې د پردیو ژبو تاثیرات له کومې یوې دوو کلمو پرته نه ترسترګو کېږي، زموږ له پورتنیو خبرو څخه دا نتیجه لاسته راځي چې په تذکرة الاولیا کې راغلي شعرونه دماکو تر نثر پخواني او زیات سوچه دي او اکثره په ملي اوزانو کې دي، په خپله د سلیمان نثر هم تر یوه حده سوچه، روان او شفاف ګڼل کېږي او د پښتو ډېر زاړه لغات په کې کارېدلي دي.))(۵۸: ۴۲-۵۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرمحقق زلمی هېوادمل بیا ددې کتاب د هدف او سرچینو په باب وايي: ((د کتاب هدف د کاملانو د احوالو او ویناوو ضبط دی او په کتاب کې راوړي معلومات یې له اوربدنو او د پښتنو په هغه وختني ټولنه کې د تشو شفاهي معلوماتو او روایاتو په بنا کښلي دي، ځکه چې په موجوده پاڼو کې کوم کتاب یا بل لیکلي سند ته حواله نه ده ورکړل شوې. له دې سره دا هم زړه ته لوېږي، چې په تذکره کې راغلي پارکي به یې هم د خلکو له خولو لیکلي وي.

د تذکرې په موجودو پاڼو کې د څلورو کسانو، لکه شیخ بېټني، شیخ اسمعیل، ملکیار غرشین او قطب الدین بختیار کاکي لړ احوال او د شعرونو بېلګې خوندي شوي دي. دا څلور کسه په تاریخ کې معلوم خلک دي، تر سلیمان وروسته نورو مورخانو هم د دوی احوال کښلی دی.

که څه هم سلیمان ماکو ددغو کاملانو د ژوند د زمانې په باب څه نه دي لیکلي، له روایاتو او اوربدنو څخه دغه ډول مقصد ترسره کېدی هم نه شي، خو زموږ وروستیو محققانو چې ددې پاڼو محتویات تحقیق کړي دي، د نورو تاریخي لیکنو په مرسته یې ددغو څلورو تنو د ژوند زمانه هم ټاکلې ده او له خپلو برداشتونو سره سم یې ددغو څلورو تنو احوال سره بشپړ کړي دي.

دا اثر تر (۶۱۲هـ ق) کال وروسته کښل شوی دی او تر دې نثر دمخه موږ د پښتو د بل نثر نمونه، نه لرو او ورسره له دې منثورو ټوټو سره د بل معاصر بېلګې هم له موږ سره نه شته، چې په مقایسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يي ډول يې ارزيابي کړای شو. د تحول يا انحطاط څرکونه ځينې وو ايستلای او يا يې هم د سبک پر ځانګړتياوو څه خبرې وکړای شو. دا نثر د پښتو نثر ليکنې يو ځانګړی سبک دی، چې د نورو اسنادو تر پيدا کېدو پورې يې بايد ځانګړتيا ته قايل واوسو.

د همدغو موجودو پاڼو له مخې مونږ دا نثر په موضوعي لحاظ په علمي نثرونو کې مطالعه کولای شو، چې د خپل وخت له شرايطو سره سم او د هغه وخت د مسلطو فرهنګي جريانونو تر اغېز لاندې ليکل شوی دی او په نسبي ډول د مسلطو فرهنګي او ادبي جريانونو اغېزې پرې ښکاره دي.

په دې نثر کې جملې لنډې، لنډې راغلي دي، مطلب پرېکړی او کوټلی ادا کوي، وضاحت لري او پېچلې نه دي.

په دې منثورو ټوټو کې د پښتو ځينې زاړه لغات، تعابير او اصطلاحات شته، لکه: تناکې وچاودلې د پښو، ډېر زښت يې ووژل، پر نړۍ د ستن ږغو وه، وګروهېد، پاړکی، ستر څښتن، ګڼون، دښن، جوبله، کول، ټاټوبی، نړۍ، سوب، خرځ، مېنه، هسک او نور... ددې زوړ متن زاړه لغات او تراکيب دي.

د ماکو نثر د ځينو ژبنيو ښېګڼو ترڅنګه ناوړې هم لري، خبر يې پر مبتدا، مضاف پر مضافه اليه او موصوف پر صفت مخکې کړي دي لکه: وايم حمد و سپاس د لوی خاوند، يا زه غريب سليمان زوی د بارک خان ماکو سابزی، چې په وياله د ارغستان هوسېږم... يا خدای مهربان د اسمعيل په برکت سړبن ته نصيب کړه دونی زامن

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې اوس تر وس تېر سو ګڼون د هغو، یا په غره د کسي... یا په څېر د زمریو...

زموږ اکثر مشران څېړونکي په دې عقیده دي، چې که څه هم د سلیمان نثر د جملو به رغښت کې د دري او عربي ژبې اغېزې مني، خو له دې سره سره دا نثر ساده نثر دی، لکه اروا ښاد خادم چې ویلي دي: ((سره له دې چې د سلیمان ماکو په نثر کې د عربي رنګ شته، مګر دا رنګ دومره کمزوری دی چې دده کلام یې د فصاحت څخه نه دی ایستلی، که موږ ورته خلک ملتفت نه کړو ممکنه ده چې څوک وربانـدې پـوه هـم نـه شـي. سـلیمان اوږدې او بېچیـده جملـې نـه مستعملوي، نو ځکه دده نثر د یوې طبیعي مکالمې او مصاحبې صورت غوره کوي...))

دا نظریه د تذکرة الاولیا د نثر پـه بـاب ویـل شوې لومړۍ نظریـه ده، ځکه اروا ښاد خادم دا مقاله ددې پاڼو د خپرېدو پـر کـال لیکلـې ده. تر دې نظرېې وروسته چې چا څه ویلي ټولو د الفاظو په تغییر دا خبره تایید کړې ده، چې د عربي او دري د ځینو اغېـزو لـه منلـو سـره سره دا نثر عمومي مکالمې ته نږدې، ساده ګي په کې شته، نه ډېر ګران دی او نه ډېر اسان، بلکې د ساده نثر یوه متوسطه نمونه ګڼل شوې ده.

امـا د پښـتو نثـر د څېړنـې پـه یـو کتـاب کـې راغلـي، چـې : ((د سلیمان ماکو نثر څه عربي، څه فارسي او څه پښتو دی.)) د سلیمان د نثر په باب دغسې یوه ارزیابي سمه نه ایسي او دا ځکه چې عربي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او فارسي کلمات خو نورو ليکوالو هم تر دې زيات په خپلو نثرونو کې اخيستي دي، خو موږ دا نه وايو چې دا نثرونه څه عربي دي، څه فارسي او څه پښتو، بلکې د اخيستنو تناسب په کې څېړو.

د سليمان په نثر کې د يوې برابرې ساده ګۍ او روانۍ ترڅنګه کله کله د ځينو جملو په پای کې سجع او موازنه هم رعايت شوې ده، لکه: ((په وياله د ارغستان هوسېږم او په دې زمکو پايېږم.)) يا لکه: ((مراقد د اولياوو او واصلينو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل، يا په جوبله کې ملکيار دا پاړکی وويل: چې غازيان وپارېدل... او نور... دغه رنګه د ځينو افعالو په پای کې د ترنم لپاره (نه) هم نښلوي. بختيار سندرې کړينه، پاړکي لرينه او داسې پسې نور...

## د پښتو تذکرة الاوليا ارزښتونه:

د پښتو تذکرة الاوليا دغه څو پاڼې که څه هم کمي ارزښت يې لوړ نه دی، خو په کيفي لحاظ دومره ارزښتمنې ثابتې شوې دي، چې زموږ د ادبياتو د اوږده زنځير ځينې ورکې کړۍ يې سره کوشېر کړې. له دغو پاڼو زموږ فرهنګي تاريخ ته دغه لاندې ګټې متصورې دي:

۱- په دې پاڼو کې د پښتو شعر ځينې لرغونې نمونې شته، چې تاريخ يې څلورم هجري قرن ته رسېږي او دا نمونې د لرغونتابه پر اهميت سربېره د پښتو شعر ځينې لرغوني ډولونه هم په لاس راکوي، چې د پښتو شعر د اوازانو او انواعو په څېړنو کې نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېرېدلای او هم د پښتو شعر په تاریخ کې موږ ددې تذکرې پر همدغو څلورو پاڼو ډېر څه بنا کولای شو.

۲- د پښتو نثر تر ټولو قدیمه مکشوفه نمونه له همدې پاڼو ترلاسه کېږي او سملاسي موږ د خپل نثر تاریخ له همدې پاڼو پیلوو. دا پاڼې په اوومه هجري پېړۍ کې په پښتو کې د نثر لیکنې سبک او ډول راښیي او دا ترې ښکاري چې په هغه وخت کې د پښتو نثر لیکنې عمومي طرز په دې ډول و.

۳- د تذکرې دا پاڼې که څه هم لږې دي، خو د پښتو د یوه زاړه کتاب څو پاڼې دي. تر دې کتاب دمخه موږ ته د پښتو بل کتاب نه دی ترلاسه شوی او په پښتو کې د کتاب لیکنې د سوابقو په پلټنه کې دا پاڼې موږ ته ډېر کارې تمامېږي او دا راښیي چې دا وخت د پښتنو په ځینو حلقو کې د کتاب لیکنې ذوق پیدا شوی و او پښتانه هم دې خبرې ته متوجه شوي او هڅېدلي وو، چې د سیمې د مسلطو فرهنګي جریانونو په بڼه دوی هم په خپله ژبه کې کتابونه ولیکي. دا کتاب د خپل وخت د مسلطو ذهني شرایطو تر اغېز لاندې لیکل شوی دی، دا په دې مانا چې لوستو پښتنو سره دا فکر پیدا شوی و چې په دوی کې د تېرو شویو کاملانو احوال سره راټول کاندي چې نور لوستي پښتانه ترې خبر شي.

۴- ددې کتاب موجودیت دا راښیي چې دا وخت په پښتنو کې سواد یو څه عام شوی او د لوستو کسانو شمېر هومره و چې د کتاب د لیکلو ضرورت ورته حس کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډېرې خواشينۍ ځای دی، چې دا کتاب بشپړ نه دی ترلاسه شوی، که چېرې دا کتاب ټول د خدای(ج) په مرحمت راپيدا شي، نورې ډېرې خبرې به ترې برسېره شي او زموږ د لرغوني ادب او فرهنګ د بشپړتيا په مراتبو کې به ترې ډېره ګټه پورته وشي.)) (۵۴: ۱۶۷-۱۶۹)

لکه څنګه چې مو دمخه يادونه وکړه، د پښتو د نثر تاريخ د څېړلو په ترخ کې موږ ته په لومړۍ دوره کې د ځينو نورو داسې کتابونو نومونه مخې ته راځي، چې نثر بلل شوي، خو اوس په لاس کې نه شته، غواړو په لنډيز سره دددې کتابونو يادونه هم وکړو.

## تاريخ سوري:

محمد بن علي البستي ليکلی، دا پښتون مورخ له هغو نوموړکو مولفانو څخه دی، چې د مغولو د تاړاک په ابتدا کې ژوندی و، دده له احواله نور هېڅ معلومات نه لرو، پرته له دې چې دی د هلمند د غاړو يو سړی و او د تاريخي بست اوسېدونکی و، د پلار نوم يې (علي) و او ده يو کتاب ليکلی و، چې د سوريانو پاچاهانو احوال يې له پخوا په کې ضبط کړي وو، ((تاريخ سوري)) اوس ورک دی، يوازې د پټې خزانې مولف يې د شيخ کټه متي زي د (لرغوني شعراء) په حوالت نوم اخلي او داسې ښکاري چې دا کتاب د شيخ کټه په لاس کې و او په (لرغوني پښتانه) کې يې ډېر مواد له دغه کتابه رانقل کړي وو. د تاريخ سوري يو څه ابحاث او

(c) ketabton.com: The Digital Library

محتویات موږ ته په دوو واسطو لاسته راغلي دي، شیخ کټه په (لرغوني پښتانه) کې څنې رانقل کړي دي او له (لرغوني پښتانه) څخه د پټې خزانې مولف (محمد هوتک) په خپل کتاب کې را اخیستي دي او هغه مواد او پاتې اثار دادي:

۱- د امیر کروړ احوال او دده یو پخوانی حماسي شعر او ویاړنه.

۲- د اسعد سوري احوال او دده قصیده.

۳- د ښکارندوی احوال او دده قصیده.

له دغو پاتې اثارو څخه ښکاري چې محمد بن علي د پښتنو په تاریخ او ادب کې ښه او ثقه معلومات درلودل او لکه (لرغوني پښتانه) چې له ده څخه روایت کوي، دی ادیب او پلټونکی سړی و او په بست کې یې د ښکارندوی د قصایدو یو غټ دیوان موندلی او له هغه څخه یې دده یو غرا قصیده په خپل (تاریخ سوري) کې رانقل کړې ده.

داسې ښکاري چې د محمد بن علي (تاریخ سوري) مشهور و او شیخ کټه هم دا کتاب د غور په بالشتان (والشتان) کې موندلی و او تر دغه عصره د (۷۵۰هـ) حدود لا دا کتاب موجود و، څکه چې بستي به تر (۷۰۰هـ) دمخه ژوند کاوه او باید دده د ژوندانه وخت د اتکل په ډول له (۵۸۰هـ تر ۶۵۰ هـ) پورې وټاکو، څکه چې د ښکارندوی عصر هم د (۵۸۰هـ) حدود دي اوددې شاعر احوال او شعرونه ده په تاریخ سوري کې ضبط کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاریخ سوري په خصوص کې د پټې خزانې له لیکنو څخه دومره ښکاري، چې یو په پښتو لیکل شوی تاریخ و او د سوریانو د کورنۍ احوال یې له پخوا بیاناوه، یوازې د حربي او سیاسي پېښو تاریخ نه و، بلکې ادبي رنګ یې هم درلود او (بستی) ډېر باخبره او سترګور مورخ و، ځکه چې ده د پاچاهانو احوال او حربي او سیاسي وقایع رانقل کړي او هم یې د دوی د کلام نمونې راوړې وې او هغه قصیدې یې په خپل کتاب کې ساتلې وې، چې د غوري پاچاهانو په دربارونو کې په پښتو ویل کېدې، له دې څخه ښکاري چې (تاریخ سوري) د سوریانو او غوریانو د عصر یو ادبي، سیاسي او حربي تاریخ و، که څه هم ددغه تاریخ نسخه اوس نه شته، خو د پټې خزانې له یادونو څخه یې اهمیت ښه ښکاري او دا د پښتو ژبې یو خورا قیمتي کتاب و.

دا خبره هم باید هېره نه کړو چې راورټي مستشرق د احمد شاه بابا تر عصر وروسته یو تاریخ موندلی و، چې نوم یې (تذکرة الملوک) و، ددې کتاب په ماخذونو کې یو کتاب (تاریخ سلاطین سوریه) هم دی، خو دا نه شو ویلای چې دغه (تاریخ سوریه) همغه د محمد بن علي تاریخ وي که بل؟

## اعلام اللوذعي فی اخبار اللودي:

احمد لودي لیکلی، احمد د سعید زوی او د لودیانو له لیکوالو، ادیبانو او مورخانو څخه دی، چې د اوومې هجري پېړۍ په منځ کې ژوندی و، محمد هوتک لیکي، چې: کامران خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سدوزي پر (۱۰۳۸هـ) يو کتاب د (کليد کامراني) په نامه وکښلی او په دغه کتاب کې يې د احمد لودي له کتابه د ملتان د لودي پاچاهانو احوال نقل کړي.

شيخ احمد د سعيد لودي زوی پر (۶۸۶هـ) يو کتاب کښلی و چې نوم يې (اعلام اللوذعي فی اخبار اللودي) و، هغه وخت چې کامران خان (کليد کامراني) ليکه، دغه کتاب يې هم په لاس کې و او د پښتنو لودي پاچاهانو احوال او اشعار يې له دې کتابه نقل کړل، چې د پټې خزانې مولف هم له کليد کامراني څخه په خپله خزانه کې وساتل.

داسې ښکاري چې احمد لودي په خپل کتاب کې ددغو لوديانو د پاچاهي کورنۍ احوال ليکلي وو او د دوی پښتو شعرونه يې هم راوړي وو، په شرقي مورخانو کې (محمد قاسم فرشته) هم د شيخ حميد کورنۍ لوديان پښتانه بولي او له سلطان محمود سره د دوی جګړې ليکي.

څرنګه چې محمد قاسم په خپل کتاب کې خپل ماخذ نه دی ښودلی، نو دا نه وه معلومه چې ددې کورنۍ پښتونوالی په کوم تاريخي سند ثابت دی؟ لکه چې ددې عصر ځينو مورخانو د شيخ حميد له پښتون ګلوۍ څخه انکار کړی او وايي چې دغه کورنۍ د (جلم بن شيبان) عربي نژاد واکمن له نسله ده، چې تر (۳۴۰هـ) وروسته د ملتان لومړی قرمطي پاچا و، خو د پټې خزانې مولف د (کليد کامراني) په ذريعه ددې کورنۍ پښتو شعرونه له اخبار

(c) ketabton.com: The Digital Library

اللودي ښخه راوړي دي، چې دا کتاب ددغې کورنۍ په تاريخ کې يو ټينګ او زوړ سند ګڼل کېږي. بې له دې انتخابه چې په لوړ ډول له (اخبار اللودي) ښخه موږ ته رارسېدلی دی، ددې کتاب پته نه شته او نه يې نسخه تراوسه پيدا شوې ده، خو د پټې خزانې له ذکره ښخه دومره نتيجه اخيستلای شو چې تر (۶۰۰هـ) راوروسته چې د پښتو د نثر ليکلو کومه سلسله شروع شوې وه، هغه ددغه قرن تر اخره پورې هم جاري وه او احمد لودي هم د پښتو له دغو پخوانيو ليکوالو ښخه دی چې کتاب يې د کامران خان سدوزي تر عصره په يوولسمه هجري پېړۍ کې لا هم موجود و.

## لرغوني پښتانه:

شيخ کته ليکلی، دا مدقق مورخ او د پښتو ژبې لوی ليکوال د مرحوم شيخ متي له علمي او ادبي کورنۍ ښخه دی، چې د شيخ يوسف زوی او د شيخ متي لمسی و. شيخ متي (کلات بابا) خپلې کورنۍ ته علم، تقوا، عرفان او ادب په ارث پرېښوول او ډېر علماء، مورخان او عارفان په کې پيدا شول، چې د شيخ يوسف تر مړينې وروسته له ده ښخه اوه زامن پاتې شول او شيخ کته په دوی کې ډېر مشهور و. د شيخ مور بي بي (مراد بخته) نومېده چې په ختـه (زمنده) وه.

دې نوموړي عالم د پښتنو د رجالو او مشاهيرو په تاريخ کې يو نفيس کتاب وکېښ چې نوم يې (لرغوني پښتانه) و، دا کتاب پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

و او د پټې خزانې مولف محمد هوتک ډېر ځله دا کتاب یادوي او داسې ښکاری چې ددغه مورخ یوائینی مهم ماخذ همدغه و او د پټې خزانې د لیکلو پر وخت یې په لاس کې و.

د شیخ کته د ژوندانه وخت یقیناً نه دی معلوم، خو د پټې خزانې په روایت دده نیکه (شیخ متي) پر (۶۸۸هـ) وفات شوی دی، ځکه چې د مورخانو په اتفاق یوه پېړۍ د دریو پښتونو لپاره مقرره ده، نو باید د شیخ کته د ژوندانه وخت هم د (۷۵۰هـ) شاوخوا وګڼل شي. د شیخ کته اولاد که څه هم د پېښور په شمالي برخو کې پراته وو، خو داسې ښکاري چې په خپله دی سیاح سړی و، ځکه محمد هوتک په ښکاره لیکي چې شیخ کته د محمد بن علي البستي کتاب (تاریخ سوري) په بالشتان کې لیدلی و. بالشتان یا والشتان خو د غور مشهور ښار و، چې پر (۱۳۹هـ) امیر پولاد سوري نیولی و او د بیهقي په ضبط (ګورو الشت) او د منهاج سراج د طبقات ناصري په یوه نسخه کې (غور والشت) راغلی دی او دا ښار د تکینا باد (د هلمند او کندهار حدود) او د غور د مندېش ترمنځ پروت و او د سیستان په تاریخ کې (واستان) ضبط شوی دی.

نو چې شیخ کته (والستان) ته راغلی و او د غور دغه ښار یې لیدلی و، ښکاربږي چې د پښتونخوا غربي او جنوبي خواوې به یې هم کتلي وي او هم له دغه جهته به دده معلومات د پښتنو د تاریخي رجالو پر احوال ډېر شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیخ کته نفیس تاریخي کتاب (لرغوني پښتانه) چې له نامه څخه يې هم د کتاب اهمیت ښه ښکاري اوس نه شته، لکه چې ومو ویل دا کتاب له محمد هوتک سره و او د پټې خزانې غوره ادبي برخه له دې کتابه اقتباس دی او محمد دا هم لیکي چې د شیخ کته یو مهم تاریخي ماخذ (تاریخ سوري) و چې دمخه يې ذکر وشو.

د شیخ کته د اولاد په باب خواجه نعمت الله هروي مفصلاً معلومات راکوي چې ده اته زامن درلودل، د زلو مغدورزی له نسه: سلطان، ثابت، حاجي سلیمان ممي، له دویمې مېرمنې څخه چې هغه هم زلو نومېده په ختهٔ اکازی یوسفزی وه: ابراهیم، ملک پاچي وو. هغه مقتبسات چې د پټې خزانې مولف له (لرغوني پښتانه) څخه کړي دي، دا سې ښکاره کوي چې (لرغوني پښتانه) د ادبي، سیاسي او نورو نوموړو پښتنو یو عمومي تذکره وه. د پاچاهانو، پوهانو، شاعرانو او جنګیالیو خلکو احوال او شعرونه په کې ثبت شوي وو او دا کتاب چې د پښتو د نثر او نظم یوه غوره ذخیره وه، په خواشینۍ سره چې اوس ورک دی او نسخه يې چا نه ده لیدلې، خو پر (۱۱۴۲هـ) لا محمد هوتک سره و.

له (لرغوني پښتانه) څخه د پټې خزانې په ذریعه دغه مغتنم مواد موږ ته پاتې دي:

۱- د امیر کروړ احوال او شعرونه، چې شیخ کته هم له تاریخ سوري څخه اقتباس کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د شیخ اسعد احوال او شعرونه، چې شیخ کته هم له تاریخ سوري څخه اقتباس کړي دي.

۳- د ښکارندوی احوال او شعرونه، چې شیخ کته هم له تاریخ سوري څخه اقتباس کړي دي.

۴- د هاشم سروانهي بستي احوال او شعرونه.

شیخ کته متي زی غوریاخېل د پښتنو یو عارف او زاهد مورخ او نثرلیکونکی مشهور سړی دی، چې د ادبیاتو په تاریخ کې به تل دده نوم ژوندی وي. که څه هم د یوه لیکوال او مولف په ډول دی موږ له پټې خزانې څخه پېژنو، خو د یوه مشهور عارف او ملي سړي په ډول دمخه نعمت الله هروي هم دی په خپل مخزن کې معرفي کړی دی.

## د شیخ ملي دفتر:

اخوند درویزه (۹۴۰-۱۰۲۸هـ ق) په (تذکرة الابرار والاشرار) کې د شیخ ملي د وېش یادونه کړې ده. شیخ میرداد خلیل(؟) په تاریخ افاغنه کې د شیخ ملي د دفتر یادونه کړې ده او دا خبره بیا (پیر معظم شاه) د یاد شوي تاریخ افاغنه په لنډیز (تواریخ حافظ رحمت خاني) کې داسې راوړې ده: ((گویند چې شیخ ملی نهایت متدین، متقی، قایم اللیل صایم الدهر سړی و. هر چرته به چې ته خدمتگار به کوزه د اوداسه یې ورسره گرځوله او دی ماتحت د ملک احمد مقتدا د درست مندړ و. دی د هرې چارې د هر مهم غمخور و،

(c) ketabton.com: The Digital Library

همګی کلي، ملکونه تپه په تپه، کور په کور دده په دفتر ختلي وو او ده ویشلی وو...))

سربېره پردې، خوشال ختټک (۱۰۲۲- ۱۱۰۰ هـ ق) هم ددې دفتر یادونه په دې ډول کړې ده:

په سوات کې دي دوه څیزه که خفي دي که جلي

مـخزن د دروېـزه دی یـا دفتـر د شیـخ مـــــلي

نورو منابعو کې هم ددغه دفتر د موجودیت یادونې شوې دي، خو انګرېز ختیځ پوه (هانري جارج راورټي) (۱۸۲۵- ۱۹۰۶) یادونې د پام وړ دي. ده د خپل لیکلي پښتو ګرامر په سریزه کې له نثر لیکونکیو د شیخ ملي نوم د پخواني لیکوال په توګه یاد کړی دی او دده د لیکلي تاریخ یادونه یې کړې ده. نوموړي د خپلې پښتو ډکشنرۍ د سریزې په (۱۷) مخ کې هم ددې دفتر یادونه کړې ده.

ځینو نورو ختیځپوهانو هم د راورټي د همدې یادونې پر اساس پر دې کتاب خبرې کړې دي، لکه جیمز ډارمستټېر (۱۸۴۹- ۱۸۹۴) چې د ((پښتونخوا د شعر هار و بهار)) کې د شیخ ملي د کتاب په باب کښلي دي: ((داسې مشهوره ده چې لومړی کتاب چې په پښتو کښل شوی دی او ددې سوبمن ټبر د ښېلو ښېلو پښو ترمنځ د سوات سیمه وېشله شوې ده)) ددې کتاب لیکوال د شیخ ملي په نامه بولي چې د یوسفزو مشر و. مشهوره ده چې په دې کتاب کې داسې دودونه او رواجونه مشروع ښوول شوي وو چې له اسلامي شرعې سره برابر نه دي، لکه نجلۍ ته د هغې له خوښې پرته مېړه کول، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلې خوا مشهوره ده چې د سوات خلک د اسلام دین ته په غاړه اېښودلو کې ډېر ټینګ دي، له همدې کبله خوشال خان خټک له یوې خوا له شرعې نه بې لارې او له بله پلوه په دین کې زیات تعصب دواړه د خپل دې بیت په لاندې بڼه کې د کنایې په جامه کې غندي:

په سوات کې دي دوه کفره یو خفي دی بل جلي

یــو مــخزن د درویــزه دی بــل دفــتر د شیخ مــلي

د خوشال بابا د لوړ بیت ددې بڼې په لومړۍ مسرۍ کې د ((کفر)) کلمه په نورو ضبطونو کې ((څیزه)) او ((کاره)) راغلي دي.

د شیخ ملي د دفتر د لیکلو کال په افغاني منابعو کې (۸۲۰ هـ ق) کال ښودل شوی دی، اما پروفیسور محمد نواز خان طایر د تواریخ حافظ رحمت خاني په سریزه کې دا کال (۹۳۰هـ ق) شاوخوا اټکل کړی دی.

ددغو لوړو یادو شویو اسنادو او خارجي منابعو د یادونې له مخې د شیخ ملي دفتر وجود ثابت دی، څنګه چې دا دفتر اوس نه شته، نو ځکه تر دې زیات پرې څه نه شي ویل کېدی.)) (۵۴: ۱۴۹-۱۷۱)

## د کجوخان تاریخ:

مارګن ستېرن مستشرق لیکي چې راوړتې د پښتنو ډکشنرۍ په مقدمه کې کښلي دي، چې له ده سره د خان کجو راڼېزي یو پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ شته چې په هغه کې د پښتنو تاریخي حوادث او وقایع لیکلي دي.

ددې تاریخي کتاب د لیکنې وخت راوړتې (۱۴۹۴م – ۹۰۰هـ) ښوولی دی، خو داسې ښکاري چې خان کجو د شیخ ملي تر عصر وروسته د پښتنو مشر و، تراوسه ددې کتاب په بابا نور څه معلومات نه لرو، خو دومره ویلای شو چې په سوات او اطرافو کې له یوسفزو څخه یو قوم تراوسه (رانیزي) پراته دي. د حیات خان په قول تراوسه له دغو یوسفزو څخه درې کورنۍ مشهورې وې، چې یوه له دغو دریو څخه ازي خېل دي، چې ازي د علي زوی او علي بن رانی بن اکوبن یوسف دی. د ازي خېلو دغه مشهوره کورنۍ (کجو کور) بولي چې پخوا د دوی نفوذ او واک خورا ارت و، خو اوس په پاسني سوات کې شپږ زره کوره په دوی پورې اړه لري، چې د (۱۲۸۰هـ) په شاوخوا کې ددغې کورنۍ مشر صحبت خان نومېده او بل ځای حیات خان وایي، چې خان کجو د شېرشاه معاصر و، چې دغه خبره هم سمه ښکاري، نو دغه مشهور کاجو یا کجو خان د پښتنو یو خورا نومیالی مشر و، لکه چې شیخ ملي د علم څښتن و او دده یو تاریخي کتاب راوړتې لیدلی او موندلی و، په خواشینۍ سره چې اوس ورک دی او ښایي چې د برېتانیا په موزیمونو کې پیدا شي، ځکه چې د راوړتې ټول کړي کتابونه تر ده وروسته نه دي ضایع شوي او اکثر د لندن په موزیمونو کې خوندي دي. وایي چې خان کجو په خپل عصر کې تر ټولو لوی او مقتدر او غښتلی ملک و او هغه جنګ چې په شیخ تپور (زاړه نوښار) کې واقع شوی و، خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کجو يې قايد و او په پښتنو کې تر شيخ ملي او شيخ احمد وروسته خان کجو ډېر شهرت پيدا کړی و.

که څه هم د خان کجو کتاب موږ نه دی ليدلی، خو دومره ويلای شو چې دا کتاب به د شيخ ملي د (دفتر) په ډول يو تاريخي او قانوني کتاب و، چې د خان کجو له خوا د (دفتر) د تکميل لپاره ليکل شوی او د پښتو ژبې يو تاريخي او قانوني منثور اثر دی.

خان کجو د ټولو خښي، محمدزيو، اتمان خېلو، ګدون او ترکلاڼو قبايلو مشر و او د شيخ ټپور په جنګ کې يو لک زلمي له دغو قبيلو څخه پر (۹۵۷هـ) حاضر کړي وو او تر دې دمخه پر (۹۲۳هـ) کال دوی باجوړ او د يوسفزو اوسنۍ سيمه ټوله نيولې وه او دلازاک يې له دغو سيمو څخه ايستلي او د شيخ ملي قوانين يې د ځمکو په وېش کې جاري کړي وو.

د خان کجو قبر تراوسه هم د سوابۍ او مردان ترمنځ پر يوه لويه غونډۍ چې په سرميره کې پرته ده او کجو غونډۍ يې بولي له (شاه منصور) څخه شپږ ميله لرې واقع ده او خلک يې اوس ګجوخان بابا يا ګجوان تلفظ کوي او دا د يوسفزو د سيمې ډېر مشهور زيارت ګڼل کېږي. وايي چې د ګجوخان کورنۍ د بېزاد خېلو له فرعي قبيلې څخه وه او دده اولاد تراوسه هم په (کلابټ) کې شته او د پلار نوم يې قره خان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګجوخان یا کجوخان پر وخت چې کوم جنګونه د پښتنو قبایلو په منځ کې شوي دي، دا ښکاره کوي چې د شیخ ملي د سوله ییز تحریک، روغې او سمې غبرګلی شوی او د یوسفزو او دلازاکو او غوریا خېلو ترمنځ د روغې او مینې پر ځای جګړې لویدلې وې.

دلته نو موږ د شیخ ملي موثر او مصلح شخصیت، د خان کجو له یوازې حربي او خاني شخصیت څخه بېلولای شو.

د پورته یادو شویو اثارو ترڅنګ مورخانو د شیخ قاسم د (تذکرة الاولیا) یادونه هم کړې ده. چې په دې اثر کې هم د صوفیانو او اولیاوو احوال ثبت شوي، خو په خواشینۍ سره چې ددې اثر متن هم تراوسه نه دی ترلاسه شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شپږم څپرکي لنډیز

د لاسته راغلو اثارو له مخې په لرغونې ادبي دوره کې نظم تر نثر پخوانی دی. نه یوازې په پښتو، بلکې د نړۍ په اکثرو ژبو کې همدا حال دی چې د منظومو ادبي اثارو لرغونوالی یې تر نثري اثارو زیات دی، ددې علت دادی چې نظم په حافظه کې پاتې کېږي، سینه په سینه او خوله په خوله له یوه پښت څخه بل ته لېږدول کېږي. د پښتو منظوم اثر نمونه (۱۳۹هـ) او د نثر بېلګه یې تر (۶۱۲هـ) کال پورې رسي.

پښتو کې د دوو ډولو نثري اثارو یادونه شوې ده، یو هغه اثار دي چې یوازې نومونه یې د نورو اثارو په مرسته تر موږه رارسېدلي، خو په خپله د اثارو بېلګه او متن یې په لاس کې نه شته، لکه (د سالو وږمه) چې تر (تذکرة الاولیا) دمخه لیکل شوې، خو اوس یې متن زموږ په لاس کې نه شته. بل هغه ډول اثار دي چې د هغو یو څه بېلګې هم ترلاسه شوي لکه د سلیمان ماکو تذکرة الاولیا. تر تذکرة الاولیا وروسته هم د ځینو نثري اثارو یادونه شوې لکه د محمد البستي (تاریخ سوري)، د احمد بن سعد لودي (اعلام اللوذعي فی اخبار اللودي)، د شیخ کته (لرغوني پښتانه)، د شیخ ملي (دفتر) او ځینې نور چې متنونه یې لاسته نه دي راغلي، خو د همدې اثارو په برکت د پښتو ادب د لرغونې دورې یو شمېر منظوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثار او د شاعرانو احوال تر موږه رارسېدلي دي. خو د نثر بېلګه چې یو څه متن یې په لاس کې شته هغه د سلیمان ماکو تذکره ده.

د سلیمان ماکو تذکره پر دوو برخو مشتمله ده؛ د لیکوال خپله وینا چې په نثر ده او په اثر کې د معرفي شویو شاعرانو د کلام بېلګې چې په نظم دي. دواړه بېلګې یې د لرغوني دورې خپل رنګ او خپل خپل خوند لري. د سلیمان ماکو نثر کې پر پښتو کلمو سربېره چې د متن اصلي او اساسي برخه جوړوي، دري او عربي کلمې هم کارېدلې دي. دا نثر له عادي محاورې سره څنګ په څنګ روان دی. ګرامري جوړښت یې د پښتو له اوسني ګرامري جوړښت سره څه ناڅه توپیر لري، ځینې داسې متروکې کلمې هم په کې کارېدلې چې اوس په پښتو محاوره او یا هم لیکنۍ ژبه کې نه کارول کېږي.

د سلیمان ماکو تذکره موږ په دې باوري کوي چې دغه مهال په پښتنو کې ددغسې اثارو د لیکلو ذوق پیدا شوی و او له پښتنو علماوو څخه یې ځینو غوښتل چې ددې ژبې د شاعرانو ویناوې او اصول راټول کړي.

پښتو ادبپوهان د تذکرة الاولیا اهمیت او ارزښت ته په کتو سره وایي:

۱) په دغو لاس ته راغلو پاڼو کې د پښتو ډېر زاړه اشعار خوندي شوي دي، که چېرې دغه پاڼې نه وای ترلاسه شوې، نو به موږ له دغو اشعارو ناخبره وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲) په دې پاڼو کې د پښتو د څلورو تنو پخوانیو وېناوالو: شیخ بیټني، شیخ اسماعیل، ملکیار غرشین او قطب الدین بختیار کاکي اشعار او لږ احوال خوندي دي.

۳) د همدې پاڼو له لارې تر ټولو لرغونې لاس ته راغلی پښتو نثر تر موږه رارسي او هم د اوومې پېړۍ په لومړیو وختونو کې د پښتو یو تکړه لیکوال او مورخ موږ ته راپېژني چې هغه خپله ددې تذکرې لیکوال سلیمان ماکو سابزی دی.

۴) په اوومه هجري پېړۍ کې د پښتو تذکرة الاولیا لیکل موږ په دې باوري کوي، چې دغه مهال په پښتنو کې ددغسې اثارو د لیکلو ذوق پیدا شوی و او له پښتنو علماوو څخه ځینو یې غوښتل چې ددې ژبې د شاعرانو وېناوې او احوال راټول کړي.

د پښتو ژبې پخواني لیکوال سلیمان ماکو د خپل اسلامي او دیني ذهنیت او د هغه زمان د مسلطو فکري او فرهنګي جریانونو تر اغېز لاندې د هغو پښتنو اولیاوو احوال راټول کړي، چې دده په قول یې وېناوې (اشعار) پربښي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شپږم څپرکي پوښتنې

- د هغو منثورو اثارو نومونه واخلئ چې د نورو اثارو له مخې یې نومونه تر موږ رارسېدلي خو متنونه یې نه دي ترلاسه شوي.
- د پښتو د نثر تاریخ کومې پېړۍ ته رسي؟
- په تذکرة الاولیا کې د پخوانیو نثرونو بېلګې ولې نه شته؟
- تذکرة الاولیا چا لیکلی، ارزښت او اهمیت یې په ګوته کړئ؟
- په تذکرة الاولیا کې کوم شاعران معرفي شوي دي؟
- د تذکرة الاولیا د ګرامري جوړښت سکښت وشنئ!
- د پښتو د لاسته راغلي نظم او نثر د بېلګو ترمنځ څومره واټن موجود دی، علت یې څه دی؟
- د نړۍ په اکثرو ژبو کې ولې د نظم بېلګې تر نثر پخوانۍ دي؟
- د سلیمان ماکو پر تذکرة الاولیا د کومو ژبو لغوي اغېز ښکاري؟
- د سلیمان ماکو تذکرة الاولیا پر څو غټو برخو وېشلای شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم څپرکی

## د لرغونې دورې د ادبیاتو لغوي شننه

په پښتو لرغونې شاعرۍ او ادبیاتو کې ځینې داسې لغتونه کارول شوي، چې اوس یا نه استعمالېږي یا په هغه مانا نه کارول کېږي او یا په لږ تغیر سره کارول کېږي، د ژبې تحول تاریخ دا په ډاګه کوي چې په هره ژبه کې دا ډول ادلون بدلون یو طبیعي بهیر دی او په ژبو کې دا ډول بدلون پېښېږي، په پښتو لرغونې شاعرۍ او په مجموعي ډول په ټوله ژبه کې دا ډول تغیرات یو طبیعي حالت دی. یاده دوره کې د امیر کروړ په شعر، د ابو هاشم سرواني په ژباړه، د شیخ اسمعیل او خرښبون په نارو، د شیخ رضی لودي او نصر لودي په پاړکو، د سلطان بهلول او خلیل خان نیازي په ځلوریزو، د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري په قصیدو د شیخ متي، بابا هوتک، ملکیار غرشین په شعرونو، د زرغونې کاکړ په حکایت، د شیخ تیمن، شیخ عیسی مشواني او په مجموعي ډول د لرغونې دورې د ټولو شاعرانو په کلام کې ځینې داسې کلمې کاربدلي چې زړه ریښه لري، سوچه پښتو کلمې دي، هغوی هم کارولي او اوس هم کارېږي او یو کم شمېر یې بیا داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي چې هغوی کارولي خو اوس د ژبې د کارونې له دورانه غورځېدلي دي. يانې متروکي شوي دي. که څه هم موږ د هر شاعر د کلام په لغوي شننه کې ورته نغوته کړې خو دلته غوارو د موضوع د لا روښانتيا لپاره دې دوارو ډولونو ته يو ځل بيا نغوته وکړو او د دې کلمو يو عمومي جاج واخلو.

دلته لومړی متروکو کلمو ته نغوته کوو او بيا هغو کلمو ته چې پخوا کارول شوي او اوس هم کارېدونکې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# متروکې کلمې

متروکې کلمې په ژبه کې هغو کلمو ته ویل کېږي چې پخوا په ژبه کې کارېدلې دي، خو اوس په ژبه کې نه کارېږي، یا پرېښودل شوي وي او د استعمال له دورانه غورځېدلي وي، ځای یې نورو کلمو نیولی وي او یا هم په کې زیات شکلي بدلون راغلی وي، په پښتو لرغونو ادبیاتو کې هم دا ډول کلمې شته چې دلته به یې د ځینو یادونه وکړو. دا کلمې د بېلابېلو شاعرانو په کلام کې راغلي دي.

- د امیر کروړ په ویاړنه کې. من (زړه، اراده) (غشی د من مې ځي برېښنا پر میرځمنو باندې). په دې مانا چې د زړه، ارادې، عزم او هوډ غشی مې پر دښمنو باندې لګي.
- میرځمن: دښمن
- ژوبله: جنګ
- اودوم: چاره، علاج
- خول: تاج
- دښن: دښمن: (ډاري دښن راځخه)
- زړن: زړور: (رېي زړن راځخه)
- مخسور: بری، سرخرویي
- بامم: تربیه کوم: (دوی په ډاډینه ښه بامم.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هاشم ابن زيد سرواني په شعر کې بيا (خړو) ( بدی) په مانا دی چې اوس متروکه ده او همدارنګه (سونې) د (دروغو) مانا لري چې اوس په دې بڼه په ژبه کې نه کارول کېږي.

د شيخ رضی لودي په پاړکي کې بيا ( کوراوه) کلمه چې د (باطلولو) مانا لري، اوس متروکه ده، رغا (بېزاری) چې اوس په دې مانا نه کاريږي، (ورځ لوی) د (قيامت ورځې) په مانا اوس په دې بڼه نه شته خو (لويه ورځ) اوس هم د قيامت په مانا په ولس کې کاريږي.

د نصر لودي په شعر کې بيا (دښن) د (دښمن) په مانا او (توراوه) د تورپورې کولو يا تهمت تړلو په مانا راغلي چې اوس په ژبه کې په دې بڼه نه کاريږي.

د اسمعيل په شعر کې (کتهاره) کلمه چې (د تورې) مانا ورکوي اوس متروکه ده، په بل شعر کې يې بيا (کرغه) چې (توره او وچه ځمکه) مانا لري، اوس متروکه ده، او همدارنګه (برغې) کلمه چې د (ګټې، مقصد او نفعې) مانا لري، اوس نه کارول کېږي، (يانه) د (سفر) په مانا او (ثوری) د (سفرخرځ) په مانا د خرښبون په شعر کې متروکې کلمې دي. (سخ) چې د (خوښي او نېک فال) مانا ښندي، هم اوس په ژبه کې نه کاريږي.

د شيخ اسعد سوري په شعر کې: (زمولوي)، (مړاوي کول) اوس ډېره نه کارول کېږي.

- اوکوبه (شان او شوکت، دبدبه) (له اکوبه به يې ډاري تېروجبار) يانې له شان شوکت او دبدبې څخه ډېر زورور هم ډاريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- تېرو (تېرى) ژوبلورو (جنګي ،سپاهي)، ويرژلو (غمجن)، ژړاژړ (شور و فرياد)، ورټ ورټ (د ژړا حال)، شنار (ظلم) ترار (مضطرب)، نمنځى چار (زاهد او عابد)، سما(سم، اصلاح، عدالت)، ببړۍ (زولانه)، خوار (صبر) تور نمري (توركالي)، لي (لولي)، زرغا (شينوالى)، سوړار يا سوراړ (وچه او توده دښته) او ځينې نورې داسې کلمې دي چې اوس په ژبه کې نه کارول کېږي او يا هم په لږ و ډېر تغير کارول کېږي، يانې دا چې پخواني شکلونه يې اوس متروک شوي دي.
- د شيخ تيمنن په شعر کې بيا (نول) د (پرېشانۍ) په مانا اوس معمول نه دى.

د ښکارندوى غوري په قصيده کې بيا اشلکونه ( د شعرونو په مانا کارول شوې) خو اوس په دې مانا نه کارول کېږي او د ژبې له دورانه غورځېدلي دي.

- ايلايي: ښکارندوى د (طاعت او تابعيت) په مانا کارولې، خو اوس په دې بڼه نه کارول کېږي. البته (ايل) کولو يا حصارولو مصدر يا ريښه اوس هم په ژبه کې شته، (ببل يې کړه ايل يې کړه)، د انګرېزي ښکېلاک يو سياسي فورمول هم و، چې پښتو کې يې مانا په دې شکل راوړې ده.
- ايړ يا ايړونه: د ببړۍ يا کښتۍ په مانا راوړې چې اوس په ژبه کې نه کارېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- بربڼ: د (پورته باغ) په مانا اوس ډېره معمول نه ده، خو که پورته یا کښته دوه باغونه وي، لر یا بر باغ یا لر او بر بڼ له استعماله لرې نه بریښي، (لر) او (بر) او همدا راز (بڼ) کلمې اوس هم په جلا جلا ډول په ورځنۍ محاوره کې کارېږي.
- خونولیه (نثارول)، اورو (وریځ) اوس نه کارول کېږي.
- بریځر: چې د (غرمې) په مفهوم راغلی، هم اوس نه کارول کېږي.
- برمل: د ماسپښین مانا لري خو اوس یې کارونه نه شته.
- بودتون: د بتانو ځای چې اوس یې ځای پارسي بتکدې نیولی، د تون له روستاړي سره اوس نورې ګڼې کلمې نښلول شوي، لکه پوهنتون، روغتون، روزنتون ، بڼ (سیال) مانا ښندي دغه راز په تېولیز ډول د لرغونو دورې د شاعرانو په شعرونو کې ، ترمل (ماښام)، ترپلل (تښتېدل)، تېکاونه (راحت، ارام)، تېکنه (عدالت، انصاف)، جنډي (ګلونه)، جاندم (دوزخ)، جاجي (فکر کوي)، چنډي (شاعر)، چوڼي (بلبل)، ځورنګ (تېپي)، ځری (استازی)، ځغلا (تېښته)، خونول (شیندل، تیت)، خړ (بد)، ختې (جامې)، روده (لاره)، رپ (رپېدل) روغی (سلامتي)، رامشت (ساز او سرود)، رغا (بېزاري)، رېل (پېرزوینه)، زمولوي (مړاوي کوي)، ژوبلور (جنګیالي، عسکر)، ژوبلله (زخمي کېدل)، ژوبله (جنګ)، سوران (توپان)، سوب (حاضر)، سوبمن (فاتح)، ستایوال (ستایونکی)، سکڼې (پرې کوي)، سار (ساری، مثال)، سینګړونه (ډبرین، ډبریز)، سال (میده شګه)، سادین (شودیاره ځمکه)، سور (خوښي)، سود (ډاډ، اطمینان)، شڼ (مست)، شڼا (مستي)، ښکلل (سینګارول)،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښهانه (ښېګڼه)، غوړن (خبر)، کړونګی (ابشار)، ګاڼل (د زېوراتو بندول)، لته (سیمه) ، لرمل (مازیګر)، ملونه (ملګري)، مخسور (بریالیتوب)، ملا (ملګرتیا)، نېز (سېلاب)، نمنځ (احترام، ستاینه)، ناره (د شعر یو ډول)، نغوړېده شي (واورېدل شي)، نومړ (نوموړی)، نمزدک (جومات)، ویرژلی (غمځپلی)، ودنه (روزنه، پرمختګ)، وړانګن (وړانګې لرونکی) او ځینې نورې هغه کلمې دي چې اوس په پښتو کې په دې بڼه او شکل یا ډېرې نه کارول کېږي او ځینې هم يې هېڅ نه کارېږي. البته د دې کلمو ریښه اوس هم په پښتو کې شته او نورې کلمې ورڅخه رغېدلې دي او یا یې هم په اصلي حالت کې یو څه بدلون راغلی دی.

د دې ترڅنګ ځینې داسې کلمې هم شته چې ریښه يې ډېره پخوانۍ ده، پخوا په لرغوني ادب کې کارېدلې او اوس هم په همغه شکل، همغه مانا او په ځینو برخو کې په ډېر کم مانیز او لفظي تغیر سره په ژبه کې کارول کېږي، د بېلګې په توګه پخوانۍ خو کاربدونکې کلمې وایو او د لته غواړو دې ډول کلمو ته هم نغوته وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پخوانۍ خو کارېدونکې کلمې

لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه په پښتو لرغوني ادب کې ګڼ شمېر سوچه پښتو کلمې کارېدلي چې ځینې یې متروکې شوي، خو یو زیات شمېر یې په همغه پخواني شکل او محتوا اوس هم کارول کېږي او یا هم لږ شان لفظي او مانیز بدلون په کې راغلی دی. دلته غواړو دې ډول کلمو ته هم په لنډيز سره اشاره وکړو. خو دا په دې مانا نه ده چې دا ټولې هغه پښتو نږه کلمې دي چې په پښتو لرغوني ادب کې کارېدلي دي، هغه کلمې چې پخوا کارېدلې او کټ مټ په همغه شکل او همغه مانا اوس هم کارېږي، هغه په دې کلمو کې شاملې نه دي، خو دا هغه کلمې دي چې په پخوانیو ادبیاتو کې کارول شوي او په وروستیو یا اوسنیو ادبیاتو کې د بیا کارېدنې له امله یې یو ځل بیا د ژوندیو کلمو بڼه خپله کړې، چې ځینې یې دا دي:

- اوجاړ، چې اوس په لږ لفظي بدلون سره د (خراب، ړنګ او ویجاړ) په مانا کارول کېږي.

- اتل — د (پهلوان) او قهرمان په مانا
- اغېز — د تاثیر او اثر په مانا، اغېزه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغېزمن، اغېزناک

- ایواد — د هېواد او مملکت په مانا: هېوادنی، هېوادوال، هېوادنۍ مینه
- اوڅار — د څرګند او مشهور په مانا: څار، اوڅار، څارندوی، څارن، څارمن
- استائی — د پلاوي او نماینده په مانا: استازی، استازیتوب
- اغلې — (ښایسته): اغلې او ښاغلی، اغلې هنرمنده
- پاسوال — (ساتونکی): ستر پاسوال، مل پاسوال
- پرتمین — (د عزت خاوند): پرتمینه غونډه، پرتمین کنفرانس
- پلور — (خرڅول)، پېر (۱۵) افغانۍ، پلور (۲۰) افغانۍ
- پېر — (نوبت، مهال): په اوسني پېر کې ډېر کارونه شوني دي.
- پېرل — (اخیستل): پېرل او پلورل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګرۍ دوه برخې دي.

- تورن (تهمتي): ستا د مينې په تور تورن شوم.
- جوپه (قافله): جوبې چوپې خلک راروان دي.
- ځپان (ځپه): ځپان، ځپانده، د کونړ ځپانده سيند ده.
- ځنډونه (غاړې، ځنډې): ځنډه، د کمره ځنډه
- ځغلا (تېښته): ځغاستل، تلل ځغاسته.
- ځلا (بربېښېدل): د تورې ځلا، ځلا (نوم)، ځلا مجله.
- خاتيځ (لمر خاته، ختيځ): ختيځ فرهنګي ټولنه، ختيځ ښار (جلال اباد).
- درمل (علاج، دارو): اوس درملتون، درملځی.
- رپي (رپېږي): بيرغ.
- ژبور (تېز ژبی): احمد ډېر ژبور سړی دی.
- سورې (فرياد او نارې): نارې سورې وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- سین (سیند): سین، اباسین، اباسین سېلاب
- سوځند (سوځوونکی): سوځنده اورونه
- سمی (سم): سم سمکی، سمون
- سوبه (فتحه): سوبمن هم ورځخه رغېدلی دی.
- سته (اساس، تهداب، بېخ): پخه سته
- ساندې (ویر ماتم): د میندو ساندې
- شخړه (جګړه): د شخړې حل
- ښځمنې (ښځې): ښځمنې شاعرانې
- غبرګون (عکس العمل): د چټک غبرګون قطعه
- کوټ (کلا، قلعه): کوټ، بټې کوټ، کوټوال
- کهول (کورنۍ): کور، کهول، کهول مجله
- کړېدل (ګرځېدل، څورېدل طواف): کړېدلی، څورېدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ګواښل (تهدیدول): ګواښ، خطر، ګواښنه
- ګروهه (عقیـده): اوس یـو ځـل بیـا دود شوې، پوهه او ګروهه یانې علم او عقیده.
- لور (پېرزوینـه): لـور، لـورین، اوس ډېـر کارېږي.
- لرغونی (پخـوانی): لرغـونې دوره، لرغـوني ادبیات.
- لمانځنه (سـتاینه): د خپلـواکۍ د کلیـزې لمانځنه یا نمانځنه.
- لتاړ (خراب): په غم کې لتاړ دی.
- مراندې (تنابونه، د زړه رګونـه): د زړه مرانـدې مې سستې دي.
- مېشت (پراتـه، سـاکن): هېـواد مېشـتی، بهـر مېشـتی، کابـل مېشـتي، مېشـتغالی (کمپ).
- منښت (قبلول): منښت، ګرانښت.
- نېزوړی (خاشې، خس): سېلاب وړی نېزه وړي ته هم لاس اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نست (نابود): احمد په نست یا نشت حساب دی.
- نتلی (غمجن): اسکېرلی، نتلی، کړېدلی
- ویاړنه (فخریه): ویاړ، ویاړنه، ویاړمن.
- ویرمن (غمجن): ویرنه، ویر، ماتم، ویرمن.
- ځل رڼا: ځلېدل، نورالله ځل
- هېښېږي (حیرانېږي): هېښ حیران شوم.
- یون حرکت: حرکت، پرمخیون، لاریون)(۴۳: ۱۴-۲۳)

او ځینې نورې هغه کلمې دي چې په یو څه لفظي او مانیز بدلون او په ځینو برخو کې په خپله بڼه اوس هم کارول کېږي.

پر پورتنیو یادو کلمو سربېره په سوونو او زرګونو داسې کلمې دي چې په لرغونو ادبیاتو کې کارېدلې او اوس هم په همغه شکل او همغه مانا کارول کېږي، چې په حقیقت کې ټوله ژبه جوړوي، خو مونږ دلته یوازې ځینو متروکو کلمو او بیا هغو لرغونو کلمو ته نغوته وکړه چې پخوا کارېدلې او د زړو متنونو له ترلاسه کېدلو او کارونې وروسته یوځل بیا راژوندۍ شوي او په معاصرو متنونو او ورځنۍ محاوره کې ترې د فعالو او کارېدونکو کلمو په توګه کار اخیستل کېږي، یوازې همدې ډول کلمو ته مو نغوته وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جغرافيايي نومونه

هر هېواد لرغوني جغرافيايي نومونه لري، نو زموږ هېواد افغانستان چې پنځه زره کلن تاريخ لري، هم ډېر لرغوني جغرافيايي نومونه لري. چې په بېلابېلو تاريخي متونو کې خوندي شوي دي.

((دلته غواړو د ځينو هغو مشهورو سيمو نومونه واخلو او په لنډيز سره يې معرفي کړو چې د پښتو لرغونو ادبياتو د نظم او نثر په بېلګو کې يې يادونه شوې ده:

- **بالشتان**: د جنوبي غور مشهور ښار و، چې ځينو مورخينو (والشتان) هم ليکلى دى.
- **مندېش**: د غزنويانو او غوريانو په وخت کې منديش مشهور ښار و، چې مشهورو تاريخ ليکونکو: بيهقي، ګرديزي او جوزجاني يې هم يادونه کړې ده.
- **د خيسار کلا**: دا کلا په (غزنوي) او (غوري) دورو کې ان د مغولو تر تاړاکه مشهوره وه او په پښتو لرغونو ادبياتو کې يې يادونه راغلې ده، ممبې پورې اړه لري.
- **تمران**: د تيموري قبيلې ځای دی، چې د غور ختيځ خواته پروت و.
- **برکوشک**: ياني لوړه ماڼۍ وه چې فيروزکوه کې پرته وه.
- **وشنج**: د (ياقوت) په قول له هراته لس فرسخه لرې يو ښار و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **غرجستان**: غرج یا غرجستان هغه سیمه ده چې د غور او هرات له شماله پیل تر امو پورې او په لویدیځ کې تر مرغابه او مروالرود پورې رسېږي او په ختیځ کې له بلخ سره نښلي.
- **قصدار**: په اوسني بلوچستان کې یو ښار دی چې اوس یې (خخدار) بولي.
- **هلمند**: په اوستا کې د هلمند یادونه د (هیرمند) په نوم شوې دا سیمه تر میلاد (۳۰۰۰) کاله وړاندې تاریخ لري چې د (بست ښار) یې مهم دفاعي ښار و.
- **پکتیکا**: دا هم یو لرغونی جغرافیایي نوم دی، ځکه د یونان یو مشهور تاریخ لیکونکي (هیروډوټ) (۴۸۴- ۴۲۵ق.م) هم په خپله مشهوره جغرافیه کې چې د پښتنو ذکر کوي، دی د پښتنو هېواد (پکتیکا) په نامه یادوي او په پکتیکا کې د سلیمان غر، د جرکنې غر، د ګومل سیند او د سه ګانې غونډۍ تاریخي ځایونه دي، چې دلته به د ګومل د سیند په باره کې هم لږ څه معلومات وړاندې کړو.
- **ګومل سیند**: ګومل سیند د پکتیکا ولایت جنوب خواته د سلیمان له غره سره مستقیم تېر شوی چې ان تر جنوبي وزیرستان پورې امتداد لري، دایمي اوبه نه لري، خو د بارانونو په موسم کې په کې اوبه ډېرې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **غور**: دا يو تاريخي ولايت دی، چې ډېرې دفاعي کلاګانې لري، تر ټولو مشهوره کلا يې د قيصر کلا ده چې سلطان علاوالدين اباده کړې وه او بل د (مينار) جام دی.
- **هرات**: هرات د هېواد له غربي ولايتونو څخه دی چې ډېر تاريخي ولايت دی. سکندر مقدوني د هرات ښار د ((اتاکان)) يا ((ارتکايا)) په نوم ياد کړی دی. پر دې خاوره يونانيانو، کوشانيانو، يفتليانو، ساسانيانو او تيموريانو واک چلولی دی.
- **بخدي (بلخ)**: د پخوانيو اريايانو مرکز و چې بل نوم يې د (بيرغونو) ښار و چې دا هم يو لرغونی ښارګوټی و.

**سور غر**: دا غر ډېر مشهور غر دی چې د کلات شمال شرقي خواته واقع دی. د مغلو د يرغلونو پرمهال به هر ځل مغولو د ارغنداو پر غاړو لوټ کاوه، اتغر، اولان او کلات به يې تالا کول.

- **تازی**: د کلات په شمال ختيځ کې يوه سيمه ده
- **توبه**: د کندهار په جنوب ختيځ کې پرته سيمه ده
- **جروم**: د کندهار له جنوب لويديځ نه تر سيستان پورې سيمه ده.
- **جلدک**: د کندهار په شمال ختيځ کې پرته سيمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- داور: هلمند ته نږدې یوه سیمه ده
- دېبل: کراچۍ ته نږدې یو ښار دی
- دیراوت: د پخواني کندهار په شمال شرق کې یوه سیمه ده
- ږوب: د سلیمان د غره په شمالي لمنو کې پرته سیمه
- غنډان: د کلات او شاه جوی ترمنځ غر دی
- قصدار: په بلوچستان کې یو ښار دی
- کسي غر: د سلیمان غر
- مرغه: د کندهار په جنوب ختیځ کې پرته ده
- وازه خوا: د غزني په جنوب ختیځ کې یوه دښته ده.))

(۳۵: ۳۳۱-۳۳۴)

او دغه راز ځینې نور جغرافیایي نومونه چې د شاعرانو د پېژندنې په برخه کې ورته پر خپل ځای اشاره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اووم څپرکي لنډيز

په پښتو لرغونو ادبياتو کې ځينې داسې کلمې کارېدلې چې هغه اوس په ژبه کې نه کارېږي، په اصطلاح متروکې ګڼل کېږي، ددې کلمو شکل او مانا اوس بدل شوي که استعمالېږي هم نو په لږ و ډېر مانيز او شکلي بدلون سره به کارول کېږي. لکه من، بامم، مخسور، ورځ لوی، دښن، ميرخمن او ځينې نورې کلمې. دا ډول کلمې اوس په ژبه کې ډېرې معمولې نه دي او ځای يې نورو کلمو نيولی دی. دويم هغه کلمې دي چې پخوا په زړو متونو کې کارېدلې بيا له خولو څخه غورځېدلې خو کله چې زاړه متون ترلاسه شول هغه مطالعه او د ګټې وړ وګرځېدل، نو دا لغتونه هم بېرته راژوندي شول او اوس په ورځني ژوند او محاوره کې کارېږي.

دا کلمې يا نومونه دومره خواره وو چې استعمال يې په ژبه کې تر نورو ورځنيو کلمو هم زيات شو، د هغوی د ريښې له مخې نور نوي لغتونه هم جوړ شول. دا ډول لغتونه ځينو اشخاصو د خپلو کورنيو د غړو د نومونو او تخلصونو په توګه هم غوره کړي، لکه اتل، هېواد، هسک، يون، پاسوال، دريځ، ښار او نورې چې له هغو څخه بيا په ترتيب سره اتلولي، اتلوال، هېوادنی، هېوادوال، لاريون، پرمخيون، مل پاسوال، ستر پاسوال، دريځوال، ښارندوی، ښارمن او ګڼې نورې داسې کلمې جوړې شوې چې اوس زموږ په علمي، فرهنګي، سياسي، ټولنيزې او حقوقي ترمينالوژۍ کې کارول کېږي، هم د مانا له مخې خوږې دي او هم د شکل له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخې، دا کار ددې سبب شو چې زموږ یوه زیاته برخه لرغونې ژبنۍ پانګه خوندي شي، دې کار سره نه یوازې دا چې هغه زړه پانګه خوندي شوه، بلکې د اوسنۍ ژبې د لابډاینې سبب هم شوه، دریمه برخه هغه کلمې دي چې پخوانۍ او اوسنۍ دوره کې په یوه شکل او یوه مانا کارېدلي او کارېږي، پر هغو ځکه دلته بحث نه کوو چې هغه کلمې له شمېره وتې دي، که زموږ ژبپوهان او ادبپوهان د پښتو د پخوانیو کلمو په مرسته نورې نوې کلمې جوړې کړي، نو هم به د ژبې پانګه زیاته شي او هم به ژبه لاپسې بډایه او خوږه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اووم څپرکي پوښتنې

- متروکې کلمې څه ته وايي؟
- په پښتو لرغونو ادبياتو کې کومې کلمې متروکې دي؟
- کومې زړې کلمې اوس يو ځل بيا په پښتو کې کارېږي؟
- د زړو او پخوانيو کلمو بيا کارول او راژوندي کول ژبې ته څه ګټه لري؟
- په پښتو لرغونو ادبياتو کې د کومو جغرافيايي نومونو يادونه شوې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم خپرکی

# لرغوني دوره کې لومړنۍ منظومه ژباړه

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د ژباړو او په تېره بیا د منظومو ژباړو ډېرې بېلګې نه دي ترلاسه شوي، دا په دې مانا نه ده چې دا وخت به ژباړې نه وي شوي، خو دا چې تر دې دمه یې بېلګې نه دي ترلاسه شوي، علت یې دادی چې زموږ ډېره پخوانۍ ادبي پانګه د زماني ناخوالو له لاسه تروړلې ده، د زماني د ناخوالو ترڅنګ د ژباړو د کمښت یوه وجه شاید دا هم وي چې دا وخت له نورو ژبو سره د پښتو اړیکې ډېر پراخ نه وو، کومه ژباړه چې ترلاسه شوې دا هم له دې امله وه چې یو افغان لیکوال (ابوهاشم ابن زید السرواني) له خپل وطنه د علم په لټه عراق ته تللی و او هلته یې له عراقي شاعر (محمد ابن خلاد) سره شاګردي کړې، عربي ژبه یې زده کړې او بیا یې د نوموړي شعرونه پښتو ته ترجمه کړي، چې یوه بېلګه یې تر دې دمه زموږ لاس ته راغلې ده. ښه به وي چې دلته اصل شعر او ژباړه یې دواړه راوړو او بیا به یې پر بېلابېلو اړخونو خبرې وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عربي**

**من کان بملك درهمين تعلمت**
**شفتاه انواع الکلام فقالا**
**وتقدم الفصحاء فاستمعوا اليه**
**ورايته بين الوری مختالا**
**لولا درهمه اللتی فی کيسه**
**لرايته شر البرية حالا**
**ان الغنی اذا تکلم کاذبا**
**قالو صدقت و ما نطقت محالا**
**و اذا الفقير اصاب قالو لم تصب**
**و کذبت يا هذا و قلت ضلالا**
**آن الدراهم فی المواظن کلها**
**تکسو الرجال مهابة و جلالا**
**فهی اللسان لمن اراد فصاحته**
**و هی السلاح لمن راد قتالا**

**پښتو**

**ژبه هم ښه وينا کاندي چې يې وينه**
**د خاوند په لاس کې زر او درهمونه**
**ژبور ورله ورځي وينا يې اوري**
**د درهم خاوندان تل وي په وياړونه**
**درهم ژبه ده که څوك ژبور کېږي**
**ده وسله که څوك په کاندي قتالونه**
**که درهم يې ځينې ورك سي سي نتلی**
**بې درهمو يې وي په خړو پېژوندونه**
**که بډای سونی وبولي خلك وايي**
**دا وينا ده رښتيانيه له رښتونه**
**که بېوزلی ووايي رښتيا خبره**
**نور ووايي دا خو سونی دی تېرونه**
**هو درهم ښندي هر چا له لويه برخه**
**د درهم د خاوند هر ځای پرتمونه.**

د دې منظومې ژباړې د عربي او پښتو متن تر کتنې وروسته اوس لومړی راځو دې پوښتنې ته چې لومړی ژباړه کوم فورم لري، غواړو دې پوښتنې ته يو مناسب ځواب پيدا کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړنۍ ژباړه کوم فورم لري؟

دې ژباړې ته د فورم له پلوه ځینو لیکوالو د (قطعې) نوم ورکړی او ځینو ورته هېڅ نوم نه دی غوره کړي. اوس راځو دېته چې دا منظومه ژباړه قطعه ده که بل فورم؟ د قطعې معمول تعریف دا دی: هغه فورم دی، چې دوه بیتونه یا څلور مسرې لري، د سر بیت ئې مقفي نه وي، خو د هربیت دویمې مسرې یې په خپل منځ کې مشترکه قافیه لري. دا فورم له عربي ژبې څخه دري او پښتو ته راغلی دی. هندسي جوړښت یې په دې ډول دی:

________________

a________________

________________

a________________

ردیف په کې اختیاري، کېدی شي ویې لري او کېدی شي ویې نه لري، په عام ډول ددې خبرې یادول هم ضروري دي چې ردیف په پیل کې په عربي ژبه کې نه و، دا د عجمي شاعرانو اختراع ده چې تر قافیې وروسته یې د یوې اړتیا له مخې ردیف هم رامنځته کړ. دې منظومې ژباړې ته چې موږ ګورو، نو سربیت یې په عربي ژبه کې مقفی نه دی، یانې مطلع نه لري. خو په پښتو کې بیا مقفی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاري (وینه او درهمونه) یې د قافیې کلمې دي (نه، نه) یې مشترک غړونه دي. د نورو بیتونو د دویمو مسرو قافیه یې د سر بیت د دویمې مسرې یا مقفی بیت قافیه تعقیبوي که په عربي بڼه کې یې د بیتونو شمېر یې دوه وای، یانې ټولې څلور مسرې یې درلودلای او ټوله موضوع یې په همدې دوو بیتونو کې خلاصه کړې وای، نو بیا په پوره ډول د قطعې په چوکاټ کې راتله خو اوس چې په عربي بڼه کې هم د بیتونو د شمېر له مخې د قطعې تر حدودو اوړي او د غزل چوکاټ ته داخلېږي، نو په عربي کې هم ورته قطعه نه شو ویلای، بلکې د غزل حدودو ته داخلېږي. ځینو لیکوالو دې ډول فورم ته یې مطلع غزل ویلی چې یوازې د سر بیت یې مقفی نه دی، خو نور ټول د غزل چوکاټ تعقیبوي.

او که پښتو متن کې د سر بیت مقفی وګڼل شي، نو بیا خو تر ډېره د غزل قوانین پرې تطبیقېږي، خو د غزل د فورم له مخې دلته هم یو څه عیبونه په کې لیدل کېږي.

څرنګه چې د غزل د فورم هر بیت یوه مستقله مانا لري، خو دلته ددې ژباړې بیتونه یو بل سره د مانا له پلوه تر یوه حده تړلي ښکاري، ټول بیتونه یوه واحده اخلاقي موضوع تعقیبوي او هر بیت یې لکه د غزل د نورو بیتونو په شان پوره او خپلواکه مانا نه ورکوي، البته ځینې بیتونه یې خپلواکه مانا هم ورکوي، خو ټول بیتونه یې بیا خپلواک نه دي، د محتوا له پلوه هم (غزل فورم) نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راخپلوي، البته له شکلي پلوه د نورو فورمونو په اندول غزل ته ډېر
نږدې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړنی منظومې ژباړې هنري ښکلا

دا ژباړه هم له فني پلوه په ټول پوره او کره ده او هم د ژبني سکښت له مخې د هرې مسرې د څپو شمېر یې له بل سره مساوي دی، وزني کمی او نیمګړتیا په کې نه احساسېږي، هره مسرې یو په مساوي ډول (۱۲) څپې لري، چې دا له عربي څخه پښتو ته دراغلو اکثرو شعري فورمونو یوه ځانګړنه ده، په تېره بیا د غزل، قصیدې، قطعې، رباعي او نورو.

شاعر چې څه غوښتي هغه مطلب یې په ډېر ښه ډول افاده کړی او ژباړن هم د محتوا ټول حق ادا کړی او موضوع یې په ښه ډول انځور کړې ده. دا شعر یوه اخلاقي ښکلا لري. اخلاقي او انساني پیغامونه له عربو رانیولې تر عجمو پورې ټول یو شان دي، ان د ټولې انساني نړۍ مشترک خصوصیات ګڼل کېږي. په دې شعر کې چې کوم پیغام راغلی، د مال، متاع او پیسو اهمیت یې بیان کړی، په دې اهمیت کې هېڅ بدلون نه دی راغلی، پخوا هم ځینې خلک پیسو ته سرټیټي وو، نن هم درهمو ته سرټیټي دي. نن هم د ستېج

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دریځ پر سر هغه خلک ولاړ دي چې زر لري او زور لري او پخوا هم همدا ډول خلک وو، نن هم ژبور خلک د د دوی په خدمت کې دي، د اوسني وخت په اصطلاح ننني رسنی هم چې د سلګونو ژبورو یوه مجموعه ده، د زر او زور خاوندانو په خدمت کې دي. څه چې د زور خاوندان وايي، دوی اکثره همغه خبره تائیدوي او خپروي، د زر د خاوند هر ځای اوس هم پرتم دی او ویاړمن دي، اوس هم هغه څوک چې زور او زر لري که قتل هم وکړي، څوک یې مخه نه شي نیولای، موږ یې په خپله ټولنه کې را نه مثالونه ګورو، خو که همدا خلک بیا بې زره او بې زوره شي، نو د عوامو په اصطلاح خړ غوږونه بیا ګرځي او څوک یې سلام ته علیکم هم نه وايي. په ډېرو ټولنو کې دا رواج دی چې پانګوال سړی دروغ هم ووايي، نو نور پرې د رښتیا اطلاق کوي او که خوار او غریب سړی رښتیا خبره هم وکړي، نو څوک ورته اهمیت نه ورکوي، لکه چې وايي د خوار ملا په اذان څوک روژه هم نه ماتوي. رښتیا چې درهم، زر او زور هر چاته لویه برخه ورکوي، دا شعر په حقیقت کې د درهم پر خاوندانو او د هغوی پر غوړوه مالانو یو نامستقیم انتقاد او اعتراض دی، چې د رښتیا او حقیقت پر وړاندې ولاړ دي. په دې نظم کې کومې خاصې ادبي ضایع او لفظي پېچلتیاوې، استعارې، کنایې او نادرې تشبیهګانې نه شته، خو د شعر اخلاقي پیغام دومره ښکلی او قوي دی، چې د نظم نورو برخو ته د چا ډېر پام نه کېږي. په مجموعي ډول دا ژباړه هم د ژباړې د مهارتونو، لفظونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پیغام د انتقال له پلوه او د هغه وخت د ژباړې د امکاناتو له مخې خورا پوره او کره ژباړه ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لومړنۍ ژباړې ژبنۍ پرتلنه

د ژبنۍ بڼکلا له مخې بڼکلې ژباړه بریښي، زېږې کلمې په کې نه شته او ان د عربي ژبې اغېزې هم پرې ډېرې کمې بریښي، یوازې، (درهم، خلق، قتالونه) په کې عربي کلمې دي، نورې ټولې نرې پښتو کلمې دي، له نن څخه (دولس سوه کاله) کاله مخکې د داسې ژباړې ترسره کوله اسانه کار نه دی، دا چې ابوهاشم سرواني عربي ژبه زده کړې وه او د ابن خلاد شاګرد و، نو پر دواړو ژبو پوره واکمن و. هر څوک چې پر دواړو ژبو حاکم وي او خپله هم شاعر وي، نو هغه ددې قدرت پیداکوي چې داسې ژباړه وکړي. کله چې څوک له یوې بلې ژبې څخه خپلې ژبې ته ژباړه کوي، نو د لومړۍ ژبې اغېزې، په شعوري، قصدي، ناقصدي او ناشعوري ډول او یا هم د لاچارۍ له امله دویمې ژبې ته انتقالېږي، په تېره بیا که دا دواړه ژبې سره ګډه لغوي زېرمه ولري، له یوې کورنۍ څخه وي او یا هم یو واحد لیکدود تعقیبوي.

پښتو او عربي ژبې یو لیکدود تعقیبوي، که څه هم پښتو د اریایي ژبو او عربي د سامي ژبو په کورنۍ پورې اړه لري، خو د دیني، مذهبي، اقتصادي او کلتوري اغېزو له امله عربي ژبه د اسلامي نړۍ پر ټولو ژبو او په تېره بیا پر ختیزو ژبو خپل خاص تاثیرات لري. ټول دیني او مذهبي مصطلحات له عربي ژبې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ژبو ته تللي او ډېرو کلمو ته يې انډول هم ناشونی برېښي، سرواني که څه هم ده عربي چاپېريال کې ډېر وخت تېر کړی و، عربي ژبه يې ښه زده وه او طبيعي خبره وه چې په داسې يو حالت کې ضرور د لومړۍ ژبې د ژبارې اغېز ښکاري، خو سرواني له (دريو عربي) کلمو پرته چې هغه هم يو يې خاص نوم (درهم) و چې د هغه ژباړه ممکنه نه وه، په حقيقت کې يوازې دوه کلمې (قتالونه) او (خلق) کارولې چې (قتال) ته يې هم د جمعې مغفن حالت ورکړی (ونه) يې ورسره يوځای کړي. (خلق) هم تر ډېره د (خلک) په بڼه کارول کېږي، (خاوند) له دري سره ګډه کلمه ده، نورې نو ټولې پښتو کلمې دي. چې دا ټولې سره راټولې کړو او له پښتو کلمو سره يې پرتله کړو، نو يوه (سلنه) کلمې هم نه جوړوي. په دې مانا چې د سرواني دا نظم په نږه پښتو ژباړل شوی. د سرواني دې ژباړې ته په کتو سره سړی داسې نتيجه اخيستلای شي چې دده له خوا نور ژباړل شوي شعرونه به هم همدا ډول و او دا د ژباړو او بيا هم د منظومو ژباړو په تاريخ کې يو بې سارې عمل او مثال دی چې يو څوک دې له نړدې ژبو څخه ژباړه هم وکړي او د هغو د لغتونو له کارونې دې هم ډډه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اتم څپرکي لنډيز

په لرغوني ادبي دوره کې موږ تر دې دمه دوه منظومې ژباړې لرو: يوه هم د ابو هاشم ابن زيد السرواني منظومه ژباړه ده او بله د زرغوني کاکړې منظوم حکايت دی چې د شيخ سعدي له بوستانه يې راژباړلی دی. پښتو لومړنۍ منظومه ژباړه خورا خوږه، روانه او له پيغامه ډکه ده. دا منظومه ډېر ښه اخلاقي پيغام لري، ناظم پر ژباړه او دواړو ژبو (عربي او پښتو) پوره واکمن دی. په دې منظومه ژباړه کې د نورو ژبو (د عربي او دري) کلمې په نشت حساب دي، عربي کلمې له (درهم) پرته ټولې دوه (قتال) او (خلق) دي چې خلق لغت هم په اوسني مغفن شکل کې د (خلک) په بڼه افاده کېږي او ډېر زيات افغاني شوی ګڼل کېږي. (خاوند) له دري څخه مشترک لغت دی. دا لومړنۍ منظومه ژباړه په ټوليز ډول په نږه پښتو ترسره شوې او عربي کلمې په کې سلنه نه جوړوي. له دې ژباړې څخه ښکاري چې ابو هاشم سرواني نه يوازې يو ښه ناظم او ژباړن و، يو ښه شاعر هم ګڼل کېدی شي، ځکه چې په دې ژباړه کې يې هم شعري استعداد، قريحه او د کلام قوت په ښه ډول معلومېدی شي. د فورم له پلوه دا نظم په عربي متن کې له بې مطلعې غزل سره سمون خوري خو په پښتنو منظومه ژباړه کې تر ډېره حده پرې د غزل فورم زيات خصوصيات تطبيقېږي.

په ټولنيز ډول دا ژباړه د پيغام د انتقال، ژبني جوړښت، د نظم د سليسوالي او نورو مزاياوو له امله يوه ښه، پوره، کره او په معيار برابره منظومه ژباړه ګڼل کېږي. که د دې شاعر، ناظم او ژباړن نورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

منظومې ژباړې ترلاسه شوې وای، نو د پښتو ادب لمن به پرې لا ښایسته شوې وای.

## د اتم څپرکي پوښتنې

- په پښتو کې لومړنۍ منظومه ژباړه د چا له خوا ترسره شوې ده؟
- په پښتو کې دویمه منظومه ژباړه په کوم فورم کې او د چا له خوا ترسره شوې ده؟
- په لومړنۍ منظومه ژباړه کې د عربي ژبې تاثیرات څومره دي؟
- ولې په لومړنۍ منظومه ژباړه کې د عربي او نورو ژبو اغېز کم لیدل کېږي.
- لومړنۍ منظومه ژباړه په کوم فورم کې نظم شوې؟ د هنري ښکلا او اخلاقي پیغام ه باب یې رڼا واچوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم څپرکی

# لرغوني دوره کې لومړنۍ مشاعرې یا مناظرې

مشاعره په ادبیاتو کې هغه عمل ته ویل کېږي چې د دوو او یا زیاتو شاعرانو له مشترک عمل څخه رامنځته شي. لکه څنګه چې مناظره، مناقشه، مفاهمه، مباحثه یا خبرې اترې د یوه شخص له خوا نه ترسره کېږي، بلکې بل لوری، همکار، ملګری او یا مخالف هم لري، دغسې مشاعره هم هغه عمل ته ویل کېږي چې پر یوه وخت یا مهال یا هم په بېلابېلو وختونو کې د څو تنو شاعرانو له خوا رامنځته شوي وي. مشاعرې هم پر څو برخو وېشل کېږي: مقیده یا طرحي مشاعره چې شاعران په کې د یوه شاعر یوه مسره یا بیت د نورو مخې ته ږدي او نور شاعران بیا همغه بیت، وزن او هنګ تعقیبوي. یانې د همغه بیت په اقتفا یا پلوۍ شعرونه وایي. ازاده مشاعره چې د یوې محتوا په مناسبت او یا هم له کوم مناسبت پرته جوړېږي او شاعران په کې په ازادانه توګه ګډون کوي او خپل کلام اوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ډول مشاعرې په پښتو لرغونو ادبیاتو او بیا راوروسته کلاسیکه دوره کې هم شته، په معاصره دوره کې یې خو شمېر تر حسابه تېر دی او اوس هم دا لړۍ لاپسې دوام لري.

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې موږ لږ تر لږه درې ډاسې مشاعرې یا منظومې مباحثې لرو چې شاعرانو یا ناظمانو یو بل ته په نظم کې خپل پیغام رسولی دی. که ددې شعرونو لومړنۍ برخه نه وای نو دویمه نه رامنځته کېدله، دا ډول شعرونه یو بل سره تړلي دي. حتمي نه ده چې د پوره او کره مشاعرې اطلاق پرې وشي، خو که موږ په پښتو کې د مشاعرې څرک لګوو، دا ډول لومړنۍ مشاعرې، منظومې مباحثې او یا هم منظومې محتوایي مناقشې له یاده نه شو ایستلای. دا مقیدې مشاعرې نه دي او لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه په اوسنیو معیارونو ورته پوره او کره مشاعرې هم نه شو ویلی، خو که د مشاعرو په باب بحث کېږي، نو دا یې لومړی لاسته راغلې بېلګې ګڼل کېدی شي. دلته به دې دول مشاعرو ته په لنډیز سره اشاره وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شیخ رضی لودي او نصر لودي

لکه څنګه چې مو د شیخ رضی لودي او نصر لودي په پېژندنه کې وویل، دواړه د لودي کورنۍ غړي او یو د بل د تره زامن کېږي، پټې خزانې د دغو دوو تره زامنو دوه بېلابېل پاړکي خوندي کړي دي. په دې کې لومړی پاړکی د شیخ رضی لودي دی چې د کسي له غره څخه یې ملتان کې د خپل اکا زوی (نصر لودي) ته استولی او دویم پاړکی یې د نصر لودي دی چې هغه ببرته دده په ځواب کې ورلېږلی دی.

د شیخ رضی پاړکی دادی:

د الــحاد پــه لور دې ترپلل ګـــروه دې زمــــوږ وکــــوراوه
مــوږ رونـــلی پـــه زیــارنـــــــه تــــا پــــه تــــورو تــــوراوه
لــرغــون ولــې ګــروهېدلې چــــــې دې ګوښـــــــې اړاوه
هــغه ګــروه دې اوس اړه کړ چــــې پلـــــرو دې رڼـــــا وه
لودي ستا په نامه سپک شو کــــه هـــر څـــو مـــو درنـــاوه
نــصره نــه مــو یې لــه کهاله لــــودي نــــه یــــې پــــه کـــاوه
زموږ رغا ده ستا له ګــروهه دور ځلـــــوی پـــــه رغــــــاوه.

د نصر لودي پاړکی:

د الحاد په تــور تــورن سوم زه لرغــون خــو ملحــد نــه یــم
زمــا دښنه هــسې توراکړي کــــه ملحـــد یـــم د دښـــنه یـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اسلامه نه تر پلمه — تورانو څخه په تر پله یم
ګروه مې هغه لرغونې دی — اوس هم کرور په لرغونه یم
د لودي زوی سنتي یم — د حمید له لور کهاله یم
تورانې دښن چې وایي — زه له ګروهه په اړه یم
دا یې تور تاسې دروهوي — زه مومن ستاسې په تله یم
د دښنو ویناوې مه غبړه — زه لودي یمه څو زه یم.

دا دواړه نظمونه یو بل ته د مشاعرې، مناظرې، مفاهمې او مباحثې په بڼه وړاندې شوي دي. په نظمونو کې نصر لودي د شیخ رضی لودي شکونو، نیوکو او اعتراضونو ته ځوابونه ویلي او د ځان سپیناوی یې هم کړی دی.

په دې سوال او ځواب کې د څلورمې هجري پېړۍ پرمهال د پښتو نظم څرنګوالی په ګوته کېږي، د هنري ارزښتونو کچه څرګندېږي. د ژبې څرنګوالی ورڅخه ښکاري، پر نظم او شعر باندې واکمنه مذهبي فضا څرګندېږي.

له دې پاړکو یا مشاعرو څخه دا ښکاري چې دا مهال پښتو شاعري د عوامو او خواصو پر ذهن واکمنه وه، مذهبي مبلغینو او د وخت واکمنو شعر یا نظم د خپل پیغام د لېږد او افادې لپاره تر ټولو ښه وسیله ګڼله او د زړه غوټه یې د نظم په چوکاټ کې اوراوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرې همدا خبرې په یوه نثري لیک کې سره تبادله شوې وای، دومره خوند به یې نه و، نه به یې پر یوه بل دومره تاثیر ښندلی و او نه به تر موږه پورې رارسېدلی و.

که چېرې شیخ رضی لودي د خپلو مذهبي احساساتو تر تاثیر لاندې نه وای راغلی، نو دا نظم یې نه شو لیکلی او بیا که چېرې ده خپل دا نظم د نصر لودي د عملونو پر وړاندې هغه ته د یوه غبرګون په توګه نه وای ورلېږلی، نو نصر لودي هم هغه نظم هېڅکله نه لیکه چې د شیخ رضی لودي د نظم په ځواب کې لیکلی و. دا د نظم په بڼه د مذهبي عقایدو د ملاتړ لپاره دفاعي څرګندونې دي. په پښتو کې یې له لومړنیو مشاعرو، نظمي مباحثو او یا هم مناقشو څخه ګڼلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شیخ اسمعیل او خربنبون

د شیخ اسمعیل او خربنبون د کورنیو اړیکو په باب مو دمخه د هغوی د پېژندنې په برخه کې بحث وکړ، نه غواړو هغه بیا تکرار کړو. کله چې خربنبون له کوره په وتو شو او د سفر لاره یې ونیوه، نو د شیخ اسمعیل له خولې وروستۍ دا سوې نارې ووتې:

کـه یـون دی یون دی     مخکـــې بېلتـــون دی
لـه کـسې غـره څـخه     ځـــې خربنـــبون دی
کـــــه وروره وروره     خربنـــــــبون وروره
تـــه چې بېلتون کړې     زمـــا ویـــر تـــه ګـــوره
چـې ځـې مـرغې له     تـــورې کرغـــې لـــه
هـــمزولـــې پـاتـــه     ځـــې څـــه برغـــې لـــه
د خـــــدای دپـــاره     خربنـــــبون پـــــاره
چـې هـېر مو نه کړې     زمـــــوږ کهـــــول واړه
زړه مـــــې ویـــلبږې     یـــــار مـــــې بېلېـــــږې
بـېلتـون یـې اور دی     ځـــــان پـــــه ســـــوځېږي.

کله چې خربنبون د اسمعیل دا سوې ساندې واورېدې، نو د هغه پر زړه یې هم تاثیر وکړ او په خپله یوه بله ناره یا نظم کې یې د هغه درد ته داسې ځواب ورکړ:

بېلتانـــه نـــاره مـــې وســـوه پـــه کـــور بانـــدې
نــه پـــوهېږم چـــې بــه څــه پــېښ وي پــه وړانـدې
لـــه خپلوانـــو بـــه بېلېـــږم پـــه ســـرو ســـترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه سترګې مې په وينو دې ژړاندې
اسمعيله ستا نارو مې زړګي سُري کئ
بېلتانه خربښبون بيا له تا پردی کئ
نه هېرېږي که مې بيا نه ستا يادی کئ
په چړو د وير به پرې سي دزړه مراندې
ځمه ځمه چې اوږد يون مې دی و مخ ته
ديا نه ځوری به اچوم و ترخ ته
ستاسې ياد به مې وي بس د زړه وسخ ته
که دا مځکه غرونه تول سي لاندې باندې.

دې سوال او ځواب ته چې ګورو، نو موږ ته په لرغونې ادبي دوره کې د لومړنۍ مشاعرې ځرکونه راپه ګوته کوي. اوس هم داسې شاعران ډېر دي چې يو بل ته يې پيغام په نظم کې ويلای او ځواب يې هم په نظم کې ترلاسه کړی دی.

په دې مشاعره يا نظمي مباحثه کې د سفر مجبوريتونه، د بېلتون درد، سوز، خپګان او يو بل سره د نږدې دوستانو يا هم ورونو مينه او خواخوږي ځرګنده شوې ده. که اسمعيل بابا د خربښبون په فراق کې خپلې نارې په نظم کې نه وای ويلې او خربښبون بيا دا نارې نه وای اورېدلې او يا يې پرې تاثير نه وای کړی، نو پوره باور دی چې هغه هم ورته په نظم کې ځواب نه وايه، همدې حالت د يوې مشاعرې يا نظمي مباحثې بڼه خپله کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خلیل خان نیازی او سلطان بهلول لودي

خلیل خان نیازی د سلطان بهلول لودي د دربار شاعر و، دوی دواړو یو بل ته د «رباعي» په بڼه دوه نظمونه اورولي چې دا هم د مشاعرې او مباحثې بڼه لري. لومړی خلیل خان نیازي سلطان بهلول لودي ته خپله رباعي داسې وویله:

خـــړې وربـخـــې ژاړي لـــه پا ســـه
کویلــه ږغ کــا بېلتـــون لــه لاســه
یـه هغـه لـوني ګـوهر پـه خـول سـتا
دا مرحبــا کــا ســتا زمــوږ مواســه

وروسته بیا سلطان بهلول لودي د هغه په ځواب کې وویل:

ملک به زرغون کړم په ورکړه راســه
ګــوره اوربــځې د داد لــه پـــاســه
خــول مـــې د عــدل پـه درو روڼ دی
جـهان بـــه زېـب مـومي زما له لاسه

د خلیـل خـان نیـازي ربـاعي ددې سبب شـوه چـې سـلطان بهلـول لودي هم غبرګون وښيي او دا غبرګون هم په همغه بڼه او همغه فورم کې ځرګند کړي چې خلیـل خـان نیـازي ځرګند کـړی و، نـو دا دواړه ځلـوریزې هـم یـو بـل سره اړیکي لـري، د مبـاحثې او مشـاعرې بڼـه خپلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا په حقيقت کې په پښتو لرغوني شاعرۍ کې دريېمه مشاعره او مباحثه ګڼل کېږي. تر دغو دوو لومړنيو ځلوريزو وروسته چې په پښتو کې کومې ځلوريزې يا رباعيانې ويل شوي، اکثره يې د همدې لس څپيز جوړښت تابع دي او پښتو ځلوريزې ترډېره حده همدا جوړښت او سکښت تعقيقوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نهم څپرکي لنډیز

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې نه یوازې د بېلابېلو شعري فورمونو او محتوايي فورمونو ډولونه شته، مشاعرې او مشاعرو ته ورته ادبي هڅې هم ترسره شوي. شاعرانو د نظم په چوکاټ کې یو بل ته خپل پیغام رسولی، د یوه بل سر یې خلاص کړی، د هغوی شکونه یې رفع کړي، یو بل ته یې سپیناوی کړی او ابهامات یې لرې کړي دي.

لږ تر لږه درې داسې بېلګې لرو چې د مشاعرو شکل لري. شیخ رضی لودي او نصر لودي ترمنځ مشاعره یا مباحثه ، د شیخ اسمعیل او خرښبون ترمنځ لفظي مباحثه او د خلیل خان نیازي او سلطان بهلول لودي ترمنځ د څلوریزو تبادله چې یو بل ته د سوال او ځواب په بڼه دي، که ددې مباحثو یا مشاعرو لومړۍ برخه نه وای، دویمه نه شوه رامنځته کېدلای چې دې هر یو بیا خپل خپل علتونه درلودل. که موږ په پښتو ادبیاتو کې د مشاعرو څرک لګوو او تاریخي تسلسل ته ځو ، نو نه شو کولای دغو دریو مشاعرو او هغو ته پر ورته بېلګو سترګې پټې کړو ، البته دا په دې مانا نه ده چې دا مشاعرې د اوسني وخت له معیارونو او ډولونو سره برابرې دي او په کار هم نه ده چې د اوسنیو مشاعرو او د همغو د معیارونو له مخې دې وارزول شي.

بله جالبه خبره په دې مشاعرو کې دا ده، چې د شیخ اسمعیل نارو ته خرښبون په ناره ځواب ویلای او سلطان بهلول لودي بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلیل خان نیازي رباعي ته په رباعي ځواب ویلای، نو ځکه خو د هغو ګډو خصوصیاتو لرونکي دي چې په عام ډول په مشاعرو، مناظرو او مباحثو کې کارېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نهم څپرکي پوښتنې

- ایا په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د مشاعرو څرك شته؟
- په لرغونې ادبي دوره کې د مشاعرو یا مباحثو علتونه څه وو؟
- د شیخ رضی لودي او نصر لودي د پیغامونو د تبادلې هدف څه و او دا پیغامونه یې په کوم چوکاټ کې افاده کړل؟
- په لرغونې ادبي دوره کې څو نظمي مباحثې یا مشاعرې ترسره شوي، نومونه یې واخلئ!
- یو شاعر بل شاعر یا ناظم ته په کوم فورم کې خپل غبرګون څرګند کړی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم څپرکی

## د لرغونو ادبیاتو محتوایي فورمونه

په پنځم څپرکي کې مو د لرغونو ادبیاتو د نظم فورمونو یا شکلونو ته اشاره وکړه چې په هغو کې هم په ملي اوزانو کې د پښتو خپل ځانګړي فورمونه، لکه: لنډۍ، بګټۍ، نیمکۍ، کاکړۍ، چاربیتې او نور شامل وو او هم مو له عربي او نورو ژبو څخه راغلي شعري فورمونه، لکه: غزل، قصیده، رباعي، مثنوي او نور وڅېړل. دغسې مو په لرغوني دوره کې مشاعره یا منظومه مباحثه وڅېړله، اوس غواړو په یاده دوره کې معنوي فورمونو یا شکلونو ته هم اشاره وکړو. معنوي یا محتوایي فورمونه په مانا او محتوا پورې اړه لري، په شکل پورې اړه نه لري، په هر فورم کې کېدی شي ورته مانا انتقال شي او د یوه معنوي فورم بڼه خپله کړه. البته کېدی شي فورم هم د ځینو لویو تفصیلي محتواوو په لېږد کې خپل رول ولري، خو واړه فورمونه د لنډې مانا او اوږده فورمونه د اوږدې مانا لپاره کارول کېږي د ساري په توګه په یوه قطعه یا رباعي کې موږ نه شو کولای یو اوږده تراژیکه او یا بله پېښه بیان کړو، خو غزل، قصیده او مثنوي بیا د منځنیو او اوږدو پېښو یا غمیزو د بیان لپاره په نسبي ډول ښې وسیلې دي، په تېره بیا مثنوي فورم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې شاعر یا ناظم په کې ډېر ازاد لاس لري. د دنیا لوی او اوږده داستانونه چې په منظومو فورمونو کې راغلي اکثره یې په مثنوي فورم کې ویل شوي دي. د ارسطو له خوا دا ادبیاتو د عمومي ډلبندۍ ترخنګ چې د ادبیاتو محتوا یې ((پر غنایي، حماسي او ډراماتیکو یا تمثیلي برخو وېشلې وه)) (۱: ۱) اوس هم دا نظریه د ادبیاتو د مجموعي محتوا د ډلبندۍ له پلوه د تائید او پامور بربښي، نورو ادبپوهانو هم ځینې محتوایي فورمونو ته اشاره کړې چې له هغې جملې څخه ویارنه، ویرنه، ستاینه، حبسیه، رثایه، خمریه (ساقینامه) او ځینې نور فورمونه دي، په پښتو کې اکثره دا ډول معنوي فورمونه شته، خو دلته موږ غواړو ېوازې پر هغو محتوایي فورمونو لنډه رڼا واچوو چې په پښتو لرغونو ادبیاتو کې یې څرګندې بېلګې تر موږه رارسېدلي دي. په دې فورمونو کې ویارنه، ویرنه، ستاینه، خمریه یا ساقینامه، شامل دي. دلته غواړو په ترتیب سره پر دې هر ډول معنوي فورم رڼا واچوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ویاړنه یا فخریه

ویاړنه یا فخریه هغه ډول شعرونو ته ویل کېږي چې په هغو کې شاعر یا ناظم خپلې سوبې، بریاوې، مېړانې، تورې او اتلولۍ بیانوي او پر هغو فخر کوي، یا هم د یو بل اتل پر اتلولۍ ویاړ کوي او یا په ټوله کې د خپل قوم اتلولي بیانوي او پر هغوی ویاړي. کله کله ځینې خلک (حماسه) او (ویاړنه) یوه له بلې سره مغالطه کوي، دواړه یو شان بولي، په داسې حال کې چې ویاړنه پر خپلو کارنامو ویاړېدل او حماسه د یوې جنګي پېښې کیسه ییز بیان دی. ددې لپاره چې د حماسې او ویاړنې په توپیر پوه شئ، ښه به وي چې دلته لومړی پر حماسې څه ناڅه رڼا واچوو:

**حماسه:** ((د (ح، په زور) د شجاعت او زړه ورتوب مانا لري او له ډېرو زړو او مهیجترینو ادبي انواعو څخه ګڼل کېږي. حماسه د ادبیاتو په موضوعي یا معنوي ډولونو کې یو ډول دی چې د یو ملت، قوم، قبیلې او یا شخص د مېړانې، تورې کیسې او جنګي کارنامې په حکایتي او داستاني ډول بیانوي. حماسه معمولاً په مثنوي کالب کې وي.

په حماسه کې یوه اساسي موضوع د اتل ده. هره حماسه یو اتل لري. د شرقي ادبیاتو مشهورې حماسې د فردوسي شاهنامه، د اسد خواسي ګرساسپنامه، د دقیقي بلخي ګشتاسپنامه، د هندوانو مهابهارت، راماین او نورې دي. حماسه د حماسي اشعارو له مجموعې څخه جوړېږي. کېدی شي حماسه منثوره هم وي، لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسدي طوسي د منظومې ګرشاسپنامې ماخذ منثوره ګرشاسپنامه وه. نو ځکه خو وايي: حماسه په لغت کې زړورتوب او د شجاعت په مانا راغلې ده او په اصطلاح کې هغو منظومو او منثورو اثارو ته وايي چې د جنګ په ميدانونو کې د سترو مېړنو او اتلانو د زړورتوب او رشادت حکايت کوي. په بل عبارت حماسه هغه وضعي اثار دي چې د يو قوم يا فرد د پهلوانيو، مېړانو، اتلوليو او افتخاراتو بيانونه لري.

د حماسو منشا لرغونې، تاريخي، ديني او د پهلوانيو داستانونه دي او يا هم تخيلي داستانونه دي، په (ادبي ډولونه) نومي کتاب کې لولو، څنګه چې حماسه د انساني ژوند د لومړنيو دورو خاطرات جوړوي، نو ځکه دا خاطرات د کيسو او شفاهي افسانو په بڼه سينه په سينه نقلېدل، تر هغې چې وليکل شول، د بېلګې په توګه د فردوسي تر زمانې پورې د رستم او سهراب داستان تدوين شوی او ليکل شوی نه و.

په پښتو کې شفاهي او هم ليکلي منظوم او منثور حماسي اثار لرو. په منثورو شفاهي حماسو کې مو د ادم خان او درخانۍ، موسی خان او ګلمکۍ، فتح خان او رابيا او نور نکلونه لرو او په ليکلو منثورو حماسي پښتو اثارو کې مو د محمد امين سرپرېکړي (۱۱۷۴هـ. ق مړ) (جګړه د محمود افغان او نيول د اصفحان) نومي اثر او همدارنګه د حافظ نورمحمد (۱۱۷۴ه. ق

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوکړی) د برېښنا یا خدی حماسي اثار یادولای شو، چې دواړه منثورې حماسې دي.

د بېلګې په توګه: په پښتو ادب کې (ادم خان او درخانی)، (فتح خان او رابیا) او (موسی جان او ولي جان) نکلونه حماسې دي، مګر منظومې یې نوې او تر منثورو روایاتو ډېرې وروستی دي.

برېښنا اثر: د حافظ نورمحمد دی، دی د محمد امین سرپرېکړي زوی و.

احمدشاهي شاهنامه: د حافظ ګل محمد مرغزي اثر دی.

**حماسه:** کېدی شي اوږده وي، کېدی شي لنډه وي. روسي او د شرقي اروپا پوهان وایي: کېدی شي حماسه وړه، منځنی او لویه وي.

کله کله د ویاړنې او حماسي شعر ترمنځ هم توپیر نه کېږي، نو ددې لپاره چې د حماسي شعر او ویاړنې په توپیر پوه شو، دلته غواړو حماسي شعر ته هم په لنډیز سره اشاره وکړو:

**حماسي شعر:** دا اشعار هم د رزم و جنګ ویاړ، افتخار او مبارزې او یا جنګ ته د جنګیالیو د تشویق خبرې رانغاړي، په بله وینا دا ډول اشعار په خلکو کې د مبارزې، روحیه پیاوړې کوي، د ولس د عوامو اعتراضونه، پرخاش او د خلکو جنګي روحیه منعکسوي. زموږ په لومړنی ادبي دوره کې د بابا هوتک، ملکیار

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرشین او تـایمني سـندرې رزمـي او جنګـي شـعرونه دي او بشـپړ حماسي اشعار يې بللای شو، خو حماسې نه دي.

ويارنه يا مفاخره په لغت کې فخر کولو، د لـويۍ اظهـارول، پـر خپل ځان ويارل، فخر، مباحثات او ناز ته وايي او پـه ادبي مبـاحثو کې مفـاخره يـا ويارنـه هغـه شعر تـه ويـل کېږي چې شاعر پـه کې د خپلې کورنۍ او قبيلې افتخـارات، سـخاوت، شجاعت او پـر نفس واکمني، د کمال تر حده په عالي قرينه ويلي دي. پـه شرقي ادبيـاتو کې دا ډول اثار د فخريې په نامه يادېږي. ويارنه د حماسي اشعارو په فروعـاتو کې مطالعه کېږي. په پښتو کې يې نمونـه د اميـر کـروړ شعر دی.)) (۵۲: بېلابېل)

اکثرو ادبپوهانو په پښتو کې د امير کروړ شعر ويارنه يا فخريـه ګڼلی، خـو ځينـو ورتـه حماسـي شـعر هـم ويـلای دی. د حماسـې او حماسي شعر ترمنځ هم توپير موجود دی، لکه څنګه چې مـو پـورتـه حماسي شعر او حماسې تـه نغوتـه وکړه، نـو د هغـو لـه مخې د اميـر کروړ شعر په حماسي شعر کې نه راځي او حماسه خو ورته ببخي نـه شو ويلای. کله چې هم د امير کروړ شعر يا نظم له هر پلوه ارزوو، نو د ويارنې ځانګړنې په کې زيـاتې دي. د شـاعر د ستاينې محـور پـه خپله خپل ځان دی، د ويار ټوله پاملرنه يې د ځان پر چـورليز راځي.
زه يم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نه شته، په هنددو سندو پـر تخـار و پر کابل نه شته. بل په زابل نه شته – له ما اتل نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پر دښمنو يې د ارادې غشي ځي، پر ژوبله او مات شويو باندې يرغل کوي. که د بريو پرخول يې هسک په وياړ او نمانځنه تاوېږي او يا يې د اس له سو څمکه ربړدي، غرونه تاوېږي، ايوادونه ويجاړېږي، نو دا دده د تورې زور دی.

که د تورې تر شپول لاندې يې هرات او جروم دی او يا يې هم غرج و باميان، تخار او نور تر اودې لاندې دي، يا ورځخه په مروه کې غشی ګوازرېږي، دښمن ورځخه ډارېږي، ان زړور خلک هم ورځخه رپېږي او د هريرود پر څنډو ځي نو پلن ورځخه تښتي، دا ټول دده د تورې زور دی، که بيا خپلې سوبې هم يادوي، نو پر خپلې تورې د وياړ پر محور څرخي.

که د زرنج سوبه يادوي، نو هم په حقيقت کې خپله بريا يادوي او دا بريا بيا د خپل کهول برى هم ګڼي او د سور د کهول وياړ هم، په پای کې د خپلې مهربانۍ او لورېينې په باب غږېږي، چې خپلو وګړو لره لور پېرزوينه کوم، دوی په ډاډ سره روزم، پالنه يې کوم او د پرمختيا او ودې لارې چارې ورته برابروم، د همدې تورې مېړانې او اتلولۍ له امله دي چې وايي: پر لويو غرو مې دنيا درومي نه په ځنډ و په ټال، نړۍ زما ده نوم مې بولي پر دريځ ستايوال- په ورځو ځو مياشتو کال- له ما اتل نه شته.

دې کلام ته چې ګورو نو زياته محتوايي برخه يې د خپل ځان، خپلې تورې او خپلې مېړانې پر محور راڅرخي، نو ځکه خو ورته د وياړنې د ځانګړنو له مخې وياړنه يا فخريه کلام ويلای شو. تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرغـونې دورې وروسـته پـه نـورو دورو کـې هـم فخريـه يـا ويـاړنيز شعرونه شته، خو څرنګه چې هغه زموږ د بحث موضوع نه ده، نو د وياړنې د يـوې عملي بېلګې پـه توګـه د امير کروړ پـر همدې يـوې وياړنې بسنه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ویرنه

ویرنه هغه ډول مانیز یا محتوایي فورم دی چې شاعر په کې د خپل دوست، عزیز، اتل یا ممدوح د مړینې، غم، درد او یا هم خپل ځان، خپلې کورنۍ او بل چا په باب غم ځرګند کړی وي، په لنډه مانا ویرنه پر غمیزه باندې د غم او درد ځرګندولو ته وايي. په پښتو لرغونو ادبیاتو کې دا محتوایي فورم شته چې ښه بېلګه يې د شیخ اسعد سوري هغه قصیده ده چې د محمد سوري پر مړینې یې ویلې ده. دا شعر د شکل له پلوه یوه قصیده او د محتوا له پلوه یوه ویرنه ګڼل کېږي، د مرثیې ځانګړنې هم په کې شته، ځکه چې د محمد سوري د مرګ بیان کوي. په دې ویرنه کې شاعر لومړی د فلک له چارو فریاد کوي بیا د خپل ممدوح توصیف کوي او په پای کې ورته دعا کوي او وايي چې په جنت کې دې مکان شه. شیخ اسعد سوري په پیل کې د فلک له چارو ځکه کوکارې وهي چې د سپرلي ګلان رژوي او هر غاټول چې پر بیدیا وغوړېږي، هغه يې پاڼې پاڼې رژوي، همدا فلک دی چې ډېر مخونه یې په ځپېړو شنه کړي او ډېر سرونه یې تر خاورو لاندې ښخ کړي دي. له ډېرو واکمنو یې د واکمنۍ تاج کښته کړی او د ډېرو ښوزلو وینې یې تویې کړي دي. له فلک څخه تر شکایت او د هغه له ظلمونو څخه تر فریاد وروسته هغه ته خطاب کوي او خپلې ګیلې مانې ورته بیانوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څـه تـېرې څـه ظلم کاندې ای فلکه!
ستا دلاسه نه دی هـــېڅ ګل بې له خار

بیا ورته وايي چې په زړه کلک يې، پر غمجنو او ويرژلو د غم ناتارونه اوروي او دې خطابې ته په همدې ډول دوام ورکوي. فلک ته تر خطابي بيتونو او له هغه څخه تر فریاد او شکايتونو وروسته پر خپل ممدوح غم او خفګان څرګندوي او بيا فلک ته وايي.

کله غورځوې واکمن له پلازونو
کله کښېنوې په خاورو کې بادار

فلک نه بیا شکایت کوي او ورته ووايي چې نن دې يو ځل بيا زموږ پر زړونو يو غشی وويشت او په دې غشي دې په زرګونو زړونه ژوبل کړل، دې کار سره پر سوریو باندې وېر پرېوت او دا له همدې امله چې محمد سوري له دې نړۍ څخه لاړ.

د شاعر په وينا د محمد سوري پر مرګ د غور ټول خلک ويرمن شول او د ښار رڼا پرې تياره شوله، له غرونو څخه د غم اوښکې څاڅي، په غرونو او رغونو کې هغه ښېرازي نه شته او نه د زرګو هغه پخوانی کتهار. شاعر د غم، درد، فریاد او شکایت تر څرګندولو وروسته خپل ممدوح ته د دعا لاسونه پورته کوي.

په جنت کې دې وتون زموږ واکمنه
هم پـر تـا دې وي ډېر لور د غفار

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا قصیده چې له سره تر پایه ګورو، نو په هر بیت کې یې د غم او ویر تصویرونه ښکاري، نو ځکه ورته ویرنه ویلای شو، په ځینو نورو شعرونو کې هم د غم ساندې ښکاري، خو د شیخ اسعد سوري قصیده له پیله تر پایه د غم او ویر انګازې لري.

قصیده د محتوا له پلوه له پیله په غم او فریاد پیلېږي او په پای کې په غم او دعا پایته رسېږي. نو ځکه یې د محتوا او مانا له پلوه یوه پوره ویرنه ګڼلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ستاینه

هغه ډول شعري فورم ته ویل کېږي چې شاعر په کې زیاتره د خپل ممدوح ستاینه کړې وي. په ستاینه کې د بریاوو ذکر کېږي، ماتې ډېرې نه یادېږي او شاعر په کې د خپل ممدوح پر بریا د خوشالۍ اظهار کوي. په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د ښکارندوی غوري قصیده د ستاینې په محتوایي فورم کې راتلای شي. دا قصیده چې د پسرلي په توصیف پیل شوې، د خپل ممدوح د بریا په توصیف پایته رسېږي. ښکارندوی به پیل کې د پسرلي یادونه کوي. د ښکارندوی غوري قصیده ټوله (۴۵) بیته لري چې د (سلطان شهاب الدین غوري) په ستاینه کې ویل شوې ده. دا قصیده په یوه پرلپسې توصیف یا تشبیب پیلېږي.

د پسرلي ښکلونکي بیا کړه سینګارونه
بیا یې ولونل په غرونو کې لالونه
مځکه شنه، لاښونه شنه، لمنې شنې شوې
طیلسان زمرودي واغوسته غرونه

د سپرلي تر ستاینې وروسته بیا د خپل ممدوح ستاینې ته راځي او د خپل ممدوح په باب وایي لکه څنګه چې چونې د جنډیو په صفتونو نه مړېږي، زه هم د سلطان په صفتونو نه مړېږم، خپل ممدوح د (شنسب) له کوره یو راختلی لمر ګڼي او داسې یو پسرلی یې بولي چې له اوکوبه یې غرونه رغونه ودان دي. د ښندو اورویې ټول هېواد اباد کړی، له (قصداره) تر (دبیله) یې ټوله سیمه زرغون کړې ده. په زابل چې د بري پر نیلي سور شي، نو پر (لاهور) د مېړانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوزارونه کوي، دښمنان ددې توان نه لري چې دده مخې ته ودرېږي، دده تورې ته ډالونه تاب نه لري د اسلام د دین شهاب او د دین لمر دی، (تورستهان) يې په جهادونو رڼا او روښانه کړل، هر ځل او هر وخت چې دی پر هند و سند يرغل کوي، توره نړۍ په شهابونو باندې روښانوي. د قصيدې پيل، منځ او پای ټول په همدې ستاينو امتداد پيداکوي، بيا پای يې هم په ستاينو پای ته رسي او بيا خپل ممدوح ته دعاګانې کوي او وايي چې د دين شهابه لاره دې روښانه وي، نوم دې پر دريځ، مسجد او هرځای کې ځلانده اوسه.

ځو رانه ســـي ستا په توره د هند لوريه
ځـــو چـــې مات کړې له نړيه بودتونونه
ستا په زېرمه دې خاونده لوی ځښتن وي
موږ خو ستا په مرسته يونه ځو چې يونه

دا قصيده له سره تر پايه له ستاينو او صفتونو ډکه ده، نو ځکه خو ورته د ستاينه يوه ښه بېلګه ويلای شو.

البته په ښتو لرغونو ادبياتو کې ځينې نور داسې شعرونه هم شته چې څه ناڅه د ستاينې ځانګړنې لري، خو د ښکارندوی غوري دا قصيده تر ډېره حده دا ځانګړتياوې لري او په ټول يوه پوره ستاينيزه قصيده ورته ويلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساقینامه

خمریه یا ساقي نامه د شعر یو معنوي ډول دی چې د فخریه اشعارو په فروعاتو کې شاملېږي، په دې ډول اشعارو کې به شاعرانو له ساقي څخه د شرابو ارزو کوله، د ساقي، جام، ګل مل او صراحي صفتونه به يې بیانول، د دنیا بې وفايي به يې ښودله او شاعرانو به دا ویل غوښتل چې د دنیا څو ورځې ژوندون بای‌د په خوښۍ، بزم او مینوشۍ تېر شي، دا ډول اشعار په عام ډول د مثنوي په متقارب بحر کې ویل کېدل.

د پښتو ادبیاتو یو نومیالی کره کتونکی (زرین انځور) وايي: ((ساقینامه د ختیځ په شاعرۍ کې یوه په زړه پورې شاعرانه ډول دی چې د شرق ډېرو شاعرانو په کې خپله شاعرانه طبع ازمویلې ده.

د فورم یا قالب له پلوه زیاتره ساقي نامې د (مثنوي) په بڼه کښل شوي، خو د ترجیح بند او ترکیب او نورو کلاسیکو شعري قالبونو په چوکاټونو کې هم د ساقینامو بېلګې شته دي.

د موضوع له پلوه زیاتره (ساقینامې) د رندانه او مستانه شېبو د هیلو او یا د همدغو شېبو د انعکاس په څنګ کې د نړۍ بې وفايي او فنا او د همدې فنا د غم له امله د ساقي څنګ ته د پناه د وروړلو شېبې انځوروي.))(۳: ۲۳)

د لوی استاد عبدالحی حبیبي په وینا ((دې ډول شعرونو په عربو کې له پخوا څخه رواج درلود، بیا عجمي شاعرانو دغه ډول شعرونه ویل او په همدې تقلیدي ډول په پارسي شاعرۍ کې د خمریه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشعارو ویل او د ساقي نامو جوړول پیل شول او د دغو ژبو د ادبیاتو تر تاثیر لاندې په پښتو شاعرۍ کې هم ساقي نامه ویل باب شوي دي.)) په پښتو کې هغه تر ټولو پخوانۍ لاس ته راغلې ساقینامه چې زموږ په واک کې ده، د زرغون خان نورزي ساقینامه ده چې ګرده (۲۹) بیته ده. زرغون خان نورزی د نوزاد له نورزو څخه و چې پر (۸۹۱هـ) کال یې هرات، خراسان او عراق ته سفرونه وکړل، کله چې شیباني خان سیستان ته ورسېد ، ده ورسره جنګونه وکړل، پر (۹۱۳هـ) کال دده پښتو دېوان بشپړ شوی و ، دې دېوان درې سوه پاڼې درلودې چې یوه ساقینامه یې موږ ته رسېدلې ده، چې دلته به یې څو بیتونه وړاندې کوو:

ساقي پاځه پیاله راکړه مرور یار مې پخلا کړه
اوبه تویې په لنبو کړه اور مې مړ په دې اوبو کړه

زلفې تاوې د سنبل کړه پسرلی سو غونچه ګل کا

شاعر وایي، د پسرلي وخت دی، غونچې ګلان شوي، نو ته هم د سنبل زلفې تاوې کړه، بلبلان په شور و فغان راغلي دي او پر ګلستان ګرځي راګرځي او کړېږي، زاهد له صومعې څخه ځي او له میخانې څخه شراب اخلي، نو هر سړی چې ګورې په میو مست دی او په دې پسرلي کې د ګلانو پالنه کوي، په غرو رغو کې لمبې بلې دي، مانا دا چې غاټول په کې غوړېدلي دي، ټول جهان سور او شین دی، وچ غرونه هم په ګلو پوښل شوي دي، هر سړی شور او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوشالي کوي، د ياراني غوښتنه کوي. پسرلی د يارانو وخت دی او هم د پيمانې د اوچتولو مهال دی، نو بيا ساقي ته خطاب کوي چې:

نو ساقي پاڅه بهار دی نن ژوندون سبا رفتار دی

په دې ډول د پښتو دغه تر ټولو پخوانی ساقينامه د ساقينامې ويلو ټول هغه اداب او خصوصيات رانغاړي، چې شعر پوهانو دغه ډول شعرونو ته د معيار په توګه ټاکلي دي.

ددې ساقينامې مطالعه راښيي، چې دغه وخت پښتو ادبيات د نورو شرقي ژبو ادبياتو ته ښه نږدې شوي وو.

د وياړنې، ويرنې، ستاينې او ساقينامې ترڅنګ د حماسي او مرثيه شعرونو ځينې ځانګړنې هم شته، خو داسې شعرونه په کې نه شته چې پر هغو دې د بشپړې حماسې او يوې پوره مرثيې حکم وشي. نو ځکه دلته د محتوايي فورمو پر همدغو څلورو ډولوو (وياړنې، ويرنې، ستاينې او خمريې يا ساقينامې) او د هغو پر اړوندو بېلګو بسنه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لسم څپرکي لنډیز

د پښتو ادبیاتو په لرغونې دوره کې د ځینو معنوي فورمونو بېلګې زیاتې څرګندې دي، ویاړنه یا فخریه چې د امیر کروړ شعر یې ښه بېلګه ده، (ویرنه) چې د شیخ اسعد سوري قصیده یې ښه بېلګه ګڼلای شو، (ستاینه) چې د ښکارندوی غوري قصیده یې ښه بېلګه ده او ساقینامه چې د زرغون خان نورزي مثنوي یې څرګنده بېلګه ده. د امیر کروړ د شعر محتوا پر ځان باندې د باور، ځان ستاینې او پرځان باندې د ویاړ پر محور راڅرخي. شاعر پرځان فخر کوي او خپل ځان په خپله ستایي. د شیخ اسعد سوري ویرنه بیا د هغه د ممدوح، دوست او د غور واکمن (امیر محمد سوري) د غمګین ژوند داستان او د هغه د پاچاهي رنګېدو ته ځانګړې شوې، چې له پیله بیا تر پایه له غمه ډکه ده او په قصیده کې یو غمګین داستان بیانوي. د ښکارندوی غوري ستاینه بیا د (سلطان شهاب الدین غوري) ستاینې ته وقف شوې او پر هند باندې د هغه د یرغل او فتحې ستایي. قصیده ټوله له ستاینې ډکه ده او د خپل ممدوح پر ستاینې راڅرخي. د زرغون نورزي ساقینامه بیا د ساقي، میو، میخانې، ګل ومل، پسرلي، عیش او عشرت پر چورلیز راڅرخي.

د پورته معنوي فورمونو ترڅنګ د رزم او بزم او د ژوند د نورو ډګرونو په محتواوو سمبال د ځینو نورو شعرونو بېلګې هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرغـوني دوره کـې محسوسـې دي خـو دلتـه مـو د همـدغو ثلـورو ډولونو مصنوعي فورمونو پر يادونې بسنه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لسم څپرکي پوښتنې

- د امیر کروړ شعر د معنوي فورمونو په کوم ډول کې راځي؟
- معنوي او شکلي فورمونه یو بل سره څه ډول اړیکي لري؟
- ویرنه څه ته وایي او پښتو لرغونې ادب کې چا ویرنه ویلې ده؟
- د ویاړنې او حماسې ترمنځ څه توپیر موجود دی؟
- ستاینه کوم ډول معنوي فورم دی، په پښتو لرغوني ادب کې یې بېلګه په ګوته کړئ؟
- ساقینامه څه ډول معنوي فورم دی، پښتو کې لومړی معلومه ساقینامه چا ویلې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوولسم څپرکی

## د لرغونو ادبیاتو فکري څرنګوالی

د ادبیاتو یوه ځانګړنه داده چې د هغې په هنداره کې هر څه ځلېږي، په همدې خاطر ادبیاتو ته د یوې ټولنې وجدان هم ویل کېږي. وجدان ورته ځکه وایي چې په ادبیاتو کې دروغ نه ویل کېږي، د ادبیاتو اساس پر واقعیت او رښتیا ولاړ دی. ټولنپوهان په دې نظر دي چې که غواړې د یوې ټولنې متن، بطن، زړه او ذهن مطالعه کړې او هغه وشنې، نو بایده دي چې ادبیات یې مطالعه کړې. د ادبیاتو د مطالعې له لارې مونږ د اړوندې ټولنې روحیاتو ته ورداخلېدی شو. طبیعي خبره ده چې د هرې ټولنې په ادبیاتو کې تنوع او فکري رنګارنګي موجوده وي. همدا فکري رنګارنګي ددې سبب ګرځي چې د ټولنې د بېلابېلو ډګرونو انځورنه وکړي. پښتو ادبیات په تېره بیا د لرغونې دورې ادبیات هم طبیعتاً دا رنګارنګي لري. پښتو ادبیات له خپل چاپېریال څخه رنګ او خوند اخلي، څه چې د ټولنې په متن کې دي هغه د پښتو شاعرانو په کلام کې ځلېږي، کله چې جګړه پېښه شوې، نو د رزمي افکارو انعکاس په کې ښکاري، که د بزم دوران راغلی، بیا د بزم رنګ اخلي، که د ویاړ او فخر پړاو راغلی، نو بیا پرځان باندې د باور روحیه پیاوړې شوې، ویاړنې رامنځته شوې، ملي افکارو وده کړې او دا افکار په شعر کې ځلېدلي دي، دیني تفکر چې زمونږ ولس ورته ډېر معتقد دی، په پښتو لرغوني ادب کې په څپو دی، یانې دا چې بېلابېل، اسلامي، غنایي، حماسي، ملي او نور افکار په کې ځلېږي. دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

غــوا ړو پــه پښــتو لرغــونې شــاعرۍ یــا لرغــوني ادب کــې همــدې رنګارنګیو ته نغوته وکړو او غټو برخو ته یې لږ تم شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسلامي افکار

په پښتو ادبياتو کې د اسلامي افکارو څرک د څلورمې هجري پېړۍ نيمايي ته رسي. په همدې وخت کې لودي شاهانو د اسلام د تبليغ لپاره هرې خواته هلې ځلې وکړې دا هلې ځلې که له يوې خوا د تورې تر سيوري لاندې وې، نو بله خوا د فکر پلوشې هم ورسره مل وې، دا فکري پلوشې د شيخ رضی لودي او نصر لوددي په پارکو کې هم ډېرې ښې ځلېږي، چې د دواړو د مناقشې اصلي علت اسلامي فکر او ګروهه وه. بيا په همدې پېړۍ کې د ښېټ نيکه مناجات دي چې همدا ديني اسلامي روحيه لري او تر هغه وروسته د شيخ اسمعيل يو پارکی دی چې وايي:

تېښته وکړه له ابليسه چې ابليس لعين ښکاره شي
هلته ورکه پلوشه شي تول نړۍ توره تياره شي

نو حل لاره هم همدا ګڼي چې:

که هر چا ابليس خرخ کړ نو يې هله ننداره شي

بيا د شپږمې هجري پېړۍ په جريان کې د اسلامي فتوحاتو کارنامې او د اسلام د مقدس دين د خپرولو لپاره د غوري افغان شاهانو هڅې زموږ د هېواد او منطقې په تاريخي کتابونو کې راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غور شاهانو چې د هندوستان ځمکو ته د اسلام د مقدس دین د خپرولو په منظور لښکرې ورلېږلې. په دغو لښکرو کې د پوځ ترڅنګه علما، اسلامي مبلغین، شاعران او صوفیان هم شامل وو، لکه دمخه مو چې یادونه وکړه، د پښتو ژبې شاعر (ښکارندوی غوري) به هم د (سلطان شهاب الدین غوري) له لښکرو سره ملګری و.

د پښتو ادبیاتو کومې پخوانۍ بېلګې چې تر موږه رارسېدلې دي، په هغو کې ځینې داسې اثار شته، چې د اسلام د خپرېدو او اسلامي فتوحاتو د ملاتړ لپاره ویل شوي دي. د اسلامي فاتحانو ستاینه یې کړې ده او د اسلام په ننګه د جنګېدونکو اسلامي لښکرو د هڅولو او پارولو هڅه په کې شوې ده. ددغسې خصوصیاتو لرونکې یوه د ملکیار غرشین سندره ده، ملکیار غرشین په خپله سندره کې وایي:

خښتن مو مل دی اوس مو یرغل دی هېواد د بل دی

غازیانو ګورئ خښتن مو مل دی

بیا خپلو پلویانو ته وایي چې:

توري تېرې کړئ دښن مو پرې کړئ منګولې سرې کړئ

ځله به تښتو خښتن مو مل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه بیا پر خپلو سرتېرو او خپلو ملاتړو باندې غږ کوي چې برى زموږ په برخه دى، زړونه او هوډونه ورته ټینګ کړئ:

که ټینګ کړو زړونه    په بري یونه    چې زمري یونه

اسلام راڅخه دی    ښتن مو مل دی

ملکیار غرشین په پای کې پر خپلو غازیانو غږ کوي چې د سلطان شهاب الدین غوري ملا وروتړئ، د دښمن ملا غوڅه کړئ، لوی ښتن زموږ مل دی او موږ ته به برى راکوي:

غازیانو راسئ    ټول شاو خواسئ    د شهاب په ملا سئ

دښن مو غوڅ کئ    ښتن مو مل دی

د ملکیار غرشین دا سندره ددې سبب شوه چې پښتانه غازیان په جګړه کې برى ومومي. دا جګړه د اسلامي مفکورې پر بنسټ ولاړه ده او شاعر هم په دې عقیده دی چې ښتن یې مل دی او دوی د اسلام د بریا او د الله تعالی د رضا لپاره مبارزه او جګړه کوي.

دا لوړه سندره د خپل جوړښت له پلوه د پښتو په لرغونو سندرو کې شامله سندره ده او شاعر د اسلامي لښکرو د روحیې د لوړولو او د اسلام په ننګه جنګ ته د دوی د هڅولو په منظور ویلې ده.

لکه څنګه چې مو د ملکیار غرشین په پېژندنه کې ویلي وو، دی د پښتنو غرشین قبیلې ته منسوب دی چې د پښتو په ادبي او تاریخي څېړنو او د صوفیانو او علماوو په تذکرو کې د (ملکیار غرشین) په نامه شهرت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملکیار غرشین د سلطان شهاب الدین غوري د زمانې سړی دی، کله چې سلطان شهاب الدین غوري د اسلامي فتوحاتو په منظور پر هندوستان لښکر کشۍ کولې، نو دغه شاعر او عارف هم دده ملګری و. څنګه چې سلطان شهاب لومړی ځل پر (۵۷۱ هـ ق) کال پر ملتان حمله کړې وه، نو دغه رزمي سندره هم زموږ د ادبي مورخانو په اثارو کې ددغه وخت ګڼل شوې ده. د ملکیار غرشین په شان (تایمني) هم د خپلې زمانې د واکمن (سلطان غیاث الدین غوري) ستاینه کوي او وايي چې د اسلام دین دده په توره روښان دی.

د تایمني سندره:

نن زه ږغیږم په صفت د سلطان چې دی بادار غازي ملک د جهان

د فیروزکوه او غور رڼا لـه دده دهم د تېرو تورو برېښنا له دده

چې توره وکاږي چړتون کړي خالي غلیم یې کله کړي په توره سیالي

غیاث الدین د غور زمری عالیشان

د اسلام دین دده په توره روښان

شاعر وايي، ما د داور په ځمکه د ارم باغ ولید چې د جنت په څېر ښه ښېرازه بڼ و، د فیروزکوه په شان ودان او هر ګل یې له خوښۍ څخه خندان و، د اوبو ابشارونو دلته اوازونه کول، اوبو سردونه ویل، دې ښکلا ته هر سړی حیران ولاړ و او د خدای پاک د باغ و بستان ننداره یې کوله، تایمني هم د طبیعت ستاینه کوي او هم سلطان غیاث الدین ستايي چې د تورې په برکت یې د اسلام دین

(c) ketabton.com: The Digital Library

روښانه دی، تايمني د خپل شعر په وروستي بند کې سلطان غياث الدين د جهان لمر ګڼي، دده په توره هند کې د اسلام دين وغوړېد، دا داسې يو واکمن و چې کله به په غور کې پر اس سور شو، نو پر کافرانو به ناورين راغی او بيا وروسته دعا کوي چې په هر ميدان دی دده بری او کاميابي په برخه وي:

غـــياث الـــدين د جـــهان لـــمر دی نـــا
عـــالم لـــه دده ډېـــر بهـــره ور دی نـــا
هـــند يـــې روښانـــه پـــه اسـلام کـــئ نـــا
لـــه ځـــاني خـــوښ خيرالانـــام کـــئ نـــا
چـــې يـــې پـــه غـــور کـــې نيلـــي زيـــن کـئ نـا
پـــر کـــافرانو يـــې نـــاورين کـــئ نـــا
تـــل دې بـــری وي د غـــازي پـــر مـــيدان
زه تـــايمني ستاينـــه کـــړم د ســـلطان

د ملکيار غرشين او د تايمني ددې شعرونو ارزښت په دې کې دی چې د اسلام د مقدس دين د خپرېدو او اسلامي فتوحاتو په ملاتړ او درناوي ويل شوي دي. همدا دوه پښتو سندرې زموږ په واک کې دي، چې دواړه د شپږمې هجري پېړۍ په دوران کې ويل شوې دي، دا سندرې دغه لاندې ځانګړنې لري.

۱) په دې دوو سندرو کې د ملکيار غرشين سندره د پښتو د لرغونو سندرو په قالب کې ويل شوې او بله د تايمني سندره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو د ولسي شاعرۍ له انواعو څخه د یوې ساده چاربیتي په قالب کې جوړه شوې ده.

دلته د ویلو وړ خبره داده چې د تایمني تر چاربیتې دمخه بله پخوانۍ چاربیته موږ نه لرو او یا تراوسه نه ده کشف شوې.

ددې چاربیتې موجودیت موږ ته راښیي، چې د شپږمې پېړۍ په جریان کې زموږ د شاعرۍ ملي لرغونو اشکالو ورو ورو خپل ځای د پښتو د ولسي شاعرۍ اوسنیو اشکالو ته پرېښوده او چاربیتې له شپږمې هجري پېړۍ راپدېخوا د پښتو په ولسي شاعرۍ کې رانښلېدلې دي.

۲) په دې سندرو کې د ملکیار غرشي‌ن سندره د سلطان شهاب الدین د اسلامي فتوحاتو په یوې تاریخي پېښې پورې مربوطه ویل شوې ده، هغه پېښه مورخینو داسې راوړې ده:

یو ځل د سلطان پر لښکرو د کفر د لښکرو قوت زیات شو او نږدې وو چې د اسلام لښکر ماتې وخوري، نو د پښتو شاعر (ملکیار غرشین) چې په دې لښکرو کې شامل و، دا سندره وویله چې اسلامي لښکر یې جنګ او مېړانې ته وهڅاوه او مسلمانان، لکه زمریان د کفر پر لښکرو راتوی شول او سوبه د افغان سلطان شهاب الدین غوري د لښکرو په نصیب شوه.

زموږ شاعر د لښکرو د هڅولو او پارولو لپاره ډېر مناسب کلمات په خپله سندره کې استعمال کړي دي، چې اوس هم د پارولو خاص قوت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تايمني سندره، سره له دې چې درې بنده يې زموږ په واک کې دي، د سلطان غياث الدين غوري په ستاينه کې ده، دده د پاچهۍ شان و شوکت او دبدبه يې ستايلې ده، خو د سندرې په موجود متن کې يو بند داسې هم راغلی دی، چې په هند کې دده اسلامي فتوحات په کې ستايل شوي دي او د اسلام د خپرېدو په لړ کې دده سلطان هڅه هم ستايل شوې ده.

۳) ددې دواړو سندرو غټ ارزښت په دې کې دی، چې په دواړو سندرو کې بيان شوي موضوعات او مسايل له تاريخي پېښو سره سل په سلو کې سمون لري او د غوريانو د عصر په مشهور تاريخي کتاب، (طبقات ناصري) او نورو ډېرو تاريخي کتابونو کې دغه مسايل او وقايع چې زموږ د دغو شاعرانو سندرې ورپورې اړه لري، ټول په تفصيل سره بيان شوي دي.

۴) دا سندرې سره له دې چې په کمي لحاظ ډېرې نه دي، خو کيفيت يې لوړ دی او هغه هم په دې مانا چې په شپږمه هجري پېړۍ کې زموږ د ولس رزمي روحيه او د غور د افغان شاهانو له حربي او اجتماعي کارنامو سره د پښتنو شاعرانو علاقه او مينه ترې څرګندېږي، د غور د افغان شاهانو دبدبه، جلال او شوکت موږ ته راښيي او هم د اسلام له مقدس دين سره زموږ د خلکو او مشرانو د مينې ښکارندويي کوي. لکه څنګه چې مو په پيل کې يادونه وکړه، په لرغوني ادبي دوره کې پر ملکيار غرشين او تايمني سربېره زموږ د نورو شاعرانو په کلام کې هم اسلامي او عرفاني افکار له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورایه څرګندېږي، د بېټ نیکه د مناجاتو روح هم اساساً پر اسلامي تفکر ولاړ دی، انسان او په تېره بیا عابد انسان له خدای(ج) څخه په زاریو خپل مقصود غواړي او ورته وایي دا وګړي ډېر کړې خدایه- لویه خدایه لویه خدایه، د شیخ رضی لودي او نصر لودي ترمنځ مناقشه، اندېښنه هم له اسلامي افکارو الهام اخلي، د تشویش غټه خبره هم همدا وه چې شیخ رضی لودي پر نصر لودي باندې شک څرګند کړی و چې ګنې دی له خپلې ګروهې اوښتی او نصر لودي بیا هغه د دښمنو دسیسه بولي او د خپل تره زوی ته وایي چې دی له خپلې عقیدې نه اوړي، (له اسلامه نه پرېلمه- تورانو څخه په ترپلمه یم) او بیا د خپل تره زوی شیخ رضی لودي ته وایي: (د دښنو وینا مه مغرېږده- زه لودي یمه خو زه یم) د سلیمان ماکو د تذکرې د لیکلو علت هم اسلامي افکارو ته ورګرځي، (مراقده د اولیاوو به مې پلټهل) د شیخ متي شعر خو سر ترپایه د اسلامي عرفان په ګانه سمبال دی، د زرغونې کاکړ حکایت هم د اسلامي اخلاقو پر محور راڅرخي، د بي بي نېکبختې په کلام کې هم ستر اسلامي پیغامونه او اخلاق ځای پرځای شوي، د دوست محمد کاکړ، شیخ عیسی مشوانی، شیخ سرور لودي، شیخ بوستان او نورو په کلام کې هم اسلامي افکار څرګند دي، پښتو ادب د لرغوني دورې یو زیات شمېر شاعران په حقیقت کې همدا شیخان، دیني موعظین او مذهبي مبلغین دي، پر هر یوه په خپل ځای کې پوره بحث شوی دی.

لنډه دا چې د اسلامي افکارو برخه په پښتو لرغوني ادبي دوره کې خورا زیاته او ډېره درنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غنايي افکار

د پښتو د لرغونو ادبیاتو په لاس ته راغلو نمونو کې موږ د شپږمې هجري پېړۍ په بهیر کې ځینې داسې بېلګې هم ترلاسه کوو، چې په هغو کې یوه سپېڅلې، خو سوځنده مینه انګازې کوي.

دداغسې اورنیو عشقي احساساتو لرونکې ادبي بېلګې موږ ته یوه د سلیمان ماکو له تذکرة الاولیا او بله له پټې خزانې څخه ترلاسه شوې دي، چې په لاندې ډول به خبرې وربانديې وکړو.

له دغسې سندرو څخه یوه سندره د شیخ تیمن کاکړ ده. دا سړی د (سلطان علاوالدین حسین سام) معاصر و او د (۵۵۰هـ ق) کال شاوخوا یې د ژوند زمانه ده. دی په (ږوب) او د پخواني غور د (کجران) په سیمو کې اوسېدلی دی. دده یوه سندره د پټې خزانې مولف رانقل کړې ده، شیخ تیمن کاکړ په دې سندره کې وايي:

ګهـــــیځ رڼـــا د لمـــــر خپـــــره ســـــوه
زمـــا پـــر کـــــور د ویـــــر نـــاره ســـوه
د بېلتـــــــون ورځ تــــــوره تیـــــاره ســـــوه
ږغ ســـــو ناڅاپــــه چـــــې بېلتـــــون راغـــــی

شیخ له بېلتون څخه فریاد
کوي او بېلتون یوه ویرنه بولي او
وايي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مـــــې لـــــه دې ویرنـــــې شــــین دی
پـــــــه ژړا ژاړم څـــــــه نـــــــاورین دی
زرغـــــون لـــــه اوښـــو مـــې ســـادین دی
پـــــه نـــول نـــولېږم چـــې تـــاخون راغــــی

هغه د خپلې معشوقې وصال ته د یوه ستر ارمان په سترګه ګوري او وایي کاشکې چې ژوندی یم چې شهی (معشوقه) یې غېږ ته ورشي او ده سره پخلا شي، دی د همدې ورځې په ارمان دی خو وایي چې اوس له ده څخه دده د معشوقې د بېلتون زمانه ده.

نـــــه بـــه بیـــا یـــم نـــه بـــه بیـــا راســــي
نـــه بـــه تیـــاره شـــپه زمـــا رڼـــا ســــي
نـــــه بـــــه شـــــهۍ راتـــــه پخــــلا ســــي
بېلېـــــږي پېـــــر یـــــې اوس د یـــــون راغــــی

خو دی بیا د تنګ پرمهال هم خپلې معشوقې ته زاري کوي او ورته وایي چې په تنګ خو ځې خو د خدای لپاره چې لاړه هم شې، نو چې زه دې له یاده ونه وځم او هېر مې نه کړې:

د ښښـــتن پـــار دی هېـــر مـــې نـــه کـــړې
آغلیـــــه مـــــخ چـــــې پـــــه یانـــــه کـــــړې
اور بـــــل دې پرېښــــوی واتـــــه کــــړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــــــر مـــــا د بـــــل اور کـــــړاوون راغـــــی.

دغـه سندره د هغـو بـدلو ابتـدايي شکلونو تـه پـاتېږي، چې پـه کنـدهار او ددې سیمې پـه شـاوخوا منطقـو کـې پـه خـاص شـور او جذب او ځانګړې لحن (غـاړه) ویلـې کېـږي او پـه دې سیمو کـې یـې سپرې بدلې بولي.

د شیخ تیمن پـه دې بدله کې یـوه مینـه او یـوه سپېڅلې پښـتني مینه څپې وهي او پـه خورا پرېولـو الفـاظو کـې یـې خپلـه مینـه بیـان کـړې ده، لوست یـې اوس هـم پـر لوسـتونکي او اورېـدونکي خـاص اغېز ښندي.

د پښتو بله عشقي سندره چې تر موږ رسـېدلې ده، هغـه د (قطب الدین بختیار کاکي) خوندوره زړه سندره ده.

لکه څنګه چې دده پـه پېژندنـه کـې مـو ویلـي وو، قطب الـدین د احمد زوی د موسی لمسی دی، کورنۍ یې له بختیارانو څخه (سند) ته تللې او د سند پر (اوچ) کې اوسېدلې ده. بختیـاران د پښـتنو یـوه ستانه قبیله ده، چې د پښـتنو د انسـابو پـه کتـابونو کـې یـې یـادونـه شوې او کورنۍ یې اوس هم په کندهار او د سلیمان د غـره پـه لمنـو کې اوسي. قطب الدین پر (۵۸۰هـ ق) کـال زېږېـدلی دی، د اسـلامي معـارفو او عرفـان لـوی مراتـب یـې ګټلـي وو او پـه هندوسـتان کـې شهرت ته رسېدلی و. په (مرات الافاغنه) کې یې قطب الدین بختیار (د قطب افغان) په لقب ستایلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قطب الدین بختیار کاکي یوه د میني سندره سلیمان ماکو په تذکرة الاولیا کي راوړې ده، چې له څو بندونو جوړه ده، هغه وایي:

ویر مي زړه سوری سوری کړ        راته وګوره ملوکې
په بېلتون کې دې وباسم        له خوږمنه زړګی کوکې
راته وګوره ملوکې

راته وګوره ملوکې

بختیار بیا بېلتون داسې یو اور ګڼي چې هره شېبه دده زړګی سوځي او دی خپلې مینې دومره لېونی کړی چې د پېلوځې په شان لمبې ترې پورته کېږي:

د بېلتون اورونه بل دي
هر ګړۍ مې زړګی سوځي
لېونی یمه د مینې
سوځم زه لکه پلوځې

نو ځکه خو پر خپلې معشوقې تېنګار کوي او ورته وایي چې:

راته وګوره ملوکې

راته وګوره ملوکې

بیا خپلې معشوقې ته په خطاب کې وایي چې کله ته خپل اوربل غوړوې نو دا کار زما پر زړه اور بلوي او د همدې اور له امله

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خاورې ايرې کېږم او په دې اور مې ګوګل سوځي، نو څکه خو د مهربانۍ له مخې راته وګوره.

غـــوړېـدلی دې اوربـــل دی　　اور زمـــــا په زړګی بل دی
زه بــختيار خاورې ايرې سوم　　په اور سوی مـــې ګـوګـل دی　　راته وګوره ملوکې

راته وګوره ملوکې

د بختيار دا سندره که څه هم ډېره ساده ده، خو د استاد الفت خبره، يو موثر شعر او ښه نغمه ده او له يوه خوږمن زړه نه راوتلې ده.

د عشق او محبت د دغو دوو زړو ترلاسه شويو پښتو سندرو له مطالعې څخه موږ دواړو سندرو ته دغه لاندې خصوصيات ټاکلای شو:

۱) د عشق او محبت دغه دوه سندرې چې شاعران يې په شپږمې پېړۍ کې اوسېدلي دي او د يوې شاعر د اوومې پېړۍ د لومړۍ نيمايي ډېر کلونه هم ژوندی و، د خپلو شکلي خصوصياتو له پلوه يوه سندره د پښتو بدلې لومړنی شکل دی. د بدلې دغه ابتدايي بڼه موږ ته دا خبره هم راښيي، چې زموږ د ولسي شعر د معمولو ژانرونو، لکه بدلې او چاربيتې د تشکل زړي همدا وخت زرغون شوي دي. خو د قطب الدين بختيار کاکي سندره خپل لرغوني شکلي خصوصيات لري او موږ يې په خپلو لرغونو سندرو کې حسابوو. او ددې ښکارندويي کوي چې په لرغونې ادبي دوره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو خپل شعري فورمونه ددې جوګه وو چې د ژوند د هر ډګر افکار او غوښتنې منعکس کړي.

۲) ددغو دوا ړو سندرو ژبه ډېره روانه او ساده ده، خو ځينې داسې لغات په کې راغلي دي، چې د پښتو په ځينو لهجو کې ښايي موجود وي، خو په عامه پښتو کې نه شته. په همدې ساده لغتونو کې بيا ژوره مينه په ښه ډول انځور شوې ده.

۳) په دوا ړو سندرو کې عشق او مينه بيان شوي دي. دا مينه سوځنده ده، ښايي ځينې خلک يې د يو معشوق مينه وبولي او ځينې بيا په دې عقيده دي، چې په دې سندرو کې د سوځندې الهي مينې انګازې خورې دي.

په هر صورت د دوا ړو ډوله مينې احساس ځنې کېدی شي. پر شيخ تيمن کاکړ او قطب الدين بختيار کاکي سربېره د بابا هوتک زوی د (ملکيار هوتک) هم (ترنک) ته يوه عشقي سندره ويلې ده چې پټې خزانې خوندي کړې ده.

د ملکيار هوتک يوه خوندوره سندره پټې خزانې راوړې ده، چې دادی هغه هم دلته راوړل کېږي:

ترنک بهېږي ترنک بهېږي غاړې تر غاړې
زما زړګی خو خپل لالی غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکلیار هوتک بیا ترنک ته خطاب کوي او ورته وايي چې خدای خو دې وچ کا چې زه خپل مقصد ته ورسېږم او خپله سوده وموم.

که روده روده د ترنک روده خاوند دی وچ کا

چې زړګی مومي زما خپله سوده

ملکیار، بېلتون يو سېلاب ګڼي او زړه نېزه وړی چې د سېلاب څپو پسې اخیستی دی.

که نېز دی نېز دی نېز د بېلتون دی زړه نېزه وړی

په وير ژړلی په غم زبون دی

که اور دی اور دی په زړه يې اور دی‌دا اور به وچ کا

د وير نېزونه بل ډېر په زور دی

شاعر بیا سپوږمۍ ته خطاب کوي چې خپلې معشوقې ته یې سلام ورسوي.

نمنځه يو سه سپينې سپوږميه ورته وايه

چې ترنک ټال کړم ستا له خولګيه

بیا د سېلاب خړو اوبو ته خطاب کوي چې ستاسو له لاسه ملکیار له خپله یاره جلا دی او دا جلا والی ده ته د زغم وړ نه دی.

که خړو خړو اوبو سوان کړئ بېل ملکیار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې له یار دی                    سوب یې جانان دی.

د ملکیار هوتک تر سندرې وروسته موږ په پښتو ادبیاتو کې هغه سندرې چې پوهانو د پښتو لرغونې سندرې بللې دي، نه لرو. د ملکیار سندره ددې ډول سندرو وروستۍ سندره ده، چې د یوې سوځنده مینې بیان په کې په خورا ښکلې بڼه کې وړاندې شوی دی.

دا سندره په خورا ساده ژبه د محبت د یوه سوز په ملتیا له یاره د یوه بېل مین د زړه خبرې دي. دا سندره د پښتو په زړو عشقي سندرو کې خپل ارزښت لري. خو پر دې زړو سندرو سربېره د پښتو لرغونې شاعرۍ د نورو شاعرانو په شعرونو کې هم غنایي افکار ځلېږي. د اکبر زمینداوري مثنوي:

«زه عاشق یم یار هم نیز ـــ نور څه نه لرو تمیز»، د هغه یوه بدله «زه چې په مینه معشوقو د بنګړو شرنګ لره ځم ـــ زه د هجران د بېلتتانه د تورو جنګ لره ځم» او همدارنګ د هغه دوه غزلونه:

«د خپل ځان له حیرانۍ څه ویل کړم

د عشق ویر به تل په خپله پټول کړم»

او «چې مدام زه ستا و مخ وته نظر وړم ـــ د بېلتون له بېرې زړه زبر و زبر وړم» کې هم ظاهراً غنایي افکار په څپو دي. او نورو شاعرانو لکه شیخ بستان بړېڅ، علي سرور لودي او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حماسي افکار

د اوومې پېړۍ د دویمې لسیزې په جریان کې (۶۱۷هـ ق) د افغانستان پر ځینو ښارونو او اسلامي فرهنګي مراکزو د چنګېز د تالانګرو لښکرو حملې پیل شوې. د دغو تباه کارو لښکرو د جنګونو، وحشت او تالان په نتیجه کې ښارونه پر کنډوالو بدل شول، انسانان ووژل شول او فرهنګي مرکزونه ویجاړ شول. عالمان، شاعران او د فرهنګ لوی شخصیتونه یا ووژل شول او یا د خپلو ټاټوبو پرېښوولو ته اړ شول، کتابتونونه او کتابونه له منځه ولاړل.

دغه وخت زموږ په هېواد کې د غزنویانو او غوریانو شاهي کورنیو واک ختم شوی و پر شمالي برخو یې خوارزمشاهانو حکومت کاوه. پر سیستان او شاوخوا سیمو د نیمروز محلي واکمنان مسلط وو، په هرات کې (آل کرت) حکومت درلود او د افغانستان په ختیزو برخو کې ځینې داسې کسان واکمن وو، چې پخوا غوریانو ګومارلي وو.

چنګېز او دده اولادې د اوومې پېړۍ په جریان کې زموږ د هېواد پر بېلابېلو برخو حاکمیت درلود او په ډېره بېرحمۍ یې ددې هېواد بېوزلي ولسونه وژل او د تمدن او فرهنګ نښې یې له منځه وړلې، خو له دغو ټولو بېرحمیو سره سره زموږ د هېواد په بېلابېلو برخو کې د چنګېز او بیا د چنګېزي لښکرو پر وړاندې مقاومت روان و. زموږ د هېواد نومیالي مورخ ارواښاد میر غلام محمد غبار په خپل کتاب (افغانستان در مسیر تاریخ) کې د چنګېز او دده د اولاد د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تالان او تاړاک پر وړاندې د افغانستان د بېلابېلو سیمو د خلکو د مقاومت بیانونه وړاندې کړې دي.

څرنګه چې پښتون په سیمه کې یو جنګیالی او توریالی ولس و، نو د یرغلګر پروړاندې یې مقابلې ته وردانګلي دي، د مقاومت دا روحیه په ادبیاتو کې هم منعکس شوې ده. چنګېز او دده د اولاد او بقایاوو د لښکرو پر وړاندې د مقاومت موضوع هم د پښتو په لرغونو ادبیاتو کې منعکس شوې ده.

محمد هوتک په پټه خزانه کې د بابا هوتک یوه داسې سندره راوړې ده، چې د مغلو د تالانګرو لښکرو پر وړاندې د افغانستان د یوې سیمې د پښتنو د مقاومت څرکونه ځینې ایستل کېږي، هغه سندره داده:

پــــر ســــور غو بـــــل راتــــــه نـــــن اور دی
وګړیـــــــه جــــــوړ راتــــــه پېغـــــــور دی
پــــر کلــــي کــــور بانـــــدې مغـــــل راغـــــی
هـــــم پــــه غزنــــي هـــــم پـــــر کابـــــل راغـــــی

بابا هوتک د مغلو د همدې وحشیانه یرغل د شنډولو په خاطر په خپلو پښتنو غږ کوي او ورته وایي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

غښتلیو ننګ کړئ دا مو وار دی
مغل راغلی په تلوار دی
په پښتونخوا کې یې ناتار دی
پر کلي کور باندې مغل راغی

بابا بیا د مرغې پر ژوبلورو او غښتلو غږ کوي چې راپاڅئ او د پښتونخوا پر ننګه ودرېږئ او خپلې تورې تر ملا وتړئ.

آ د مرغې غښتلیو راسئ
پر ننګ ولاړ د پښتونخوا سئ
تورې تېرې غشې تر ملا سئ
پر کلي کور باندې مغل راغی

خپلو ځوانانو او زلمو ته خطاب کوي چې خپل ټټرونه سپر کړئ په تورو کلک ګوزارونه وکړئ ځکه چې زموږ پر کور او کلي مغلو یرغل کړی.

زلمو په غشیو کړئ وارونه
د تېرو تورو ګوزارونه
ور وړاندې کړئ خپل ټټرونه
پر کلي کور باندې مغل راغی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابا هوتک د مغلو ظلم غندي او وايي چې دوی زما د زلمو وينې بهوي، سمه او غرونه پرې سره کوي، خو دې سره سره هغه د پښتنو زلمو تورو ته نه ټينګېږي او ځغلي.

زما د زلمو وينې بهېږي
ځمکې او غرونه په سره کېږي
ميرڅى ځغلي او ترهېږي
پر کلي کور باندې مغل راغى

په دې ترڅ کې پښتنو ته خطاب کوي:

پښتنو هلئ په غره جنګ دی
سور غر په وينو د دوی رنګ دی
مهال د تورې دی د ننګ دی
پر کلي کور باندې مغل راغى

په پای کې يوځل بيا پر پښتنو زلمو غږ کوي چې پر ننګه ودرېږئ، پر ننګه او غيرت ځان مړه کړئ، د خپلو پښتنو کلي،غرونه او ځمکه وساتئ او دښمن په خپلو غشو وپيېئ.

زلمو پر ننګ ځانونه مړه کړئ
دښمن په غشيو مو پيیه کړئ
د پښتونخوا ځمکې ساته کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــــر کلـــي کـــور بانـــدې مغـــل راغـــی.

د پټې خزانې لـه بيـان سره سم هر کلـه بـه چې د مغلو لښکرو د (ارغنداو)، پر غاړو لوټ کاوه د (اتغر) او (بولان) سيمې بـه يې تـالا کولې، نو ددې سندرې ويونکي (بابا هوتک) خپل خلک راټول کړل او سره غره ته نږدې يې له مغلو سره جنګونه وکړل.

په دې جګړه کې د پښتنو قوت لږ و او غليم ډېر و، خو کله چې بابا هوتک پـه لوړ اواز دا سندره وويله نو زلمي به پـه جګړه کې تود بدل او سوبه د پښتنو په نصيب شوه.

دا سندره د خپل شکلي جوړښت له پلوه زموږ ادبپوهانو د پښتو په لرغونو سندرو کې حساب کړې ده. د مضمون له پلوه يې محتوا رزمي ده، چې د پردو لښکرو او تالانګرو پـه مقابل کې د وطن د دفاع مفکوره په کې منعکس شوې ده او خلک يې د پردو د تسلط پر وړاندې مقاومت ته رابللي دي.

کـه چېرې مـوږ د پښتو پـه لرغونو ادبيـاتو کـې د مقاومـت د مضمون لرونکو ادبياتو لټون کوو، نو څرک يې تر هر څه زيات د بابا هوتک په سندره کې ايستلی شو.

د بابا هوتک زوی شيخ ملکيار هوتک، چې د زېږېدو کال يې د پټې خزانې د ليکنو لـه مخې (۷۱۵ هـ ق) راوزي. د پښتو يو داسې شاعر دی، چې که د مقاومت سندرې يې تر موږ نه دي رسېدلې، خو ده خپله د مقاومت په جنګونو کې شرکت درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملکیار هوتک تر خپل پلار وروسته د خپل قوم مشر و او د خپلو خلکو د ابادۍ لپاره یې کارونه وکړل او کله چې د پردو یرغلونه د (سیوري) پر سیمه شروع شول. ملکیار هوتک له پردو سره د پرله پسې مقاومت له امله له خپلې سیمې دفاع وکړه او پردي (مغل) یې له خپلې سیمې وشړل.

د بابا هوتک پر دې حماسي شعر سربېره په لرغوني ادبیاتو کې د یو زیات شمېر شاعرانو په شعرونو کې په یو نه یو ډول حماسي رنګ شته، په خپله د امیر کروړ شعر که څه هم پوره ویاړنه ګڼل کېږي، خو د تورې او مېړانې حماسي رنګ هم لري، د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري په قصیدو کې که څه هم له محتوا یې پلوه ویرنې او ستاینې بلل کېږي، خو د حماسي شعرونو رنګ هم لري. دغه راز په ځینو شعرونو کې هم د حماسي رنګ څرکونه لګي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي او نور افکار

په پښتو کې حماسي شعر له ملي افکارو سره تړلی دی. کله چې د یو حماسي حرکت تر شا ملي، وطني او قومي انګېزه او مفکوره ولاړه نه وي، نو نه حماسه رامنځته کېږي او نه هم حماسي شعر. په لرغوني دوره کې چې د بابا هوتک شعر کوم حماسي رنګ اخیستی د هغه علت دادی چې دی د خپل قوم ازادي غواړي، همدغه د ازادۍ مفکوره او انګېزه ددې سبب شوې چې بابا هوتک د مغلو پرضد د مبارزې ډګر ته هم په خپله راووځي هم نور ځوانان وهڅوي او هم حماسي شعر وپنځوي همدا شعر بیا ددې سبب کېږي چې دښمن ماته وخوري، تر هغه وروسته یې زوی ملکیار هوتک هم د خپل پلار لاره ونیوه، هم یې د قوم مشري وکړه او هم یې له مغلو سره مقابله او هغوی یې له خپلې سیمې وشړل.

که څه هم د ملکیار هوتک ډېر شعرونه نه دي ترلاسه شوي، خو پټې خزانې یې یو شعر خوندي کړی. په شعر کې د ترنک رود مخاطب شوی د یوه سوزنده مینې انځورګري کوي، د شیخ اسعد سوري په شعر کې هم د ملي او قومي افکارو انعکاس ښکاري، که محمد سوري د پښتنو واکمن نه وای او شیخ اسعد سوري د هغه د دربار غړی نه وای، نو هېڅکله به یې له درده ډکه داسې قصیده نه وای لیکلې، په قصیده کې حاکمه غمجنه فضا، د سوریو د غم او ماتم انځورګري له ملي درد او فکر سره تړلي عناصر دي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکارندوی غوري په قصیده کې هم د سلطان شهاب الدین غوري پر برياوو چې کوم ویاړ کېږي او یا د هغه ستاینه کېږي، که څه هم اسلامي روحیه پرې حاکمه ښکاري، خو ملي فکر په کې هم په نامستقیم ډول بیانېږي.

په خپله د امیر کروړ شعر پرځان او خپل قوم باور زیاتوي او د ملي روحیې د پیاوړتیا سبب ګرځي. د اکبر زمینداروي یو بیت (د **مغلو تمر هسې په اور وسوم ـــ چې به هېر په دې ماتم زمینداور کړم**) هم د ګوډ تیمور او په مجموعي ډول د مغلولو پروړاندې د هغه د ملي فکر ښکارندويي کوي. د ملکیار غرشین په سندره کې که څه هم اسلامي رنګ غالب دی، خو د شهاب الدین غوري ملاتړ یې د اسلامي انګېزې ترڅنګ د ملي فکر ښکارندويي هم کوي او وايي سره له دې چې (هېواد د بل دی خو څښتن مو مل دی او اسلام راڅخه دی) تایمني که د سلطان غیاث الدین غوري توره ستايي او وايي چې د اسلام دين دده په توره روښان دی، نو ورسره هغه د غور زمری هم بولي. همداسې د نورو شاعرانو په شعرونو کې په یو نه یو ډول ملي فکر او ملي انګېزه ځلېږي. د يادو افکارو ترڅنګ په لرغوني ادبي دوره کې د ژوند پر محور راڅرخېدونکي نور افکار هم ځلېږي. لکه د اشخاصو ستاینه او ځلونه، د خپل چاپېریال ستاینه، د طبیعت انځورنه او نور، خو غټ او څرګند افکار او تمایلات همدا وو چې پورته مو ورته په لنډيز سره اشاره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د یوولسم څپرکي لنډیز

ادبیات د خپل چاپېریال محصول دی، په پښتو لرغونو ادبیاتو کې هم د خپل چاپېریال انعکاس لیدل کېږي، که بریا ترلاسه شوې، نو هغه په کې منعکس شوې ده، که غم راغلی نو د غم انځورګري په کې شوې ده. که د پردیو یرغل راغلی، نو د هغه د مقابلې لپاره هم حماسي شعرونه لیکل شوي، که لږه ارامه فضا رامنځته شوې، نو بیا عرفاني افکارو هم شعر ته لاره پیدا کړې، د فردي مینې انځورګري هم په کې ښکاري، یانې غنایي شاعري هم شته او همداسې د ژوند نور اړخونه، یانې په پښتو لرغونې شاعرۍ کې د غنایي، حماسي، ملي او نورو افکارو د شاعرۍ بېلګې شته. شاعرانو چې څه محسوس کړي او دوی ترې اغېزمن شوي، نو هغه یې په خپل کلام کې منعکس کړي دي. په پښتو لرغونې شاعرۍ کې شعر په تېره بیا حماسي شعر ددې سبب شوی چې د جګړې لوری بدل کړي. مذهبي اشعار د مذهبي لیدلوریو د بدلون لپاره موثر ثابت شوي، ناسم پوهاوی یې له منځه وړی، غنایي شعرونو د شاعرانو زړونه تش کړي، دیني او اخلاقي شعرونو د شاعرانو او ولس زړه تسکین کړی او د مقاومت ادبیاتو ولس، ټولنه او هېواد د پردیو له یرغله ژغورلی او ولس یې د هغوی مقابلې ته هڅولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چې د پښتو ادب د لرغوني دورې لمن د بېلابېلو افکارو له مرغلرو ډکه ده. څرنګه چې ولسي او ټولنيز ژوند او پرمختګ کړی، ادبياتو يې هم همغه بهير تعقيب کړی او همغه فزيکي پېښې او فکري جريانونه يې انځور کړي دي. که موږ غواړو له دويمې هجري پېړۍ څخه بيا تر يوولسمې هجري پېړۍ د پښتنو سياسي، ټولنيز او کلتوري ژوند مطالعه کړو، نو په ياده موده کې بايد پنځول شوي پښتو ادبيات له نظره تېر کړو. دا ادبيات په مجموعي ډول د پښتنو د ټول تفکر يوه ډېره ښه هنداره ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د یوولسم څپرکي پوښتنې

- پښتو لرغونې شاعري کوم افکار څلېږي؟
- په پښتو لرغونې شاعرۍ کې اسلامي او عرفاني افکار وځېږئ؟
- د کوم شاعر په شعر کې د مقاومت افکار زيات څلېږي؟
- ايا په پښتو لرغونو ادبياتو کې د مينې سندرې شته؟
- پښتو لرغونې شاعري د پښتنو د ژوند د کومو برخو انځورنه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دولسم څپرکی

## د لرغونې دورې عمومي ځانګړنې

پښتو ادبيات په لرغونې دوره کې ځينې داسې ځانګړې خصوصيات لري چې راوروسته دوو نورو دورو کې يې هغه ځانګړنې د نورو ژبو تر اغېزې لاندې راغلي دي، طبيعي حالت، نړه والی، سوچه والی، د ملي وزنونو کارونه، د نورو ژبو د تاثيراتو نشتوالی او يا هم ډېرې لږې اغېزې ددې دورې عامې ځانګړنې دي. نه يوازې پښتو ادبيات، بلکې د نړۍ د هرې ژبې ادبيات يو لړ داسې ځانګړنې لري چې هغه له نورو ژبو څخه جلا وي او ددې ژبې خپل خصوصيات او پانګه ګڼل کېږي. په عام ډول بيا ځينې داسې ځانګړنې وي چې هغه په ټولو ژبو کې يو شان وي، تخيل، عاطفه، درد ، وزن، اهنګ، هنري ارزښت، ولوله يا احساس او نور هغه خصوصيات دي چې د نړۍ د ټولو ژبو په ادبياتو کې يو شان دي او همدا عناصر دي چې ادبيات ورڅخه جوړېږي. د ادبياتو بېلابېل فورمونه بيا هغه وسيلې دي چې د يوې ژبې ادبيات له بلې سره توپير کوي. پښتو ادبيات د فورمونو له مخې ډېر بډايه دي. ځينې ادبپوهان د پښتو ادبياتو د لرغونې دورې په باب وايي: ((د خپل چاپېريال مناظر، غرني افکار، متانت، رانه او متين احساسات لري، ملي سبک په کې ډېر تعقيب شوی، له ژبني پلوه دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سندرې، ساده، سپېڅلي او سوچه دي. زړو اريايي سندرو ته ورته ي، دعاوې، مناجات، ديني احساسات او د خدای مينه په کې ځلېږي. حماسي او جنګي احساسات هم لري، ديني موعظې او نصايح هم په کې شته. عشقي جذبات او احساسات هم لري، په لنډ ډول ويلای شو چې د پښتو لرغونې شاعرۍ عمده موضوعات سندرې، قومي وياړنې، ويرنې، مينه، ښېلتون او اخلاقي ښوونې دي چې په هغو کې پېچلي تخيلات او لفظي صنايع دومره نه ليدل کېږي.)) (۳۳: ۴۴-۴۵)

دلته په دې څېرکي کې لومړی غواړو پر پښتو لرغونو ادبياتو لومړی د خپل چاپېريال اغېزې وڅېړو، بيا به له لغوي پلوه دې ته نغوته وکړو چې پښتو لرغونو ادبياتو کې د نړۍ والي او سوچه والي عنصر ولې زيات دی، د نورو ژبو اغېزې څومره او څرنګه دي؟ د پښتو ادبياتو لوړتيا او ځوړتيا ته به هم نغوته وکړو، بيا به په مجموعي ډول د پښتو لرغونو ادبياتو عمومي ځانګړنو ته اشاره وکړو، يوه عمومي ډله بندي به يې وکړو او عمومي جاج به يې واخلو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپل چاپېریال

د هرې ټولنې ادبیات د همغې ټولنې له بطن او چاپېریال څخه راټوکېږي، څه چې په ټولنه کې وي همغه په ادبیاتو کې ځلېږي په همدې خاطر ادبیاتو ته د ټولنې ضمیر یا وجدان ویل کېږي، نو که موږ غواړو د یوې ټولنې د روحیاتو عمومي جاج واخلو نو بایده دي چې ادبیات یې مطالعه کړو. پښتو ادبیات هم د بلې هرې ژبې د ادبیاتو په څېر د خپل چاپېریال محصول دي، د پښتو لرغونو ادبیاتو پر مهال قومونه او ولسونه هم لکه د اوس په شان زیات په رابطه کې نه وو، چې یو پر بل ډېرې اغېزې ولري، نو شاعر پاتې کېده او خپل چاپېریال یې، هر څه چې د شاعر په خپل چاپېریال کې موجود وو، همغه یې د خپلې تجربې او شعري کیفیت په قوت خپل شعري کالب ته داخلول، نو ځکه خو که موږ د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره ارزوو، نو تر ډېره زیاته حده یې د خپل چاپېریال محصول ګڼو، البته ورو ورو د فورم او محتوا دواړو له پلوه د نورو ژبو تاثیرات پرې راڅرګندېږي. خو په لرغونې ادبي دوره کې د خپل چاپېریال تاثیرات تر هر څه زیات دي.

په دې دوره کې پښتو شعر کې هغه پېښې راڅرګندېږي چې پښتون ولس په تېره بیا د دې ولس مطرح سیاسي، ټولنیزې او فرهنګي څېرې ورسره مخامخ شوي دي.

د امیر کروړ ویاړنه د هغو پېښو یادونه کوي چې شاعر په خپله ورسره مخامخ شوی، که دی یو واکمن، امیر او پهلوان نه وای، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ډول شعر يې نه شو پنځولی. دده شعر دده د خپلو اتلوليو انځورنه کوي. د شيخ رضی لودي او نصر لودي کلام د مذهبي حوادثو او د هغو په باب د دوو شخصيتونو د تعبير زېږنده دی. د خرښبون او شيخ اسمعيل پاړکي هم د سفر د يوې حادثې انځورګري کوي، که دا دوه دوستان او ورونه د سفر له حادثې سره نه وای مخامخ شوي او بيا دې حادثې د دواړو پر روحياتو او جذباتو اغېزه نه وای کړې، نو دا سوې نارې نه رامنځته کېدلې، دا نارې د دوستانو د سويو زړونو او ولولو انځورګري کوي. د شيخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري قصيدې هم د څو ېېلابېلو حوادثو يو تسلسل دی، دا ټول د هغه چاپېريال زېږنده دي چې دا حوادث په کې ټوکېدلي دي.

د شيخ اسعد سوري قصيده د يوې داسې غمجنې پېښې انځورنه کوي چې شاعر په خپله نږدې هغه لمس کړې، احساس کړې او پرې دردېدلی دی. شاعر خپل يو نږدې دوست او مشر له لاسه ورکړی، شاعر دې پېښې دردولی او د قصيدې په فورم کې يې خپل احساسات او غبرګون څرګند کړی دی. ښکارندوی غوري هم د سلطان شهاب الدين غوري له فتوحاتو سره ملګری شخص و، داسې ښکاري چې حوادث يې په خپل سترګو ليدلي او په خپل کلام کې يې په ډېره هنري ژبه انځور کړي دي. تايمني هم د خپل سلطان ستاينه کوي او هغه د غور زمري بولي، بابا هوتک بيا د مغلو د هغه ظلمونو انځورنه کوي چې د پښتونخوا پر غرونو او رغونو، کليو او باندو او پښتنو راغلي دي. د نورو شاعرانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعرونو کې چې هم کوم حوادث انځور شوي، اکثره يې داسې حوادث دي چې ددې ټولنې د ځانګړو حوادثو زېږنده دي او د بل چاپېريال محصول نه دي، دا د پردي محيط حوادث نه دي چې شاعر دې د هغو تر تاثير لاندې راغلی وي او بيا دې يو شعر پنځولی وي، داسې بېلګې نه لرو، البته د ژباړې له لارې يو څو داسې شعرونه لرو چې هغو ته به په خپل ځای کې اشاره وکړو.

څرنګه چې هغه مهال د ژوند چاپېريال او انساني کړه وړه د اوس په شان له بل چاپېريال سره ډېر په تماس کې نه وو، نو ځکه خو پښتو شاعري زياتره د خپل چاپېريال په محدوده کې پاتې شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نړه والی

نـړه والـی او سـوچه والـی د پښـتو لرغـوني ادب یـوه اساسـي ځانګړنه ده، دا نړه والی په تېره بیا د لرغونې دورې په لومړۍ برخه کې ډېر زیات دی. وروسته وروسته بیا په نورو پړاوونو کې د نـورو ژبو اغېزې ورو ورو زیاتېږي. خو په لومړۍ مرحله کې دا تاثیرات نه ترسترګو کېـږي. د امیـر کـروړ شعـر پـه مجمـوعي ډول لـه نـړدې دوه سوه او اوولس (۲۱۷) کلمو څخه جوړ دی چې سل په سلو کې پښـتو کلمې دي، د بلې ژبې کلمې پـه کې نـه لیـدل کېـږي، پـر شعـر بانـدې حاکمه روحیه هم د پښتنو د ځان باورۍ له روحیې څخه الهام اخلي، خپله شاعر هم واکمـن دی هم شـاعر، پـر ځان بـاوري او ډاډه دی. د شعر فورم هم په خپله هم زړو اریایي شعري فورمونو ته ورتـه دی، د شیخ اسمعیل او خرښبون شعرونه هم سل په سلو کې له پښتو کلمو څخه جوړ دي. د بېټ نیکه شعر کې هم د نورو ژبو کلمې نه شـته. پـه پښتو کې لومړۍ منظومه ژباړه که څه هم له عربي څخه ژباړل شوې، خو پـه ټـول شعـر کـې یـې یـوازې (دوه درې) کلمـې عربـي دي. د نصـر لودي او شیخ رضـی لـودي پـه دواړو شـعري بېلګـو کـې یـوازې هغـه کلمې عربي دي چې تراوسه یې په پښتو کـې معـادل نـه شـته؛ دینـي ترمینـالوژي ده او پښـتو کـې ورتـه انډولـونـه نـه شـته. د شـیخ اسـعد سوري او ښکارندوی غوري پـه قصـیدو کـې کـه څـه هـم د نـورو ژبـو (عربي او دري) ژبـو کلمـې شتـه، خـو ډېـره سـوچه او نـړه پښـتو ویـې پانګه یې هم خوندي کړې ده. د ملکیار غرشي‌ن په سندره کې هم د (غازي او اسلام) لـه کلمـو پرتـه نـورې ټـولې کلمـې نـړه پښـتو دي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فورم له مخې يې هم نږه پښتو وزن کارولی دی. د شيخ تيمن کاکړ عشقي ياغنايي سندره هم د ملي اوزانو په رنګ، رنګ شوې او له نږه پښتو کلمو څخه جوړه شوې ده.

د قطب الدين بختيار کاکي سندره هم د وزن له پلوه په ملي وزن کې ويل شوې او ټوله سندره له نږه پښتو کلمو څخه رغېدلې ده. د بابا هوتک شعر هم له نږه پښتو کلمو څخه رغېدلی دی، دا سندره حماسي رنګ لري، د نورو ژبو کلمې په کې نه دي کارېدلي، د ملکيار هوتک د ترنک سندره خو له هره پلوه هم د وزن، هم د ادا د طرز او هم د کارېدلو کلمو له مخې يوه نږه پښتو سندره ده. همداسې د نورو شاعرانو په شعرونو کې هم پښتو شعر خپل نږه والی تر زياته حده ساتلای دی. البته د نورو ژبو اغېزې هم پرې ورو ورو راڅرګندې شوي چې دلته د هغه يادونه هم کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نورو ژبو اغېزې

لکه څنګه چې مو دمخه یادونه وکړه د پښتو ادبیاتو د لرغوني دورې په لومړۍ برخه کې د نورو ژبو اغېزې نه لیدل کېږي، نه یې ژبني تاثیرات څرګند وو او نه هم د فورمونو له پلوه د کومې ژبې شعري فورم په کې په بشپړ ډول څرګند شوی دی. خو د همدې دورې په نورو پړاوونو کې بیا ورو ورو دا تاثیرات راڅرګند شول. د عربي او دري ژبې د تاثیراتو څرکونه ولګېدل. دلته به لومړی د عربي ژبې تاثیراتو ته ګوته ونیسو.

له عربي ژبې څخه ځینې شعري فورمونه پښتو ته راغلل، لکه قصیده، غزل، مثنوي او رباعي. د ساري په توګه د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري قصیدې، د خلیل خان نیازي اون سلطان بهلول لودي ځلوریزې، د اکبر زمینداوري، زرغون خان نورزي، زرغونې کاکړې او دوست محمد کاکړ مثنوي او همدارنګه د زمینداوري، علي سرور لودي او نورو غزلونه او داسې نور. په لرغوني ادبي دوره کې لږ تر لږه همدا ځلور نظمي فورمونه (قصیده، رباعي، مثنوي او غزل) رامنځته شوي دي. د قطعې یادونه هم شوې خو د پورته فورمونو په شان د بشپړې قطعې پخه بېلګه نه ده ترلاسه شوې.

د شیخ رضی لودي او نصر لودي په نظمونو کې د عربي کلمو څرک راڅرګند شو. په لرغوني دوره کې ابو هاشم سرواني لومړنی سړی و چې ژباړه یې پښتو ادب یا شاعرۍ ته راوړه، دویمه ژباړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا له دري ژبې څخه د زرغوني کاکړې په وسیله د شیخ سعدي بوستان څخه شوی چې د هغې یو حکایت تر موږه رارسېدلی دی.

په لومړنۍ ژباړو کې د عربي ژبې ډېر کم شمېر ویيونه پښتو ته داخل شول او په دویمه کې هم د عربي او دري ژبو یو شمېر کلمې پښتو راخپلې کړې چې د یادو شعرونو په لغوي شننه کې مو ورته نغوته وکړه.

شیخ اسعد سوري لومړی معلوم شاعر دی چې په پښتو کې یې پوره او کره معیاري قصیده ویلې او بشپړه بېلګه یې زموږ په لاس کې ده. نه یوازې دا فورم له عربي څخه پښتو ته راغلی، بلکې یو شمېر عربي او دري کلمې هم ورسره پښتو ته داخل شوي، د ښکارندوی غوري قصیده هم همدا بڼه لري، د سلیمان ماکو په تذکرة الاولیا کې له نامه څخه یې نیولې بیا یو شمېر نورې عربي او دري کلمې پښتو ته داخل شوي، زرغون خان نورزي بیا ساقینامه یا خمریه اشعار له عربي او پارسي څخه په الهام اخیستو پښتو ته داخل کړل، په دې ډول هم د فورم، هم د محتوا او هم د ویي کارونې له مخې د نورو ژبو تاثیرات پر پښتو ادب باندې څرګند شول. د پښتو ژبې شاعرانو د یادو ژبو له ادبي زېرمو څخه د خپلې ژبې د ادبي پانګې د لابډاینې لپاره ګټه پورته کړه، خپله ادبي پانګه او جوړښتونه یې هم وساتل او د نورو یې هم راخپل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوړتیا او ځوړتیا

د پښتو ادبیاتو په لرغوني دوره کې له کمې پلوه ډېر کم ادبي اثار ترلاسه شوي، دا دوره هم خپله لوړتیا او ځوړتیا لري، خو څرنګه چې د لاسته راغلو ادبي اثارو بېلګې کمې دي، نو ځکه خو د لوړتیا او ځوړتیا بېلوالی هم اسانه کار نه دی. خو ځینو لاسته راغلو بېلګو ته په کتو سره سړی دا ویلای شي چې د خپل وخت له معیارونو سره سم ډېرې ښې بېلګې دي، خو وروسته بیا دې بېلګو تداوم نه دی پیدا کړی، مانا دا چې خبره له لوړتیا څخه ځوړتیا ته رسېدلې ده، ښه بېلګه يې د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري قصیدې دي چې نه یوازې په لرغونې دورې کې یې په دې قوت تداوم نه دی پیدا کړی او یا یې که پیدا کړی هم وي، موږ ته یې بېلګې نه دي رارسېدلي، د دواړو قصیدو قوت ته چې سړی ګوري، نو پوره باوري کېږي چې دې شاعرانو به خپله هم ډېرې قصیدې ویلې وي، ان نور چاپېریال هم دې ډول قصایدو ته مساعد و. خو د تداوم نورې بېلګې یې نه دي ترلاسه شوي. د اکبر زمینداوري غزل او مثنوي هم ډېر قوي برېښي، خو تر هغه وروسته بیا دا بهیر نه دی تعقیب شوی او یا یې هم کمې بېلګې ترلاسه شوي. همداسې د رباعي فورم په برخه کې، ژباړه هم په همدې ډول دراخله د ابوهاشم سرواني تر منظومې ژباړې څه باندې (شپږ سوه کاله وروسته بیا د زرغونې کاکړ د بلې ژباړې خوږه بېلګه لرو، خو په دې دومره لويه زمانه کې بیا د ژباړې پوره تشیال لیدل کېږي، کله بیا هم تر ځوړتیا وروسته بېرته لوړتیا رامنځته شوې، خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجموعي ډول په دې دوره کې د کلاسيکې دورې په شان داسې پړاوونه نه شته چې په مشخص ډول دې ددې دورې يو پړاو له بلې څخه ډېره لوړتيا ولري، لکه په منځنۍ دوره کې چې د خوشال پړاو تر روښانيانو زيات پراخ او پرمختللی او له هنري پلوه پوره او کره دی.

په لرغونې دوره کې د يوه شاعر د ژوند او د هغه د کلام او د بل شاعر د ژوند او د کلام د ببلګو ترمنځ هم ډېر زيات زماني واټن موجود دی. د ساري په توګه د امير کروړ (۱۳۹-۱۵۴هـ) او ابوهاشم سرواني (۲۲۳- ۲۹۷هـ) د ژوند ترمنځ نږدې (يو نيم سل) کاله زماني واټن دی. په دې بهير کې بيا موږ بله کومه ادبي بېلګه نه ده ترلاسه کړې. د ابوهاشم سرواني (۲۲۳- ۲۹۷هـ) څخه بيا د شيخ رضی لودي او نصر لودي (۳۵۰-۴۰۰هـ) د ژوند ترمنځ نږدې (سل) کاله واټن دی. په دې نږدې يوه پېړۍ کې بيا هم د پښتو ادب کومه بېلګه موږ ته نه ده رارسېدلې. د شيخ رضی لودي او بيټ نيکه د ژوند ترمنځ بيا زماني واټن ډېر نه دی، دلته بيا د بيټ نيکه (۳۵۰) يو مناجات لرو، د بيټ نيکه او د هغه د کورنۍ د غړو خرښبون او اسمعيل ترمنځ هم د ژوند فاصله زياته نه ده، خرښبون او اسمعيل بيا د (۴۰۰هـ) حدودو کې تېر شوي، نو دلته بيا په کم واټن کې څو بېلګې لرو. وروسته بيا د شيخ اسعد سوري د ژوند زمانه د (۴۲۵هـ) دا فاصله هم ډېره زياته نه ده، په دې بهير کې د يوې پخې قصيدې بېلګه لرو، ورپسې بيا شيخ تيمن کاکړ (۵۵۰ هـ) حدودو کې دی چې بيا (۱۲۵) کاله ياني پاو باندې يوه پېړۍ تېرېږي، خو موږ ته په کومه ادبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښېلګه نه ده رارسېدلې. تر هغه نږدې د ېرش کاله وروسته (۵۸۰هـ حدودو کې بیا ښکارندوی غوري خپله ښېشانه قصیده پنځولې ده او بیا هم په پښتو ادب کې یو لوړه هنري لوړتیا احساسېږي.

ښکارندوی غوري سره بیا ملکیار غرشین (۵۸۰هـ) حدودو کې خپله لورېینه پښتو ادب ته ښنلې ده. وریسې بیا تایمني (۵۸۰هـ حدود خپل ممدوح سلطا غیاث الدین غوري ستایلی دی او بیا له شل کلن زماني واټن وروسته په (۶۰۰هـ) حدودو کې قطب الدین بختیار کاکي خپله مینه وړې سندره پښتو ادب ته ډالۍ کړې ده. د همدې شپږ. سوه هجري په حدودو کې (۶۱۲هـ) کې بیا د بارک خان زوی سلیمان ماکو پښتو ادب ته دانګلې، نه یوازې نثر یې پښتو ادب ته د یوه تلپاتې میراث په توګه پرېښود، بلکې په خپله تذکره کې یې د نورو شاعرانو ژوند او د کلام ښېلګې هم خوندي کړې.

تر سلیمان ماکو وروسته بیا شیخ متي بابا (۶۳۳- ۶۸۸هـ) په لنډ زماني واټن کې د پښتو ادب لمن د عرفان، تصوف او خدای پېژندنې په مینه او لورېینې ډکه کړه. وریسې په متصله زمانه کې بابا هوتک (۶۶۱-۷۴۰هـ) کې پښتو ادب د ملي او حماسي شعر په رنګونو رنګ کړ او بیا یې زوی ملکیار هوتک (۷۴۱هـ) حدودو کې یې د خپل پلار ملي او ادبي لاره پسې تعقیب کړه. تر لږ ځنډ وروسته بیا اکبر زمینداوري (۷۸۰هـ) حدود د داور پر ځمکه راوټوکېد او د پښتو ادب لمن یې په (غزل) او (مثنوي) دواړو ښکلې کړه. تر دې نږدې یوه پېړۍ وروسته بیا (۸۵۵- ۸۹۴هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

حدودو کې د سلطان بهلول لودي او خلیل خان نیازي ځلوریزې لرو. هم مهاله بیا په (۸۹۰هـ) حدودو کې د زرغون خان نورزي ساقینامه لرو چې په پښتو ادب کې د خپل ډول لومړی معنوي فورم ګڼل کېږي. ورپسې متصله بیا په (۹۰۰هـ) حدودو کې د زرغونې کاکړ منظومه ژباړه د پښتو ادب یو معنوي غمی دی. نږدې شل کاله وروسته په (۹۲۰هـ) حدودو کې بیا د رابعې او دوست محمد کاکړ د کلام بېلګې لرو او ورپسې د همدې (۹۲۰هـ) حدودو کې د شیخ عیسی مشواني او بیا د (۹۶۰هـ) حدودو کې د شیخ بستان بړېڅ، علي سرور لودي او بي بي نېکبختې د کلام بېلګې په لاس کې لرو. او بیا تقریباً نیمه پېړۍ وروسته په (۱۰۰۰هـ) حدودو کې د شیخ محمد صالح کلام لرو او همدې سره د پښتو لرغونې ادبي دورې وروستی پړاو هم پایته رسېږي. دې ټول بهیر ته چې ګورو نو راته ښکاري چې پښتو ادب په تېر نږدې (۹۴۷) کالو یا څه کم یوه زریزه کې ډېرې لوړې ژورې لیدلي، خو د زمان له دومره لوړو ژورو سره سره یې خپل ژوند یوې بلې دورې (منځنۍ یا کلاسیکې) دورې ته وررسولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دولسم څپرکي لنډيز

د لرغوني ادبي دورې په لومړي پړاو کې پر پښتو ادب تر ډېره حده د خپل چاپېريال تاثيرات زيات محسوس وو ، په حقيقت کې دا ادبيات يوازې په خپل چاپېريال پورې تړلي وو ، د نورو ژبو لکه عربي دري او نورو تاثيرات پرې خورا کم وو. په تېره بيا د لرغونې دورې په لومړي پړاو کې، وروسته بيا ورو ورو د عربي او دري تاثيرات هم راڅرګند شول. له عربي څخه د شعري فورمونو او کلمو او له دري څخه د ژبنيو تاثيراتو په بڼه د هغوی د اغېزو راخپلول محسوس شول، نږه والی يا سوچه والی د پښتو د لرغوني ادب يوه ځانګړنه ده. دې دورې هم په خپل وار سره لوړتيا او ځوړتيا لرلې ده، خو دا لوړتيا او ځوړتيا د لاسته راغلو اثارو د بېلګو د کموالي له امله ډېره زياته نه محسوسېږي، په ځينو وختونو کې زيات پرمختګ شوی، بيا ځنډ او خنډ پېښ شوی او بيا يو څو ښې بېلګې ترلاسه شوي دي. په مجموعي ډول په لرغوني ادبي دوره کې د هغې زمانې د معيارونو مطابق داسې هنري اثار شته چې زموږ د اوسنۍ زمانې ادبي اثار هم ورسره سيالي نه شي کولای، خو ځينې داسې اثار هم په کې شته چې يوازې د نظم په چوکاټ کې دي او هنري قوت يې ډېر قوي نه برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دولسم څپرکي پوښتنې پوښتنې

- د لرغونې ادبي دورې لومړي پړاو کې ولې د نورو ژبو اغېزې نه وې؟
- له کومو ژبو پښتو لرغونې شاعرۍ ته شعري فورمونه داخل شول؟
- ولې له عربي او دري پرته پر پښتو لرغوني ادب د نورو ژبو تاثيرات نه ښکاري؟
- پښتو لرغوني ادب کې لوړتيا او ځوړتيا او يا ځوړتيا ا لوړتيا وارزوئ!
- پر پښتو لرغوني ادب د خپل چاپېريال اغېزې وشنئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیارلسم څپرکی

# د لرغوني دورې د ادبیاتو کمیت او کیفیت

له کمي او کيفي پلوه د يوې ژبې د ادبياتو ارزونه اسانه کار نه دی. په تېره بيا دا چې د ادبياتو د کيفيت او حجم معلومول د رياضي کوم فورمول نه دی، چې د هغو له مخې په اسانۍ سره د يو شي حجم او کيفيت معلوم کړو، په نړۍ کې ځينې داسې ژبې شته چې لرغونې ادبي پانګه يې زياته ده، خو د وخت په تېرېدو سره ئې خپل هغه ادبي برم، شان او شوکت له لاسه ورکړی، ځينې نورې ژبې بيا داسې دي چې پخوانۍ پانګه يې ډېره زياته نه ده، خو وروسته يې وده کړې. د يوناني ژبې لرغوني ادبيات دومره بډايه وو چې تر ننه پورې يې ادبي نړۍ تر اغېزې لاندې ده، خو په وروستيو څو پېړيو کې يې بيا هغه شان جلال او عظمت نه درلود چې تر ميلاد وړاندې او لومړيو ميلادي پېړيو کې يې کوم قوت و. انګليسي ژبه تر (۱۷) پېړۍ وروسته په غوړېدو شوه او اوس د نړۍ ډېر معتبر ادبي او هنري اثار په همدې ژبه کې موجود دي، پښتو ادبياتو او پښتو ژبې هم د خپل ژوندانه په بهير کې د لوړتيا او ځوړتيا، يا ځوړتيا او لوړتيا بېلابېل پړاوونه وهلي، د زمانې له سختو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خونړيو ناتارونو سره سره يې تر موږه ځان ژوندی رارسولی او زموږ د نيکونو د ادبي پانګې يوه برخه يې تر موږه پوري خوندي رارسولې ده. ددې لوړتيا او ځوړتيا د کرښې‌چن بهير په باب مو دمخه هم رڼا اچولې، خو دا چې درانه لوستونکي او قدرمن محصلين د پښتو ادبياتو په تېره بيا د لرغونې دورې د شاعرۍ د کميت او کيفيت او بيا د هغو د دوا ړو د پرتلنې په باب لږ نور معلومات هم ترلاسه کړي. غواړو دلته ددې دورې د شعرونو د ځومره والي په باب هم څه ووايو او د هغوی څرنګوالی هم له هنري پلوه يو ځل بيا له نظره تېر کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خومره والی

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې هغه شاعران یا لیکوال چې شعرونه او نثرونه یې تر موږه رارسېدلي د ټولو شمېر (۲۹) تنو لیکوالو او شاعرانو ته رسېږي چې په مجموعي ډول ترې د تذکرة الاولیا له نثر پرته (۳۳) ټوټې شعرونه تر موږه رارسېدلې دي. دا شعرونه د نظم په بېلابېلو فورمونو کې ویل شوي چې هم په کې په ملي اوزانو سمبال شعري فورمونه شامل دي او هم له نورو ژبو څخه راغلي شعري فورمونه. البته پښتو ولسي یا ګړني ادبیات په پورته شمېر کې نه شاملوو، ځکه چې د هغو شمېر نه شو اټکلولای، خو یاد شمېر په لرغوني دوره کې پر لیکلو ادبیاتو (شعرونو) راڅرخي. دا پانګه د اوږدې زمانې (شاوخوا نهه سوه کلونو) یانې نږدې یوې زریزې په ترخ کې رامنځته شوې ده. زمانه اوږده خو د ترلاسه شویو ادبي اثارو شمېر د زمانې په انډول کم دی. دا چې دا کمیت ولې کم دی دا خپل خپل عوامل لري، د پښتنو افغانانو مېشتې سیمه سلیزې سلیزې او لسیزې لسیزې د نارامیو شاهدې وې، د جګړو مسلسل بهیرونه پر دې سیمه تېر شوي دي، نه یوازې دا چې ادب او فرهنګ یې غورځېدو ته نه دی پرې ایښي، سیمه یې هم بې ثباته کړې، تباه کړې او د خلکو د لیک لوست مخه یې هم نیولې ده. کوم ادبي اثار چې له شتو ناخوالو سره سره رامنځته شوي، هغه هم د زمانې نورو ناخوالو له منځه وړي، غوره بېلګه یې د سالو وږمه، د خدای مینه، د تذکرة الاولیا زیاته برخه او نور هغه اثار دي چې تر موږه یې یوازې نومونه او ډېره کمه برخه رارسېدلې، نور ټول د زمانې د ناخوالو ښامار له ستوني تېر کړې دي. نو په دې خاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلای شو چې د پښتو ادبیاتو حقیقي او واقعي ځومره والی تر هغه څو ځله زیات دی چې اوس یې په لاس کې لرو.

«ددې لړوالي موجه علتونه ډېر شمېرل کېدی شي، خو دغه لاندې څو عوامل یې څرګند بریښي:

۱- کومه زماني مقطع چې موږ یې لومړۍ دوره بولو، زموږ له غوره کړي تصنیف سره سم له دویمې هجري پېړۍ څخه د لسمې هغې تر وروستیو پورې دوام لري. په دې دوران کې که چېرې موږ د پښتنو اجتماعي جوړښت، د ډېرو قبیلو کوچاني ژوند، په دوی کې د سواد خپرېدو جریان او دې عملیې ته په پاملرنه له سیمه ییزو فرهنګي جریانونو سره د اشنایي مساله وڅېړو، نو دا به راته ښکاره شي چې په دې دوره کې به په پښتو کې زیات لیکلي اثار نه وي رامنځته شوي، البته د پښتني ټولنې جوړښت ته په پاملرنه د ګړنیو اثارو ایجاد ته زمینه مساعده وه، شفاهي ادبیات په تېره بیا شعرونه به پر دا وخت په دې ټولنه کې ډېر ایجاد شوي وي، چې ځینو یې د همدې مقطع په جریان کې کتابونو ته هم لاره پیدا کړې او ځینې یې وروسته ثبت شوي دي او زیاته برخه یې، لکه چې ددې اشعارو او اثارو ځانګړنه ده، د وختونو په تېرېدو سره له منځه تللي دي.

۲- کوم اثار چې په دې دوران کې لیکل شوي او یا ایجاد شوي دي، په بشپړ ډول تر موږ نه دي رارسېدلي. د ځینو نمونې یې د وروستیو منابعو په مرسته موږ ترلاسه کړي دي، ځینې هم نیمګړې ترلاسه شوي دي او د ځینو هم له نومونو خبر یو، خو خپله کتابونه مو په واک کې نه دي. ددې اثارو د نه ترلاسه کېدو څو احتماله

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرې له نظره لرې نه شي غورځولای: یو احتمال دا دی چې کېدی شي د لومړۍ دورې د معلومو اثارو ځینې بشپړ متون خوندي پاتې وي او یو وخت ښکاره شي. دا کار لټون غواړي، لکه څنګه چې معلومه ده پښتنو په خپلو اثارو پسې د دنیا ټول کتابتونونه نه دي لټولي. اما غالب احتمال دا دی، چې ددغو اثارو کافي برخه به د زمانې سرو سیلیو ورسره وړې وي، ځکه که موږ په همدې اسلامي پینځلسو پېړیو کې د پښتنو سیاسي او اجتماعي تاریخ مطالعه کړو، نو د دوی پر ځمکو، ورشوګانو، څړځایونو او غرونو د خپلو او پردیو ډېر تاړاکونه راغلي دي، اوږدې جګړې او پرله پسې کورني کړکېچونه او جنګونه یې لیدلي دي. دغو جنګونو او لېږدېدنو د دوی هغه لږ فرهنګي زېرمه هم خوندي نه ده پرېښې.

ځینې کسان چې د مختلفو ناعلمي دلایلو له مخې او ځینې یې د خاصو اغراضو له مخې زموږ پر لرغونو ادبیاتو څه نیوکې لري، نو د دوی له اعتراضونو څخه به یو اعتراض دا و چې د پښتو د زړو اثارو اخځ ولې ورک دی؟

زموږ مشرانو به ددغو خلکو په ځواب کې ویل، چې اول امکان لري ګرده دغه اثار ورک نه وي او بل که ورک هم وي، دا کومه ناشونې خبره نه ده، ځکه که موږ د پښتنو د اوسېدنځایونو جغرافي موقعیت ته ګورو، نو د دوی سیمې له اوومې هجري پېړۍ څخه د دولسمې هجري پېړۍ تر اواسطو پورې په بېلابېلو وختونو کې د مغلو او نورو ګاونډیو واکمنیو له خوا تر تاخت او تاراج لاندې واقع شوي دي. بیا د تیمورشاه دراني تر مړینې وروسته د امیر عبدالرحمن خان تر راتګه (۱۲۹۶هـ ق) چې زموږ په هېواد کې د قدرت غوښتنې کومې کورنۍ جګړې روانې وې او په همدې دوران

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې زموږ پر هېواد څو ځله انګرېزي قواوو او تر دوی دمخه هم سکهانو یرغلونه وکړل، نو په دغسې یو بحراني حالت او د جنګ او مرګ ژوبلې، تاخت او تاراج په واکمنۍ کې د فرهنګي زېرمو خوندي ساتل څه ګرانه خبره ښکاري او زموږ ډېر اثار ښایي ددغو تاړاکونو په اثر له منځه تللي وي.

دا چې په دې استدلالونو به د مخالفینو قناعت حاصل شوی وي او که نه؟ دا به د دوی په خپل درک پورې اړه ولري، خو که چاته په وروستیو لسیزو کې د افغانستان له روان ناورین نه رازېږېدلي حالات معلوم وي، نو په دې پوهېږي چې په دې کلونو کې د افغانستان د کلیو او ښارونو د ورانیو او بربادیو، چور، غارت او د خلکو د مهاجرتونو له امله ډېر اثار له منځه ولاړل. د کابل موزیم لوټ شو، د کابل پوهنتون له کتابتونه دوه نیم زره خطي نسخې یا وسوځېدې او یا غلا شوې، د خطي نسخو شخصي زېرمې په کابل، کندهار او نورو ځایونو کې له منځه ولاړې. دا چې موږ د ساینس او تکنالوجۍ او د وسایلو په دې عصر کې دا زېرمه ونه ساتلی شوه، نو که د لومړیو اسلامي پېړیو اثار مو د پردیو یرغلګرو چپاوونو ورسره وړي وي، نو دا کومه د هېښتیا خبره نه ده.

بله خبره چې ضروري ده، هغه داده: موږ په خپلو سترګو ولیدل چې کله په کابل کې تر (۱۳۵۷ل) کال وروسته د خلکو د کورونو پلټنې پیل شوې او د وخت واکمنو د خپلې ایډیالوژۍ مخالف کتابونه نه پرېښوول او درلودونکیو ته یې جزاوې ورکولې، نو ډېرو خلکو د حاکم رژیم د مذاق خلاف کتابونه یا وسوځول او یا یې په ځمکه کې ښخ کړل. دغه راز کله چې د (۱۳۷۱ل) کال په ثور کې تنظیمونه د افغانستان پر اداره حاکم شول، دوی هم ټول هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابونه چې په تېر رژيم کې چاپ وو، د تېر رژيم د ميراث په توګه يا خپله وسوځول او يا د کتابونو خاوندانو د دوی له وېرې وسوځول. دغسې جفاوې زموږ له فرهنګي زېرمو سره وخت پر وخت شوې دي، چې دا يې يو معاصر مثال و.)) (۵۳: ۱۴۹-۱۵۳) او دا لړۍ لا دوام لري.

له دغو ټولو ستونزو، ناتارو، ناخوالو او ناورينونو سره سره بيا هم د پښتو ادب په لرغوني دوره کې موږ ته په مجموعي ډول د (۲۸) تنو شاعرانو شعرونه راپاتې دي او په مجموعي ډول (۳۳) ټوټې شعرونه کېږي او همدارنګه د يو تن نثر ليکونکي (سليمان ماکو) د نثر بېلګه. د شعري فورمونو د شمېر له مخې د پښتو له خپلو فورمونو څخه نږدې (۸-۱۰) بېلابېل فورمونه راپاتې دي او دغه راز (قصيده، غزل، مثنوي او رباعي) څلور عربي فورمونه هم په لرغوني وره کې پښتو ته داخل شوي دي. د محتوايي وېش له مخې، ويرنه، ستاينه، وياړنه، ساقينامه دا ټول په لرغوني ادبي دوره کې بېلګې لري. د سليمان ماکو له خپل نثر پرته په پښتو لرغوني ادب کې د ټولو کارول شويو کلمو شمېر (۵۴۷۰) ته رسېږي او که د سليمان ماکو د نثر (۶۳۰) کلمې نورې هم پرې زياتې کړو نو دا شمېر به نږدې (۶۱۰۰) کلمې شي. دا د پښتو لرغوني ادبي دورې ټول ژبنی ادبي کميت دی دا چې دې کميت کې څومره کيفيت، څومره خوند او څومره هنر او ښکلا ځای شوي اوس راځو د همدې موضوع څرنګوالي ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څرنګوالی

د پښتو ادبیاتو د لرغوني دورې له پیل څخه بیا تر دویمې، منځنۍ یا کلاسیکې دورې پورې د لرغوني دورې د هر پړاو شعرونه چې مطالعه کوو، نو هر پړاو یې د پوخوالي خپلې خپلې ځانګړنې لري. کله چې د امیر کروړ شعر ته نظر کوو، نو دا راته څرګندېږي، چې پښتو شعر د خپل بلاغت، فصاحت او فکري بلوغ ډېر پړاوونه وهلي دي، چې داسې یوې مرحلې ته رسېدلی دی. همدارنګه که موږ د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري قصیدو ته ګورو، نو داسې ښکاري چې نه یوازې دوی دواړو به ګڼ شمېر قصیدې ویلې وي، بلکې په دې زمانه کې به نور یو شمېر داسې شاعران هم تېر شوي وي چې دې ته ورته قصیدې به یې ویلې وي. د یو یا څو شاعرانو په څو شعرونو د یوې ژبې شعري بهیر د پوخوالي داسې پړاوونو ته نه رسېږي. څو څرنګه چې د زماني ناخوالو زموږ د ولس د ژوند ډېره زیاته مادي او معنوي پانګه له منځه وړې، موږ یې د خپلې ادبي پانګې او شتمنۍ له یوې زیاتې برخې هم بې برخې کړي یو. پښتو لرغوني ادبیات تر زیاته بریده یورې د خپل چاپېریال د تجربو محصول دي. البته په وروستیو پړاوونو کې د نورو ژبو د ادبیاتو اغېزې هم پرې څرګندېږي، څو ددې دورې ادبیات د ژبني جوړښت، ادبي سکښت او هنري تجربو له پلوه زیاتره د خپل چاپېریال او د حال و احوال محصول دي او د همدغه چاپېریال انځورګري کوي. پښتو لرغونو ادبیاتو زموږ د ژبې یوه درنه ژبنۍ پانګه خوندي کړې ده. یو شمېر داسې خوارې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړه لغتونه چې په یاده دوره کې په ادبیاتو کې کارېدلي، هغه اوس بېرته راژوندي شوي او زموږ د ادبي پانګه او ورځنۍ محاورې یوه برخه ګڼل کېږي. پښتو لرغونو ادبیاتو کې پر ګڼو شکلي رنګارنګیو سربېره مانیزه رنګارنګي هم شته ملي افکار، اسلامي افکار، عرفان او تصوف، غنایي افکار، حماسي تفکر، ویاړنې، ویرنې، ستاینې، مقاومتي افکار ټول د لرغونې ادبي دورې ځانګړې دي. هنري ارزښت هم په لرغونې دوره کې جوت دی، عشقي سندرې دي که وېرنې او ستاینې، قصیده ده که مثنوي، که غزل که رباعي په ټولو کې هنري جوهر له ورایه ښکاري. که د خپل وخت له هنري ارزښتونو سره یې پرتله کړو نو دا جوهر په کې لاپسې په قوت سره څرګند يږي. د خپل چاپېریال ډېره ښه انځورګري یې هم کړې ده. د لرغونې دورې ادبیات موږ ته نه یوازې د ادبیاتو په توګه مطرح دي، بلکې په دې ادبیاتو کې داسې ټولیزې پېښې، تاریخي حوادث هم انځور شوي او خوندي شوي چې زموږ د هغې زمانې د سیاسي تاریخ له روښانولو سره هم مرسته کوي. د ټولنپوهې لپاره دا ادبیات د پښتنو د ټولنیز ژوند او د هغو د پېژندنې ښې هنداري ګڼل کېږي. د پردیو پر وړاندې د یوه غیرتي او هېوادپال ملت د مبارزو تابلوګانې هم په همدې اثارو کې کتلای شو. لنډه دا چې د لرغونې دورې ادبیات د ادبیاتو د خپل هنري ارزښت، فني او تخنیکي عناصرو او هم د بېلابېلو افکارو د بیان له پلوه موږ ته خورا ارزښتمن دي او په انډولیز ډول په یاد زماني واټن کې که دا اثار له کمي او کیفي پلوه د یو شمېر نورو شرقي او سیالو ژبو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبي اثارو که زیات او ارزښتمن نه وي، نو کم خو ترې په هېڅ وجه نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرتلنه

کله چې د پښتو د لرغونو ادبیاتو کمیت او کیفیت سره پرتله کوو، نو له کمي پلوه یې تر موږ رارسېدلې بېلګې تر هغه حالت او چاپېریال خورا کمې برېښي، چې دا ادبیات په کې راټوکېدلې دي. همغه مهال هم لکه د غور، ملتان او کسي غره ترڅنګ نورې ورې ادبي حوزې موجودې وې، طبیعي خبره ده چې په یوه ادبي حوزه کې یو یا څو شعرونه نه راټوکېږي، د ترلاسه شویو شعرونو په مقیاس سړی پوخ ګومان کولای شي چې په هره ادبي حوزه کې به په لسګونو نور شاعران هم موجود وو. خو اوس چې موږ پر لاس لرلو اسنادو او بېلګو بحث کوو، نو د څه کم یوې زریزې زمانې واټن په انډول زموږ د ادبیاتو څومره والی زیات نه دی، یانې په مجموعي ټول د (۲۸) شاعرانو (۳۳) ټوټې شعرونه راپاتې دي او د یوه تن نثر لیکونکي نثري بېلګه، خو ددغه کمیت په انډول بیا د کیفیت خوا خورا درانه برېښي، هم له شکلي پلوه دې دورې د شعر بېلابېل ډولونه یا فورمونه راخپل کړي او هم محتوایي رنګارنګي لري. د پښتو د خپلو شعري فورمونو ترڅنګ چې د امیر کروړ، ملکیار غرشین، بابا هوتک او نورو په شعرونو کې یې بېلګې تر سترګو کېږي، د غزل، رباعي، مثنوي، قصیدې او نورو شعري فورمونو بېلګې هم په کې لیدل کېږي. له ښکلاییز پلوه هم د خلکو ادبي تونده ماتوي، نه یوازې ښه محتوا انتقالوي، بلکې ښکلاییز اړخ یې هم د خپل وخت د ادبي معیارونو په انډول ښه برېښي. البته دې ټکي ته مو باید پام وي چې موږ د اوسنیو ادبیاتو د معیارنو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخـې لرغونـو ادبيـاتو تـه کتنـه نـه کـوو، بلکـې د ادب تـاريخ د معيارونو او اصولو له مخې ورته کتنه کوو، چې د يوې ټولنې ادب د تاريخ په اوږدو کې څومره او څرنګه ګام پر ګام وده کوي. که د پښـتو لرغونـو ادبيـاتو کميت او کيفيـت سـره پرتلـه کـوو، نـو د ټـوليزې نتيجې پـه توګـه ويـلای شـو چې د کميت پـه انډول يـې د کيفيت تله درنه ده، يا په بله وينا په کم کميت کې هم زيات کيفيت موجود دی.

عامـه مقولـه داده چې (کيفيت پـه کميت کې وي) نـو د پښـتو د لرغوني ادب د کيفيت له مخې موږ دا ويلای شو چې پـه دې نـږدې زر کلن واټـن کې بـه پښـتو شـاعرانو پـه پښـتو ژبـه ډېر ادبي اثـار وړاندې کړي وي، خو د زمانې ناخوالو ددې اثـارو يـوه زياتـه برخه لکه څنګه چې مو مخکې څو ځله يادونه وکړه، زموږ له لاسه تروړلې ده او دا څه چې پاتې ده دا هم د زمانې له ډېرو ناتارونو ژغورل شوې او څه هم د بخت په وزرونو تر موږ رارسېدلې ده. که تذکرة الاوليا او پټه خزانه نه وای، چې زموږ د لرغوني ادب زياته برخه يې د مرګ له کومې ژغورلې نو اوس به دغه اثار چې همدا اوس زموږ پـه لاس کې دي دا به هم تېر شوي او هېر شوي وو. ددې احتمال هم شته چې زمـوږ د لرغـونې او کلاسـيکې دورې ځينـې نـور ورک اثـار چـې د زماني ګردونو لاندې کړي، د وخت په تېرېدو سره ترلاسه شي. خو اوس چې پر لاس لرلو لرغونو اثارو بحث کوو، نو د کميت يا څومره والي په انډول يې د کيفيت يا څومره والي تله درنه برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دیارلسم څپرکي لنډیز

د پښتو ادبیاتو لرغوني دوره څه کم یوه زریزه زماني واټن رانغاړي، په دې دوره کې د نږدې (۲۹) تنو شاعرانو او لیکوالو د کلام بېلګې تر موږه رارسېدلي دي، چې په مجموعي ډول په کې (۳۳) ټوټې شعرونه او د نثر یوه بېلګه شامل دي. خو دا په دې مانا نه ده چې زموږ د شاعرۍ ټول حجم همدا دی، د زماني ناخوالو زموږ ډېر تاریخي ادبي اثار له منځه وړي دي. خو دې سره سره چې کوم اثار اوس زموږ په لاس کې شته، د کمیت له پلوه کم خو د کیفیت له پلوه د خورا ارزښت وړ وي. نږه والی، د هنري ښکلا زیاتوالی او د خپل چاپېریال ښه انځورګري ددې دورې د ادبیاتو له ځانګړنو څخه ده. ملي، اسلامي، غنایي، حماسي او نور ډول ډول افکار په کې ځلېږي. د کمیت په اندول یې کیفیت زیات دی، په لرغوني شاعرۍ یا ټول ادبي بهیر کې نږدې (۶۱۰۰) کلمې کارېدلي، خو ډېر دروند فکري، هنري او ښکلاییز معنوي بار یې انتقال کړی دی. د ملي فورمونو ترڅنګ یې له عربي ژبې څخه ځینې شعري فورمونه لکه قصیده، غزل، مثنوي او رباعي هم راخپل کړي، خو دا ټول فورمونه لکه د پښتو د خپل شعر سېلابېتونیک (څپیز جوړښت) له عام قانون سره سمون خوري. د لرغونې دورې د ادبیاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هنري او ښکلاييز کيفيت او معنوي قوت ته چې سرې ګوري، نو دا په ډاګه کوي چې زموږ د لرغونې ادبي دورې کميت به طبعاً تر دې ځو ځله زيات ځکه وي چې د يو ملت ادبيات چې د پوخوالي دې پړاو ته رسېدلی وي، هغوی بايد ډېره اوږده ادبي ماضي تجربه کړې وي. که پښتنو شاعرانو په ملي فورمونو کې شعرونه ويلي او که له عربي څخه په راغلو فورمونو کې نو په ښه قوت يې ويلي او دا د دې ښکارندويي کوي چې دې شاعرانو دا فورونه ډېر کارولي او په هغو کې يې پخه تجربه ترلاسه کړې ده، خو بيا هم که د شتو اثارو له مخې د يادې دورې کميت او کيفيت سره پرتله کوو، نو د کيفيت تله يې درنه ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ديارلسم څپرکي پوښتنې

- په پښتو لرغونې ادبي دوره کې د شعري کلام بېلګې ولې کمې دي؟
- په لرغونې دوره کې د پښتو شعر کميت او کيفيت سره پرتله کړئ.
- په لرغونې دوره کې کومو شاعرانو په ملي اوزانو کې شعرونه ويلي دي؟
- په لرغونې دوره کې له عربي ژبې څخه د نظم کوم فورمونه پښتو ته راغلي دی؟
- په لرغونې دوره کې د کوم ليکوال نثري بېلګه لرو او ولې د نثر بېلګې کمې دي؟
- د يوې ژبې د ادبي اثارو د کيفيت ښه والي د څه شي څرګندونه کوي؟
- په پښتو لرغوني ادب کې په مجموعي ډول څومره کلمې کارېدلې دي؟
- پښتو لرغونې شاعري د څه شي انځورنه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څوارلسم څپرکی

# په لرغونې ادبي دوره کې موثرې ټولنيزې، سياسي څېرې او حادثې

په هره ټولنه کې موثرې ټولنيزې، سياسي او فرهنګي څېرې موجودې وي وي چې په هغه ټولنه کې د حوادثو سبب ګرځي او يا هم حوادث دي چې د شخصيتونو د ټوکېدو سبب ګرځي. همدا شخصيتونه دي چې بيا نورو حوادثو ته لاره اواروي او يا هم د ناخوښو حوادثو مخه نیسي. په حقيقت او واقعيت کې شخصيتونه په حادثو او حادثې په شخصيتونو پسې ځي، دا دواړه پديدې يوه له بلې سره اړيکي لري. ټولنيز او سياسي شخصيتونه د ژوندانه پر هر ډګر خپل اغېز لري، له هغې جملې څخه د ادبي پديدو او اثارو په رامنځته کولو کې خپل نقش لري، دوی په مستقيم او نامستقيم ډول د ادبي اثارو د رامنځته کېدو سبب ګرځي، په مستقيم ډول په دې مانا چې په خپله هنري او ادبي اثار ليکي او په نامستقيم ډول په دې مانا چې نور ليکوال او شاعران هڅوي چې ادبي اثار وپنځوي. که د امير محمد سوري واکمني نه وای او شيخ اسعد سوري د هغه له مهربانۍ نه وای برخمن شوی، نو پوره يقين دی چې د هغه مرګ پر شيخ اسعد سوري تاثير نه کاوه او نه يې هغه شان ويرنه ليکلای شوه چې د امير محمد سوري په مرګ يې ويلې ده. يا هم که ښکارندوی غوري د سلطان شهاب الدين غوري د لارې ملګری او د دربار له لورېينو برخمن نه وای خو هغسې ستاينزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قصیده یې هېڅکله نه ویله او نه ئې ویلای شوه که په خپله امیر کرور د وخت امیر او واکمن نه وای نو دغسې پرتمینه ویاړنه یې هېڅکله نه شوه ویلای او که ویلې یې هم وای، له واقعیت سره به یې سمون نه درلود. موږ که څه هم په پښتو لرغونو ادبي دوره کې لیکوال یا شاعران نسبتاً په تفصیل سره معرفي کړي، خو هغه نورې سیاسي یا ټولنیزې څېرې چې په یو نه یو ډول یې د ادبي اثارو په پنځونه کې په مستقیم او نامستقیم ډول موثرې واقع شوي، د هغو یادونه هم ضروري برېښي. غواړو دا ډول شخصیتونه هم په ډېر لنډیز سره درته دروپېژنو. دې سره به موږ ته په ټولیز ډول د ټولو هغو شخصیتونو یو ټولیز تصویر سترګو ته ودرېږي چې زموږ د لرغونو ادبیاتو ټوله اوسنۍ لاسته راغلې شتمني د هغو د کارو زیار محصول ګڼل کېږي او تر هغه وروسته به د لرغونو ادبي دورې د پېښو کرونولوژي هم تاسو ته په ډېر لنډیز سره وړاندې کړو. البته دې کې ځینې هغه څېرې یو ځل بیا په لنډیز سره معرفي کېږي چې هم یې اثار پنځولي، هم ټولنیز، تاریخي، فرهنګي او سیاسي شخصیتونه دي او یا یې هم په لرغونې ادبي دوره کې یادونه راغلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الف- سیاسي، ټولنیزې او فرهنګي څېرې:

## امیر کروړ د جهان پهلوان:

((امیر کروړ سوري چې په جهان پهلوان یې شهرت موندلی دی، د دویمې هجري قمري پېړۍ شاعر دی. امیر کروړ د امیر پولاد سوري زوی دی، امیر پولاد په غور کې د ملک شنسب له زامنو څخه و، چې غور کې یې پاچاهي کوله. د امیر کروړ یادونه مو یوځل بیا دلته ځکه وکړه چې ده نه یوازې په خپله شعر لیکلی، بلکې د ده ټولنیز، سیاسي او قومي اغېز ددې سبب شوی چې وروسته په پښتنو کې نور شاعران هم راوټوکېږي.

امیر کروړ پر (۱۳۹هـ.ق) د غور په مندیش کې پاچا او پر (۱۵۴هـ.ق) کال د فوشنج په جنګ کې وفات شو.

## امیر محمد سوري:

امیرمحمد سوري په غور کې د سوري پښتنو پاچا و، عادل، ضابط او غیرتي واکمن تېر شوی، د سلطان محمود غزنوي له لښکرو سره تر اوږدې جګړې وروسته، د هغه لښکر ونیو غزني ته یې اسیر بوت او هلته په بند کې ومړ. شیخ اسعد سوري په خپله قصیده کې دده د ژوند د وروستیو برخو داستان په ډېره تراژیکه بڼه انځور کړی چې پر خپل خپل ځای یې یادونه وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نصر لودي:

نصر لودي د شیخ حمید لودي زوی، د لودیانو دویم واکمن و، د (۳۹۰هـ.ق) په شاوخوا کې یې حکومت کاوه، دی تر حمید وروسته د هغه پرځای کېناست چې په ملتان کې دده واکمني د سند تر غاړو او د سلیمان تر غره پورې رسېده. نصر لودي هم د پښتو ژبې شاعر و او هم سیاسي واکمن.

## شیخ رضی:

شیخ رضی د شیخ حمید لودي وراره دی چې د حمید د لودي واکمنۍ پرمهال او تر هغه وروسته یې د اسلام دین د تبلیغ لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې، شیخ رضی لودي د پښتو ژبې له شاعرانو څخه و، دده د یو منظوم اعتراضیه کلام له امله (نصر لودي) مجبور شو چې هغه ته په ورته منظوم کلام کې خپل غبرګون وښیي.

## سلطان غیاث الدین غوري:

غیاث الدین غوري د غور د سترو واکمنو له جملې څخه دی چې د غوریانو د واکمنۍ او د اسلام د دین د پراختیا لپاره یې ډېرې تورې وهلي او په غوري واکمنو کې ستر نوم لري. پښتون شاعر تایمني دده په ستاینه کې یوه چاربیته لیکلې او دی یې د غور زمری بللی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سلطان شهاب الدین غوري:

سلطان شهاب الدین غور د خپل ورور (سلطان غیاث الدین غوري) تر مړینې وروسته پاچا شو، دی د خپل ورور د واکمنۍ پرمهال د لښکرو مشر و او د غیاث الدین غوري د وخت ډېرې بریاوې د ده په وسیله ترلاسه شوي دي. دده په زمانه کې د غوریانو پاچاهي د شمال له خوا تر خوارزم او ماورالنهر او په هند کې د هند په لویو برخو کې جاري وه. دا لوی پاچا پر (۶۰۲هـ.ق) کال د اباسین پر غاړه د هند د اړو دوړو کرارولو لپاره هغې خواته لاړ او د یوه ناپېژانده شخص له خوا ووژل شو.

## سلطان محمود غزنوي:

د سبکتګین تر مړینې (۳۸۹-۴۲۱هـ) وروسته د هغه له وصیت سره سم د سبکتګین کوچنی زوی اسمعیل پر تخت کېناست. په دې وخت کې محمود د خراسان حاکم و. کله چې سلطان محمود د خپل پلار له مرګه او د ورور له پاچاهۍ خبر شو، له اسمعیل څخه یې وغوښتل چې له حکومت څخه لاس واخلي او دغه چارې ده ته وسپاري، خو اسمعیل مخالفت وکړ، په نتیجه کې یې تر لږ اخ و ډب وروسته اسمعیل د غزني په شاوخوا کې ماتې وکړه او غزنی د محمود لاس ته ورغی.

محمود پر (۹۹۸م) کال د غزني پر تخت کېناست، د سیستان علاقه یې ونیوله، د بغداد د خلافت له خوا په رسمیت وپېژندل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د یمین الدوله لقب ورکړل شو. سلطان محمود غزنوي (۱۷) ځلې پر هندوستان یرغل کړی دی، لویه جګړه یې د سومنات جګړه ده، چې پر (۴۱۲هـ) کال پېښه شوې ده، لکه چې دمخه مو یادونه وکړه د محمود لښکرو له امیر محمد سوري سره هم ډېر جنګونه وکړل، تر جنګونو وروسته د سلطان محمود لښکرو د امیرمحمد سوري ونیو او بیا یې د محمود په زندان کې ساه ورکړه. د شیخ اسعد سوري قصیده د همدې غمجنې پېښې زېږنده ده.

## ابن خلاد:

تاریخپوهان د ابو العینا د بشپړ نوم او شهرت په باب وایي: ((ابو عبدالله محمد بن القاسم بن خلاد بن یاسر بن سلیمان، الهاشمي بالولاء الغریر، مولی آبي جعفر المتصور) نوموړی په اصل کې د یمامي اوسېدونکی و، په (اهوز) نومي سیمه کې زېږېدلی او په (بصره) کې رالوی شوی دی. همالته یې د حدیثو علم او ادبي زده کړې کړې دي، په ځلوېښت کلنۍ کې په سترګو ړوند شو، ډېره به یې په نکریزو سره کوله او پر (۲۰۳هـ ق) کال په بصره کې مړ شوی. نوموړی ډېر ځیرک، فصیح، ذهین او حاضر ځوابه انسان و.)) (۵۰: ۴۰-۴۱)

## سلطان بهلول لودي:

پر (۸۱۴هـ.ق) کال د ملتان په کمانګرانو کې دنیا ته راغی، د ځوانۍ په وخت کې سپاهي و، بیا ملک شو، سوداګرۍ ته یې مخه کړه او د خپل لیاقت، مهارت او بهادرۍ په وجه د ډیلي پاچاهۍ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسېده. ډيلي، پاني پت، ديبالپور، لاهور، هانې، حصار، جونپور، بهرايچ، ناګور او د ملتان تر څنډو پورې ټولې هندي ځمکې د ده په پاچاهۍ کې شاملې وې. سلطان بهلول لودي پر (۸۵۰هـ.ق) کال د ربيع الاول مياشتې پر اوولسمه نېټه په هندوستان کې پاچا شو او تر (۴۴) کاله پاچاهۍ وروسته پر (۸۹۴هـ.ق) کال د هندوستان د عاليګړ د ضلعې په جلالي کلي کې وفات شو. سلطان بهلول لودي د هندوستان عادل او عالم پاچا و چې په دربار کې به يې شاعران او عالمان پالل او خپله هم د پښتو ژبې شاعر و.)) (۸: ۲۹۲-۲۹۴)

## محمد بن علي البستي:

پښتون مورخ دی، د پلار نوم يې علي او د بست اوسېدونکی و، پټې خزانې يې د (لرغوني پښتانه) په حواله يادونه کړې ده. د ژوند زمانه يې (۶۵۰هـ ق) حدود دي. او د (تاريخ سوري) په نامه يې يو تاريخي اثر ليکلی دی.

## احمد سعيد لودي:

پښتو ليکوال او مورخ دی، د پټې خزانې په حواله احمد سعيد لودي پر (۶۸۶هـ ق) کال يو کتاب ليکلی و چې په دې کتاب کې يې د لودي بادشاهانو حالات او اشعار راجمع کړي وو، د کتاب نوم يې (اعلام اللوذعي فی اخبار اللودي) و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شيخ کته متي زی:

شيخ کته متي زی، د شيخ يوسف زوی او د شيخ متي لمسی و، د (۷۵۰هـ ق) حدودو کې يې ژوند کړی او د لرغوني پښتانه په نامه يې يو مهم کتاب ليکلی دی، چې پټې خزانې ترې زيات اقتباسات کړي دي.

## شيخ ملي:

د شيخ ملي نوم (ادم) او د پلار نوم يې شيخ يوسف و، چې د نسب سلسله يې خرښبون ته رسي، دی د پښتنو مشر و او د ځمکو د وېش په باب يې يو کتاب ليکلی و چې د (شيخ ملي دفتر) په نامه مشهور و. د (۸۳۰هـ ق) په حدودو کې يې ژوند کاوه.

## کجوخان رانيزی:

د کجوخان رانيزي اصلي نوم خان احمدخان و، دی د پښتنو يو خان او مشر و، د (۹۰۰هـ ق) په حدودو کې يې ژوند کاوه، ده د پښتنو په باب يو کتاب ليکلی و چې د پښتنو تاريخي پېښې او حالات يې په کې بيان کړي وو.

پر پورتنيو سياسي، ټولنيزو او فرهنګي شخصيتونو سربېره يو شمېر نور سياسي شخصيتونه هم په لرغوني دوره کې تېر شوي چې په مستقيم او نامستقيم ډول يې پر پښتو ژبې او ادب خپل خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاثیرات پرې اېښي دي، خو موږ یې هغه ډېر مشهور او مطرح کسان دلته په ډېر لنډیز سره معرفي کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب- د پښتو کرونولوژي:

د لرغوني ادبي دورې په نږدې زرکلن ژوندانه کې ګڼې پېښې تېرې شوي، د يو ليکوال يا اديب زېږېدنه، مړينه، د اثارو ټوکونه، له منځه تلنه او نورې حادثې، ټولې په دې پېښو کې شاملې دي. دلته غواړو په ډېر لنډيز سره دې ډول حوادثو ته اشاره وکړو:

- ((د اريانا پاچا(لوی داريوش) پر وخت له (۵۲۲ق.م) څخه تر (۴۸۶ق.م) د بېستون په غره کې يوه اخلاقي حماسه رامنځته شوه.
- په (۱۹۰ق . م) حدود د (مالنډه ينهو) په نامه په پخوانۍ پښتو يو کتاب وليکل شو.
- پر (۱۳۹هـ.ق) د غور په مندېش کې امير کروړ پاچا شو.
- پر (۱۲۳هـ.ق) کال د لويکانو د کورنۍ يو بيت پر يو ډبرليک وليکل شو، پوهانو دا بيت پښتو وباله.
- (۱۵۴هـ.ق) د پوشنج په جنګ کې امير کروړ وفات شو.
- د (۲۲۳هـ.ق- ۲۹۷هـ.ق) کلونو حدودو کې د ابو محمدهاشم ابن زيد السرواني و ژوند او پر همدې مهال له عربي ژبې څخه پښتو ته لومړی منظومه ژباړه ترسره شوه.
- (۳۵۰هـ.ق- ۴۰۰هـ.ق) کلونو ترمنځ د شيخ رضي او نصر لودي خپل پاړکي يو بل ته وليږل.
- پر (۳۵۰هـ.ق) حدودو کې بېټ نيکه خپل مناجات وليکل.
- (۴۱۱هـ.ق) حدود د شيخ اسماعيل او خرښبون د ژوند دوره ده او پښتو ادب کې د دوی د لومړيو څلوريزو په بڼه يو بل ته ناري وليکلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- (۴۲۵هـ.ق) کال حدود د شیخ اسعد سوري ژوند او پښتو ادب ته د قصیدې راتګ.
- (۵۵۰هـ.ق) کال حدود د شیخ تیمن کاکړ د ژوند دوره او پښتو ته د یو بل شعر راتګ.
- د (۵۸۰هـ.ق) په شاوخوا کې د ښکارندوی غوري ژوند او پښتو کې د یوې بلې شاهکارې قصیدې لیکل.
- د (۵۸۰هـ.ق) په شاوخوا کې د ملکیار غرشین ژوند او پښتو ادب کې د یو بل پارکي ویل.
- د (۵۸۰هـ.ق) په شاوخوا کې د تایمني ژوند او د سلطان غیاث الدین په ستاینه کې د شعر ویل.
- (۶۰۰هـ.ق) کال حدودو کې د قطب الدین بختیار کاکړ د ژوند او پښتو کې د قطب الدین سندره.
- (۶۳۳-۶۸۸هـ.ق) کلونه، د شیخ متي ژوند او دده کتاب (د خدای مینه) او شعر یې.
- لـه (۶۶۱-۷۴۰هـ.ق) کلونو کې د باباهوتک ژوند او د مغولو په مقابل کې دده شعر.
- د (۷۴۷هـ.ق) حدودو کې د شیخ ملکیار هوتک ژوند او دده شعر.
- د (۷۸۰هـ.ق) کال په شاوخوا کې د اکبر زمینداوري د ژوند دوره او پښتو ته د لومړي غزل او مثنوي راتګ.
- د (۸۹۰هـ.ق) کال په شاوخوا کې د خلیل نیازي ژوند او واکمني او د سلطان بهلول لودي ته د هغه رباعي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- له (۸۵۵-۸۹۴ هـ.ق) کلونه د سلطان بهلول لودي ژوند او خليل نيازي ته د هغه رباعي.
- د (۸۹۰هـ.ق) کال په شاوخوا کې د زرغون خان نورزي ژوند، دده دېوان او د ساقي نامې ليکل.
- (۹۰۰هـ.ق) کال حدودو کې د زرغونې کاکړ ژوند او پښتو ته د سعدي د بوستان ژباړه.
- د (۹۰۰هـ.ق) کال په شاوخوا کې د شيخ عيسى مشواڼي ژوند او دده يو شعر.
- د (۹۲۰هـ.ق) کال په شاوخوا کې د رابعې ژوند او ددې دېوان او رباعي.
- (۹۲۰هـ.ق) کال حدودو کې د دوست محمد کاکړ ژوند او د هغه کتاب (غرغښت نامه) ليکل.
- د (۹۲۰هـ.ق) کال په شاوخوا کې د شيخ بستان بړيڅ ژوند، دده کتاب (بستان الاوليا) او دده يو شعر.
- د (۹۲۰هـ.ق) کال حدود د علي سرور لودي ژوند، کتاب يې (تحفة صالح) او دده غزل.
- د (۹۲۰هـ.ق) کال حدود د مېرمن نېکبختې ژوند ، ددې کتاب (ارشاد الفقرا) او ددې د نصيحت شعر ليکل.
- د (۱۰۰۰هـ) کال حدود د شيخ محمد صالح الکوزي ژوند او غزل ليکل.)) (۳۹: ۱-۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لرغونې دورې پای

لکه څنګه چې دمخه مو وويل د پښتو ادب تاريخ لومړۍ يا لرغونې دوره له دويمې هجري پېړۍ څخه پيل او يوولسمې هجري پېړۍ پورې دوام مومي، تر دې دمخه يانې د لسمې هجري پېړۍ په منځيو کې بيا په پښتو کې يو بل عرفاني غورځنګ پيلېږي، روښاني غورځنګ ورته وايي، (روښان پير) يې مشر و دده د کورنۍ غړو دده روښاني او روحاني لاره تعقيب کړه، روښان وروسته ډېر پلويان او مخالفين پيدا کړل چې د عرفاني او پوځي مبارزې ترڅنګ اکثره د فکر او قلم خاوندان وو، روښانيانو د خپلې عرفاني لارې لپاره ادبي فورمونه د يوې وسيلې په توګه وکارول، خپل افکار يې د نظم او نثر پر دواړو ډولونو کې ځای کړل او دا ادبي فورمونه يې د خپل فکر د بيان لپاره په منظم او سيستماتيک ډول وکارول، دا مهال له شکلي پلوه په ادبي فورمونو کې ګڼ شمېر اثار رامنځته شول چې هنري کيفيت يې ډېر اوچت نه و، خو وروسته يې ښکلو ادبي اثارو ته لاره اواره کړه، پښتو ادبپوهان، د پښتو ادبياتو د لرغونې دورې پای د همدغه روښاني غورځنګ پيل ګڼي او وايي چې د تېرې دورې د ادبياتو په انډول دا مهال په ادبياتو کې داسې يو کمی او کيفي بدلون راغی چې له تېرې دورې سره يې توپيرونه روښانه او څرګند وو، نو ځکه خو ادبپوهان د روښاني غورځنګ ادبي فعاليتونه د لرغونې دورې د ادبياتو تر پای وروسته د دويمې ادبي دورې د پيل کلونه ګڼي چې له همدې وخته بيا دويمه ادبي دوره پيلېږي او خپل خپل پرمختيايي پړاوونه وهي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې روښانیان د لسمې هجري قمري پېړۍ په منځ کې راڅرګندېدلي يانې تر (۹۳۰هـ ق) وروسته، خو موږ دلته ان تر (۱۰۰۰هـ ق) کال پورې هم يو شمېر شاعران په لومړۍ دور کې ځای او مطالعه کړي، کېدی شي ځينو ته دا پوښتنه پيدا شي چې هم دويمه دوره پيل شوې او تر هغه وروسته هم ځينې شاعران په لرغوني دوره کې مطالعه کېږي؟ موږ د ادبي دورو د وېش په برخه کې دا مسله واضح کړه چې ادبي دورې د تاريخي او سياسي دورو په شان نه دي چې له يوې تاريخي مقطعې څخه پيلېږي او يا هم له يوې انقلابي پېښې سره سم پيل او پر بلې ورته پېښې پايته رسي. ادبي دورې يوه پله بله کې تداخل لري، د يوې نوې ادبي دورې تر پيل وروسته هم ځينې داسې ليکوال او شاعران وي چې د فکري خط، ادبي سبک او نورو ځانګړنو له امله له تېرې دورې سره اړيکې لري او يا هم د هغې دورې تاثيرات پرې خپاره وي. نو ځکه خو موږ شيخ بستان بړيځ، علي سرور لودي، مېرمن نېکبخته او شيخ محمد صالح الکوزی هم په لرغوني ادبي دوره کې راوړل، د دوی د کلام ځانګړنې له لرغونې دورې سره ټينګ ارتباط لري او په واقعيت کې د همغه دورې تسلسل دی. دا ارتباط د بلې نوې دويمې دورې د اثارو د لومړيو نښو نښانو په راڅرګندېدو وو نو ځکه (۱۰۰۰هـ ق) حدود د لرغونې دورې د پای مهال ګڼل کېږي. سره له منځه نه دي تللي او نه هم د دوی د کلام بېلګې له دې بلې دورې سره ډېر ورته والی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

مخکې تر دې چې د وروستۍ پایلې په توګه خپل درنو لوستونکو سره شریک کړم، غواړم د لرغونې ادبي دوورې وروستۍ نچوړ چې ددې دورې ځانګړنې په خپل نظر کې راغونډې شوي دي، درنو لوستونکو مخې ته کېږدم او بیا به ددې اثر په باب خپل وروستۍ نظر څرګند کړم.

«د پښتو ادب تاریخ لومړۍ دوره له دویمې هجري پېړۍ څخه پیل کېږي او د یوولسمې هجري پېړۍ تر لومړیو پورې دوام کوي.

ددې دورې اثار د خپلو ځانګړو خصوصیاتو له امله دغه لاندې ارزښتونه لرلای شي:

(۱) د پښتو کوم اثار چې په لومړۍ ادبي دورې پورې اړه لري، له کمې پلوه ډېر نه دي او د هر شاعر او لیکوال محدودې شعري بېلګې تر موږه رارسېدلې دي. ددې دورې د ډېرو شاعرانو او لیکوالو د کتابونو نومونه موږ ته ښکاره دي، خو زیاتره دا کتابونه او دېوانونه اوس ورک دي.

ښایي له ځینو لوستونکو سره دا پوښتنه راپیدا شي، چې دا اثار نو ولې ورک دي؟

دغسې احتمالي پوښتنو ته په ځواب کې باید وویل شي، چې افغانان د اسلامي عصر په بېلابېلو پېړیو کې د پردیو یرغلګرو او مهاجمینو تر یرغلونو او تهاجماتو لاندې راغلي دي، په دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

یرغلونو کې چې چا د پردو په مقابل کې زیات مقاومت کړی دی، په همغه تناسب ورته ضررونه هم متوجه شوي دي او ټولې مادي او معنوي شتمنۍ یې له خاورو سره خاورې شوې دي. پښتانه د عربو له حملو نیولي، بیا د چنګېز او تیمور، بیا د نادر افشار او نورو یرغلګرو تر مستقیمو حملاتو لاندې راغلي دي. څه یې چې درلودل دغو حملو خوړلي او په ډېر ضعیف احتمال ویلای شو، چې ښایي ډېر لږ اثار به له دغو تاړاکونو په امن کې پاتې وي، چې هغه هم تراوسه لا نه دي ترلاسه شوي.

د پښتو د لومړۍ دورې په اثارو کې یوازې د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیا د بشپړ کتاب ځینې برخې موږ ته رسېدلې دي. په عمومي ډول د پښتو د ادب تاریخ د لومړۍ دورې متفرق اثار دي.

(۲) که څه هم د پښتو د لومړۍ دورې اثار به کمي لحاظ لږ دي، خو به کیفي لحاظ ځینې دغه ډول اثار ډېر لوړ ادبي ارزښت لري.

د غوري دورې قصیدې، د شیخ متي مناجات، د اکبر زمینداوري اشعار، د شیخ تیمن، شیخ بستان بدلې او هم د علي سرور او شیخ محمد صالح الکوزي غزلې د خپلو فکري ارزښتونو ترڅنګه لوړه هنري منځپانګه هم لري. ددې دورې ځینې نور اشعار که څه هم ساده دي، خو په سادګۍ کې یوه ابتدایي ښکلا هم ورسره مله ده. ددې دورې ځینې اثار نظمونه دي، چې ناظم نېغ په نېغه خپل هدف په منظومو او څرګندو الفاظو کې بیان کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) ددې دورې اثار سره له دې چې په کمي لحاظ لږ دي، خو له دغو لږو اثارو هم موږ په شکلي او موضوعي لحاظ د انکشاف ځرک ایستلای شو.

الف: ددې مهال اثار موږ ته راښيي چې ددې دورې ادبي پديدې پر يوه حال ولاړې نه دي او نه يو ډول شعري انواع موږ په دې اثارو کې ګورو، بلکې په دې دوره کې پښتو شاعري پر خپلو عنعنه يي ملي اوزانو سربېره په پرله پسې پېړيو کې قصيده ورپسې غزل، مثنوي او رباعي چې د شرقي شاعرۍ غټ شعري ډولونه دي، خپل کړل. د پښتو د ولسي شاعرۍ له ژانرونو څخه چاربيتي او بدلې هم په همدې دوره کې خپله ښه خپله کړې ده او د پښتو د لرغونو سندرو او شعري انواعو ځای يې نيولی دی.

ب: د مضمون په لحاظ هم د پښتو اثار په دې دوره کې پراختيا پيداکوي، د ژوند بېلابېل موضوعات په دې اشعارو کې بيانېږي، لکه: د رزم او بزم خبرې، ديني او عرفاني موضوعات، اخلاقي پند و نصايح، وعظونه او نور ددې دورې په اشعارو کې ليدلای شو.

ج: د شعر ځينې ځانګړي معنوي ډولونه، لکه وياړنه (فخريه)، ويرنه، ستاينه، ساقينامه او حکايتي اثار هم په همدې دوره کې په پښتو شعر کې ځان ځرګندوي. د امير کروړ سوري وياړنه، د زرغون خان نورزي ساقينامه او د دوست محمد کاکړ د غرغښت نامې ځينې حکايات ددې دورې د شعر د معنوي اقسامو ډېرې ښې نمونې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امیر کروړ ویاړنه او د زرغون خان ساقینامه د خپل جوړښت، ادبي قوت او شعري ځانګړنو له امله د پښتو ادبي تاریخ په وروستیو دورو کې هم بل ساری نه لري. دا ډول اشعار موږ وروسته هم لرو، خو کوم قوت او ادبي شور چې د امیر کروړ او زرغون خان په ویاړنه او ساقینامه او د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري په قصایدو کې شته، په وروستیو دې ته ورته اثارو کې نه لیدل کېږي.

(۴) پښتو ادبي پدیدې او پښتو اثار په دې دوره کې مجرد نه دي راپیدا شوي، بلکې د سیمې له ژبو او ادبیاتو سره په ارتباط کې یې وده موندلې ده. د دریېمې هجري پېړۍ په دوران کې له عربي ژبې څخه پښتو ترجمه پیل شوه او ابو محمد هاشم د ابن خلاد شعر په پښتو نظم ترجمه کړ او بیا راوروسته له پارسي ادب سره د پښتو ادبیاتو نږدې اړیکي پاتې شوې دي، پښتو ادبیاتو په دې دوره کې ځینې معنوي ارزښتونه له پارسي ادب څخه خپل کړي دي. دا خبره طبیعي هم ده، ځکه پارسي دغه مهال په منطقه کې مسلطه فرهنګي ژبه وه. ډېر شاعران او فرهنګي اثار یې درلودل، نو ددغسې یوې ژبې اغېزې د منطقې پر نورو ژبو حتمي دي.

له پارسي اثارو څخه پښتو ته ترجمه هم دغه مهال پیل شوې ده، د لسمې هجري پېړۍ په لومړیو کلونو کې یوې پښتنې مېرمنې زرغونې کاکړې د سعدي بوستان په پښتو نظم واړاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۵) ددې دورې متفرق اثار د سيمې په لحاظ هم په يوه ځاى کې نه دي ايجاد شوي، بلکې له غوره نيولې ان د هندوستان تر سىمو پورې پرتو ځمکو کې ايجاد شوي دي او دا خبره پر دې دلالت کوي چې پښتانه دا وخت د غور او سليمان پر غرو سربېره د افغانستان، (روه) او هندوستان په لتو کې خپاره وو.

(۶) په دې دوره کې موږ ځينې داسې متفرق اثار هم لرو، چې د درباروNو له خوا ورته د توجه او پالنې ځرک هم ځنې ايستلاى شو، لکه د غور د شاهانو په دربارونو کې د شاعرانو موجوديت او د دوى اثارو ته پاملرنه د هندوستان د افغان باچا سلطان بهلول لودي دربار هم دغه ډول خصوصيات درلودل.

(۷) ددې دورې کوم اثار چې زموږ په واک کې دي، زياتره د پښتو دوو لرغونو تذکرو (پټې خزانې او تذکرة الاوليا) خوندي کړې دي، د ځينو لکه تايمني او اکبر زميندا وري اثار په متفرق ډول ترلاسه شوي دي. دغه اثار د منبع پېژندنې له پلوه کومه خلا نه لري او له کره او باوري اسنادو څخه ګڼل کېږي.

(۸) دغه لاس ته راغلي اثار د ژبې د لغاتو، ترکيبونو او نورو ګرامري ژبنيو خصوصياتو او له نورو ژبو سره د اړيکو يو سىستماتيک تحول په لاس راکوي، د دې دورې لومړني اثار تر زياته حده د پښتو خپل زاړه لغات او ترکيبونه لري، خو په وروستيو پېړيو کې له نورو ژبو په خاص ډول پارسي او عربي سره نږدېوالى ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو د ادبي تاریخ لومړۍ دوره د پورتنیو خصوصیاتو په لرلو سره پای ته رسېږي او پښتو ادبیات له نوو تمایلاتو او نویو فکري ارزښتونو او تازه ادبي جریانونو سره یوې بلې پرمختللې دورې ته داخلېږي.)) (۵۳: ۸۱- ۸۳) د پښتو ادب د لرغونې دورې تر دې نچوړ وروسته اوس راځم ددې اثر په باب خپل وروستي نظر ته!

دا اثر چې اوس د درنو لوستونکو او خوږو محصلینو په لاس کې دی، ما د خپلې پوهاندۍ علمي رتبې لپاره لیکلی دی. په دې اثر کې نږدې له ټولو هغو اثارو څخه ګټه اخیستل شوې چې تر دې وړاندې په دې برخه کې لیکل شوي دي.

تېر هر اثر په خپل خپل ځای کې خپل خپل ارزښت لري، خو دا اوسنی اثر زما په خپل نظر په واقعیت کې پر څېړنې، پلټنې، ارزونې سربېره د همغو تېرو اثارو یو نچوړ هم ګڼل کېږي. هر څېرکی مې تر لیکنې وروسته نورو استادانو ته هم د سمون په خاطر ورلېږلی او هم مې د هغوی له نظریاتو څخه د ګټې اخیستو لپاره د هغوی اصلاحي نظر مې هم په کې شامل کړی، هر څپرکي یو نچوړ یا لنډیز هم لري او خپلې اړوندې پوښتنې هم، دا پوښتنې ددې سبب ګرځي چې محصلین د هر څپرکي متن ته ورداخل شي، نوې او زیاتې پلټنې وکړي، د هغوی د لیکوالۍ او ذهني قوت د پیاوړتیا سبب شي. شک نه شته چې دا اثر به لا هم ډېرې نیمګړتیاوې ولري، هیله مې ده چې کله هم دا اثر چاپ شي، لوستونکي او محصلین یې له نظره تېر کړي، د سمون لپار یې خپل لیکلي نظرونه ماته راولېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په بل چاپ کې اصلاح شي. یو اثر تر پرله پسې کتنې او سمون وروسته د بشپړتیا او کره والي پړاو ته رسېږي او دا کره والی هغه وخت رامنځته کېږي چې اثر د لوستونکو په لاس کې وي، نو ځکه خو له ټولو لوستونکو، استادانو او قدرمنو محصلینو څخه هیله کوم چې په زغرده ددې اثر د نیمګړتیاوو او نورو زیاتونو او سمونو په باب راسره خپلې مشورې شریکې کړي. زموږ هیله همدا وه چې په ټول هېواد کې د ادبپوهنځیو د پښتو څانګې د محصلینو لپاره د لرغونې دورې په باب یو واحد او کره اثر وړاندې شي چې په ټولو یادو څانګو کې د تدریس وړ وګرځي.

که څېرې دا تجربه بریالۍ شوه، نو بیا له اړوندو استادانو څخه هیله کوو چې د منځنۍ او معاصرې دورې او د هغو د اړوندو پړاوونو لپاره هم له تحصیلي او تدریسي کریکولم سره سم تدریسي اثار ولیکي چې درانه لوستونکي او محصلین د پښتو ادبیاتو ټولې دورې په منظم او سیستماتیک ډول مطالعه کړي.

په پای کې یو ځل بیا له درنو لوستونکو څخه هیله کوم چې په خپله لورېینه به ددې کتاب په متن کې شوې تېروتنې راوبښئ او د سمون لپاره به یې راسره مرسته وکړئ!

په ملي، فرهنګي او هېوادنۍ مینه

ستاسو یون

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څوارلسم څپرکي لنډیز

په پښتو لرغونو ادبیاتو کې د ادبي څېرو ترڅنګ یو شمېر سیاسي، ټولنیزې او فرهنګپالې څېرې هم مطرح وې چې په مجموعي ډول یې ددې ادبي دورې په تشکل او جوړښت کې خپله ونډه لرلې ده. ځینې څېرې بیا څو اړخیزې دي، هم سیاسي اړخ لري او هم ادبي. په مجموعي ډول ددې ټولو مطرح څېرو شمېر لسګونو ته رسېږي. دا لسګونه څېرې په دې مانا چې بېلابېلو اثارو یې څېره او اغېزه په لرغونې ادبي دورې کې څرګنده کړې ده. بېلابېلو پېښو هم د ادبي دورې په لوړتیا او ځوړتیا کې خپل اغېز لرلی دی. په مجموعي ډول همدا څېرې او همدا حادثې دي چې د پښتو ادب د لرغونې دورې ټول ادبیات یې محصول دي. موږ چې کله د لرغونې دورې ادبیات مطالعه کوو، ددې څېرو او حادثو له پېژندنې پرته راته ممکن نه برېښي، دا څېرې او حادثې د اساسي علت او عامل په توګه د پېژندنې او مطالعې وړ دي.

د پېښو کرونولوژۍ ته مو هم ځکه اشاره وکړه چې یوځل بیا د تېر نږدې زرکلن ادبي بهیر یو څرګنده انځور مو په ذهن کې تېروبېر شي.

د لرغونې دورې د پای په باب ادبپوهان بېلابېل نظرونه لري، خو عمومي اصول دادي چې یوه ادبي دوره د بلې ادبي دورې له پیل سره سمه نه ختمېږي، بلکې په هغې کې تداخل لري. دا دوره بیا په بله کې تر هغې امتداد پیداکوي چې له تېرې دورې سره یې په ادبي ځانګړنو کې څرګند توپیر رامنځته شي، نو موږ چې د (۱۰۰۰هـ ق) کلونو تر حدودو پورې ځینې شاعران په لرغونې دوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې شامل کړل، علت يې همدا و چې له تېرې دورې سره يې نږدېوالی او اړيکي درلودل.

## د ځوارلسم څپرکي پوښتنې

- مطرح، سياسي او ټولنيزې څېرې د ادبياتو په وده کې څه رول لري؟
- هر محصل دې په لرغونې دوره کې په خپله خوښه د يوې يوې ادبي څېرې پېژندنه وکړي او د دې څېرې اثار دې تحليل کړي.
- ولې د دويمې ادبي دورې تر پيل وروسته هم ځينې شاعران په لرغونې ادبي دوره کې د مطالعې ځای لري؟
- پېښه او شخص يو بل سره څه ارتباط لري او د ادبي اثارو په پنځونه کې يې اغېز څه دی؟
- د لرغونې ادبي دورې عمومي ځانګړنې په ګوته کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځونه


1. ارسطو. کتاب الشعر. د مولوي محمد اسرائیل ژباړه. ۱۹۵۸م کال. پېښور: پښتو اکاډمي.
2. اریانا دایرة المعارف، (لومړی ټوک دویمه دوره). دایرة المعارف ریاست. ۱۳۸۶ل کال. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
3. انځور، محمد زرین. د زړو پاڼو تول. ۱۳۹۴ل کال. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.
4. الفت، ګل پاچا. ادبي بحثونه. ۱۳۲۳ل کال. کابل: پښتو ټولنه.
5. الهام، محمد رحیم. تیوری‌های ادبی و نقد ادبی. ۱۳۵۸ل کال. کابل: کابل پوهنتون.
6. الهام، محمد رحیم. د ادب مسالې. ۱۳۶۷ل کال. کابل: د افغانستان د لیکوالو انجمن.
7. بېنوا، عبدالروف. پښتو روزنه. ۱۳۵۷ل کال. کابل: د پښتو څېړنو نړیوال مرکز.
8. پردېس، احمد. د پښتو ادب لرغوني دوره. (په پښتو لرغوني ادب کې سیاسي څېرې). لومړی ټولګی. ۱۳۸۹ل کال. کابل: یون کلتوري یون.

(c) ketabton.com: The Digital Library


9. پښتو – پښتو تشریحي قاموس (لومړی ټوک). د ژبو او ادبیاتو مرکز. ۱۳۵۸ل کال. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

10. پښتو – پښتو تشریحي قاموس (دویم ټوک). د ژبو او ادبیاتو مرکز. ۱۳۶۰ل کال. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

11. پښتو – پښتو تشریحي قاموس (لومړی ټوک). د ژبو او ادبیاتو مرکز. ۱۳۶۵ل کال. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

12. حبیب، اسدالله. لکچرهای اموزشی د لیکنو ټولگه. (ادب شناسی و بعضی مسایل مبرم آن). ۱۳۶۲ل کال. کابل: کابل پوهنتون.

13. حبیبي، عبدالحی. د پښتو ادبیاتو تاریخ (لومړی او دویم ټوک). ۱۳۸۴ل کال. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

14. حبیبي، عبدالحی. د پښتو ادبیاتو تاریخ (لومړی ټوک). ۱۳۲۵ل کال. کابل: کابل پوهنتون.

15. حبیبي، عبدالحی. د پښتو ادبیاتو تاریخ (لومړی ټوک، دویم چاپ). ۱۳۳۷ل کال. کابل: کابل پوهنتون.

16. حلیم، حکیم.هیله مجله. (د ادبي تیوري تاریخي وده). ۱۳۸۱ل کال. پېښور: ازاده مجله.

17. خاورې، غوټۍ. د پښتو شفاهي ادبیات (شکل او مضمون). ۱۳۶۶ل کال. کابل: د افغانستان علومو اکاډمي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

18. خویشکی، محمد صابر. پښتو غږ پوهنه او ویپپوهنه. ۱۳۸۰ل کال. پېښور: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه.
19. درانی، درویش. پښتو عروض. ۲۰۰۷م کال. کوټه: صحاف نشراتي موسسه.
20. رښتین، صدیق الله. د پښتو د ادب تاریخ. ۱۳۲۵ل کال. کابل: پښتو ټولنه.
21. رضا، افضل. تخلیق او تنقید. ۱۹۷۳م کال. پېښور: یونیورستي بک اجنسي.
22. رضا، افضل. د پښتو نثر تاریخ. ۱۹۹۵م کال. پېښور: یونیورستي بک اجنسي.
23. روهي، محمد صدیق. ادبي څېړنې. ۱۳۶۰ل کال. ننگرهار: ننگرهار پوهنتون.
24. روهي، محمد صدیق. د پښتو ادبیاتو تاریخ (معاصره دوره). ۱۳۷۸ل کال. پېښور: محمد صدیق روهي فرهنگي ټولنه.
25. زرینکوب، عبدالمتین. اشنایی با نقد ادبي. ۱۳۷۸ل کال. ایران: مهارت چاپخونه.
26. زغم، احمدشاه. پښتو چاربیته (د پوهنملۍ تېزس). ۱۳۷۱ل کال. کابل: کابل پوهنتون.
27. زیور، زیورالدین. د پښتو ادبیاتو اصطلاحي قاموس. ۱۳۶۱ل کال. کابل: د ژبو او ادبیاتو پوهنځی.
28. زیار، مجاوراحمد. پښتو شعر څنگه جوړېږي؟. ۱۳۶۹ل کال. کابل: د اطلاعاتو او کلتور وزارت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


29. شاه جهان، پښتو ادب کې د مېرمنو برخه. ۱۹۹۳م کال. پېښور: پښتو اکاډمي.
30. شېرزاد ، تورخان. پښتو سروکی(ناچاپ). ۱۳۷۰ل کال. کابل.
31. شینواری، دوست. د ادب تیوري اساسونه. ۱۳۶۵ل کال. کابل: د چاپ او خپرونو دولتي کمېټه.
32. عمید. فرهنگ عمید . (دویم ټوک، پنځم چاپ). ۱۳۶۳ل کال. تهران: امیر کبیر نشرات.
33. غني، سید غني. د پښتو ادبیاتو لرغوني شاعري. ۱۳۹۳ل کال. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.
34. قویم، عبدالقیوم. نقد ادبی. ۱۳۷۹ل کال. پېښور. کتاب انتشارات.
35. کټوازی، نېک محمد. د پښتو ادب لرغوني دوره (په پښتو لرغونو ادبیاتو کې جغرافیایي نومونه). لومړی ټولګی. ۱۳۸۹ل کال. کابل: یون کلتوري یون.
36. کرګر، محمد اکبر. د نازو انا ی‌اد (د شیخ متي یو شعر). د محمد اسمعیل یون په زیار. ۱۳۷۰ل کال. کابل: خوشال فرهنګي ټولنه.
37. ګامګار، تقي وحیدیان. وزن و قافیه شعر فارسی. ۱۳۹۳ل کال. تهران.
38. ماکو، سلیمان. تذکرة الاولیاء (د پوهاند عبدالحی حبیبي سریزه او تعلیقات). ۱۳۷۹ل کال. پېښور: د علامه حبیبي د خېړنو مرکز.

(c) ketabton.com: The Digital Library


39. محمد الیاس. د پښتو ادب لرغوني دوره (د لرغوني دورې د پېښو کرونولوژي). لومړی ټولګی. ۱۳۸۹ل کال. کابل: یون کلتوري یون.

40. مشوانی، عبدالقیوم. د پښتو ادب تاریخ (کره کتنه). ۱۳۸۹ل کال. کابل: د افغانستان علومو اکاډمۍ.

41. میرحسین شاه کاندید اکاډمیسن، پښتو څېړنې (د پښتو د یوه زاړه کتاب په لټه کې). ۱۳۷۶ل کال. کابل: د افغانستان علومو اکاډمۍ.

42. نادر، عبدالجبار. پښتو څېړنې (پښتانه د بهرنیو له نظره). ۱۳۶۷ل کال. کابل: د افغانستان علومو اکاډمۍ.

43. ناشر، حکمت الله. د پښتو ادب لرغوني دوره (د پښتو په لرغوني شاعرۍ کې د ځینو متروکو او پېچلو کلمو ماناوې). لومړی ټولګی. ۱۳۸۹ل کال. کابل: یون کلتوري یون.

44. نوري، محمدګل. ملي سندرې. ۱۳۲۳ل کال. کابل: پښتو ټولنه.

45. نومیالی، محمد انور. د ادبي تاریخ میتودولوژي ( د لیکنو ټولګه). ۱۳۶۷ل کال. کابل: د افغانستان علومو اکاډمۍ.

46. وزیری، بخت میر. پښتو فونولوژي مورفولوژي. ۱۳۸۲ل کال. کابل: کابل پوهنتون.

47. هاشمي، سید محی الدین. د ادبپوهنې څانګې. ۱۳۹۳ل کال. کابل: میهن خپرندویه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


48. هاشمي، سیدمحی الدین. ادب پوهنه. ۱۳۸۱ل کال. پېښور: د اریک ګرځنده کتابتونونو اداره.

49. هلال، فرید احمد. د پښتو ادبیاتو لرغونې دوره. ۱۳۹۴ل کال. کابل: کتاب خپرندویه ټولنه.

50. همت، عبدالمالک. ادب او ادبي کره کتنه. ۱۳۸۵ل کال. کوټه: صحاف نشراتي موسسه.

51. هوتک، محمد. پټه خزانه. (د پوهاند عبدالحی حبیبي سریزه او تعلیقات). ۱۳۳۹ل کال. کابل: د پوهنې وزارت.

52. هېوادمل، زلمی. پښتو حماسه (د دوکتورا دورې درسي مواد). ۱۳۹۳ل کال. کابل: کابل پوهنتون.

53. هېوادمل، زلمی. د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دورې). ۱۳۷۹ل کال. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

54. هېوادمل، زلمی. د پښتو نثر اته سوه کاله. ۱۳۹۰ل کال. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

55. هېوادمل، زلمی. فرهنګ ادبیات پښتو (دریم ټوک). ۱۳۶۶ل کال. کابل: د چاپ او خپرولو دولتي کمېټه.

56. هېوادمل، زلمی. ولسي سندرې(دویم ټوک). ۱۳۶۶ل کال. کابل.

57. یون،ارین. لنډیو ته یوه لنډه کتنه. ۱۳۹۳ل کال. کابل: د افغانستان ملي تحریک فرهنګي ځانګه.

58. یون، محمد اسمعیل. خوشال په خپل ایډیال. ۱۳۸۷ل کال. کابل: یون کلتوري یون.

(c) ketabton.com: The Digital Library

59. یون، محمد اسمعیل. د پښتو شعر هندسي جوړښت. ۱۳۸۷ل
کال. کابل: یون کلتوري یون.
60. یون، محمد اسمعیل. د ډیلي تخت هېرومه (یونلیک).
۱۳۸۹ل کال. کابل: یون کلتوري یون.
61. یون، محمد اسمعیل. ژبخوره ژبه (ځولۍ مجله). ۱۳۸۵ل
کال. کابل: کابل پوهنتون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (حاجي عبدالرزاق رافت ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک وياړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له ژباړونکي او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د ژباړلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ADAB TARIKH

## "History of Literature"

By: Mohammad Ismael Yoon

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د لیکوال د خپرونو لړ: ٤١
د خپرندوی د خپرونو لړ: ٩٦

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**